

# د اصحابانو کیسې

ژباړن:

[illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اصحابانو کیسې

ژباړن :

**مولوي عبدالهادي حماد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه :


| | | |
|---|---|---|
| نـــــوم | : | داصحابانو کيسې |
| ژبـــــــــــــاړن | : | مولوي عبدالهادي حماد |
| کمپـــــــــــــــــــوز | : | په خپله ژباړن |
| د پښتې طرحه او انلاین چاري | : | مختار احمد احسان - د لراوبر کتابتون |

www.Larawbar.com

LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اصحابانو کيسې

که څوک غواړي ، چې زړه يې نرم سي او د اسلام په حقيقت باندي پوه سي او هغه خوند وڅکي کوم ، چې په اسلام کي پروت دئ نو لاندي د اصحابانو قصې دي مطالعه کړي ځکه د اصحابانو ژوند د مسلمانانو لپاره عملي درس دئ.

ژباړن

مولوي عبدالهادي حماد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خطبه او تمهيد

نحمده ونصلي ونسلم علي رسوله الكريم واله وصحبه واتباعه الحماة للدين القويم.

امابعد : دالله ديوه سپېڅلي بنده حضرت مولاناعبدالقادررائپوري امر ماته په سنة **۱۳۵۳** هـ ق کي وسو چي زما سره احسان کونکی اوزما تربيت کونکی دئ ( امر يې داصحابانو په اړه وو ) چي زه داصحابانو په اړه څو قصې وليکم په ځانګړي ډول دلږ عمر لرونکو اصحابانو . اود ښځو ددينداری څه حالات په اردو ( دژباړي وروسته په پښتو ) ژبه وليکم څکه کوم کسان چي دقصو شوقيان دي هغه ددې پرځای چي ديوې اوبلي خوا ددرواغو قصې اوري که داقصې واوري نو ددوی ددين دترقۍ سبب به جوړ سي.

ښځي چي دشپې کوچنيانو ته ددرواغو قصې کوي که دغه قصې وکړي دماشومانو زړونه به داصحابانو دميني ډک سي ددوی درنښت اوعظمت به يې په زړو کي راسي ديني کارونو ته به يې مينه پيدا سي.

زما لپاره دغه امر منل يولازمي کار ووځکه زه دده په احسانو کي ډوب وم بل داچي دالله ددوستانو رضا ددواړو جهانو دکاميابۍ سبب کيږي خو دخپلي کم علمۍ په وجه مي زړه نه سوای کولای چي دده مبارک دخوښۍ سره برابر دي دغه کار وکړم. څلور کاله دغه امر ماته تکرارېدی زه دخپلي نه وړتيا څخه شرمېدم دوخت په تېرېدوسره په سنه **۱۳۵۷** هـ ق کي دصفري په مياشت دماغي ناروغي راپېښه سوه دکار څخه منعه سوم فکر مي وکړی چي دغه خالي ورځي که پدې برکتناکه کار ولګوم ښه به وي ځکه که زما دغه پاڼي ونه منل سوي نو بوختيا خو به مي په يوه برکتناکه کار کي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې کې شک نشته چې د الله ﷻ ددوستانو قصې اوددوی حالات ددې وړ دي چې سړی تحقیق او څیړنه پکښې وکړي اوسبق ځني حاصل کړي په ځانګړي توګه د اصحابانو ﷺ حالات چې الله ﷻ دخپل خوږ رسول ﷺ دملګرتیا لپاره خاص کړي دي.دوی مبارکان ددې حقداره دي چې تابعداري یې وسي. ددوی پرته د الله ﷻ ددوستانو په بیان سره د الله ﷻ رحمتونه نازلیږي.

حضرت جنید بغدادي ﷺ فرمایي: قصې د الله ﷻ دلښکرو څخه یو لښکر دئ چې مریدانو ته ، دزړنو طاقت په حاصلیږي یو چا پوښتنه ځني وکړه چې ددې لپاره یو دلیل سته ؟ ده مبارک په جواب کې ورته وفرمایل: الله ﷻ فرمایي:

⇳♊♎👌 ⍓⌨⬂⓿■💾♦⬉ ❹⇯→✆❈☼ ⍓☒⬈📫◆❐

→💣⚘○⌨⬩✞⬅☼ 👓♦👌 ⇯✍←♒❾❷✇👓✂ ♎⬈✏👓♦⌛📪☼❐🕮

❼⚘× ☒🖰◆⬈✏🔔⍓♊◆❐ 🗐 ☒🖰⍓⑩✂☒⬩➔▫ 🕗♎○⚘📪

⮜◘⬩→♎⬉⬀❑♦👌◆❐ ❻📪⍓⬩⬂✇👓✂ ♎■⮴⓿🕔⍓♎

([1]⮰⮳✿⮴⇯ ♦×✓♎✡♎👌⬃⬩←☺▫💾♎✇▤❽♦❷⬂📫♎❶◆❐

ژباړه: دپیغمبرانو دقصو څخه موږ داټولي قصې تاته بیانووچي په سبب یې موږ ستا زړه ته طاقت ورکړو ( یوه فایده خو دا سوه ) اوپدې قصو کي تاته داسي مضمون رسیږي چي خپله درست اوواقعي وي او دمسلمانانو لپاره نصیحت (اودښو کارکولو ) یادول وي.(2)

یوه بله خبره هم په زړه کي دکښینولو وړ ده هغه داده چي دیني کتابونه دنبي ﷺ دحدیثو وي ، دبزرګانو دحالاتو دبیان وي ،دمسائلو کتابونه وي اوکه دمخورو خلګو دارشاداتو اولاربښوونو کتابونه وي پکار نه ده چي یوار وکتل سي اوبیا دتل لپاره پردغه یوار کتلو باندي بسنه وسي بلکي پکارده چي دغه کتابونه دخپل طاقت مطابق په تکرار سره وکتل سي.

---

([1]) سورة هود الاية (١٢٠)
([2]) بيان القرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو سليمان داراني رحمه الله فرمايي: زه ديوه واعظ په وعظ کي کښېناستم دده وعظ زما په زړه کي اثر وکړی کله چي راولاړ سوم هغه اثر ختم سو دوهم ځل ورغلم ورته کښېناستم کله چي راولاړ سوم بيا اثر ولاړی دريم ځل ورغلم بيا ورته کښېناستم ددغه دريم ځل ناستي اثر تر کوره پوري و ،کورته چي ورغلم دالله ﷻ دنافرمانۍ اسباب مي تړوله مات کړل دالله ﷻ لاره مي اختيار کړه .

ددينې کتابونو حال هم داسې دئ په يوار چابک کتلو سره يې اثر کم وي په همدې وجه ددينې کتابونو لوستل په بيا بيا په کار دي.

دلوستونکو داسانۍ اودمضامينو په زړه کي کښېنولو په خاطر مي دغه رساله پر دوولسو بابونو اويوه خاتمه باندي وېشلې ده:

لومړی باب: ددين له امله سختۍ تېرول اوتکليفونه زغمل.

دوهم باب: دالله ﷻ څخه خوف اوويره چي داصحابو کرامو رضي الله عنهم خاص عادت و.

دريم باب: داصحابو کرامو دزاهدانه اوفقيرانه ژوند نمونه.

څلورم باب: داصحابو دتقوا اوپرهيزګارۍ حالت.

پنځم باب:دلمانځه شوق اوپابندي.

شپږم باب:صدقه،ترخپل ځان دنورو اړتياوي مخکي پوره کول ، دالله ﷻ په لاره کي مصرف کول

اوم باب: بهادري ، همت ، زړورتوب ،شجاعت اودمرګ شوق.

اتم باب: علمي بوختيا اودعلمي محنت نمونې.

نهم باب:دنبي ﷺ دلاربنوونو عملي کول.

لسم باب:دښځو جذبه اوبهادري اودرسول الله ﷺ داولادونو بيان.

يوولسم باب:دماشومانو ديني شوق اوپه کوچنيوالي کي ددين پابندي.

دوولسم باب:دنبي ﷺ سره دمحبت نمونې.

خاتمة: داصحابو کرامو رضي الله عنهم حقونه اوددوی لنډ فضيلتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## ددین له امله سختۍ تیرول ، تکلیفونه او ستونزي ګالل

نبي کریمﷺ او اصحابو کرامو ددین د جوړولو لپاره دومره زیات تکلیفونه پر ځانونو باندي تېر کړي دي ،چي موږ نااهلو ته يې اراده کول هم ګران کاردئ د نوموړو مبارکو انسانانو په پېښو او ستړي ژوند لیک باندي کتابونه ډک دي موږ دومره د کمزورۍ پر خوا روان يو چي د دوی په احوالو هم ځان نه خبرو ، عمل ورباندي کول خو بېله خبره ده ، نو له همدې امله پدې کتاب کښي د نوموړو مبارکو انسانانو څو قصې د نمونې په ډول بیانوم چي ترټولو مخکي د نبي کریمﷺ د یوې قصې څخه پیل کوم ځکه د نبي کریمﷺ یادول دبرکت ذریعه ده .

### (١) د نبي کریم ◄ دطایف دسفر قصه

کله چي څښتن تعالیﷻ نبي کریمﷺ پیغمبر کړ ، نهه کاله رسول اللهﷺ په مکه مکرمه کي تبلیغ کاوه او د خپل قوم د اصلاح او ګټي کوشش به يې کاوه مګر په مکه مکرمه کي د یوې کوچنۍ ډلي پرته چي مسلمانان سوي وه او د یوې کوچني ډلي پرته چي کافران وه مګر د رسول اللهﷺ مرسته به يې کول نور ټوله د مکي او سیدونکو د رسول اللهﷺ او مسلمانانو د ځورولو لاري لټولې، تکلیفونه به يې ور رسول پسخند به يې په واهه آن تر دې چي څه به يې په توان وه په هغه اندازه به يې تکلیف ور رساوه ، د نبوت په لسم کال چي کله د نبي کریمﷺ اکا ابو طالب وفات سو د نوموړي مړیني د مکي کفارو ته د مسلمانانو د ځورولو نوره لاره خلاصه کړه په دغه وخت کي دوي په ښه ازاده پښه کولای سوای چي خلک له اسلام او مسلمانېدو څخه منعه کړي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اللهﷺ او اصحابو کرامو ته تر خپله وسه تکلیفونه ورورسوي ، نبي کریمﷺ په دې موخه طائف ته تشریف یو وړی چې دهغه ځای او سیدونکي (ثقیف) نومي قوم چې یو لوی قوم وو مسلمانان سي نو مسلمانان به ددې تکلیفونو څخه خلاص سي او د اسلام دمبارک دین دخپرولو لپاره به یو بنسټ کېښېنودل سي کله چې رسول اللهﷺ طائف ته ورسېدی نو دهغه قوم د مشرانو سره یې خبري پیل کړې چې ددغه قوم نوموتي او مخور مشران ګڼل کېده او د اللهﷻ د پاک دین و لوري ته یې را وبلل او د الله ﷻ د دین ومرستي ته یې متوجه کړه نومورو کسانو ددې پر ځای چې د اللهﷻاو دهغه د رسولﷺ د دین مرسته وکړي یا لږ تر لږه د عربو مشهوره میلمه پالنه وکړي و رسول اللهﷺ ته یې په بې مخي سره مخامخ جواب ورکړی او د بد اخلاقۍ رویه یې غوره کړه پر دې بد اخلاقۍ باندي یې بسنه ونه کړه بلکي دا یې هم زړه نه قبلول چې رسول اللهﷺ دلته پاته سي. دوی درې واړه چې رسول اللهﷺ مشران بلل او دا یې هیله وه چې دوی به په شرافت سره خبري وکړي د دوی څخه ددې هیلي په خلاف یوه وویل: او هو ! بس یوازې ته وې چې اللهﷻ پیغمبر کړې بل څوک نه وو ، دوهم وویل: ستا پرته بل څوک نه و چې اللهﷻ رسول را لیږلی وای ، دریم وویل: زه ستا سره خبري کول نه غواړم ځکه که ته رشتیا د اللهﷻ له لوري څخه پیغمبرې نو ستا دخبرو څخه مخ اړول خو لوی تاوان دئ (نو ښه دئ چې خبري نه در سره وکړم ) او که دروا غ وایې نو د درواغجن سره هم خبري نه کوم ، کله چې رسول اللهﷺ د دوی څخه نا امیده سو نو ددغه قوم د نورو خلکو سره یې خبري پیل کړې ځکه رسول اللهﷺ دهمت او خپلواکۍ غرو ، نور خلک هم دمشرانو پر پله روان سوه د رسول اللهﷺ دعوت یې نه ومانه بلکي رسول اللهﷺ ته یې وویل ژر زموږ د ښار څخه ووزه هر ځای چې ستا د خوښې ځای وي هلته ولاړ سه کله چې رسولﷺ په نا امیدۍ سره دهغه قوم څخه را روان سو د هغه قوم ناوړه خلکو په رسول اللهﷺ پسې د کلي هلکان پسې کړه رسول اللهﷺ یې په کاڼو ویشتی ، پسخند به یې په واهه او چک چکي به یې پسې کولې تر داسي بریده چې د رسول اللهﷺ دواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چپلکي په وينو سرې سوي رسول الله ﷺ د دوی ثخه ببرته راغلی کله چي ددغه شرا چونکو ثخه بې غمه سو نو په لاره کي يو ځای کښېناستی او دا دعا يې وويل:

اللهم اليک اشکو ضعف قوتي وقلة حيلتي و هوني علي الناس يا ارحم الراحمين انت رب المستضعفين وانت ربي الي من تکلني الي بعيد يتجهمي ام الي عدو ملکته، آمري ان لم يکن بک علي غضب فلا ابالي و لکن عافيتک اوسع لي اعوذ بنور وجهک الذي اشرفت له الظلمات وصلح عليه امر الدنيا والاخرة من ان تنزل بي غضبک اويحل علي سخطک لک العتبي حتي ترضي و لاحول ولا قوة الا بک([3])

ژباړه: اې خدايه ! تا ته د خپلي کمزورۍ ، ناتوانۍ او په خلګو کې د رسوايۍ شکايت کوم ، اې ارحم الراحمين ذاته ! د نا توانانو رب يې ته زما پالونکی يې ما چاته پرېږدې؟ پردی ثوک چي مي ووينې تندی را باندې تريو کړي يا مي دښمن ته ( پريږدې ) چي هغه ته تا پر ما باندې بر لاسی ورکړی وي ، اې خدايه ! که ته زما ثخه ناراضه نه يې زما د هيچا پروا نسته ستا ساتنه ما لره بس ده زه ستا دمخ ( بلاکيفه ) په رڼا پنا غواړم هغه رڼا چي تيارې يې ځلولي دي او د دنيا او آخرت کارونه پرې سم سوي دي زه له دې ثخه پنا غواړم چي ته راته په غضب يې او يا راثخه نا راضه يې ستا نا راضي ترهغه وخته پوري ليري کول لازمي د ه تر ثو راضي کيږې ( اې خدايه ! ) ستا پرته نه بل قوت سته او نه بل طاقت سته.

ثښتن تعالي ﷻ چي يو صفت يې قهر دئ د خپل نازولي په ځورېدو يقيناً په قهريږي نو دستي يې جبرائيل ﷺ راواستاوه او رسول الله ﷺ ته يې سلام وواېه بيا يې وويل چي ، الله ﷻ

([3]) کذا في سيرة ابن هشام قلت واختلفت الروايات في الفاظ الدعا کما في قرة العيون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا ټولي خبري واورېدې او د قوم جوابونه يې هم واورېده يوه ملائکه چې الله ﷻ د غرونو واک او اختيار ورکړی ، الله ﷻ ستا د خدمت لپاره را واستول دستي هغه ملائکه را غلل سلام يې وو ايه د سلام وروسته يې رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ! امر وکړه که ته امر وکړې زه به پر دې قوم باندې غرونه را پورته کړم ټوله به چختاڼ (زره ،زره ) کړم رسول الله ﷺ چې ډېر زړه سوانده ، رحم لرونکی پيغمبرو ملائکي ته يې په جواب کي وويل: زه د دوی هلاکېدل نه غواړم بلکي زه دوی ته د هدايت دعا کوم که دوی مسلمانان نسي اميد لرم چې د دوی په اولادو کي به مسلمانان پيدا سي چې د الله ﷻ عبادت او بندګي به کوي.

فايده: د رسول الله ﷺ په غوره اخلاقو او صبر کي فکر وکړئ څومره صبر يې درلودئ ،څومره مهربانه و هغو بد ورسره کول ده ښه ورسره کول يعني د دوزخ څخه د خلاصېدو او د جنت د پيدا کېدو دعا يې ورته کول ، اوس زموږ حال ته وګورئ موږ په داسي حالت کي قرار لرو چې يو څوک کوچني ښکنځل راته وکړي نو موږ بله لمبه سو او د هغه څخه داسي بدله اخلو (چې د هغه ښکنځلو څو برابره وي آن تردې) چې ټول عمر مو بدله نه خلاصېږي او نه مو زړه په سړېږي ، پر ظلم سربېره ظلم کوو او بيا د رسول الله ﷺ د تابعدارۍ او محمدي کېدو دعوه هم کوو تاسو وليدل چې د رسول الله ﷺ سره بد وسوه بيا هم ده ښه ورسره کول يعني د جنت د پيدا کېدو او د دوزخ څخه د خلاصون دعا يې ورته کول.

# (٢) د حضرت انس بن نضر ﷺ د شهادت قصه

حضرت انس بن نضر ﷺ يو صحابي و چې د بدر په غزا کي يې ګډون نه و کړی نو موړي پدې وجه چې د اسلام په لومړنۍ لويه غزا کي يې ګډون نه وو کړی پر ځان به يې ملامتيا ويل ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوابدی او په زړه به غمجن و په هر صورت په دې هيله که د اسلام بله غزا پېښه سوه حتمًا به ګډون په کښې کوي ، د تقدير پرېکړه وه چې د احد غزا پېښه سوه حضرت انس بن نضر ؓ په ډېره مينه او زړورتوب په دې غزا کي ګډون وکړی د غزا په لومړي سر کي مسلمانانو فتحه (برلاسي) تر لاسه کړ خو د يوې تېروتني له امله مسلمانانو ماته وخوړه ، تېروتنه له دې څخه عبارت وه ،چي رسول اللهﷺ ځينو اصحابو کرامو ؓ ته دنده ورکړې وه چي د غره پر يوه کوتل به کښيني ، مسلمانان که فتحه ترلاسه کړي او که ماته وخوري بايد دوی ولاړ نسي خو له بده مرغه دوی هغه وخت ولاړ سوه چي په لومړيو کي مسلمانانو بريااليتوب تر ګوتو کړ ، کله چي دوی ولاړېده په دوی کي چي څوک آمر و هغه منع کړه چي مه ولاړېږئ خو دوی دا ويل چي کافرانو ماته وخوړه د تيښتي په حالت کي دي بايد ورپسي ورسو او د غنيمت مالونه ورڅخه را ټول کړو او دا فکر يې کاوه چي د رسول اللهﷺ امر چي مونږ ته يې دنه ولاړېدو کړی و يوازي د بريااليتوب تر وخته پوري و آخر دا چي مسلمانان له دې ځای څخه ولاړ سوه دجګړې ډګر ته ورسېدل ، تښتېدونکو کافرانو چي دغه ځای خالي وليدئ نو دوخته څخه يې ګټه واخستل او ددغه لوري څخه يې پر مسلمانانو باندي حمله وکړه مسلمانان د نا خبرۍ په حالت کي وه چي د سختو بريدونو سره مخ سوه د دووطرفونو څخه د کافرانو په منځ کي راغلل په پايله کي د ماتي سره مخ سوه مسلمانان په وارخطايۍ سره پر هر لوري تښتېدل ، حضرت انس ؓ وليدل چي يو صحابي حضرت سعد بن معاذ ؓ را روان دئ .ده مبارک ورته وويل: اې سعده ! چيري ځې ؟ په الله ﷻ قسم کوم چي د احد دغره څخه د جنت بوی راځي ددې خبري دکولو وروسته يې توره پورته کړه په مېړانه د کافرانو په يوه ډله ورننوتی سخته جګړه يې پيل کړه ترهغه وخته پوري نه راووتی تر څو شهيد سو د شهادت څخه وروسته چي وکتل سوه ټوله بدن يې غلبيل سوی و تر اتياوو زيات زخمونه يې په بدن کي د تورو او غشو وه آن تر دې چي نه پېژندل کېدئ آخر د ګوتو پر بندو وپېژندل سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده:څوک چې په ریښتني او مخلصانه ډول د الله ﷻ د خوښۍ غوښتني په موخه زخمي سي یقیناً به په دنیا کي دجنت بوی ورته راځي حضرت انس رضي الله عنه چې په اخلاص د ښتن تعالي ﷻ د رضا غوښتونکی و په دنیا کي یې د جنت بوی بویاوه که په چا کي اخلاص موجود سي په دنیا کي به د جنت خوندونه ورته راسي ، ما د یوه معتبر سړي څخه چې دحضرت مولانا شاه عبدالرحیم رائپوري مخلص خادم و ـ دده مبارک یوه خبره اوریدلې ده چې ده مبارک ویل: (دجنت خوندونه راځي ) د ( روژې په فضائلو ) کي مي دا قصه لیکلې ده.

# ۳: د حدیبې صلح(دروغي جوړي ته) د ابوجندل او د ابو بصیر رضي الله عنهما قصه

رسول الله ﷺ د هجرت په شپږم کال دعمرې کولو اراده وکړه دمکې مکرمې پر لوري روان سو دمکې کافران چي خبر سوه نو د رسول الله ﷺ راتګ یې ځان ته شرم او ذلت ګانه ځکه دوی دکبر اوغرور په نشو مست وه نو له همدې امله یې د مقابلې لاره خپله کړه رسول الله ﷺ چي حدیبه نومي ځای ته ورسیدئ په همدغه ځای کي بند سو د رسول الله ﷺ سره سرتیري اصحاب رضي الله عنهم ملګري وه چي پر رسول الله ﷺ باندي یې ځان قربانونه خپل افتخار باله ، دستي جنګ کولو ته تیار سوه خو رسول الله ﷺ د مکې دمسلمانو اوسېدونکو له امله (چي هغوی ته ددوی له وجي تکلیف پېښ نسي ) ـ د جنګ اراده نه کول بلکي دروغي جوړي کوشش یې کاوه سره ددې چي اصحاب رضي الله عنهم په پوره مېړانه وجنګ ته تیاروه مګر رسول الله ﷺ د کافرانو دومرې لحاظ وکړی ، چي دهغوی ټول شرطونه یې ومنل که څه هم اصحابو رضي الله عنهم ته دا سي تر زور لاندي روغه جوړه دمنلو وړ نه وه مګر دوی د رسول الله ﷺ تابع وه او ځانونه یې ترې قربانول نو دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د دومرې مينې سره څه کولای سوای ؟(چې د رسول الله ◄ روغـه يې نه وای منلې خامخا يې منل ) آن تر دې چې د حضرت عمر ﷵ پـه څېر مېړنيو لا و منـل. پـه روغـه جوړه کې يو شرط دا و چې، که د کافرانو څخه يو څوک مسلمان سي او د مکې څخه و مدينې منورې ته هجرت وکړي نو مسلمانان به نو موړي کس بېرته و کافرانو تـه پـه لاس ورکـوي او کـه خدای مه کړه د مسـلمانانو څخه يو څوک مرتد ( کافر ) سي نو کافران به دغه کس مسلمانانو ته په لاس نه ورکـوي د روغـې جوړې دغه پرېکړه ليک لا نه و ليکل سوی چې د ابو جندل ﷵ پـه نامـه يو صحابي را غلی چې د اسلام د راوړلـو وروستـه کفـارو ډېر تکليفونـه پـر تېـر کـړي وه او پـه ځنځيرانـو يـې تړلـی و د مسـلمانانو د مرسـتې پـه هيلـه پرېـوا تی چې ګونـدې مسـلمانان زمـا مرسـته وکـړي او ددې تکليفونو څخه به خلاص سم خود هغه پلار (سهيل) چې د کافرانو له خوا وکيل وا و تر دغه وختـه پورې لا مسلمان سوی نه و بلکې د مکې د فتحې په وخت کې مسلمان سو ـ ابو جنـدل ﷵ يـې پـه چپلاخه وواهه او پر بېرته بيولو يې ټينګار وکړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: چې تـر اوسـه خو لا پرېکړه ليک نه دئ ليکل سوی پر موږ باندې لازمه نه ده چې مسلمان تاسو ته وسپارو ، کافرانو نه منل بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دغه يو سړی ماته پـه خواست را پرېـږدئ ،کـافران د پخوا په څېر پر ضد ولاړ وه هيڅ يې نـه منـل او ابـو جندل ﷵ و مسـلمانانو تـه د مرسـتې نـارې وهلـې فرياد يې کاوه چې اې مسلمانانو ! زه مسلمان سوی يم او دې کافرانو پر ما ډېرې خوارۍ تيرې کړې دي تا سو مې بېرته په لاس ورکـوی ؟ پـه دغـه وخـت کې چې د مسـلمانانو پـر زړونـو بانـدې څو مره زحمت تېريدئ و الله ﷻ ته معلوم دئ ويل او ليکل يې د بيان توان نـه لـري ، وروسـتـه د خـوږ نبي ﷺ په امر بېرته په لاس ورکړل سو . رسول الله ﷺ تسلي ورکړه او ورته وې فرمايـل چې الله ﷻ بـه ډېر ژر ستا مرسته وکړي او تا ته به د خلاصون لاره خلاصه کړي.

د روغـې جـوړې د بشـپړکېدو څخه وروسـتـه يـو بـل صـحابي ﷵ د ابـو بصـير ﷵ پـه نامـه هـم مسـلمان سـو او مـدينې منـورې تـه راورسـېدئ کـافرانو دسـتـې دوه کسـان پسـې را واسـتـول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اللهﷺ ته يې وويل: چي ،و ترون دوفا له مخي دغه کس په لاس راکړئ رسول اللهﷺ نوموړي صحابي ببرته په لاس ورکړئ ابو بصير ؓ ناري کړې چي زه مسلمان سوی يم تاسو مي ببرته په لاس ورکوئ ؟ او ببرته مي ددغه ظالمانو ومنګلو ته سپارئ ؟ رسول اللهﷺ ده ورکړي چي الله ﷻ به ژر تا ته د خلاصون لاره خلاصه کړي. ابوبصير ؓ د هغه دوو کافرانو سره يو ځای و مکې ته روان سو. پر لاري ابو بصير ؓ و يوه کافر ته وويل چي دا ستا توره ډېره ښه معلوميږي ( دا چي صفت خوښونکی سړی ډير ژر غوليږي) نو دستي هغه کافر خپله توره و مسلمان ابو بصير ؓ ته دتيکي څخه را وايستل ورښکاره يې کړه ابوبصير ؓ چي توره په لاس کي واخستل سمدلاسه يې پر دغه کافر باندي وچلول مړ يې کړی هغه دوهم کافر چي دا حالت وليدئ د تيښتي لاره يې خپله کړه وتښتېدئ مديني منورې ته يې ځان ورساوه رسول اللهﷺ ته يې وويل: يا رسول اللهﷺ ! ابو بصير ؓ زما ملګري وواژه اوس زما واری دئ وژني مي په دغه حالت کي ابو بصير ؓ هم راورسېدئ رسول اللهﷺ ته يې وويل: يا رسول اللهﷺ !ستا د دوی سره وعده او ترون و تا هغه پوره کړئ زما او د دوی تر منځ خو هيڅ ترون نسته رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: ته جنګ تازه کونکی يې کاشکي ستا يو ملاتړ کونکی وای ابو بصير ؓ پوه سو چي که اوس څوک راسي ما به ببرته په لاس ورکړي نو دستي ددغه ځای څخه ولاړی او د يوه درياب پر څنډه يې ژوند کول پيل کړه دمکې خلګ په دې پېښه خبر سو ه. ابو جندل ؓ ته چي حال ورسېدئ تر توان يې ووتل په پټه يې ځان ور ورساوه دابو بصير ؓ سره يو ځای سو ، آخر داچي هر څوک چي به مسلمان کېدئ د دوی سره به يو ځاي کېدئ په ډېر لنډ وخت کي د دوی څخه يوه کوچنۍ ډله جوړه سوه (دالله ؓ درښتيني دين سره دميني په موخه په يوه ډېري سختۍ په يوه ځنګله کي تېرولې ځکه )په دغه ځنګله کي چي دوی اوسېدل د خوراک او څيښاک هيڅ انتظام نه و دالله ﷻ د دين په خاطر چي پر دوی باندي د لوږي او تندي څخه کوم تکليفونه تېرېدل والله ﷻ ته معلوم دي مګر د کومو ظالمانو د لاسه چي دوی سرګردانه او لالهانده وه او د دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه تښتېدلي وه د هغوی لاره يې بنده کړه کومه قافله چې به د کافرانو راتله دوی به جنګ ورسره کاوه ، آخر دا چې د مکې کافران د مسلمانانو د دغه کوچنۍ ډلې څخه تنګ سوه او رسول اللهﷺ ته يې يو سړی ولېږی او په ډېر عذر او زاری يې خواست ورته وکړی چې د اللهﷻ په خاطر دغه بې سره (بې اداري) ډله ځان ته راوبوله او په تړون کې يې داخله کړه تر څو زموږ ته د تلو او راتلو لاره خلاصه سي.

ويل سوی دي: چې کله و ابو بصير AA ته د رسول اللهﷺ اجازه ليک ورسېدئ چې ومدينې ته د راتلو اجازه پکښې ليکلې وه ابوبصير AA د مرګ په حال کې و په لاس کې يې دغه ليک و نيوی وفات سو. رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ اَرْضَاهُ.(4)

فايده: کوم څوک چې پر خپل دين ټينګ ودرېږي په دې شرط چې دين يې رېښتني او حق دين وي يعني مسلمان وي نو لوی، لوی طاقتونه يې هم د خپل دين څخه نه سي اړولای.

# ۴- د حضرت بلال AA اسلام او تکليفونه

حضرت بلال AA يو نوموتي او مشهور صحابي دئ چې د نبويﷺ مسجد لپاره د رسول اللهﷺ په ژوند کې تل مؤذن (اذان کونکی) پاته سوی دئ نوموړي د يوه کافر مريی و کله چې

(4) ( بخاري - وفتح )

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان سو نو دمسلمان کېدو له امله ډېر تکلیفونه ورکړل سوه (امیه بن خلف) چې د مسلمانانو سخت دښمن و بلال ﷛ به یې د غرمې په وخت پر تودو شګو باندې ستوني ستخ پرې ایستلی و بیا به یې پر سینه باندې یو لو ډبره ورکښېښوده ددې لپاره چې ونه ښورې وروسته به یې ورته وویل: په دې سخت حالت کې مړ سه که خلاصون غواړې نو د اسلام څخه واوړه ، بلال ﷛ په دې سخت حالت کې هم د( اَحَد ، اَحَد ) ناري وهلې یعني دا چې د عبادت لایق یو الله ﷻ دئ ، د شپې به یې په ځنځیرانو ټینګ و تړی بیا به یې په کروړو (اغزنو لښتو) واهه د ورځې به یې بیا په دغه زخمي بدن پر تودو شګو و غورزاوه ددې لپاره چې د سخت عذاب له امله به د اسلام څخه واوړي او یا به په دې حالت کې مړ سي آن تر دې چې عذاب ورکونکی به ستړی سو نو ځکه به یې په عذاب ورکولو کې واری سره کاوه کله به د ابو جهل واری و کله به د امیه بن خلف واری و لنډه دا چې هر سړي به کوشش کاوه چې نو موړي مبارک صحابي ته په عذاب ورکولو ځان ستړی کړي کله چې ابو بکر صدیق ﷛ دی مبارک په داسې سخت حالت کښې ولیدئ نو په پیسو یې رانیوی بیا یې آزاد کړي.

فایده: بت پرستو عربو به بتانو ته خدایان ویل ددې ناوړه کار په مقابله کښې اسلام و خلګو ته د توحید( دخدای په یو والي) ښوونه کول یعني دا چې الله ﷻ یو دئ بتان خدایان نه دي همدا لامل وو چې بلال ﷛ په ژبه به په تکرار سره وویل: یو دئ، یو دئ ، دا د بلال ﷛ د مینې او محبت خبره وه چې د خپل یوه خدای ﷻ سره یې درلوده موږ وینو چې یو شوک د بل چا سره د لنډ وخت لپاره ددرواغو محبت لري هغه هم د خپل محبوب په نوم اخیستلو سره خوند اخلي او بیا ، بیا یې نوم اخلي نو د څښتن تعالي ﷻ سره چې څوک محبت او مینه لري ددې مینې به څه حال وي چې په دین او دنیا دواړو کې په کار راځي همدا لامل وو چې بلال ﷛ ته ډېر تکلیفونه ورکول کېده آن تردې چې د مکې هلکانو ته به په لاس ورکړل سوتر څو د سپکاوي په موخه یې په کوڅو کې وګرځوي اوده ته یوډول نه یوډول تکلیف ورسوي خو د بلال ﷛ زړه دالله ﷻ مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيـولی و د ( يـو دی ، يـو دی ) ذکـر يـې د خـولې څخـه نـه اچـوی دده مبـارک د دومـره سـختو تکليفونو تېرولو په بدله کي الله‌ﷻ درسول اللهﷺ په دربار کي د مؤذن دنده ورکړه درسول اللهﷺ سره په سفر او کوردواړو کي د آذان کولو دنده دده د غاړي وه کله چي رسول اللهﷺ وفات سو نوده درسول اللهﷺ څخه پرته ژوند کول او درسول اللهﷺ ځای خالي ليدل نه سوای زغملای نو ددې اراده يې وکړه چي پاته ژوند پـه جهاد کي تېر کړي پـه همدې وجه د جهاد کولو پـه موخه روان سو تر يو وخته پوري مدينې منورې ته نه راغلی يو ځل يې رسول اللهﷺ پـه خوب وليدئ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: دا څه ظلم دئ ماتـه خو بيخي نـه راځي ؟کلـه چي بلال‌رضي الله عنه ويښ سو دستي د مدينې منورې پـر لـور روان سو مـدينې تـه چي ورسېدئ حضرت حسـن او حسـين‌رضي الله عنهما د اذان کولو امر ورته وکړی دی هم آذان وکړی ځکه د نازولو امر خو داسي نه و چي چا څه پکښي ويلي وای خلګو چي دده آذان واورېدئ درسول اللهﷺ خوږ ژوند وريـاد سو دمدينې منورې پـه خلګو کي شورماشور ګډ سو ښځي هم د کورو څخه پـه ژړا راووتې (درسول اللهﷺ دبيلتـون اور لمبه ، لمبه سو خو د چا لاس تـه شی نـه ورتلی ). حضرت بلال‌رضي الله عنه د څو ورځو دتېرولـو وروستـه بېرته ولاړی او په شلم هجري کال کي دمشق ته نژدې وفات سو.([5])

**۵- د حضرت ابوذر غفاري‌رضي الله عنه اسلام**

حضرت ابوذر غفاري‌رضي الله عنه يو مشهور صحابي دئ چي وروسـته دلويـو عـالمـانو او زاهدانو څخه وګرځېدئ.

---

([5]) اسد الـغـابـة

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت علي رضي الله عنه دده په اړه وايي: ابو ذر رضي الله عنه دومره علم لاسته راوړی دئ چي خلګ ځني عاجزه دي خو ابوذر رضي الله عنه دغه علم محفوظ ساتلی دئ.

کله چي ابوذر رضي الله عنه ته د لومړۍ ځل لپاره د رسول اللهﷺ د نبوت خبر ورسېدئ نو ده خپل ورور ته وویل: چي مکې ته ولاړ سه او د رسول اللهﷺ ټول حالات معلوم کړه او خبري يې په ښه غور سره واوره اودې خبري ته هم ځير سه چي رسول اللهﷺ وايي: ماته د آسمان څخه وحي راځي ځان په پوه کړه چي څنګه وحي راځي . دده ورور مکې ته ولاړی د حال معلومولو وروسته بېرته راغلی ابوذر ته يې وويل: ما رسول اللهﷺ وليدئ چي خلګو ته يې په نيکو خويو او نيکو عادتونو امر کاوه او د خولې څخه يې داسي کلام اورېدل کېدئ چي نه شعر و او نه د کاڼانو ( جادوګري ) خبري وي د ابوذر غفاري رضي الله عنه د ورور په دې لنډو خبرو ډاډ ونسو خپله يې د سفر اراده وکړه د ستي مکې ته روان سو کله چي مکې ته ورسېدئ برابر مسجد حرام ته ولاړی دا چي ده رسول اللهﷺ نه پېژندئ او د چا څخه پوښتنه کول هم غوره کار نه ورته برېښېدئ نو تر ماښامه پوري په مسجد حرام کي واوسېدئ څرنګه چي د اصحابو دا عادت وو چي د مسافرانو خدمت ، د ناتوانو مرسته او ميلمه پالنه به يې کول نو حضرت علي کرم الله وجهه ابوذر غفاري رضي الله عنه کور ته بوتی ميلمستيا يې ورکړه علي رضي الله عنه د پوښتني اړتيا ونه ليده چي د ابوذر رضي الله عنه څخه و پوښتي چي د څه لپاره راغلی يې دوهمه ورځ يې بيا تېره کړه د چا څخه يې پوښتنه ونه کړه چي رسول اللهﷺ څوک دئ دوهم ماښام بيا علي رضي الله عنه بوتی ميلمستيا يې ورکړه فکر يې و کړی چي مسافر دئ د يو کار لپاره به راغلي وي ښايي نن به يې کار نه وي پوره سوی نو پاته سوی دئ علي رضي الله عنه په دوهم ماښام بيا پوښتنه ځني ونه کړه اونه دده څخه داسي څه ښکاره سوه چي علي رضي الله عنه پري وپوهيږي او دده حال معلوم کړي چي دی د څه لپاره راغلی دئ ، دريمه ورځ ابو ذر غفاري رضي الله عنه بيا مسجد حرام ته راغلی د چا څخه يې پوښتنه نه وکړه ښايي وجه به يې داوه چي د رسول اللهﷺ سره د دښمنۍ قصې ډيري مشهوري وي چا چي به د رسول اللهﷺ لټه کول هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د تکليف سره مخ کېدئ ده فکر کاوه چې ښايي که زه پوښتنه وکړم هغه به د دښمنۍ فکر وکړي مفت (وړيا) به په تکليف اخته سم ، دريمه شپه عليAA بوتی پوښتنه يې ځني وکړه چې د څه لپاره راغلي يې ؟او څه مقصد لري ؟ابو ذر غفاريAA لومړی وعليAA ته قسم ورکړی او وعده يې ځني واخيسته چې صحيح حال به راته وايي وروسته يې خپل مقصد ورته وښودئ حضرت عليAA ورته وويل: په الله ﷻ قسم يادوم چې دشک پرته هغه دالله ﷻ رسول دئ سبا چې کله زه ځم هلته به دي بوزم مگر مخالفت بيخي زيات دئ ددې لپاره چې زما او ستا يو ځای تگ معلوم نسي او څوک را څخه ونه ويريږي نو که پر لاري څوک په مخه راغلي زه به پر ضرورت کښېنم بيا به په جامو سمولو اخته سم ته سيده روان سه لنډه دا چې عليAA او ابوذر غفاريAA دنبي کريم ﷺ و حضور ته ورسېدل ، ابو ذرAA درسول الله ﷺ سره خبري وکړي دستي مسلمان سو رسول الله ﷺ په دې موخه چې ابوذرAA ته تکليف نه ورسيږي ورته وي فرمايل: اوس خپله مسلماني پټه وساته خپل قوم ته ولاړ سه هر کله چې الله ﷻ موږ ته بريالېتوب را نصيب کړی بيا به راسي ابو ذر غفاري ؓ وفرمايل: اې دالله رسوله ! قسم په هغه ذات چې زما روح يې په قدرت کې دئ زه به دغه دتوحيد کلمه ددغه بې ايمانو په منځ کې په لوړ آواز وايم دستي يې مسجدالحرام ته تشريف يووړی او هلته يې په لوړ اواز وويل:

(اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده ورسوله ) کله چې ده کلمه خلاصه کړه د څلورو طرفونو څخه خلگ پر راپورته سوه دومره يې وواهه چې مرگ ته نژدې سو د رسول الله ﷺ اکا عباس چې په دغه وخت کې لا مسلمان سوی نه و ـ په دې موخه چې ابوذر خلاص کړي وخلگو ته يې وويل: دا سړی د غفار د قبيلې دئ دغفار قبيله وشام ته پر لاري پرته ده او تاسو د شام تجارت کوئ که دا سړی ووژل سي نو و شام ته به ستاسو لاره بنده سي خلگو چې دا خبره واورېده فکر يې وکړی چې زموږ ټولې اړتياوې د شام څخه پوره کېږي که دشام لاره بنده سي دا خو لوی تاوان دی نو لدې امله يې ابوذرAA پرېښودئ ابوذر غفاريAA دوهمه ورځ بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجدحرام ته راغلی بيا يې دشهادت کلمه په لوړآواز وويل خلګو ددغه کلمې داورېدلو زغم نه درلودئ دستي پر راوغورځېدل بيا يې وواهه عباس د تيري ورځې په څېر خلاص کړی چي ستاسو دتجارت لاره بندېږي .

فايده: درسول اللهﷺ د منعه کولو په صورت کي چي ابو ذرغفاريﷺ ته يې امر کړی و چي اسلام پټ ساته بيا هم ده مبارک اسلام ښکاره کړی او وهل يې پر ځان تېر کړه دا دده جوش او جذبه وه ځکه حقيقت داو چي اسلام يو حق دين دئ نو دابو ذرغفاري‎ AA يقين و چي اسلام حق دين دئ نو د چا ټيکه ده چي له ويري به يې اسلام نه ښکاره کوم ؟او رسول اللهﷺ چي دی منع کاوه دا درسول اللهﷺ شفقت او مهرباني وه چي موږ ته خو داسلام په خپرولو کي تکليفونه ډېر دي بايد ددې تکليفونو څخه دی خلاص وي کېدلای سي چي دی به يې ونه زغمي اصحابو کرامو چي به کله په دغه ډول د رسول اللهﷺ د لارښووني مخالف کار وکړی دادوی دا اللهﷻ اورسول اللهﷺ سره دميني هغه غلبه وه چي دوی به يې داداره کولو توان نه درلودئ که نه نو ددې مجال خو بيخي دامکانه وتلی و چي دوی دي درسول اللهﷺ څخه مخالف کار وکړي ،يو نمونه به يې په راتلونکي باب کي راسي ، حضرت ابوذر غفاري AA ددې پر ځای چي په دين کي تکليفونه نه ووينې د رسول اللهﷺ حقيقي تابعداري غوره کړه چي داسلام ښکاره کول دي دا هم يوه لويه خبره وه همدالامل و چي اصحابو تل برياليتوب لاسته راوړی او په هر ميدان کي به دوی بريالي وه د دنيا او آخرت ګټي به يې په برخه وي تر داسي بريده چي يو چا به يو ځلي د شهادت کلمه وويل داسلام تر بيرغ لاندي به راغلی بيا به لوي ، لوي طاقتونو ددين څخه نه سوای منع کولای او لوي ، لوي ظلمونو به ددې د دين څخه نسو ای اړولای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د حضرت خباب بن الارت AA تکلیفونــــه

حضرت خبـاب بـن الارت AA دهغـه مبـارکو هسـتو څخـه دئ چـي خپـل ځـان يـې و سـختو امتحـانونو تـه وړانـدي کـړی دئ او د الله ﷻ پـه لاره کـي يـې ډيـر زيـات تکليفونـه تېـر کـړي دي نوموړی هغه مسلمان صحابي دئ چي د پنځو يا شپږو کسانو وروسته دستي مسلمان سوی دئ . دهمدې وجهي څخه ده مبارک ډېر تکليفونه ګاللي دي. حضرت خباب AA ته به د اوسپني زغره ورواغوستل سوه بيا به د غرمې په سختو ګرميو کي و غورځول سو او د زحمت څخه به زياتي خولې ترې بهېدلې کله به داسي وسوه چي ستوني ستخ بـه پـر ګرمو ډبرو وغورځول سو چي د ډېره زحمته څخه بـه يې د ملا غوښې ورستې سوې او تـوی بـه سوي حضرت خباب AA د يوې ښځې مريی و کله چي يې باداره خبره سوه چي خباب AA د رسول الله ﷺ سره ملا قات کوي نو دې به اوسپنه ګرمه کړه بيا به يې په دغه اوسپنه سر ورداغي . يوه ورځ حضرت عمر فاروق AA په خپل خلافت کي د خباب AA څخـه دده دتکليفونو پوښـتنه وکـړه چـي د اسلام پـه لومړيو کـي کافرانو باندي تېـر کړي وه ده مبـارک خپلـه مـلا ښـکاره کـړه او وې ويـل تاسو زمـا مـلا و ګوری عمر AA چي دده ملا وليده وې ويل ما خو داسي ملا تر اوسه نه ده ليدلې خباب AA ورتـه وويـل: کافرانو به زه پر اور وغورځولم کله چي به يې را پورته کړم زما د ملا په وازګه او وينو به اور مړ سو ، دا داصحابو کرامو ژونـد لـيـک و دومري سختـی يې تېرولـې ددې ددومـره سختيو سـره - سره کله چي اسلام ترقي حاصله کړه دغه مبارکو اصحابو به ژړل او ويل به يې چي هسي نه چي دغه ترقي زموږ دتکليفونو بدله وي او آخرت ته مو شی نسي پاته ، حضرت خباب AA فرمايي : يـوه ورځ رسـول الله ﷺ د عـادت خـلاف ډېـر اوږد لمـونځ وکـړی مـوږ پوښـتنه ځنـي وکـړه چـي يارسول ا لله ﷺ ! دا څومره اوږد لمونځ و ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : دا دويري او رغبت لمـونځ و پـدې لمانځه کي ما و الله ﷻ ته درې دعاوي وکړې دوې دعاوي قبولي سوې يوه نه سوه قبولـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ دعا مي دا وه چي يا الله ﷻ زما امت په قحط سالي سره مه هلاکوې ، دا دعا قبوله سوه ، دوهمه دعا مي داوه چي يا الله ﷻ زما پر امت باندي داسي ظالم آمر مه مقرروې چي زما پر امت دومره ظلمونه وکړي چي بيخي يې ختم کړي ، دا دعا مي هم قبوله سوه ، دريمه دعا مي دا وکړه چي يا الله ﷻ زما په امت کي خپل منځۍ جګړې مه اچوې دا دعا نه سوه قبوله.

حضرت خباب ﷺ د اوه ديرشو کالو په عمر وفات سو دی لومړی صحابي و چي په کوفه کي دفن سو دده د مړيني وروسته حضرت علي ﷺ دده وقبر ته ودرېدئ او وې فرمايل: پر حضرت خباب ﷺ دي الله ﷻ رحم وکړي په خپله خوښه مسلمان سو په خپله خوښه يې هجرت وکړی ژوند يې په جهاد کي تېر کړی او د ډېر تکليفونه يې پر ځان تېر کړل هغه څوک مبارک دی چي قيامت ياد ساتي او د حساب لپاره تياري کوي ، پر دومري مال باندي صبر کوي چي دده ګذاره په کېږي او خپل بادار يعني الله ﷻ راضي کوي.([6])

فايده: په حقيقت کي د الله ﷻ رضا ددغه کسانو په برخه وه ځکه دوی هر کار د الله ﷻ د رضا لپاره کاوه.

## ٧- حضرت عمار ﷺ او دده مبارک د مور او پلار بيان

حضرت عمار ﷺ او دده مور او پلار د اسلام لپاره د کافرانو دلاس څخه تر سختو هم زيات سخت تکليفونه تېر کړل د مکي مکرمې پر توده شګلنه مځکه باندي عذاب ورکول کېدئ نبي کريم ﷺ چي به کله د دوی په لوري ولاړی دوی ته به يې د صبر تلقين ورکاوه او د جنت زيری به يې ورکوی دده پلار حضرت ياسر ﷺ په دغه تکليفونو کي مړ سو کافرانو تر مرګه پوري آرام

([6]) (اسد الغابة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پرېښودئ او مور يې ابوجهل لعين په شرمګاه کې په نېزه ووهل او شهيده سوه د عمار ﭬ مور حضرت سميةﭫ سپين سرې وه خوبيا هم دهيڅ شي پروايې ونه لرل تر مرګ پورې د اسلام څخه نه واوښته دا په اسلام کې لومړۍ شهيده وه او د اسلام لومړی مسجد يعنې مسجد قبا عمار ﭬ جوړ کړی، کله چې رسول اللهﷺ مدينې منورې ته تشريف يووړی عمار ﭬ وويل چې د رسول اللهﷺ لپاره د سيورې يو ځای جوړول ضروري دئ چې پکښې تشريف ږدې غرمه آرام پکښې کوي او لمونځ سيورې ته کوي نو حضرت عمار ﭬ اول ډبرې را ټولې کړې او مسجد قبا يې جوړ کړی حضرت عمار ﭬ په جنګ کې په ډېره مينه او جذبه ګډون کاوه يوه ورځ په جنګ کې په جذبه راغلی او وې ويل: ځو د خپلو دوستانو سره يو ځای کيږو د محمدﷺ د ډلې سره يو ځای کيږو په دغه حالت کې تږی سو د او بو غوښتنه يې وکړه يو چا د اوبو پر ځای شيدې ورکړې ده مبارک شيدې وڅښلې بيا يې وويل: ما د رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چې ته به په ژوند کې وروستی شی شيدې څښې د دغه خبرې وروسته شهيد سو د شهادت پر مهال يې عمر شپږنيوي (۹۲) کاله و ځينو بيا يو نيم کال کم عمر ښودلی دئ.([7])

## ۸- د حضرت صهيب ﭬ اسلام

حضرت صهيب ﭬ د حضرت عمار ﭬ سره يو ځای اسلام راوړی ، رسول اللهﷺ د حضرت ارقم ﭬ په کور کې تشريف درلودئ چې دوی دوه هر يو جلا- جلا د رسول اللهﷺ په خدمت کې حاضر سوه خو نابېره په دروازه کې سره يو ځای سوه خپلې موخې يې يو و بل ته ښکاره کړې چې د رسول اللهﷺ فيض لاسته راوړل وه . کوم تکليفونه چې د مسلمانانو ودغه کوچنۍ ډلې ته

---

([7]) اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدل ده ته هم ورسېدل آخر تنګ سو د هجرت کولو اراده يې وکړه خو کافرانو داهم نه خوښول چي مسلمانان هجرت وکړي او يو بل ځای هوسا ژوند وکړي نو په هر چا چي به خبر سو ه چي هجرت کوي نو دهغه د نيولو کوشش به يې کاوه دنورو مسلمانانو په څېر چي کله په صهيب ﷵ خبر سوه چي هجرت کوي په ده مبارک پسي يې هم يو ډله پسي کړه چي وې نيسي او دتکليفونو څخه خلاص نه سي حضرت صهيب ﷵ د غشو کڅوړه را وايستل او هغې ډلي ته يې وويل: ګورئ ! تاسو پوهيږئ چي زه ښه غشي ويشتونکی يم تر څو چي زما په لاس کي يو غشی وي هيڅوک به ماته را نژدې نسي که مي غشي خلاص سي نو تر څو چي زما توره په لاس کي وي يو به هم ځان ته نژدې نه پرېږدم او که تاسو پيسې غواړئ نو زه به تاسو ته خپلي پيسې وښيم ورسئ هغه واخلئ دوې مينځياني مي په مکه کي دي هغه هم بوزئ ده مبارک چي و خلګو ته دا خبري واورولې هغوی په پيسو راضي سوه دی يې پرېښودئ ده مبارک خپل ځان په پيسو رانيوئ او هجرت يې وکړئ په دې اړه لاندني آيات نازل سو :

←❍✽❍⬂▦♦☼ ❽⚹❷⇧⌖□④ ♊♦✌ ⬎□✍□✡♑✍✃ ☙⇗♌✌♦❒

▤ ★✐✍✃ ☞✞✍✽➭⬄❺⬩☟ ◆⬈✐✍♦⬄♌✍⬀✍✍✃

♌⑩✍♦⌛♌➔⬂♑✍✍⚼✍ ✉✍❒↓⬈◆❻ ✦✐✍✃◆❒

(8) ⬗⚹☞⚺⬀

ژباړه: ځيني د خلګو څخه د اللهﷻ د رضا دلټولو لپاره خپل ځانونه په پيسو اخلي اللهﷻ پر خپلو بندګانو باندي زيات نرمي کوونکی دئ.

په دغه وخت کي رسول اللهﷺ په قباء مسجد کښي تشريف درلودئ چي صهيب ﷵ يې وليدئ او ورته وې فرمايل: تا په خپل تجارت کي ګټه وکړه حضرت صهيب ﷵ فرمايي: په دغه وخت کي

(8) البقره الاية (٢٠٧) ، درمنثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اللهﷺ خرماوي خوړلي زما سترګه خوږېدل ما هم پـه خوراک شروع وکړه رسول اللهﷺ راته وویل: ستا سترګه خوږه ده ته خرماوي خوري ؟ ما ورته وویل: یا رسول اللهﷺ ! وهغه لوري ته یې خورم چي هغه سترګه روغه ده رسول اللهﷺ چي دده جواب واورېدئ وې مسل ، حضرت صهیبAA زیات خرڅ کاوه آن تر دې چي یو ځلي حضرت عمر فاروقAA ورتـه وویـل : چي تـه بې ځایه خرڅونه کوې ده مبارک ورته وویل: چي پر نا حقه کار هیڅ ځای خرڅ نه کوم حضرت عمر فاروقAA چي کله وفات کېدئ نو وصیت یې وکړی چي ماته دي حضرت صهیبAA د جنازې لمونځ را کړي.(9)

## ۹ - د حضرت عمر AA د اسلام راوړلو قصه

د حضرت عمرAA پاک نوم هم دمسلمانانو لپاره ویاړ دئ دده مبارک دایمان دجذبې له امله (۱۳۰۰) کاله وروسته دکافرانو په زړه کي وېره پرته ده ، عمرAA د اسلام راوړلو څخه مخکي د مسلمانانو په تکلیف ورکولو کي مشهور و درسول اللهﷺ د وژني هڅي یې کولې، یوه ورځ د کافرانو یوه جرګه جوړه سوې وه په دغه جرګه کي غوښتنه سوې وه چي څوک به محمدﷺ ووژني ؟ عمرAA وویل: زه به یې ووژنم ، خلګو ورته وویل : ښېشکه ته یې وژلای سې ده هم دستي توره را واخیسته د محمدﷺ د وژني قصد یې وکړی کله چي دی را روان سو پر لاري سعد بن ابي وقاصAA په مخه ورغلی پوښتنه یې ځني وکړه چي چیري ځې اې عمره ! عمرAA ورته وویل : څمه چي محمدﷺ ووژنم ( العیاذ باالله) د بنو زهره قوم سعد بن ابي وقاصAAورته وویل : څومره بې فکره سوی یې که ته محمدﷺ ووژني دبنو زهره قوم ، د بنو

(9) اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاشم قوم او دبنو عبد مناف قوم به تا ووژني عمرﷺ ته درد (غصه) ورغله او ورته وې ويل: فکر کوم چي ته هم بې دينه سوی ( مسلمان سوی ) يې ؟ نو اول به ستا کار دروکړم يعني وه به دي وژنم بيا به ګورم ، دا خبره يې وکړه توره يې راوکښل سعد بن ابي وقاصﷺ([10]) وويل: هو زه مسلمان سوی يم خپله توره ده هم را وکښل د دواړو طرفو څخه د تورو واروونه شروع سوه دجګړې په اوږدو کي حضرت سعد بن ابي وقاصﷺ و عمرﷺ ته وويل: ته لومړی د خپل کور څخه ځان خبر کړه چي ستا خپله خور او اخښی دواړه مسلمان سوي دي ، عمرﷺ چي دا خبره واورېده د درد څخه ډک سو او برابر د خور کور ته روان سو د خور کور ته چي ورسېدئ دده اخښي حضرت خبابﷺ چي مخکي يې قصه تېره سوه دروازه تړلي وه دخپلي ميرمني سره يوځای دقرآنکريم په تلاوت بوخت و عمرﷺ په زوره دروازه ووهل حضرت خبابﷺ دده د ږغ سره دننه پټ سو دقرآن کريم سېپاره د چابکۍ له امله دباندي ځني پاته سوه خور يې دروازه خلاصه کړه د عمرﷺ په لاس کي يو شی و په هغه يې خور په سر کي ووهل او ورته وې ويل: دخپل ځان دښمني ! بې دينه سوې ( مسلمانه سوې ) يې ؟ دخور تر سر يېويني رواني سوې عمرﷺ دننه ورغلی و اخښي ته يې وويل : څه مو کول او دا آواز د چا و ؟اخښي يې ورته وويل خبري اتري مو کولې عمرﷺ ورته وويل: ايا تا خپل دين پرايښی او بل دين ته اوښتی يې اخښي يې ورته وويل: که بل دين حق وي نو بيا ؟ عمرﷺ چي دا واورېدل دستي يې اخښی تر ږيره ونيوی ږيره يې ځني وکښل پر مځکه يې را غوځار کړی ښه يې وواهه خور يې د خلاصولو کوشش کاوه خو ده پرمخ باندي په دومره زور سره په چپلاخه ووهل چي تر مخ يې ويني رواني سوې آخر داخو هم دعمر خور وه ورته وې ويل: موږ په دې وجه وهل کيږو چي مسلمانان سوي يو ښښکه موږ مسلمانان يو څه چي ستا په وس وي هغه وکړه په دغه حالت کي د

(10) ځينو علماؤ دده پر ځای د بل صحابي نوم ليکلي دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر ﷜ پرهغه سپاره سترګي ولګېدې چي په تلوار کي دباندي پاته سوي وه او دقرآنکريم اياتونه پري ليکلي وه په دغه وخت کي د عمر ﷜ درد په وهلو کم سوی و او دخور وينه يي وليده چي ډېره بهېدلې وه شرم ورغلی نو خورته يي وويل: ښه ته راته هغه واپه داڅشي دئ ؟ خور يي ورته وويل: ستا لاس نا پاکه دئ ناپاکه لاس ودې سپارې ته نسي ورتلای عمر ﷜ چي هر څومري ټينګ سو خو خور يي و بې اودسه او بې غسله چاته د قرآنکريم اياتونه نه ورکول آخر عمر ﷜ ولاړی غسل يې وکړی او هغه پاڼه يې واخيستله په دغه پاڼه کي سورة طه ليکلی و او ويل يې شروع کړل ، کله چي تر ✆♐♓✡♉♑♑✖ 📖❐☼♦♋♋✂♋♋✎✦ ♦✋

✆♐✇♎⬧○♦ ✆♐⬧☟ 📖❐☼♦♋⚐ ▫⬧♋♋⇖⇳⌛⬅⑨⇳❄♐❼

❐♦📖❐🔔♎⚐⬫ ✂♋♋✇🕚○🖫■❑🗐□■ ✎♐🔔♎🗎⇩❷⌘❽✓ ⬀♑⬂⬁

پوري ورسېدئ حال يې بدل سو خور او ا خښني ته يې وويل: ښه دئ ما هم د محمد ﷺ خدمت ته بوزئ ددې خبري په اورېدلو سره حضرت خباب ﷜ دباندې راووتی او ورته وې ويل: اې عمره ! زه تاته زيری درکوم چي پرون دپنجشنبې په ورځ رسول الله ﷺ داسي دعا وکړه ، چي اې الله ﷻ ! په عمر او ابو جهل کي چي کوم يو تاته خوښ وي په هغه سره اسلام ته قوت ورکړې يعني مسلمان يي کړه ( دوی دواړه په قوت سره مشهور وه ) خباب ﷜ زياته کړه: معلومېږي چي د رسول الله ﷺ دعا ستا په هکله قبوله سوې ده ددې څخه وروسته عمر ﷜ د رسول الله ﷺ وخدمت ته حاضر سو او د جمعې په سهار يې اسلام راوړی.([11])

کله چي حضرت عمر ﷜ مسلمان سو د کافرانو مرال ټيټ سو خو بيا هم مسلمانان يوه کوچنۍ ډله وه او په کافرانو ټوله مکه ډکه وه بلکي ټول عرب کافران وه د عمر ﷜ په مسلمانېدو کافرانو نور هم زور واخيستی مشورې او جلسې يې شروع کړې او د با عزته

([11]) خصائص

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو د له منځه وړلو کوشش يې کاوه او بېلا بېل پلانونه يې جوړول مګر مسلمانانو ته دعمر ﷺ په مسلمانېدو يو وياړ ور په برخه سو هغه داو چې مسلمانانو په مسجدحرام کې په ښکاره لمونځ کول شروع کړه،حضرت عبدالله بن مسعود ﷺفرمايي:دعمر ﷺ مسلمانېدل دمسلمانانو فتحه وه او هجرت يې دمسلمانانو ملاتړ و او خلافت يې رحمت و.(12)

۱۰:و حبشې ته د مسلمانانو هجرت او په شعب ابي طالب کي نظر بنده کېدل

حضرت محمدﷺ او مسلمانان په مکة کې دسختو تکليفونو سره مخ وه او ورځ تر بلې تکليفونه د کمېدو پر ځای زياتېدل نوحضرت رسول اکرمﷺ اصحابو ته اجازه ورکړه چې ددې ځای څخه بل ځای ته ولاړسي زياتو اصحابو کرامو وحبشې ته هجرت وکړی دحبشې پاچا که څه هم عيسايي و تر دغه وخته پوري لا مسلمان سوی نه و مګر د زړه په نرموالي او عدل خوښوني سره مشهور و دخدای تعالي (رجب) په مياشت کي دنبوت په پنځم کال د يوولسو يا دوولسو نارينوو دڅلورو يا پنځو ښځو پوري يوې ډلې وحبشې ته هجرت وکړی د مکې خلګ په پسې سوه چي ولاړ نه سي مګر په لاس نه ورغلل اصحاب کرام حبشې ته ځني ورسېدل حبشې ته چي ورسېدل مسلمانان په هغه ځای کي خبر سول چي دمکې خلګ ټول مسلمانان سوي دي او اسلام غالب سوی دئ دوی مبارکان په دې خبره ډېر خوشحاله سوه او بېرته خپل وطن ته را روان سوه کله چي مکې ته را نژدې سوه ورته معلومه سوه چي پورتنی خبره بې بنسټه ده او دمکې خلګ د پخوا په څېر بلکي تر هغه لا زيات دمسلمانانو په زورولو اخته دي نو ډېر خوابدي سوه ځينو مبارکو اصحابانو بېرته و حبشې ته تشريف يووړی ، ځينو بيا ديو

(12) ( اسد الغابة )

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ځخه پناه واخيسته او مکې ته داخل سوه دغه هجرت ته د حبشې لومړی هجرت ويل کيږي ، ددې ځخه وروسته يوه لويه ډله د درواتيا نارينه و ، اتلس ښځو ځخه جوړه وه په بېل ـ بېل ډول يې وحبشې ته هجرت وکړی دغه هجرت ته د حبشې دوهم هجرت ويل کيږي ، ځينو اصحابو يو هجرت وکړی او ځينو دواړه هجرتونه وکړه ، کافرانو چې مسلمانان وليدل چې په حبشه کې آرام ژوند تيروي نو نور يې درد (غصه ) زياته سوه او ډېري تحفې يې برابري کړې يوې ډلې ته يې په لاس ورکړې د حبشې پاچا نجاشي ته يې ور واستولې ، همدا ډول يې هغه خاصو کسانو ( پادريانو ) ته تحفې ورواستولې چې د پاچا سره يې نژدې ناسته درلوده د مکې د کافرانو ډله چې کله حبشې ته ورسېده نو لومړی يې د واکمنانو او پادريانو سره وليدل او تحفې يې ورکړې ددوی ځخه يې وعده واخيسته چې پاچا ته به يې سپارښت کوي بيا دغه ډله د پاچا و دربارته حاضره سوه لومړی يې پاچا ته سجده وکړه بيا يې تحفې ورکړې ورسره يې خپل خواست هم ورته وړاندې کړی چې خواست يې په دې ډول و : اې پاچا ! زموږ دقوم يو ځو بې عقلانو هلکانو خپل زوړ دين پرې ايښې دئ يو نوی دين يې غوره کړی دئ داسې دين دئ چې نه يې موږ پېژنو او نه يې تاسو پېژنی دلته ستاسو هيواد ته راغلي دي دلې او سيږي موږ دمکې مشرانو ، ددغه هلکانو پلرونو ، اکا ګانو او خپلوانو رالېږلي يو چې دغه کسان بېرته له ځانه سره بوزو تاسو دوی موږ ته وسپاری د دوی د خبري سره سم هغه واکمنانو او پادريانو چې دوی رشوت ورکړی و د دوی طرفداري او پلوي وکړه پاچا ورته وويل : کومو کسانو چې زما په هيواد کې پناه اخيستې وي دخبرني پرته يې تاسو ته نه سو سپارلای لومړی به هغه راغواړم معلومات به ځني لاسته کوم که چيري ستاسو خبره صحيح وه نو تاسو ته به يې دروسپارم او که ستاسو خبره درسته نه وه نو ستاسو غوښتنه نه سم پوره کولای ، دستي يې مسلمانان راوغوښتل په لومړی وخت کښې مسلمانان ډېر خوابدي سول چې څه به کوو ، خو د الله ﷻ مرسته او فضل و چې په همت يې دا پرېکړه وکړه چې پاچا ته به ورځو او پاکه خبره به



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته کوو ، کله چې مسلمانان و شاهي دربار ته را ورسېدل لومړی یې سلام ووایه ، دستي یو چا نیوکه پرې وکړه چې دوی د پاچا ادب ونه کړی یعني پاچا ته یې سجده ونه کړه ، مسلمانانو ورته وویل چې زموږ نبيﷺ د اللهﷻ څخه پرته وبل چاته دسجدې کولو اجازه نه ده راکړې ، ددې خبرو وروسته پاچا د دوی د حالاتو پوښتنه وکړه حضرت جعفر ﷺ ورمخکې سو پاچا ته یې وویل: موږ په ډېر سخت جهالت کې پراته وو نه مو اللهﷻ پېژانده او نه دهغه په رسولانو خبر وو د ډېرو عبادت به مو کاوه مرداري به مو خوړلې بد کارونه به مو کول خپلوي مو پرې اینښي وي زورور سړي به کمزوري کس واژه موږ په دې حالت کې وو چې اللهﷻ یو رسول راولېږی داسي رسول دئ چې موږ یې نصب ، صداقت ، ایمانداري او پرهیزګاري ښه پېژنو دغه رسول موږ د یوه اللهﷻ یعني د شریک پرته و عبادت ته راوبللو د ډېرو او بتانو دعبادت څخه یې منعه کړو ، د ښو کارونو حکم یې راته وکړی ، د بدو کارونو څخه یې منعه کړو ، موږ ته یې د ریښتیا ویلو ، امانتدارۍ ، وصیله رحمۍ ، د همسایه سره د ښه سلوک ، دلمانځه کولو ، روژې نیولو ، خیرات ورکولو او دښو اخلاقو حکم وکړئ ، دزنا ، بدکارۍ ، درواغ ویلو ، دیتیم دمال خوړلو ، پر چا د تهمت ویلو او داسي نورو بدو عملونو څخه یې منعه کړو . موږ ته یې د قرآنکریم ښوونه راکړه موږ په هغه ایمان راوړی او دهغه حکمونه مو ومنل همدا لامل و چې زموږ قوم زموږ دښمنان سوه او دهر ډول تکلیفونو رارسول یې شروع کړه موږ اړ سو چې د خپل نبيﷺ د لارښووني سره سم ستاسو په هیواد کې پناه واخلو . پاچا وویل: کوم قرآن چې ستاسو نبي تاسو ته راوړی دئ د هغه څخه ماته یو څه راوړی حضرت جعفر ﷺ د سورة مریم لومړني ایاتونه ورته تلاوت کړه پاچا چې دقرآنکریم دغه ایاتونه واورېده ـ دی او دده پادریان چې دلته موجود وه ټولو ډېر وژړل آن تردې چې ږیري یې لندې سوي وروسته پاچا وویل: په اللهﷻ قسم یادوم چې دغه کلام او هغه کلام چې حضرت عیسيعليه السلام راوړی دئ دیوه نور څخه را وتلي دی بیا یې دمکې وخلګو ته انکار وکړئ چې زه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ته دغه مسلمانان نسم سپا رلای دمکې خلګ ډېر خوابدي سوه او ډېر سپک سوه پخپلو منځو کي يې مشوره پيل کړه دمشورې په بهير کي يوه وويل : زه به سبا يو داسي چل وکړم چي پاچا د دوی ريښې پرېکړي ملګرو ورته وويل: داسي کار نه دئ په کار ځکه که څه هم دوی مسلمانان سوي دي بيا هم زموږ خپلوان دي خودغه سړي نه ومنل سبا بيا و پاچا ته ورغلل پاچا ته يې وويل: پاچا صاحب !دغه مسلمانان ستاسو د پيغمبر حضرت عيسي‌ﷺ په هکله بې ادبي خبري کوي او وايي چي حضرت عيسي‌ﷺ د خدایﷻ زوی نه دئ پاچا د دوهم ځل لپاره مسلمانان راوغوښتل ، مسلمانان د غوښتني پر مهال د تېر وار په پرتله زيات خواشيني سول په هر صورت مسلمانانو ويلي دي چي موږ پاچا ته ورغلو پاچا راته وويل: تاسو دعيسي‌ﷺ په هکله څه وایاست ؟ مسلمانانو ورته وويل: موږ دعيسي‌ﷺ په هکله هغه څه وايو چي اللهﷻ زموږ پر نبيﷺ باندي نازل کړي دي پاچا ورته وويل: ستاسو پر نبيﷺ باندي د عيسي ▲ په هکله څه نازل سوي دي ؟ مسلمانانو ورته وويل : عيسي ▲ د اللهﷻ نبي دئ ، د اللهﷻ بنده دئ ، د اللهﷻ روح دئ ، د اللهﷻ کلمة ده ،اللهﷻ د يوې پيغلي ( بي واده ) ښځي يعني بي بي مريمي▲ په وجود کي پيدا کړی او بيا يې وزېږوی. نجاشي پاچا ورته وويل: ستاسو خبري ريشتيا دي ځکه عيسي‌ﷺ هم تر دغه خبرو زياتي نه دي ويلي دپاچا سره ناستو پادريانو بک، بک شروع کړی يعني خبري يې سره واړولي خو پا چا ورته وويل: تاسو چي هر څه واياست خو حقيقت داسي دئ لکه مسلمانان چي وايي دديې څخه وروسته يې دمکې کافرانو ته ببرته تحفې په لاس ورکړې او مسلمانانو ته يې وويل: تاسو نور په امن کي ياست هر څوک چي تاسو ته تکليف رسوي تاوان به ورکوي بيا يې دغه اعلان هم وکړی چي مسلمانان په امن دي هر څوک چي تکليف ورکوي تاوان باندي لازم دئ.([13])

---

([13]) ( خميس )

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کې په حبشې کې د مسلمانانو عزت نور هم زيات سو د مکې د کافرانو ډله سپکه او رسوا سوه په دغه کار د مکې د کافرانو د حسد جذبه نوره هم زياته سوه او حضرت عمر ﷛ هم اسلام راوړی و دده مبارک په اسلام سره هم دوی ډېر سوځيدل ، دوی غوښتل چې د مسلمانانو سره د نورو خلکو ليدل بند سي او په يو ډول نه په يو ډول د اسلام ډېوه مړه کړي آخر دا چې د مکې مشرانو مشوره وکړه ـ په مشوره کې يې وويل چې اوس نو د محمد ﷺ وژل ضروري دئ مګر د محمد ﷺ وژل څه آسان کار نه و ځکه بنو هاشم يو لوی خاندان و بنو هاشم که څه هم مسلمانان نه وه مګر د محمد ﷺ و وژلو ته هم تيار نه وه نو له همدې امله کافرانو يو وعده سره وکړه چې د بنو هاشم او بنو عبد المطلب سره پرېکوڼ کوي يعني د دغه دوو قومو سره به نه څوک خبري ، نه به څوک ورسره کښېني ، نه به څوک رانيول او خرڅول ور سره کوي ، نه به څوک کورته ورځي او نه به يې کورته پرېږدي تر هغه وخته پوري چې دوی نبي کريم ﷺ ومرګ ته نه وي حواله کړي د دوی دغه وعده دخولې پر خبرو خلاصه نه سوه بلکې په عملي ډول يې د محرم (حسن حسين) په لومړۍ د نبوت په اووم کال يو پرېکړه ليک وليکی او په مکة مکرمه کې يې و ځړاوه او ټولو خلکو ته يې خبر ورکړ ی چې د دغه پرېکړه ليک به پوره درنښت کوي او په پلي کولو کې به يې پوره کوشش کوي د دغه پرېکړې له وجهې اصحاب کرام ﷷ د دوو غرونو په منځ کې يعني په يوه سخته وچه مځکه کې چې په (شعب ابي طالب) سره يادېده ـ نظر بند سوه نه چا خبري ورسره کولي او نه څوک ورسره يو ځای کېده او نه دوی د چا سره يو ځای کيدلای سوای نه يې دچا څخه شی رانيولای سوای او نه يې د هغه چا سره ملاقات کولای سوای چې د مکې دباندي څخه به راتلی او نه د دوی څخه څوک دباندي راوتلای سوای که به راووتی کافرانو به واهه د مسلمانانو څخه که به څوک يو شی ته اړ سو نو کافرانو به جواب ورکاوه د دوی اړتيا به يې هيڅ نه پوره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مبارکو انسانانو چې لږ غله دانه درلوده په لږ وخت کې خلاصه سوه د خوراک هيڅ نه سوه ورپاته ، د سختو لوږو ورته مخ سو ، دلوږو داسې تکليفونه پرې تېر سوه چې آخر به ددوی اولادونه او ښځو د لوږې د سخت تکليف له امله ژړل ، دوی مبارکان به هم د لوږې څخه په سخت تکليف اخته وه خو د خپل ځان تر تکليف به د اولادونو په لوږه زيات غمګين وه. د څښتن تعالیﷻ پېرزوينه وه چې درې کاله وروسته هغه پرېکړه ليک چې په مکه مکرمه کې ځړېدئ وينو وخوړی اصحاب کرام د پورتنې ناورين څخه خلاص سوه پر اصحابو کرامو چې هر څومره لوږې، تندې او تکليفونه تېر سوه خو دوې پر خپل دين ټينګ ولاړ وه. او ددين د خپرولو څخه يې لاس نه وا خيستی.

فايده: پورتني تکليفونه هغه کسانو پرځان تېر کړې دې چې نومونه يې تر اوسه ځلانده دي او موږ ځانو نه ددوی تابعداران بولو ، د بريالېتوب په ډګر کې د اصحابانو په څېر د ترقۍ خوبونه وينو (او د حقيقي تګ لارې څخه يې ډېر ليرې يو ) لږ تر لږه موږ ته هم يو څه فکر کول پکار دې چې دغه مبارکو اصحابانو ددين لپاره څومره قربانۍ ورکړې دې او موږ ددين ، اسلام او مذهب لپاره څه کړې دې ؟او حال دا چې بريالېتوب د کوشش او زيار په نتيجه کې لاسته راځي. موږ غواړو چې هوسا ، ارام او ددنيا په لذته کې ژوند وکړو. په بې دينۍ او عيش کې د کافرانو سره اوږه پر اوږه روان يو د اسلام ترقي دې هم راسره وي، دا کله کيداې سي.

ترسم نه رسی بکعبه ای اعرابی

کين راه که تو مى روى بترکستان است

ژباړه: وېرېږم اې صحرايي ! چې وکعبې ته به ونه رسيږې ځکه دغه لاره چې ته پرې روان يې ترکستان ته تلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم باب

## د الله ﷻ څخه خوف او وېره

اصحاب کرام رضي الله عنهم د قرباني، ورکولو او تکليفونو تېرولو سره ـ سره د الله ﷻ څخه زيات وېرېدل د دوی د تکليفونو د نمونې په ډول تاسو څو قصې ولوستلې چې د دين لپاره يې مال، عزت او خپل ځان قرباني کړي وه ، الله ﷻ دې وکړي چې دوی دو ېرې او خوف څخه يوه لږه حصه په موږ کې هم پيدا سي د بيلګې په ډول د دوی د خوف او وېرې څو قصې بيانوم:

## ۱ د سيلۍ په وخت کې د نبي ﷺ طريقه

حضرت عايشة رضي الله عنها فرمايي: کله چې به وريځ، سيلۍ او داسې نور پېښ سوه د رسول الله ﷺ پر مخ به اثر ښکاره سو او د مخ مبارک رنګ به يې بدل سو کله به د ننه ولاړی او کله به دباندې راووتی او دا کلمة به يې ويل: اَللّٰهُمّ اِني اَسئَلُکَ خيرَهَا وَخَيرَ مَافِيهَا وَخَيرَ مَا اُرسِلتَ بِهِ وَاَعُوذُبِکَ مِن شَرِهَا وَشَرِ مَافِيهَا وَشَرِمَا اُرسِلتَ بِهِ.

ژباړه: اې خدايه ! ﷻ زه د دې هوا خير غواړم او کوم څه چې په دې هوا کې دي (چې د باران او نورو څخه عبارت دي) د هغو خير غواړم او د کوم مقصد لپاره چې دي د غه هوا رالېږلې ده د هغه خير غواړم اې خدايه ﷻ ! زه د دې هوا د شر څخه پنا غواړم کوم څه چې په دې هوا کې دي د هغه د شر څخه پنا غواړم او د کوم څه لپاره چې دي رالېږلې ده د هغه د شر څخه پنا غواړم. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي به باران شروع سو رسول ﷺ به خوشاله سو ،حضرت عایشه فرمایي: ما د رسول ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله ﷻ رسوله ! خلک چي وریځ وویني خوشالیږي ته تر هغه وخته پرېشانه یې چي باران شروع کېږي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه څه باور نلرم چي په دې وریځ کي به د الله ﷻ عذاب وي او که به باران وي، دعادیانو قوم دا عادت درلودئ چي وریځ به راغله دوی به خوشالېدل یوه ورځ وریځ راغله دوی خوشاله وه چي باران دئ مګر په هغه وریځ کي د الله ﷻ عذاب و تولوله يې هلاک کړه.([14])

الله ﷻ د عادیانو په اړه فرمایلي دي:

[illegible] ([15])

ژباړه: دعادیانو قوم چي کله وریځ ولیده چي د مځکي پر لوري راروانه وه نو وې ویل: دا وریځ پر موږ باران اوروي (الله ﷻ وفرمایل) نه داسي نه ده بلکي دا هغه عذاب دئ چي تاسویې د راتلو ژر غوښتنه کول (او پیغمبر ته به موویل: که ته ریښتني یې نو پر موږ عذاب راوله ، الله ﷻ

(14) درمنثور
(15) سورة الاحقاف الاية (٢٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په دې ډول بيان کړی دئ:) يوه سخته سيلۍ ده چې سخت عذاب پکښې دئ او هر شی به د الله ﷻ د حکم سره سم تباه کړي وروسته د هغه سيلۍ په وجه ټول داسي هلاک سوه چې دو دانيو پرته هيڅ نه پکښې ښکاريدل (الله ﷻ فرمايي:) موږ په دغه ډول مجرمانو ته عذاب ورکوو.([16])

فايده: تاسو وګورئ چي هغه څوک چي د دنيا او آخرت سردار دئ دومره زيات د الله ﷻ څخه ويريږي سره له دې چي ټولو ته معلومه ده چي الله ﷻ په قرآنکريم کي د رسول ﷺ سره وعده کړې ده چي ستا په شتون کي به ودوی ته عذاب نه ورکوم ددې وعدې سره ـ سره بيا هم رسول الله ﷺ ته د سيلۍ او وريځي د راتګ په وخت کي به دتيرو قومونو عذاب ور په ياد سو.

د رسول الله ﷺ په حال کي يو څه فکر کول پکار دي که تاسو وګورئ موږ هر وخت په ګناهونو کي اخته يو زلزلي او نور ډول ـ ډول عذابونه وينو بيا هم ددې پر ځای چي د الله ﷻ څخه و ويريږو ، توبې و باسو او لمونځونه وکړو بې ځايه تحقيقات شروع کړو.

## ۲- په تياره کښي د حضرت انس ﷺ عمل

نضر بن عبدالله ﷺ فرمايي: د حضرت انس ﷺ په ژوند کي يوه ورځ دورځي تياره خوره سوه زه د حضرت انس ﷺ و حضور ته ورغلم او ورته ومي ويل: چي د نبي ﷺ په زمانه کي هم دا ډول شيان راتلل انس ﷺ راته وويل: د نبي ﷺ په زمانه کي چي به لږه هوا تېزه سوه موږ به د قيامت څخه ويريدو او په چټکۍ سره به و مسجد ته تلو.

يو بل صحابي ابودرداء ﷺ فرمايي: د رسول ﷺ دا عادت و چي کله به سيلۍ را والوته نبي ﷺ به و مسجد ته تشريف يو وړی.([17])

(16) بيان القرآن
(1717) جمع الفوائد

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: په اوس وخت کي لوی ـ لوی مصيبتونه او بلا وي راځي بيا هم هيڅوک مسجد ته نه دي تللي عام خلګ خو پرېږده بلکي خاصو خلګو هم دا کار نه دئ کړی خپله په زړه کي ددې سوال په جواب کي فکر وکړئ.

## ۳ـ د لمر ترندي نيولو په وخت کي د رسول ﷺ عمل

د رسول الله ﷺ په زمانه کي د اصحابو کرامو سره دا فکر و چي رسول ﷺ به د لمر د تر ندي نيولو په وخت کي څه کوي او دا به يې ويل: چي ددې کار خبرنه دي وسي. کله چي به لمر تر ندي ونيوی اصحابانو مبارکانو به خپل کارونه پر ښنودل په چابکۍ سره به راغلل همدا ډول د نوی عمر هلکان چي د غشي ويشتلو په تمرين به اخته وه په چابکۍ سره به را غلل څو وګوري چي رسول الله ﷺ څه کوي؟ رسول الله ﷺ به دوه رکعته د کسوف ( دلمر ترندي نيولو ) لمونځ ادا کړی او ډېر به يې لمونځ اوږد کړی دومره به يې اوږد کړی چي خلګ به بې هوښه پرېوتل په لمانځه کي به يې ژړل او فرمايل به يې: اې خدايه ﷻ ! تا زما سره وعده نه وه کړې چي ستا په شتون کي به پر دوی عذاب نه راولم ؟او نه به په داسي وخت کي عذاب پرې راولم چي دوي په استغفار اخته وي؟(يعني اې الله ﷻ ! دا ترنده ليري کړې).

الله ﷻ په سورة الانفال کي درسول ﷺ سره وعده کړې ده چي ته په دوی کي موجود يې پر دوی به عذاب نه راولم ، نه په داسي وخت کي عذاب پرې راولم چي دوی په استغفار اخته وي ځکه الله ﷻ فرمايي:

⬀☠←♑♦✉✍ℯ⓿⊠➔⇖⓿♋♐ ✦✎✍✃ ✑♍♎•▤ ✍♦✌◆❒

✦✎✍✃ ✑♍♎⊠✉ ✍♦✌◆❒ ▤ ⬀☠✐✐❸♋▫ ✽✵☼❒🕮◆❒

(c) ketabton.com: The Digital Library



♦♌❒⬉❷♎▦⬂⬄♦✌⬄○◻④ ⬀☠➔♎♦❒ ⬀☠←♑♦✍✆✍♏⓿⍓➔⬉✌
.(18) ⬑▩▩⬀

ژباړه: الله ﷻ داسي نه دئ چي پر دوی عذاب راولي او حال دا چي ته په دوی کي یې او نه الله ﷻ په عذاب کونکی دی حال دا چي دوی استغفار ویونکي وي.

رسول الله ◂ و خلکو ته داسي نصیحت وکړی: که چیري لمر یا سپوږمۍ تر نده ونیسي نو ووېرېږئ او د لمانځه و لوري ته هڅه وکړئ زه چي کوم څه کوم دآخرت حالات وینم که تاسو ته دا حالات معلوم سي نو خندا به کمه کړی او ژړا به ډېره کړی کله چي مو داسي حالات (دلمر او سپوږمۍ ترنده) و لیدل لمونځ کوئ، دعا کوئ او صدقه ورکوئ.

### ۴- نبي کریم ﷺ تو له شپه په ژړا تېرول

رسول الله ﷺ یو ځلي تو له شپه په ژړا تېره کړه او تر سهار یې په لمانځه کي د آیات وایه:

⬀☠⬋♈◻✠♐✉♦▫ ⬀☠⬋♈⬀▯✍♏⓿⍓➔➔✍ ♌♐◗
⬀☠←♑♦♒◙ ⬀❷♎▦⬂⬄♦✍ ♌♐◗♦❒ ☎ ⌧✇←⑩✍♦⌛♎⬉
↓❽③✎⓾⍓➔⬂♒◙✍✁ ❁✌☼❒🕮 ⍓✇✵☼♐✉♦▫
(19) ⬑⬏⬏♎⬀◐⚐⑩⬁▤◘♦⬂💻✍✁

ژباړه: (اې خدایه!) که ته دوی په عذاب کړې (ستا اختیار دئ)، دوی ستا بنده ګان دي (مالک اختیارلري چي خپلو بندګانو ته دګناه په بدل کي سزا ورکړي) او که ته دوی ته مغفرت

(18) سورة الانفال الاية (٣٣)
(19) سورة المآئده الاية ( ١١٨ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې ( نو هم ستا اختيار دئ ) بېشکه ته ،هم ته غالب يې او د حکمت ښتن يې ( معافي به دي د حکمت موافق وي ) [20]

د امام ابو حنيفه رحمه الله په اړه راغلي دي چي يوه شپه يې ټوله لاندينی آيات په لمانځه کي لوستي او ژړل يې:

♦🏱⬀❑◆⓿⬂♑🕾📞✂ ☎✂❐↓❽🕔♦☞⬂👌📞✂◆❐

( [21] ) ⮰♋♉⬀ ♦♌❑⇖👌⌘❷⇳⬈⇖☺⬂♑🕾📞✂ 📞◘&♒⑨❐🕮

ژباړه: جلا سئ اې مجرمانو ! نن ورځ ( په دنيا کي خو تاسو او سپېڅلي خلک ګډ اوسېدلاست )

د قيامت په ورځ به مجرمان جلاوي او سپېڅلي خلک به جلا وي د الله ﷻ دغه حکم چي سړی واوري هر څومره چي سړی وژاړي لږ ده ځکه نه ده معلومه چي موږ به د مجرمانو په ډله کي يو او که به د سپېڅلو خلګو په ډله کي يو.

### ۵- د الله ﷻ څخه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وېره

د ټولو اهل سنتو په اتفاق سره حضرت ابوبکر رضی الله عنه د انبياوو نه پرته تر ټو لو انسانانو غوره انسان دئ او دده مبارک جنتي کېدل يقيني دي پخپله رسول ﷺ د جنتي کېدو زيری ورکړی دئ بلکي د جنتيانو د يوې ډلي سردار يې ښودلی دئ، او د جنت د ټولو دروازو څخه يې د بلني زيری ورکړی دئ او دايې هم فرمايلي دي چي زما په امت کښي به تر ټولو لومړی حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه جنت ته داخليږي دده مبارک ددومره فضلېتو سره ـ سره بيا هم د الله ﷻ څخه دومره

---

( [20] ) بـيـان الـقـرآن
( [21] ) سورة يـسين الايـة (٥٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېرېدئ چې ويل به يې: کاشکې زه درخته واى چې پرې سوې واى کله به يې ويل: ارمان چې زه هم وابنه واى چې يو حيوان خوړلى واى او کله به يې ويل ارمان چې زه د يو مؤمن انسان د بدن وېښته واى.

يوه ورځ ده مبارک يو باغ ته تشريف يوړى يو حيوان يې ناست وليدئ سوړ اسويلى يې و کښى او حيوان ته يې وويل: ته څومره په خوند خوړل او څښل کوې، د درختو په سايو کې ګرځې او پر تاباندې د اخرت هيڅ حساب او کتاب نسته ارمان چې ابوبکر هم ستا په څېر واى يعني دا يې د الله ﷻ دوېرې خوښه وه چې حيوان واى.([22])

ربيعه اسلمي ﷺ فرمايي: يوه ورځ زما او د حضرت ابوبکر ﷺ په منځ کې څو خبرې زياتې سوې ده مبارک ماته يو سخت لفظ ووايه چې پرما ښه ونه لګېدئ ژر يې فکر بدل سو او راته وې ويل ته هم هغسې بل لفظ ماته ووايه چې بدله خلاصه سې او آخرت ته شى پاته نسې ما دويلو څخه انکار وکړى، ده مبارک را ته وويل چې ووايه که يې نه وايې زه نبي ﷺ ته ورځم او عرض به ورته وکړم ما پدې جواب سره هم د ويلو څخه انکار وکړى، دى ولاړسو او دولاړى پدغه وخت کې د بنو اسلم د قوم څخه څه خلک راغله او وې ويل: دا عجيبه خبره ده چې خپله يې هم زياتى کړى دئ او هم رسول الله ﴿ شکايت کوې مادې خلګو ته وويل تاسو دغه سړى پېژندلى دئ دا څوک دئ؟ دا ابوبکر صديق ﷺ دئ که دى خوابدى سې نو د الله ﷻ نازولى رسول ﴿ به له ما څخه خوابدى سې او د نازولي رسول ﴿ په خفګان سره الله ﷻ ناراضه کېږي که الله ﷻ را څخه ناراضه سي نو بيا د ربيعه په هلاکت کې څه شک سته؟ ربيعه ﷺ فرمايي: ددې څخه وروسته زه د رسول ﷺ و حضور ته حاضر سوم او قصه مې ورته وکړه نبي ﷺ و فرمايل: ښه

([22]) تاريخ الخلفاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي وکړه تاته جواب او بدله اخيستل پکار نه و مګر د هغه په بدله کښي داسي ووايه چي ابوبکره ! تا دي الله ﷻ معاف کړي.

فايده: داد حضرت ابوبکر صديق ﷺ د الله ﷻ دوېري لږ خبره وه وحضرت ابوبکر صديق ﷺ ته بدله اخيستل دومره قدر او ارزښت درلودئ چي لومړی يې و ربيعه ﷺ ته خپله خواست وکړی او بيا يې د نبي ﷺ په واسطه ددې اراده وکړه چي ربيعه ﷺ بدله واخلي نن مونږ او تاسو په سلګو نو خبري يو او بل ته کوو او ددې فکر هم په ذهن کي نه راځي چي په آخرت کي به ددې خبرو بدله اخيستل کېږي او يا به حساب او کتاب راسره کېږي.

## ۲- د حضرت عمر ﷺ حالت او دَخَرَه واقعه

حضرت عمر ﷺ به زيات وخت يوه کڅوړه واخيسته او وبه يې ويل ارمان چي زه دا کڅوړه وای کله به يې ويل ارمان چي زه خپلي مور نه وای زېږولی يوه ورځ يو سړی ورته راغلی او ورته وې ويل: فلانکی سړی پر ماظلم کوي تاسو راسره ولاړ سئ د هغه څخه زما بدله راواخله ده مبارک هغه سړی په يوه دوره وواهه او ورته وې ويل کله چي زه د کار د پاره کښېنم ته نه راځي او کله چي زه په نورو کارونو اخته سم نو ته راسې او راته وايې چي بدله راواخله، هغه سړی ولاړی، ده مبارک دستي يو سړی پسي ولېږه او هغه يې راوغوښتی او دوره يې په لاس ورکړه ورته وې ويل اې سړيه ! ته ما وهلی يې اوس ته زما څخه بدله واخله هغه سړی ورته وويل ماته د الله ﷻ لپاره بخښلی يې.

حضرت عمر ﷺ کورته تشريف يووړی دوه رکعته نفل يې ادا کړه بيا يې خپل ځان ته وويل: اې عمره ! ته کښته وې الله ﷻ لوړ کړې ، ته ګمراه وې الله ﷻ هدايت درکړی، ته ذليل وې الله ﷻ عزت درکړی بيا يې د خلکو پاچا جوړ کړې اوس تاته يو سړی راځي اودرته وايي چي زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلم بدله راواخله ته يې په دوره وهې سبا به د قيامت په ورځ خپل رب ته څنګه جواب وايې ده مبارک په دغه ډول تر ډېره وخته پوري پرځان ملامتي ويل.[23]

د حضرت عمر ﷺ مربی (غلام) حضرت اسلم ﷺ وايي: زه يوه ورځ د حضرت عمر ﷺ سره (حَرَه ــ[24]) نومي ځای ته تلم يوځای مي په يو ځنګل کښي اور تر سترګو سو حضرت عمر ﷺ وفرمايل: ښايي دا يو قافله وي چي د شپې په وجه به ښار ته نسوای تلای د ښار دباندي به پاته سوې وي راځه چي پوښتنه پرې وکړو او ددوی د نن شپې د حفاظت انتظام وکړو هلته چي ورسېدو وموليدل چي يوه ښځه ناسته ده څو کوچني اولادونه ورسره دي ژاړي او چغي وهي يو ديګ پر نغري پروت دئ د اوبو ډک دئ لاندي اور تري بليږي مورږ سلام ورته وواېه اودنژدې ورتلو اجازه مو ځني واخيسته حضرت عمر ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي دا کوچنيان ولي ژاړي؟ ښځي ورته وويل: ډېر وږي سوي دي د لوږي له امله ژاړي ده مبارک بيا پوښتنه ځني وکړه چي په ديګ کښي څشي دي؟ ښځي ورته وويل دا ديګ مي د کوچنيانو د خوشحاله کولو لپاره د اوبو ډک کړی اوپر اور مي ايښي دئ چي ددوی زړونه پرې ډاډه سي او ويده سي ، ښځي زياته کړه چي زما او د امير المومنين عمر ﷺ په منځ کښي به الله ﷻ فيصله کوي چي زما ددې ستړي حال څخه ځان نه خبروي حضرت عمر ﷺ په ژړا سو او وې ويل الله دي پرتا رحم وکړي عمر ستا د حال څخه څه خبر دئ؟ ښځي وويل هغه زمونږ امير جوړ سوی دئ او زمونږ د حال څخه ځان نه خبروي اسلم ﷺ وايي چي زه حضرت عمر ﷺ د ځان سره بيرته بوتلم او په يوه ګونی (بوری) کښي يې د بيت المال څخه څه اوړه، خورماوي، وازګه، څه کالي او څه پيسې واچولې ګونی يې ښه ډکه کړه ماته يې وويل چي دا زما پر ملا باندي کښېږده ما ورته وويل زه به يې يوسم ده مبارک راته وويل: يا زما پر ملا باندي يې کښېږده، دوه درې واره مي ټينګار وکړی چي زه به يې يوسم

(23) اسد الغابة
(24) مدينې ته نژدې د يو ځای نوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده نه راسره منل آخر ده راته ويل ايا د قيامت په ورځ زما بار ته پورته کولای سې ؟ ماورته وويل: يا نه يې سم پورته کولای ده مبارک راته وويل نو دابه هم زه پورته کوم ځکه چي د قيامت په ورځ پوښتنه زما څخه کيږي ، آخر زه مجبوره سوم چي ګونۍ دده پر ملا باندي کښېږدم ، حضرت عمرﷺ په ډېره چابکۍ سره د ښځي و ځای ته تشريف يووړی زه هم ورسره وم هلته چي ورسېدو ده مبارک په پخپل لاس په ديګ کښي څه اوړه، څه وازګه او خورماوي وديګ ته واچولې او دديګ لړل يې شروع کړه ، د نغري اوريې پخپله پوه کاوه اسلمﷺ وايي دده مبارک دږيري څخه دود وتل ماوليدل اخر دا چي ږېره يې په دود توره سوه ددې څخه وروسته يې پخپل مبارک لاس دديګ څه خواړه راويسته او په هغه کوچنيانو يې وخوړل هغه ښه ماړه سوه په خندا او لوبو اخته سوه او کوم څه چي پاته سوه هغه يې ددوی د بل وخت لپاره وروسپارل ښځه هم ډېره خوشاله سوه اووې ويل الله تعالیﷻ دي تاته د خير بدله درکړي ته ددې وړ يې چي د عمرﷺ پر ځای باندي خليفه سې .(ښځي دا خبره له دې امله وکړه )چي ښځي دی نه پېژانده چي امير المومنين دئ ، عمرﷺ دې ته تسلي ورکړه او ورته وې ويل کله چي ته خليفه ته ورسي ما به هلته پيدا کړې عمرﷺ ددوی څخه لږ لېري پر مځکه کښېناستی د لږ ناستي وروسته روان سو او وې ويل: زه له دې وجهي څخه کښېناستم چي ما دغه کوچنيان په ژړا ليدلي وه زما زړه و غوښتل چي لږ ساعت يې په خندا هم ووينم.([25])

حضرت عمرﷺ د سهار په لمانځه کښي زيات وخت سوره کهف،طه او داسي نور لوی- لوی سورتونه لوستل او دومره به يې ژړل چي اواز به يې تر ځو صفونو پوري رسېدئ يوه ورځ يې د سهار په لمانځه کښي سورة يوسف لواسته کله چي دي ځای ته راورسېدئ :♁•☜♦

☑❼⚘❄⇗❽↖❍◆❐ ⚘✐☐ॐ♦✍ ☎✂❑⬈▤⇳⮝❒🕮 ✎✍⍓☺❃✡⚘⑦

---

([25]) اشهر مشاهير منتخب كتر العمال



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



✆♐⍰■❼ ✂ ✍ ★ ❐◆🕮❐⇱⇳■☠⇱ 👌♎ ➚ ✂ ✍ ★ 👌◆ ✍ ••
✍⬧➔⬃■😊←❑♍ ➚ ♎♎⬲ (26) نو د ژړا له وجهې یې اواز بند سو تر خولې یې رېغ نه خاتی.

کله به د تهجد په لمانځه کښې په ژړا پرېوتی او ناجوړه به سو.

فایده: داد الله ﷻ د وېرې ښخه د هغه چا حالت دئ چې د نامه ښخه یې لوی ــ لوی پاچاهان وېرېدل او رپېدل نن ورځ یعني دیارلسنیم سوه کاله وروسته یې هم دبدبه ، شان او شوکت منل سوی دئ، نن یو پاچا نه ، حاکم نه بلکې یو کوچنی آمر هم د خپل رعیت سره داسې معامله نه کوي.

## ۷- د حضرت عباس ﷺ نصیحت

وهب بن منبه 🏛 فرمایي: د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ د سترګو دید لمنځه ولاړی یوه ورځ ما کعبې شریفې ته بوتی هلته چې ورسېدئ د یوې ډلې خلګو ښخه د جګړې اواز راتلی ماته یې وویل ما دغه طرفته بوزه نو ماهلته بوتی ده مبارک درسېدو سره سم سلام وواېه هغو خلګو دده ښخه د کښېناستلو غوښتنه وکړه ده انکار وکړی او وې فرمایل تاسو ته معلومه نه ده چې د الله ﷻ د خاصو بنده ګانو ډله هغه خلګ دي چې د الله ﷻ د وېرې ښخه خاموشه وي حال داچې هغه خلګ نه عاجزه او نه ګونګیان وي بلکې ښه پاکې خبرې کوونکي وي، ویونکي وي، پوهه لرونکي وي خو د الله تعالی ﷻ لوی ذکر ددوی زړونه حیران کړي وي ددغه وجهې ښخه یې زړونه مات وي او ژبې یې خاموشه وي کله چې دوی ته په دغه حالت کې پوخوالی پیدا سي نو نېک

(26) سورة يوسف الاية (٨٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه په چابکۍ سره کوي. ( اې خلګو ! ښه کسان خو داسې وي لکه چې ومې ويل ) نو تاسو و لې دومره لېري سوي ياست ؟ يعني اوازونه مو پورته کړي دي.

وهب بن منبه فرمايي ددې څخه وروسته مادوه کسان هم يو ځای ونه ليدل.

فايده: حضرت عبدالله بن عباس ﷺ به د الله ﷻ د ويرې څخه دومره ژړل چې هروخت به يې په مخ کې داوښکو دبهېدو له امله دوې نښې د نالو په څېر معلومې وې.

په پورتنۍ قصه کښې عبدالله بن عباس ﷺ د نيکو کارونو لپاره يوه اسانه تګلاره وښودل هغه دا چې هر څوک د الله ﷻ د لويې فکر وکړي د هغه لپاره هر ډول نېک کار اسانه وي او بيا هغه يقيناً د اخلاصه ډک وي که موږ په شپه او ورځ کښې يعني ۲۴ ساعته کښې په دغه ډول يو لږ فکر وکړو نو دغه ګران کار دی ؟

## ۸- د تبوک په سفر کښې د ثموديانو په کلي تېرېدنه

د تبوک غزا يوه مشهوره غزا ده او د رسول ﷺ وروستۍ غزا ده کله چې رسول اکرم ﷺ ته خبر ورکړل سو چې د روم پاچا پر مدينه منوره د حملې کولو اراده لري يو لوی لښکر ورسره دئ اود شام پر لاره مدينې ته راځي نو رسول الله ﷺ د هجرت په نهم کال د خدای تعالي(رجب) دمياشتې پر پنځمه د پنج شنبې په ورځ دروم د پاچا مقابلې ته د مدينې منورې څخه روان سو لکه څرنګه چې سخته ګرمي وه او مقابله هم ډېره سخته وه لدې و جهې نبي ﷺ صفا اعلان وکړی چې د روم د پاچا مقابلې ته ځو تياري وکړی ، نبي ﷺ پخپله ددې کار لپاره چنده کول شروع کړل دا هغه غزا ده چې حضرت ابوبکر صديق ﷺ خپل د کور ټول سامان ددې جګړې لپاره راوړی او کله رسول الله ﷺ ورته وويل چې اې ابوبکر صديق ! د کور خلګو ته دې يو شی پرېښودئ حضرت ابوبکر ﷺ ورته وويل: چې د کور د خلګو لپاره مې الله ﷻ او دده درسول ﷺ دنوم برکت او ددوی رضا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالي پرېښودل، حضرت عمر ﷺ ددې غزاء لپاره د خپل کور نيم سامان راوړی چي قصه به يې په شپږم باب څلورم شمېره کښي راسي، حضرت عثمان غني ﷺ ددريمي حصې د جنګياليو سامان ورکړی همدا ډول هر مسلمان تر خپل توان زيات شيان راوړل لکه څرنګه چي په عمومي ډول مسکنت زيات وو نو لس ـ لس کسان به پر يوه او ښ باندي په وار سره سپرېدل له همدې امله ددې جنګ و جنګياليو ته جيش العسرة ( د سختۍ لښکر ) ويل سوی دئ. دا جګړه ډېره سخته وه او سفر هم ډېر ليري و ګرمي هم زيات وه دومره ګرمي وه چي په دغه وخت کښي د مديني منورې د خرماو باغونه پاخه ولاړوه حال دا چي د مسلمانانو لپاره د ټول کال د رزق د جمع کېدو وخت و دا په حقيقت کښي د الله ﷻ سخت امتحان و ديوې خوا د الله تعالي څخه وېره وه او دنبي ﷺ امر و چي د تللو پرته بله لار نه وه د بلي خوا دټول کال رزق له منځه تلل و ځکه ټولي درختي پخي وي هغه ټولي بې سرپرسته پاتېدي خو ددې ټولو سختو تکليفونو سره د الله ﷻ وېره پردوی مبارکانو باندي غالبه سول او درسول الله ﷺ سره روان سول يواځي منافقان، معذورين، ښځي، کوچنيان او هغه کسان پاته سول چي په مدينه کي ورته اړتيا وه او ياداسي کسان پاته سول چي ددوی لپاره سپرلۍ نوي د ژړا په حالت کښي پاته سول الله ﷻ يې په اړه ايات نازل کړی:

☒🖰⬀❑⬧✍❒🕮 ✏🙰♦🖄 ✁⬧➊🙳➋ 🙞▫⇦🙰🕭⅄✏🙰✁ ➐■✍♦⬉ ⬧⬧♦❒

✏🙰♦🖄 ←⑨⬂♉❒🕮 ☟⬧ ✾☄☼◘➔🕭 ⬄🏳←♑■◙🙰☺⬄⬧♦✌🙰🙬

☎✁❑⅄🙬♦❑⬧✍ 🙰❍⬂⓿■◙♦⬉ ⬀☠→⌛➔◙🙰☞⬃❑❒🕮

⬀➚⬂🖄⦿🙰✏🙰✁ ⌘♊🙰🖄↓⅄⓿🙰▦⬧✍ ⬄🏳←♑⬉☪⬉⓿⇳⬉❒🕮◻❒



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



♦♌❑➔⑩♐▤☾⇖③ ☞♦✌ ☎✁❒⇦⑨⬂♑•⑥ ⋅•❐🕮 ☞🕒☼♦❽⍓❍
(27) ⬑✍✗⬀

دیادوني وړه ده چي درې کسان د ضرورت پرته پاته سول چي قصه به يې وروسته راسي کله چي رسول ﷺ او اصحاب ﷺ د ثمودیانو پر کلي تېرېدل نو نبي ﷺ خپل مخ مبارک په لمن پټ کړی او اوښه يې تېزه کړه اصحابو کرامو ﷺ ته يې امر وکړی چي پر دې ځای په تېزۍ سره تېر سئ ، د ظالمانو په کلي کښې په ژړا تېر سئ او په دې وېره تېر سئ چي خدای مکړه هغه عذاب پر تاسو نازل نسي کوم چي پردوی نازل سوی دئ.(28)

فایده: د الله تعالی خوږ او نازولی بنده او دده سرتیري دوستان چي د خپلي قرباني ثبوت ورکوي په دغه ځای کښې په تېزۍ سره تېرېږي او رسول ﷺ په ژړا د تلو حکم ورکوي چي خدای مکړه هغه عذاب پر دوی نازل نسي (کوم چي پر ثمودیانو نازل سوی و) زموږ حال وګوره په کوم کلي کښې چي زلزله وسي د هغه ځاي څخه د سیل ځای جوړوو ، دوران سوو ودانیو وسیل ته ورځو ژړا خو څه کوي بلکي په زړه کښې د ژړا فکر لا نه کوو.

## ۹- په تبوک کښې د حضرت کعب ﷺ غیر حاضري او د هغه توبه

د تبوک په غزا کښې د معذورانو څخه پرته د اتیاوو څخه زیات منافقان د انصارو څخه وه چي په جنګ کي يې ګډون نه وکړی په دغه پیمانه د کلو او صحراو خلک هم وه ، ددې څخه علاوه یوه لویه ډله د باندنیو خلکو څخه داسي وه چي خپله هم په غزاء کښې نه وه تللي او نور يې هم منعه کول لکه چي الله ﷻ ددوی بیان داسي کوي:

---

(27) سورة التوبة الاية (٩٢)
(28) اسلام ، خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاتَنفِرُوا فِي الحَر.

ژباړه: (منافقانو به نورو خلګو ته ویل: ) په ګرمۍ کښې مه وځئ.

یعني دوی به خلک منعه کول چې سخته ګرمي ده مه ځئ او حال دا چې الله ﷻ فرمایي ددوزخ د اور ګرمي ډېره سخته ده.

ددغه خلګو څخه علاوه درې ریښتني پاخه مسلمانان هم وه چې د قوي عذر څخه پرته په جنګ کښې نوه شریک سوی یو کعب بن مالک ﷛، دوهم هلال بن امیه ﷛ او دریم مراره بن ربیعه ﷛ دا درې سره مبارک اصحابان د نفاق دعذر په وجهه نوه پاته سوي بلکې خوشحالي یې د پاته کېدو سبب سو.

کعب ﷛ خپل حالات په تفصیل سره بیانوي وروسته به راسي، د مراره بن امیه ﷛ باغ ښه د میوو ډک و فکر یې وکړی چې که چیري زه ولاړ سم نو ټوله میوې به ضایع سي زه تل په غزاو کښې شریک سوی یم که دا ځل نسم ولاړ نو څه پروا لري ددغه وجهي څخه پاته سو خو کله چې په حقیقت پوه سو نو دباغ ټولي میوې یې د الله ﷻ په لاره کښې صدقه کړې ځکه دغه میوې دده دپاته کېدو سبب ګرځېدلي وې.

دهلال ﷛ اولادونه او خپلوان یو خواته تللي وه نابېره په دغه وخت کښې سره جمع سول ده هم دا فکر وکړی چې زه تل په غزاو کښې شریک سوی یم که دا ځل شریک نسم نو څه تاوان لري کله چې په حقیقت پوه سو نود زړه له درده یې د ټولو قریبانو سره د اړیکو پرېکولو اراده وکړه ځکه دغه اړیکي دده د پاته کېدو سبب ګرځېدلي وې.

د حضرت کعب ﷛ قصه په احادیثو کې زیاته راغلېده خو دی مبارک خپل حالت په تفصیل سره داسې بیانوي: زه د ټولو غزاو په وخت کې دومره شتمن نه وم لکه د تبوک دغزا په وخت کې چې شتمن وم ما پدغه وخت کې دوې او ښانې درلودې او بل هیڅ وخت زه ددوو اوښانو مالک سوی نه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نبي ﷺ عادت داو چې هر چیري به یې د جنګ اراده وکړه نو د جنګ د ځای معلومات به یې نه ورکاوه بلکې د نورو اړخونو حالات به یې پوښتل خرنګه چې د تبوک په غزاء کښې ګرمي ډېره وه، سفر هم لیري و او د دښمن دلښکر شمېر هم زیات و نو ځکه یې په ښکاره اعلان وکړی تر څو خلګ تیاري وکړي همدا وجهه وه چې د نبي ﷺ یو لوی شمېر مسلمانانو نومونه ثبت کړه آن تر دې چې د نومونو لیکل یې مشکل سو که چا غوښتي وای چې ځان پټ کړي نو د خلګو د ډېروالي له امله یې ځان په ډېره اسانۍ سره پوټوالای سوای کعب ؓ وایي پدغه وخت کې میوې بیخي پخې وې ما به سهار د سفر د سامان دتیارولو اراده وکړه خو ماښام به سو هیڅ قسم تیاري به مي نه وکړه مګر ما په خپل زړه کښې دا فکر کاوه چې زما سره هر څه سته که زه پخه اراده وکړم نو ژربه وسي تر داسي وخته چې نبي کریم ﷺ روان سو او مسلمانان ورسره روان سوه زما دسفر سامان تیار نسو بیا به مي هم دا فکر کاوه چې په یوه یا دوو ورځو کښې به ځان تیارکړم وربه سم پدغه ډول مي نن او سبا ته کول تر داسي وخته چې دنبي ﷺ هلته د رسېدو وخت ډېر نژدې سو هغه وخت مي هم کوشش کاوه خو سامان مي تیار نسو پدغه وخت کې چې ما په مدینه منوره کې شاوخوا وکتل نو یوازې به مي هغه کسان تر سترګو کېدل چې د نفاق داغ به پرې لګېدلی و او یابه معذوره وه ، نبي ﷺ چې تبوک ته ورسېدی پوښتنه یې وکړه چې کعب ؓ نه معلومیږي څه پېښه ده یو ملګري وویل: اې د الله رسوله ! هغه خپل مال او ښکلا مست وګرځاوه حضرت معاذ ؓ دغه کس ته وویل: غلطه خبره دي وکړه مونږ ته چې څومره معلومات سته هغه ښه سړی دئ نبي ؓ چوپ سو هیڅ یې ونه ویل تر داسي وخته چې د څو ورځو وروسته ما درسول الله ◄ د بېرته راتلو خبر واورېدئ نو ډېر غمجن او فکرمن سوم په زړه کښې به مي ددرواغو عذرونه راتلل چې دنبي ﷺ د درد (غصې) څخه به ځان په خلاص کړم بیابه د بخښې خواست ځني وکړم پدې اړه مي د خپلي کورنۍ د هر یوه سره مشوره کول بالاخره په زړه کښې مي دا پرېکړه وکړه چې د ریښتیا پرته مي بل شی نسي خلاصولای نو مي ټینګه اراده وکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي ﷺ ته به رېښتيا وايم ، د نبي ﷺ مبارک عادت دا و چې کله به يې د سفر څخه تشريف راوړی نو لومړی ځل به يې مسجد ته تشريف يووړی او هلته به يو لږ وخت و اوسېدئ چې د خلګو سره ملاقات وکړي ، رسول الله ﷺ د تبوک څخه د راتګ پر وخت د خپل عادت سره سم مسجد ته ولاړی منافقان به ورته راتلل د دروا غو عذرونه به يې ورته ويل او قسمونه به يې ورته اخيستل نبي ﷺ به د هغو ښکاره حال قبلاوه او پټ حال به يې الله ﷻ ته سپاری پد غه وخت کې زه حاضر سوم او سلام مې وو ايه نبي ﷺ د خوابد تيا په ډول مسکی سو او اعراض يې را څخه وکړی ماته يې هيڅ توجهه ونه کړه ما ورته وويل: اې د الله رسوله ! تاسو زما څخه مخ واړوه په الله تعالي دې مې قسم وي چې نه زه منافق يم او نه مې په ايمان کې شک سته ده مبارک راته وويل: دې خوا ته راسه زه ورنژدې سوم او کښېناستم نبي ﷺ راته و فرمايل: کوم شی د تلو څخه منعه کړی وې؟ آيا تا او ښاني نه وي رانيولي؟ ما ورته وويل: اې د الله رسوله ! که ستا پر ځای د يو بل شتمن سړی سره مخامخ وای نو زما دا يقين دئ چې د هغه قهر څخه به مې په يوه مناسب عذر ځان خلاص کړی وای ځکه الله ﷻ ماته د خبرو کولو طريقه را زده کړې ده خو ستاسې په اړه ماته معلومه ده چې که چيري نن تاسو په دروا غو راضي کړم نو الله ﷻ به را څخه ناراضه سي او که پاک رېښتيا درته ووايم تاسو به راته په غصه سی خو نژدې دی چې الله ﷻ به ستاسو خفګان ليري کړي نو ځکه زه رېښتيا درته وايم حقيقت دا و چې قسم په الله ﷻ ما هيڅ عذر نه درلودئ او ځومره چې زه په اوس وخت کې فارغ او طاقتمن وم ددې څخه مخکې هيڅ وخت نه وم سوی، نبي ﷺ راته وفرمايل: رېښتيا دې وويل بيا يې راته وويل چې ولاړ سه فيصله به الله ﷻ کوي زه د دغه ځای څخه ولاړ سوم زما د قوم خلګو پرما ملامتي وويل: چې تاددې څخه مخکې هيڅ ګناه نده کړې که چيري تا عذر ويلی وای نبي ﷺ به ستاسو لپاره د بخښني خواست کړی وای د نبي ﷺ استغفار ستا لپاره بس و ما ددوی څخه و پوښتل چې آيا داسې يو بل څوک سته چې داسې معامله ورسره سوې وي خلګو راته وويل: دوه نور کسان سته و نبي ﷺ ته يې داسې خبري وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه تاچي وکړي او نبي ﷺ داسي جواب وکړی لکه تاته چي يې درکړی يو هلال بن اُميه ﷜ او دوهم مراره بن ربيع ﷛ دی.کعب ﷜ فرمايي: ما دوه نور نېکان کسان وليدل چي بدريان هم وه (يعني دبدر په غزا کي يې ګډون هم کړی و ) زما په برخليک راسره شريک وه نبي اکرم ◄ زموږ ددرو سره وو سره د خبرو منعه وکړه چي هيڅوک به زموږ سره خبري نه کوي.

داقانون دئ چي هغه چاته څوک غصه کوي چي د هغه سره يې اړيکي زياتي وي او مينه ورسره لري ، زورونه وهغه چاته ورکول کيږي چي په هغه کي اهليت وي د چاسره چي داسي استعدادنه وي هغه ته نه څوک غصه کوي او نه زورونه ورکوي همدا وجه وه چي نبي ﷺ د منافقينو پر ځای و دوی درو ته په غصه سو ځکه په دوی کي اهليت موجود و. کعب ﷛ فرمايي: خلګو زمونږ سره خبري پرېښودي ګويا زموږ دنيا بدله سوه آن تر دي چي پر موږ باندي فراخه مځکه تنګه معلومېده ټول خلګ پردي سوه هيچا خبري نه راسره کولې او که خدای مه کړه رسول الله ﷺ وفات سي نو تر پايه پوري به خلګ زما سره خبري نه کوي او د مړيني پر مهال به څوک د جنازې لمونځ نه راکوي ځکه د نبي ﷺ دامر خلاف هيچا کار نه سوای کولای زموږ دغه حال تر پنځو سو وروځو پوري و زما دوه ملګري دپيل څخه په کور کي پټ ناست وه زه په دوی کښي يو څه قوي وم ګرځېدم را ګرځيدم او په لمانځه کښي مي ګډون کاوه خو زما سره به هيچا خبري نه کولې. د نبي ﷺ مجلس ته به ولاړم سلام به مي واچوی او په ډېره غور به مي د نبي ﷺ و شونډانو ته کتل چي د جواب لپاره شونډان ښوري که يا دلمانځه وروسته به نبي ﷺ ته نژدې ودرېدم پاته لمونځ به مي کاوه او نبي ﷺ ته به مي پټ- پټ کتل چي هغه مبارک ماته ګوري که يا کله چي به زه په لمانځه مشغول سوم نو نبي ﷺ به ماته کتل او کله چي به زه نبي ﷺ متوجه سوم هغه به زما څخه مخ واړوی او اعراض به يې وکړی په همدې تر تيب مسلمانانو زما سره ګذاره کول آخر پر ما کړی تنګه سوه او پرما د مسلمانانو خبري نه کول ډېر درونډ تمام سو يوه ورځ د ابوقتار ﷛ پر ديواله وختم ابوقتار ﷜ په قرابت کي زما د اکا زوی و او زما سره يې ډيري اړيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودې نو سلام مې ورته ووايه ابوقتارﷺ جواب نه راکړی بيامې دوهم ځل سلام ورته ووايه بيا يې جواب نه راکړې دريم ځل مې بيا سلام ورته ووايه ده مبارک راته وويل: الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ښه پوهيږي ددې خبرې په اورېدو سره مې د سترګو څخه اوښکې رواني سوې او بېرته ولاړم د څو ورځو د تېرېدو وروسته د مدينې بازار ته ولاړم که مې کتل يو عيسايي قبطي د غلې خرڅولو لپاره راغلې دئ او د کعبﷺ په نامه پوښتنه کوي مسلمانانو زما و خواته اشاره وکړه نوموړي عيسايي زما وخواته راغلی او د شام د پاچا غسان خط يې ماته راکړی په خط کې ليکلي وه: مونږ خبرسوی يو چې ستاسو پيغمبر پر تا ظلم کړی دئ الله ﷻ به دې دذلت څخه وساتي ته زما وخواته راسه مونږ به دې مرسته او ملاتړ وکړو( دا ددنيا قانون دئ چې مشر دکشرانو دادب او تربيې لپاره کشرانو ته زورونه ورکوي نو مخالف خوک يې کوشش کوي ترڅو بلې خواته يې ولمسوي او تربيه يې ضايع کړي آخريې خير خوا جوړ سي ) کعبﷺ فرمايي: ماچې خط ولوستئ (اِنا لله) مې وويل چې زما حالت اوس تر داسې اندازې رارسېدلی دئ چې کافر اوس زما طمعه کوي او زما د اسلام څخه د اوښتلو پلانونه جوړوي.

دا خوزه په يو بل غم اخته سوم خط مې راواخيستی يو تنور ته مې واچوی وروسته رسول الله ◄ ته را غلم او عرض مې ورته وکړی چې اې د الله ﷻ رسوله ! ددا اعراض او خوابديا له وجهې زما دغه حالت دئ چې اوس کافران وماته طمعه کوي په دغه وخت کې څلوېښت ورځې پوره سوې وې چې د نبي ﷺ قاصد راغلی او ماته يې وويل: چې خپله ښځه د ځان څخه جلا کړه ما ورته وويل: ايازه خپله ښځه طلاقه کړم؟ هغه راته وويل: يا بلکې بيلتون غوره کړه ما خپلې ښځې ته وويل: چې د پلار کره ولاړه سه تر هغه وخته پورې چې زما په اړه الله ﷻ فيصله کوي همدا ډول زما دوو ملګرو ته هم د يو قاصد په واسطه د رسول ﷺ پيغام ورسول سو د هلال بن اميهﷺ ميرمن و رسول الله ﷺ ته حاضره سوه او خواست يې څنې وکړی چې هلال سپين ږيری دئ که زه ولاړه سم نو دده د خدمت څوک به نه وي که يې د حال او احوال معلومولو لپاره څوک نه وي نو



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلال به مړ سي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پروانه کوي مګر پام کوه چي کوروالی ونه کړئ ښځي ورته وويل: چي هغه ددې نه دئ دا قصه چي پېښه سوې ده هغه په ژړا اخته دئ. کعب ﷺ فرمايي: ما فکر وکړی که زما ميرمن د هلال ﷺ د ميرمني په شان د رسول الله ﷺ څخه اجازه واخلي نو کيدای سي چي ماته هم اجازه راکړي بيا به مي فکر وکړي چي هغه خو سپين ږيری و زه خو ځوان يم ګوره چي ماته څه جواب راکړي نو دلاوري به مي نسوای کولای آخر دا چي لس ورځي نوري تيري سوې چي زموږ سره چا خبري نه کولې يعني پوره پنځوس ورځي پوره سوې يوه ورځ مي د سهار لمونځ پر خپل بام وکړی ډېر غمجن ناست وم مځکه پر ما بيخي تنګه وه او ژوند مي بيخي په تکليف و چي نابېره د سلع د غره د څوکي څخه يو اواز کونکي په لوړ ږغ وويل: اې کعبه ! تاته دي خوشخبري وي ! ما چي دا اواز واورېدئ دستي پر سجده سوم او د ډېري خوشالۍ څخه په ژړا سوم دومري پوه سوم چي تنګي ليري سوې ده. رسول الله ﷺ د سهار د لمانځه وروسته زموږ د معافی اعلان کړی و په دې ډول چي يو سړی ته يې وفرمايل چي غره ته وخېږه او په زوره اعلان وکړه ، دغه اعلان ما تر ټولو مخکي واورېدئ ددې څخه وروسته يو سړی پر آس سپور ماته راغلی او زيری يې راکړی ما هم اغوستي کالي وکښل او زيري ورکونکي ته مي ورکړه ، قسم په الله ﷻ چي په دغه وخت کي ما ددغه جامو * پرته نوري جامې نه درلودې بيا مي ديو چا څخه کالي وغوښتل وامي غوستل.

درسول الله ﷺ و حضورته ورغلم همدا ډول زما هغه نورو ملګرو ته هم خلګو زيری يوو ړی کله چي زه نبوي مسجد ته حاضر سوم نو حاضر خلګ په چابکۍ زما وخواته راغلل مبارکۍ يې راکولې د ټولو څخه مخکي ابو طلحة ﷺ راوړاندي سو چي تل به مي ياد وي.

* که څه هم دده سره نور مال موجود وو خو په هغه وخت کي ژوند داسي وو چي شيان به ئي د ځان سره نه پريښودل ( هذا لهامش من الشيخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کعب ﷺ وايي کله چي زه د رسول ﷺ دربار ته ولاړم نبي ﷺ ته مي سلام وواېه رسول ﷺ خوشاله او خندونکی و د خوشالۍ رڼا يې په مخ کي برېښېدل رسول الله ﷺ چي به خوشاله و نومخ به يې د سپوږمۍ په څېر برېښېدئ ما ورسول الله ﷺ ته عرض وکړی چي اې د الله ﷻ رسوله ! زما د توبې پوره والی دادئ چي زما ټوله جايداد به د الله ﷻ د رضا لپاره په صدقه کي ورکوم ځکه دغه مال زما ددومره غم او مصيبت سبب وګرځېدئ رسول الله ﷺ راته وويل: چي ټوله مال مه صدقه کوه چي د تنګسيا سره به مخ سې بلکي يو حصه يې د ځان لپاره پرېږده ما ورته وويل چي ښه دئ د خيبر حصه دي پاته وي کعب ﷺ فرمايي: ماته رېښتيا ويلو خلاصون را کړی ما د ځان سره وعده وکړه چي ټول عمر به رېښتيا وايم. ([29])

فايد: دا د اصحابو کرامو د الله ﷻ څخه د ويري يوه نمونه وه چي کعب ﷺ په ټولو غزاو کي شريک سوی و صرف په دغه يوه جګړه کي شريک سوی نه و دومره زحمتونه يې پر ځان تېر کړه هر څومره زوروني چي ورکړل سوي ده يې فرمانبرداري وکړه او پنځوس ورځي يې په ژړا تيري کړې او د کوم مال له وجهي څخه چي ورته پېښه سوې وه هغه يې ټوله صدقه کړی ، کافرانو چي طمعه وکړه پدې هيله چي دی په غصه کړي مګر ده دغصي پر ځای نو رهم پر خپلو کړو پښېماني وکړه او دايې هم د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ ناراضي وګڼله چي زما دين دومره کمزوري درجې ته رسېدلی دئ چي اوس کافران طمعه راته کوي چي د دينه څخه مي بې دينه کړي.

موږ مسلمانان يو د اسلام ټول احکام زموږ په وړاندي پراته دي د هغو احکام څخه که لمونځ را واخلو چي تر ايمان وروسته لوی مهم حکم دئ په موږ کي يې څومره خلک کوي؟ او

---

([29]) ( درالمنثور ، فتح الباري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کسان چي يې کوي هغه يې په څه ډول کوي زکوة او حج خو لا ايسته کښېږده څکه په هغه کي خو مال مصرفيږي.

۱۰- د اصحابو کرامو په خندا د نبيﷺ خبر تيا ا و د قبر ياد

نبي کريمﷺ يوه ورځ مسجد ته تشريف راوړی يوه ډله خلګ يې وليدل چي خاندي او د خندا په وجه يې غاښونه سپين معلومېدل رسول اللهﷺ ورته و فرمايل: مرګ ډېر يادوئ که تاسو مرګ ډېر ـ ډېر ياد کړئ نو کوم حالت چي زه وينم (يعني خندا ) به بيا نه پيدا کيږي پر قبر هيڅ داسي شپه نه تېريږي مګر قبر اوازونه کوي چي زه ديوازي والي کور يم، زه د خاورو کور يم، زه د نابودۍ کور يم او زه د چينجيو کور يم کله چي پاک مؤمن په قبر کي کښېښودل سي نو قبر ورته وايي ستا راتله دي مبارک وي ښه دي وکړه چي راغلې څومره انسانان چي پر مځکه باندي ګرځېدل په هغو ټولو کي ته وماته ډېر خوښ وي نو اوس به زما ښه سلوک وويني وروسته نو چي دمړي د سترګو ديد تر کومه ځايه رسيږي په هغه اندازه قبر ور ته پراخ سي او دجنت څخه يوه دروازه ورته خلاصه سي چي د جنت خوشبويي او ښه هوا ورته راځي. کله چي يو بدعمله سړی په قبر کي کښېښودل سي نو قبر ورته ووايي ستا دراتلو دي مبارکي نه وي بد دي وکړه چي راغلې پر مځکه چي څومره انسانان ګرځېده په ټولو کي مي ستا څخه بد راتله نن چي ته ماته و سپارل سوې نو زما معامله به ووينې ددې څخه وروسته قبر پر راتنګ سي دغه کس کښېکاږي تر داسي اندازې چي پښتۍ يې سره تيري سي بيا اويا اژدها مارونه پرده باندي مقرر سي که چيري يو مار پر دنيا باندي يو ځل پو کړي نو د زهرو له امله به د مځکي پر مخ يو وابښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه سي پاته دغه ماران به نوموړي سړی تر قيامته پوري چيچي ددې خبري څخه وروسته رسول ﷺ و فرمايل: قبر يا د جنت يو باغ دئ او يا ددوزخ يوه کنده ده.[30]

فايده: دالله ﷻ څخه ويره زياته مهمه او اړينه خبره ده همدا وجه وه چي رسول الله ﷺ به هر وخت د الله ﷻ څخه دويري په زيات فکر کي و.

مرګ يادول د انسان لپاره زيات ګټور دئ ځکه نبي ﷺ پورتنۍ نسخه وښوده چي د انسان لپاره مرګ يادول زيات اړين او ګټور دئ (يعني همدا دمرګ ياد دئ چي انسان دناوړو کارونو څخه ژغوري).

## ۱۱- حضرت حنظله ﷺ د نفاق ويره

حضرت حنظله ﷺ فرمايي: يوه ورځ موږ درسول الله ﷺ په مجلس کي ناست وو چي رسول الله ﷺ وعظ وکړی داسي وعظ و چي زړونه په نرم سوه او د سترګو څخه اوښکي و بهېدې او خپل حقيقت موږ ته ښکاره سوه ، حنظله ﷺ فرمايي: کله چي زه درسول الله ﷺ د مجلس څخه راولاړ سوم کورته ولاړم ښځه او اولادونه مي راته راغله ددنيا خبري شروع سوې د اولادو سره مي د خوښۍ او خندا خبري شروع کړې د ښځي سره ټوکي او خنداکول شروع سوه هغه حالت ولاړی چي ماد رسول الله ﷺ په مجلس کي ژړل دستي فکر راسره پيدا سو چي ته خو منافق سوی يې يوازې د رسول الله ◄ په مجلس کي داسي يې کورته چي راغلې دستي دي حالت بدل سو په دغه فکر ډېر افسوس راته راغلی او ډېر غمجن سوم دستي د کور څخه راووتلم او دا مي وويل چي حنظله خو منافق سو مخامخ حضرت ابوبکر ﷺ په مخه راغلی ده مبارک ته مي وويل: چي

(30) ( مشکوة )

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنظله خو منافق سو ابوبکر ﷛ راته وویل: سبحان الله هیڅ کله نه، ما خپله قصه ورته بیان کړه چي موږ خو دنبي ﷺ په مجلس کي ناست یو نبي ﷺ د دوزخ او جنت بیان کوی موږ داسي سو چي ګویا دغه دواړه زموږ په مخ کي دي کله چي موږ کورته راسو نو د اولادو، ښځي او مال په غم کي سو دنبي ﷺ د مبارک مجلس خبري ټولي راڅخه ولاړي سي حضرت ابوبکر ﷛ و فرمایل: چي دا خبره خو ماته هم پیښیږي. نو ددې خبري لپاره دواړه دنبي ﷺ حضورته حاضر سوه حنظلة ﷛ و نبي ﷺ ته وویل: اې دالله ﷻ رسوله ! زه خو منافق سوم نبي ﷺ ورته و فرمایل: څه پېښه سوه چي منافق سوې حنظلة ﷛ وویل: یا رسول الله ◄ !کله چي موږ ستا په مجلس کي ناست یو نو ته ددوزخ او جنت بیان راته کوې موږ داسي سو چي ګویا جنت او دوزخ زموږ په مخ کي دئ او کله چي کورته ولاړسو نو د اولادو، کور او ښځي په غمو اخته سو ستا بیان مو دذهن څخه ووزي رسول الله ﷺ و فرمایل: که چیري هغه وخت تاسو داسي یاست لکه زما په مخکي چي یاست نو زما دي قسم په هغه ذات وي چي زما روح دده په قدرت کي دئ چي ملا ئکي به پر لارو او بستر ستاسو سره لاس په لاس وي اې حنظله ! خبره داده .کله کله کله کله.([31])

فایده: دانسان سره انساني اړتیاوي مل وي نو د هغه پوره کول هم ضروري دي لکه خوړل، چیښل، ښځه، اولادونه او ددوی د حال پوښتنه دا هم ضروري شیان دي په دې وجه پورتنی حالت کله کله منځته راځي او هر وخت نه راځي او نه یې امید کول په کار دئ ټول عمر په داسي حالت کي پاتېدل د ملائکو شان دي ځکه داشان دهغوی سره مل وي څرنګه چي انسان دانساني اړتیاوو سره لاس او ګریوان دئ نو ټول عمر په یوه حالت کي نه سي پاتېدلای خو دا خبره ضروري ده چي د اصحابو په پاک ژوند کي ژور فکر وکړو چي هغوی به د نبي ﷺ د مجلس څخه د ولاړېدو وروسته لږ فکر بدل سو نو بیا به یې هم دا ویل چي منافق سوم او د منافق کېدو ویره به

([31]) ( احیاء ، مسلم )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره وه (لکه چې وايي ـ عشق است هزار بد گمانی) يعني عشق دئ او زر بد ګمانۍ دي ، د کوم چاسره چې عشق وي نو زر بد ګمانۍ ورته پيدا سي. د مثال په ډول که د چا د خپل زوی سره مينه وي او هغه يو ځای په سفر ولاړ سي نو هرو خت د زوی د خير او خيريت په فکر کې وي او که خبر سي چې په هغه ځای د طاعون مرض ګډ سوی دئ يا کوم بل فساد پېښ سوی دئ نو خدای خبر چې څومره خطونه به ورته ليږي؟

## تکميل

### د الله ﷻ ښځه د ويري ښل حالات

د قرآن کريم په آياتونو ، حديثونو او د اولياؤ په واقعاتو کښې چې څومره د الله ﷻ دوېري اړونده شيان سته د هغه ټولو يو ځای کول خو ګران کار دئ خو دومري په کار ده چې سړی ځان پوه کړي چې ددين د کمال هره ځينه د الله ﷻ ښځه ويره ده. حضرت عبد الله بن عمر ﷺ دومري زيات ژړل چې په ژړا ـ ژړا کې به يې سترګې خرابې سوې يوه ورځ يو چا وليدئ دده ژړا ته حيران سو ده مبارک ورته وويل ته زما و ژاړ ته حيران يې؟ د الله ﷻ د ويري ښځه لمر ژاړي. په يو بله قصه کې راغلي دي چې ده مبارک ورته وويل: چې د الله ﷻ دوېري ښځه سپوږمۍ ژاړي. يو ځوان صحابي قرآنکريم تلاوت کاوه رسول الله ◄ تېرېدئ کله چې صحابي ودغه ځای ته راورسېدئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



↓↗✐⧼⧽⊡☺○○♍◉⧼⧽✁ ⧼⧽❸✳⊙☽♦⌖♦⧼⧽✁ ✁⬧❶⧼⧽⌧⬧▫

⇗♌⧼⧽⊡♎♍♎⑨♍◉⧼⧽⧼⧽☒✍ ☪☐⊡⑩⇗❻◆❐ ⇧❸✳♦☼♖⬧▤⬧▫

(32) ⬃⌘⌀⇗

نو د بدن وربښتان يې شک، شک ودرېده او په ژړا ـ ژړا پـه سلګو سو او وې ويـل: آه کومه ورځ چې اسمان وچوي يعني قيامت سي زما بـه څه حال وي. هـای ! زبـه برباد يم. ر ول ﷺ ورته وويل: ستا ددې ژړا له امله ملائکي هم پـه ژړا سوې. يـو انصاري ﷺ د تهجد لمونځ وکړی بيا کښېناستی ډېرېي و ژړل او وې ويل: و الله ﷻ ته ددوزخ څخه فرياد کوم. رسول الله ◄ ورتـه وويـل تا نن ملائکي وژړولې.

عبد بن رواحة ﷺ يو صحابي دئ ډېر يې ژړل دده مبارک ښځي چي دی پـه داسي حالت کي وليدئ نو داهم پـه ژړا سوه عبد الله بن رواحة ؓ پوښـتنه ځني وکړه چي و لي ژاړې؟ دې ورتـه وويل ته پر چشي ژاړې؟ دده مبارک ورتـه وويل زه خو پـردې پـه ژړايم چي پـر دوزخ بانـدي تېرېدل سته ګوره چي زه به خلاص سم او که به هلته پاته سم (33)

زراره بن اوفي ؓ پـه يو مسجدکي لمونځ ورکاوه کله چي دې ځای ته راورسېدئ:

(34) ⬃♎⇗⌀❻❐➔♖⧼⧽☐☪♍◉⧼⧽✁ ❼⬧× ♦❷⬀☽🡐☼ ✁⬧❶⧼⧽⌧⬧▫

نو ژر پرېوتی او وفات سو خلقو را پورته کړی او کورته يې يو وړی.

حضرت خليد ؓ يو وخت لمونځ کاوه کله چي لاندېني آيات ته راورسېدئ:

▤ ♎☠⬀❑◘☼▫➝⧼⧽✁ ➔☐⬧☽⌀★✐✁⬧❶ ▫▪⬂▦♦☼ ❻✍↗☒

⬀☠➔▤◆❻❐⬉♉⬆📖 ♒♍⬀☐⅄▫◆❐➔✍ ⧼⧽⊡☺❈☼⧼⧽☽◆❐

---

(32) سورة رحمان الاية (۳۷)

(33) ( قيام الليل)

(34) سورة المدثر الا ية ۸



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



⍓⍓⍓❽⇧❍⇖♋ ♊⍓☺⬩◻ ☎ ♎■⍓☺⌚◆⑩☞☽⬂♑◉☞☜✃ ⧫⮱⬁❑◆③
⬩◻◻✡⍓⬀⬂♑◉☞☜✃ ⬩♏⬗⌘⬋⑩⬆🕮◆❒ ⛔❻☞◻✡♑◉☞☜✃ ⬖♊◆⇖
⬈◻🗐❑◆⑩⍓◖⬂♑◉☞☜✃ ☞◆♐◆❒ 🗏 ⍓♋☞⬩◻ ⇧⑨⬩☽⬩◻
⛔❻❒⇖❷⬈⬄⬂♑◉☞☜✃ ⬅⬈⌚◆☛◆♐ ⬪⬩⧅☽ ✍☞◆⓿⬋☼❻☞✍☞✃
(³⁵) ⬖⬗⬃⧅⬀

نو دغه آیات یې په تکرار سره وو ایه دیوه کونج څخه نابېره ږغ وسو چي تر څو به دغه آیات وایي ؟ ستا په بیا بیا ویلو سره څلور پېرانان مړه سوه.

د یوبزرګ قصه یې لیکلې ده چي قرآنکریم یې وایه کله چي دې ځای ته راورسېدئ:

⓿⚐⬅♑◉⬩♑◉⬁❑◆♐ ★✍☞✃ ❼■🖫⧅☽ ☎✃▦❒♉⑩⬇❻◆❒
(³⁶).☎ ⬀♎🖃⍓⬩⬂♑◉☞✃

نو یوه چیغه یې و کښل و تېبدئ وفات سو نور هم ددې ډول څخه ډېرو واقعات پېښ سوي دي.

حضرت فضیل🏛 یو مشهور بزرګ دئ فرمایي: چي د الله ﷻ څخه وېره سړی ته د هر لوري څخه خیربښيي.

د حضرت شبلي🏛 نوم تولو اورېدلی دئ ، دی مبارک فرمایي: د هغه وخت څخه چي زه د الله ﷻ څخه وېرېدلی یم ماته داسي د حکمت او عبرت دروازه خلاصه سوې ده چي ددې څخه مخکي هیڅ وخت نه وه خلاصه سوي.

په یوه حدیث شریف کي راغلي دي چي الله ﷻ فرمایي: زه پر خپلو بندګانو دوې وېرې نه جمعه کوم او نه دوې بې فکری پرې راولم کوم څوک چي په دنیا کي بې فکره سي نو په آخرت کي

(35) سورة آل عمران الاية ( ١٨٥ )
(36) سورة يونس الاية ٣٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وېروم او که په دنيا کې زما څخه وو ېرېدئ نو په آخرت کې يې بې فکري ورکوم يعنې دا فکر به نه وي ورسره چې دوزخ ته به ولاړ سم.

د رسول الله ﷺ څخه روايت دئ: څوک چې د الله ﷻ څخه وويرېږي دهغه څخه به هر شی ويريږي او که څوک د الله ﷻ پرته د بل چا څخه وويريږي نو هغه به دهر شی څخه ويريږي.

يحيي بن معاذ ؒ فرمايي: که څوک دا الله ﷻ څخه دومري وو ېرېږي لکه د مسکنت څخه چي ويريږي نو برابر به جنت ته ولاړ سي.

ابو سلمان درانيؒ فرمايي: د کوم زړه څخه چي د الله ﷻ وېره ولاړه سي هغه برباد سو.

رسول الله ◄ فرمايي: د کومي سترګي څخه چي د الله ﷻ د وېري اوښکه توی سي که څه هم د مچ تر سر کوچنۍ وي او پر مخ يې پرېوزي نو الله ﷻ به پر ده باندي ددوزخ اور حرام کړي.

رسول الله ﷺ فرمايي: کوم زړه چي دا الله ﷻ د وېري څخه ورپيږي دده ګنا هونه داسي رژيږي لکه دد رختي څخه چي پاڼي رژيږي.

دنبي ﷺ څخه په يو بل روايت کي راغلي دي: څوک چي دا الله ﷻ د وېري څخه وژاړي دهغه کس دوزخ ته تلل داسي مشکل دئ لکه شيدې چي د تيو څخه راووزي بيا يې بېرته په تيو ننوتل مشکل وي.

حضرت عقبه بن عامر ؓ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د خلاصون لاره کومه ده؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمايل: خپله ژبه ترګورت لاندي راوله (يعني قابو يې کړه )په کور کي کښېنه او پر خپلو ګناهونو ژاړه.

حضرت عائشېؓ يوه ورځ درسول اللهﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ايا ستا په امت کي داسي څوک سته چي بې حسابه او بې کتابه جنت ته ولاړ سي؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمايل: هو ! سته هغه څوک دئ چي خپل ګناهونه يادوي او ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د آقا ﷺ يو بل روايت دئ چي فرمايي: والله ﷻ ته دوه څاڅکي ډېر خوښ دي يو د اوښکي څاڅکی دئ چي د الله ﷻ د وېري څخه توی سي دوهم د وينو څاڅکی دئ چي د الله ﷻ پـه لاره کي توی سي.

په بل روايت کي راغلي د ي چي اوه کسان بـه د عـرش تـر سيوري لاندي ناست وي يـو هغـه کس دئ چي په يوازي والي کي يې د الله ﷻ د وېري څخه اوښکي تويېږي.

حضرت ابوبکر ؓ فرمايي: چاته چي ژړا ورځي ودي ژاړي که ژړا نه ورځي نو د ژړا چم دي وکړي.

محمد بن منکدر رحمه الله چي به کله ژړل نو اوښکي به يې پر مخ او ږېره تويـېدلې او ويـل بـه يـې چي ما ته دا روايت رارسېدلی دئ چي ددوزخ اور به وهغه ځای ته نه رسيږي چي په اوښکو لونـد سوی وي.

د ثابت بناني رحمه الله سترګي خوږ سوې يوه طبيب ورته وويل: د يوې خبري وعـده وکـړه سـترګي به دي ښې سي هغه وعده داده چي مه ژاړه ده مبارک ورته وويل: په هغه سترګو کي خير نسته چي نه ژاړي.

يزيد بن ميسرة رحمه الله فرمايي: ژړا د اوو شيانو څخه کيـږي: ليونتـوب، خوشـالي، رياکـاري، درد ، نشه، وېرېدل او د الله ﷻ د وېري څخه ، همدا ژړا چي د الله ﷻ د وېري څخـه وي غـوره ژړا ده چي په يوه اوښکه باندي د دوزخ د اور درياب مري.

کعب احبار رحمه الله فرمايي: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح دده پـه قـدرت کـي دئ کـه زه د الله ﷻ د وېـري څخـه وژاړم او اوښـکي مـي د سـترګو څخـه تـوی سـي دغـه ژړا ماتـه تـر هغـه صدقي غوره ده چي د غره په شان سره زر صدقه کړم.

ددې څخه علاوه نور هم په زرګونو داسي ارشادات سته چي د اخبره ثابتوي چي د الله ﷻ پـه ياد کي او د خپلو ګناهونو په فکر کي ژړا کول کيميا ده او ډېره اړينه او ګټوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله خبره هم ضروري ده هغه دا چې لکه څرنګه چې د الله ﷻ څخه سړی و یرېږي په دغه اندازه بلکې زیات به د الله ﷻ و رحمت ته امید کوي او د امید په کولو کې به کمی نه کوي ځکه د الله ﷻ د رحمت ساحه ډېره پراخه ده.

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دئ، دی مبارک فرمايي: که په ورځ د قيامت اعلان وسي چې ټول خلک جنت ته ځي يو کس به دوزخ ته ځي لا به هم زما دا وېره وي چې هغه کس خو به زه نه يم ، او که داسې اعلان وسي چې ټول خلک دوزخ ته ځي يو کس به جنت ته ځي لا به هم زما اميد وي چې هغه کس به زه يم.

نو پکار ده چې و يره او اميد ببل، ببل وګڼل سي او ځان په پوهه کړل سي ددواړو فکر کول پکار دي په ځانګړې ډول د مړيني پر مهال د اميد فکر کول زيات پکار دئ.

د نبي ﷺ څخه روايت دئ چې فرمايي: په تاسو کې دې څوک نه مري مګر په داسې حالت کې دې مړ سي چې الله ﷻ ته يې زيات اميد وي.

امام احمد بن حنبل ﷫ چې کله وفات کېدئ نو خپل زوی يې راوغوښتی او ورته وې ويل چې ماته داسې حديثونه واوروه چې و الله ﷻ ته اميد په زياتيږي.

درېيم باب

د اصحابو کرامو ﷢ د پرهيزګارۍ او مسکنت بيان

د مسکنت په اړه خپله درسول الله ◄ عادت او دده مبارک و اقعاتي پردې ښودنه کوي چې مسکنت رسول ﷺ په خپله اختيار کړی او خوښ يې و په دې اړه دومره ډېر حديثونه په کتابو کې جمعه سوي دي چې د هغه نمونه بيانول هم ګران کار دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايي: فقر (مسکنت) د مؤمن تحفه ده.([37])

۱- د نبي ﷺ لپاره د غرونو د سرو زرو جوړولو څخه د نبي ﷺ انکار

د رسول الله ﷺ څخه روايت دئ چې دی مبارک فرمايي: الله ﷻ ماته وويل چې ستا لپاره به غرونه د سرو زرو جوړ کړم ماورته وويل: اې خدايه! زما د ا خوښه ده چې يوه ورځ په ماړه نس ډوډی وخورم او دوهمه ورځ وږی سم تا ته زاری وکړم او تا ياد کړم چې کله موړ سم ستا شکر ادا کړم او ستا ستاينه وکړم.([38])

فايده: تاسو فکر وکړی دا د هغه چا حال دئ چې موږ يې تل نوم يادو او دهغه په امتې کېدو باندې فخر کوو او دده مبارک هره خبره موږ ته پر سر او سترګو قبوله ده.

۲- ددنيا د ډېروالي پر غوښتلو باندې د عمر ﷺ خبر تيا او د نبي ﷺ د ګوزارې حالت

رسول الله ﷺ يو وخت قسم اخستی و چې يوه مياشت به خپلو بيبيانو ته نه ورځي تر څو وځو ريږي او ځان ته يې يوه جلا کوټه انتخاب کړې وه په هغه کې اوسېدئ دا خبره په خلګو کې مشهوره سوه چې رسول الله ﷺ و ټولو بيبيانو ته طلاق ورکړی دئ حضرت عمر ﷺ په دغه وخت کې په کور کې و چې دا خبر يې واورېدئ دستي په چټکۍ سره مسجد ته راغلی وې ليدل چې اصحاب کرام جلا، جلا ناست دي او د رسول الله ﷺ د خفګان په وجه ژاړي هلته بيبيګاني په

---

([37]) (ترمذي)
([38]) (ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو کورو کښې ژاړي حضرت عمر ؓ خپلې لور حفصې ؓ ته ورغلی هغې هم په خپل کور کې ژړل عمر ؓ ورته وویل: ته اوس ژاړې ایا ما ته نه وې وېرولې چې د رسول ﷺ د خفګان خبره ونه کړې بیا یې مسجد ته تشریف راوړی په مسجد کې د منبر سره یوه ډله خلک ناست و ژړل یې دی هم هلته یو ګړی کښېناستی خو صبر یې ونه سو نو هغه ځای ته راغلي چې هلته رسول الله ﷺ نژدې و چې وې کتل یو مریی (غلام) حضرت رباح ؓ د کوټې په دروازه کې ناست دی پښې یې ځړانده کړې دي نو د دغه مریی په واسطه یې د رسول الله ﷺ څخه د ننوتلو اجازه و غوښته حضرت رباح ؓ چې رسول الله ﷺ ته راغلی او ورته وې ویل: عمر ؓ د راتلو اجازه غواړي رسول الله ﷺ چوپ سو رباح ؓ راغلی و عمر ؓ ته یې وویل: چې رسول الله ﷺ هیڅ اجازه نه راکړه عمر ؓ بیا د منبر سره کښېناستی بیا یې طاقت نه و سو بیا راغلی د رسول الله ﷺ څخه یې اجازه و غوښته رسول الله ﷺ بیا چوپ سو د عمر ؓ طاقت نه کېدئ دریم ځل یې بیا اجازه و غوښته حضرت رباح ؓ په لوړ اواز وویل: اې عمره! رسول الله ﷺ تا ته د ننوتلو اجازه درکړه حضرت عمر ؓ د رسول الله ﷺ و خدمت ته حاضر سو وې لیدل چې رسول الله ﷺ پر بوریا (چټایي) باندې ستوني ستخ پروت دئ او یو شی سربېره باندې هوار دئ په بدن مبارک کې یې د بوریا نښې دورایه ښکاري تر سر یې د خرمني یو بالښت لاندې دئ چې د خرما د درختو د خاشو څخه ډک دئ. عمر ؓ وایي: ما رسول الله ﷺ ته سلام ووایه د سلام څخه وروسته مې د ستي و پو ښتل: اې د الله ﷻ رسوله! تا و بیبیګانو ته طلاق ورکړی دئ ده مبارک راته وویل: یا، ما و رسول لله ﷺ ته په خوش طبعی وویل: اې د الله ﷻ رسوله! موږ قریشي خلک وو پر ښځو باندې برلاسي وو د انصارو نارینه پر خپلو ښځو باندې برلاسي نه دي زموږ ښځو چې کله د انصارو ښځې و لیدې نو زموږ ښځو هم اثر ځني و اخیستی همدا ډول مې یوه نیمه خبره نوره وکړه چې رسول الله ﷺ مسکی غوندې سو. عمر ؓ زیاتوي ما چې د رسول الله ﷺ په کور کښې و کتل د کور ټول سامان یې درې نارنګ سوي څرمني او یو مټ وربشي وې نور چې مې هر څه شا وخوا وکتل هیڅ شی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو نه راغلی زه په ژړا سوم رسول الله ﷺ راته وويل: ولي ژاړې؟ ما ورته وويل ولي به نه ژاړم ستا په وجود مبارک کې د بوريا نښې معلومېږي او د کور ټول سامان دې دادئ چې زما په مخ کې پروت دئ بيا مې ورته وويل: اې د الله رسوله ! ته د عا وکړه چې ستا په امت کې د پيسو او شتمنې پراخي راسي د روم او پاريس خلک ګوره چې د الله ﷻ د نه عبادت او بې د ينې سره دومره شتمن دي، قيصر او کسرا د ويالو او باغونو په منځ کې دي ته خو د الله ﷻ افضل بنده يې دغه حال دې دئ. رسول الله ﷺ څنګ وهلی و پدغه وخت کې کښېناستی او وې فرمايل: اې عمره ! ته لا تر اوسه په شک کې پروت يې د آخرت نعمتونه او شتمنۍ تر دنيا غوره دي کافرانو ته په دې دنيا کې نعمتونه او ښه ژوند ر سيږي موږ ته په آخرت کې نعمتونه او ښه ژوند رسيږي. عمر رضي الله عنه وويل: اې د الله رسوله ! زما لپاره بخښنه وغواړه ما په دې خبره کې غلطي وکړه.[39]

فايده: دا ددين او د دنيا د پا چا او د الله د نازولي حضرت محمد ﷺ کړنلاره وه چې په بدن مبارک کې يې د بوريا نښې ښکارېدې او د کور ساز او سامان يې هم معلوم سو تاسو وليدئ چې يو چادښه ژوند غوښتنه وکړه ده مبارک دستي خبرتيا ورکړه.

د حضرت عايشې رضي الله عنها څخه يو چا پوښتنه وکړه چې ستا په کور کې د رسول الله ﷺ بستره څنګه وه؟ دې مبارکې و فرمايل: يوه څرمنه وه چې د خرما ددرختې د خاشو څخه ډکه وه.

د حفصې رضي الله عنها څخه هم چا پوښتنه وکړه چې درسول الله ﷺ بستره څنګه وه؟ دې مبارکې ورته و فرمايل: دګونۍ ټوکرو رسول الله ﷺ ته و غوړاوه بيا به پر پرې واتی دا مبارکه وايي: يوه ورځ مې دغه ټوکر څلور غبرګه کړی چې يو څه پوست (نرم) سي سهار رسول الله ﷺ راته وويل: مانښام دې څشي غوړ ولی و؟ ما ورته وويل: هغه ټوکر مې څلور غبرګه کړی و. رسول الله ﷺ راته

[39] ( فتح الباري )

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل بېرته یې هغسي کړه لکه پخوا چي و ځکه د شپې د پورته کېدو څخه منعه کونکی جوړیږي.[40]

موږ ته و ګوره چي پر نرمو پستو ګور بچو او فرشونو باندي بیدیږو الله ﷻ څومره پراخي راکړې ده موږ ددې پر ځای چي د الله ﷻ شکر و کاږو د ناداری ناري وهو.

## ۳- حضرت ابوهریرة ﷺ د لوږي په حالت

حضرت ابوهریرة ﷺ یو ځلي په بوسکي پزه پاکه کړه بیا یې ځان ته وویل: څه به وایې اې ابوهریرة ! نن خو به بو سکي پزه پاکوې هغه وخت دي هېر دئ چي د نبي ﷺ د منبر او کوټې تر منځ به دلوږي څخه بې هوښه پروت وې خلګو به لیونی ګڼلې او پښه به یې پر څټ درکښېښودل او حال دا چي لیونتوب نه و بلکي لوږه وه.

فایده: یعني ابوهریرة ﷺ به څو ورځي په نهاره تېرولې بیخي زیات به وږی وآن تر دې چي بې هوښه به سو خلګو به فکر کاوه چي لیونی سوی دئ. ویل سوي دي: چي د هغه وخت دا دود و چي څوک به لیونی سو نو دوی به پر څټ پښه ور اېښودله دا ددوی علاج (درملنه) وه حضرت ابوهریرة ﷺ په خلګو کي زیات صابر او عابد انسان و ورځي، ورځي به یې په نهاره باندي تېرولي.

د نبي ﷺ د څخه وروسته الله ﷻ فتوحات مسلمانانو ته ور په برخه کړه شتمني راغلي خو ددې سره ـ سره بیا هم ابوهریرة ﷺ لوی عابد و یوه کڅوړه به ورسره وه د خرما دمندکو څخه به یې ډکه کړه تسبیح به یې پرې ویلي کله چي به خالي سوه نو مینځي به بیا ور ډکه کړه او ورته

[40] : شما ئـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېښنودل به يې دا دده مبارک عادت و چې شپه به يې درې حصې کړي وه ده ، دده ښځې او خادم به يې په وار سره عبادت پکښې کاوه ( يعني يوه حصه به ده عبادت کاوه يوه حصه به يې ښځې عبادت کاوه او يوه حصه به يې خادم عبادت کاوه ).([4])

ما دخپل پلار صاحب څخه اورېدلي دي چې زما د نيکه هم تقريباً د ابوهريرة ﷺ په څېر عادت وو پدې ډول چې اول به تريوې بجې پوري زما پلار په مطالعه اخته وو دوهم ځل به زما نيکه راپورته سو زما پلار به يې بيده کړی او خپله به يې د تهجد لمونځ وکړی دريم ځل به دسهار د لمانځه څخه درې پاوه مخکې زما اکا🏛 راپورته سو دتهجد لمونځ به يې وکړی زما نيکه به د سنت د اتباع په موخه ارام وکړي. اللهُم ارزُقني اِتبَاعَهُم

۴- د حضرت ابوبکر ﷺ د بيت المال څخه عايشه (خوراکه)

حضرت ابوبکر صديق ﷺ د ټوکرانو تجارت کاوه او ددې لاري يې د خپل کور ګزاره کوله – کله چې خليفه سو نو ددود مطابق يې څو پټوان پر لاس واچول او د خرڅولو لپاره يې بازار ته تشريف يووړی حضرت عمر ﷺ په مخه ورغلی پوښتنه يې څني وکړه چې کومې خواته ځې؟ ده مبارک ورته وويل چې بازار ته ځم عمر ﷺ ورته وويل: که چيري ته په تجارت اخته سې نو د خلافت کار به څنګه کيږي؟ ابوبکر ﷺ ورته وويل چې اولادو ته خوراکه د کومې لاري برابره کړم عمر ﷺ ورته وويل چې ابو عبيده ﷺ ته رسول الله ﷺ د امانت ساتونکی لقب ورکړی دی هغه ته به ورسو چې ستا لپاره د بيت المال څخه يو شی مقرر کړي دوی مبارکان و ابوعبيده ﷺ ته ورغله

[41] (تذکرة الحافظ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوعبيده ﷺ و ابوبکر ﷺ ته دومره معاش مقرر کړی چې په اوسط ډول يې يو مهاجر ته مقرر کړی و يعني تر دغه نه زيات او نه کم وو.

يوه ورځ د ابوبکر ﷺ بي بي دده مبارک څخه غوښتنه وکړه چې يو خواږه شی ته مې زړه کيږي ابوبکر ﷺ په جواب کې ورته وويل: زما سره خو پيسې نسته چې دا شی درته رانيسم؟ بي بي ورته وويل: چې زه به د هري ورځې د خوراک څخه لږ ـ لږ بچت کوم څو ورځې وروسته به دومره پيسې سي چې زه هغه شی په واخلم ده مبارک اجازه ورکړه بي بي مبارکې په څو ورځو کې يو اندازه پيسې سره يو ځای کړې حضرت ابوبکر ﷺ ورته وفرمايل: د تجربې څخه دا معلومه سوه چې دومره پيسې چې تا بچت کړ ی دي دا مونږ ته د بيت المال څخه زياتې راکول کيدي (ځکه موږ په بيت المال کې دومره حق لرو چې ګزاره په وکړو نو تا چې دومره پيسې بچت کړې ددې څخه معلومه سوه چې ته په پاته پيسو ګذاره کولای سې ) نو ده مبارک هغه پيسې چې بي بي جمع کړې وې هغه يې بيرته بيت المال ته وسپارلې او په راتلونکې کې يې د خپلې تنخواه څخه دومره پيسې کمې کړې چې بي بي جمع کړې وې.

فايده: دومره لوی خليفه چې لومړی يې خپل تجارت کاوه او دده داړتياوو لپاره يې بسنه کول لکه څرنګه چې دده د اعلان څخه هم معلوميږي او هغه روايت يې هم تائيد کوي کوم چې په بخاري شريف کې د عايشې ﷺ په روايت کې راغلی دئ: کله چې ابوبکر ﷺ خليفه جوړ سو نو وې فرمايل: چې زما قوم ته دا خبره معلومه ده چې زما کارو بار تجارت و او زما د اولادو لپاره يې بسنه کول خو اوس د خلافت په وجه د مسلمانانو په چوپړ کې مشغولتيا ده اوس زما لپاره د بيت المال څخه يو څه مقرريږي چې زما د اولادو لپاره بسنه وکړي. ددې سره سره کله چې دی وفات کې دئ وعايشې ﷺ ته يې وصيت وکړی: چې زما په کور کې که د بيت المال څخه يو شی و هغه و نوی خليفه ته و سپاره. حضرت انس ﷺ فرمايي: دابوبکر ﷺ د وفات څخه وروسته دده مبارک د کورنۍ سره پيسې نه وې مګر يوه د شيدو اوښه، يوه پياله او يو خادم و په ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



روایاتو کې تلتک اویوه کمبله هم راغلې ده کله چې عمر ﷺ خلیفه سو نو دغه شیان ورته و سپارل سوه ده مبارک وویل: الله ﷻ دې پر ابوبکر ﷺ رحم وکړي خپل پاته اولادونه یې په سختۍ کې پرېښودل.(42)

**۵- د حضرت عمر ﷺ د بیت المال څخه تنخوا (عایشه)**

حضر عمر ﷺ هم تجارت کاوه کله چې خلیفه مقرر سو نو دبیت المال څخه په دې ډول تنخوا ورته مقرر سوه چې ده ټول خلک راټول کړه او پوښتنه یې ځنې وکړه چې تاسو ته معلومه ده چې ما تجارت کاوه اوس چې تاسو په دې کار اخته کړم نو زما د ګزارې ذریعه به څشي وي؟ خلګو بیلي ، بیلي اندازې دده دتنخوا لپاره وښودلې حضرت علي کرم الله وجهه چوپ ناست و ده مبارک پوښتنه ځني وکړه چې تاسو څه نظر لرئ؟ حضرت علي کرم الله وجهه وفرمایل: زما په آند چې منځنۍ تنخوا مقرره سي ښه به وي چې ستا او ستا داولادو لپاره کافي وي حضرت عمر ﷺ هم دغه نظر خوښ کړی او دده لپاره منځنۍ عایشه (تنخوا ) مقرره سو. ددې مجلس څخه وروسته په یوه مجلس کې چې حضرت علي ﷺ، حضرت عثمان ﷺ، حضرت زبیر ﷺ او حضرت طلحة ﷺ هم پکښې موجود وه د حضرت عمر AA د تنخوا خبره راغله دوی وویل: چې د عمر ﷺ تنخوا باید زیاته سي ځکه هغه په یوه تنګ حالت کې ژوند تېروي مګر ددې همت خو چا نسوای کولای چې عمر ﷺ ته ووایي چې ستا تنخوا دې زیاته سي نو دوی حفصة ▲ را وغوښتل چې د رسول الله ﷺ بي بي هم وه او د عمر ﷺ لور هم وه و حفصې ▲ ته یې وویل: چې ته و عمر ﷺ ته دا خبره وکړه او زموږ نومان تر هغه وخته مه ورښیه چې دده نظر نه وي درته معلوم سوی حضرت

(42) فتح الباري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حفصة د عمر په خدمت کې حاضره سوه او ددوی خبره یې ورته وکړه د حضرت عمر په مخ کښې د غصې او درد نښې ښکاره سوې او بیا یې ددې ښځه ددغه کسانو د نومونو پوښتنه وکړه حضرت حفصې ورته وویل: چې لومړی ستاسو نظر راته معلوم سي بیا به یې نومونه درته وښیم حضرت عمر ورته وویل که ماته ددوی نومان معلوم سي نو مخونه به یې وربدل کړم یعني دومري سزاوي به ورکړم چې په مخو کښې به یې نښې معلومې سي بیا یې ورته وویل: اي حفصې ! د رسول الله ﷺ تر ټولو ښه جامه ستا په کور کښې څه شي وه؟ حفصې ورته وویل: دوې ګیردې رنګه جامې وې چې رسول الله ﷺ به د جمعې په شپه یا ورځ او یا به یوه ډله خلګ راتله دا مبارک به اغوستې بیا یې پوښتنه ځني وکړه چې رسول الله ﷺ تر ټولو ښه خوراک کوم خوراک کړی دئ ؟ دې مبارکي وویل: چې زمونږ خوراک د اوربشو ډوډۍ وه یوه ورځ مو د غوړو د تیم لاندې پاته سوې برخه پر ډوډۍ ومونږله نونبي ﷺ په خپله په ښه خوند سره وخوړله او په نورو یې هم وخوړله بیا عمر پوښتنه وکړه چې ستا په کور کې د نبي ﷺ ښه بستره څنګه وه؟ حفصې ورته وویل یو غټ ټوکر و چې رسول الله ﷺ به په ګرمۍ کښې غبرګ هواراوه او په ژمي کښې به یې نیمه خوا لاندې او نیمه خوا به یې سر ببره پر ځان واچول.

عمر وویل: اي حفصې ! هغو خلګو ته دا خبره ورسوه چې نبي ﷺ خپل طرز العمل یوه اندازه مقرر کړی و او دآخرت په امید یې بس والی کړی و زه به هم د رسول الله ﷺ تابعداري کوم زما او زما ددوو ملګرو یعني رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر مثال داسي دئ لکه درې ملګري چې پر یوه لاره روان وي لومړی یو کس د ځان سره توښه واخلي او مقصد ته ورسیږي بیا دوهم کس دهغه اول ملګري تابعداري وکړي او ورپسې ورسیږي بیا دریم کس تلل شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او س نو که زه ددوی پر لاره ولاړ سم نو ددوی سره به یو ځای سم او که مې لاره بدله کړه نو هیڅ کله به ددوی سره یو ځای نسم. ([43])

فایده: داده هغه سړی دژوندانه حال دئ چې ددنیا پاچهان به ځنې وېرېدل او رېیدل څومره زاهدانه او سپېڅلي ژوند یې کاوه.

یوه ورځ یې خطبه ویل لونګ یې ددوولسو پینو څخه جوړ وو او یوه پینه د څرمنې پکښې وه.

یوه ورځ په خطبه کې څه ځنډوالی راغلی کله چې دی راورسېدئ نو معذرت یې وغوښتی او وې ویل: زما څخه پر کالو مینځلو وخت تېر سو او ددې څخه پرته مې نور کالي نه درلوده.([44])

یوه ورځ حضرت عمرﷺ ډوډۍ خوړله غلام (مربیی) ورته راغلی او ورته وې ویل: چې عتبه بن ابي فرقد راغلی دئ ده مبارک د دننه راتلو اجازه ورکړه کله چې عتبه بن ابي فرقد راغلی نو عمرﷺ د ډوډۍ خوړلو ست ورته وکړی ده هم ډوډۍ خوړل پیل کړل هغه ډوډۍ داسې زیږه وه چې ده نسوای تېرولای نو عتبه بن ابي فرقد ورته وویل: چې تاسو ته دمیده اوړو ډوډۍ هم رسېدلای سي عمرﷺ وویل: ایا ټول مسلمانان دمیده اوړو ډوډۍ خوري؟ عتبه بن ابي فرقد ورته وویل: یا ټوله یې نه خوري. عمرﷺ ورته وویل: افسوس ته غواړي چې زه ددنیا خوندونه په ژوند کې خلاص کړم.([45])

ددې ډول څخه په سوونو نه، په زرګونو نه بلکې په سلهاوو زرونه د مبارکو اصحابو پېښې سته.

---

([43]) اشهر
([44]) اشهر
([45]) أسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی مبارکانو تابعداري نه اوس کېدای او نه هر چا ته په کار ده ځکه قوتونه کم دي هر څوک يې نه سي پورته کولای همدا وجه ده چې زموږ دوخت د تصوفو بزرګانو دداسي تکليفونو ايستلو اجازه نه ورکوي ځکه قوتونه تر پخوا کم دي هسې نه چې ضعف راسي. خو ددغه مبارکو انسانانو داتباع هيله کول ضروري ده او لږ تر لږه په استراحت کې يو څه کمي راولئ.

کښته او پورته وګورئ او ددې زمانې مطابق يو ميانه ژوند اختيار کړئ بدبختانه زموږ خلګ ددنيا په خوندونو کې زياتوب کوي او تر ځان وزيات مالداره او شتمن ته ګوري او په دې افسوس کې مري چې فلانکی سړی تر ما زيات مالدار دئ.

## ۲- د حضرت بلال ﷺ د نبي ﷺ لپاره ديو مشرک څخه قرض اخيستل

يو ملګري د حضرت بلال ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د رسول الله ﷺ د خوراک د خرڅ انتظام څنګه و؟ حضرت بلال ﷺ وويل: د رسول الله ﷺ سره خو پيسې نه وي خو دا خدمت ماته سپارل سوی و. کله چې به يو مسلمان وږی راغلی نو نبي ﷺ به ماته اشاره وکړه ما به يو ځاي پور وکړی هغه ته به مي خوراک ورکړی يا به يو څوک لوڅ راغلی نبي ﷺ به ماته اشاره وکړه ما به يو ځای پور وکړی او هغه ته به مي جامې ورپيدا کړې ددې انتظام د چلېدو په لړ کې يوه ورځ يو کافر ماته راغلی او راته وې ويل: چې زه مالدار او شتمن يم که دي د پيسو اړتيا سوه د بل چا څخه پور مه اخله ماته راځه زه يې درکوم ما ورته وويل: تر دې خو ښه خبره نسته. نو کله چې به رسول الله ﷺ ماته امر وکړی ما به د هغه سړی څخه پور اخستې او د رسول للهﷺ حکم به مي پوره کاوه. دی مبارک وايي يوه ورځ مي اذان وکړی اودس مي تازه کړی که مي کتل هغه کافر راغلی او ماته يې وويل: اې حبشي! زه ورته متوجه سوم زما دمتوجه کېدو سره سم يې ښکنځل شروع کړه او بد او رد يې ويل بيا يې راته وويل: چې د مياشتې څلور ورځې پاته دي که دي په دغه څلورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو کې زما ټول پور را پوره نه کړي نو په بدل کې به تا بوزم او غلام به دې کړم د پخوا په څېر به حيوانان څروې بلال ﷛ وايي کافر دا خبره وکړه ولاړی ماټوله ورځ په غم او تکليف تېره کړه هرڅنګه چې وه تېره سوه د ماخستن دلمانځه وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او ټوله قصه مې ورته وکړه بيا مې ورته وويل: چې اې دالله ﷻ رسوله ! اوس خو نه ستا سره څه شی سته او نه زما سره زه دستي يو کار کولای سم دغه سړی مې بې عزته کوي او شرموي مې نو که ستا اجازه وي زه به يو ځای پټ سم که چيري ستاسو سره يو څه شی پيدا سو بيا به حاضر سم ددې خبري سره سم راغلم توره، ډال او زغره مې راواخيستل ځکه دا زما د سفر سامان و او دسهار کېدو انتظار مي کاوه سهار نژدې و چې يو ملګری راغلی او راته وې ويل: ژر ورسه د رسول الله ﷺ پکار يې زه هم چابک راغلم که مې وکتل څلور اوښاني بار چوکي دي رسول الله ﷺ راته وويل: د خوشالۍ خبره درته کوم الله ﷻ ستا د پور انتظام وکړی دغه څلور بار اوښاني ستا په تصرف کې دي رسول الله ﷺ زياته کړه دا د فدک رئيس ماته تحفه رالېږلي ده بلال ﷛ وايي ما دالله ﷻ شکر ادا کړی او په خوشالی، خوشالی مي هغه واخيستې او ټول قرض مې په ادا کړی بېرته راغلم رسول الله ﷺ په مسجد کې انتظار کاوه زه ورغلم او ورته ومې ويل: اې دالله ﷻ رسوله ! دالله ﷻ شکر دئ چې الله ﷻ د قرضو څخه ستا اوږې سپکي کړې او اوس هيڅ قرض نه دئ پاته نبي ﷺ وفرمايل: دهغه شيانو څخه څه شی پاته سو ماورته وويل: بلي پاته سو رسول الله ﷺ راته وويل: ورسه هغه هم تقسيم کړه چې زه هوسا سم تر هغو زه د مسجد څخه نه ځم تر څو هغه مال تانه وي تقسيم کړی ټوله ورځ تېره سو د ماخستن د لمانځه د اداييني وروسته رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چې هغه پاته مال تقسيم سو ماورته وويل چې يا رسول الله ﷺ څه پاته دئ اړ سړي نه دئ راغلی بيا رسول الله ﷺ په مسجد کې ارام وکړئ دوهمه ورځ ماخستن بيا نبي ﷺ وفرمايل: چې يو څه سته ماورته وويل: چې الله ﷻ تاسو هوسا کړلاست ټوله مال خلاص سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: دالله ﷻ ددوستانو دا غوښتنه وي چې ددوی په ملک کې هيڅ مال او سامان نوي پاته نو نبيﷺ چې د ټولو نبيانو سردار دئ او دټولو او لياو د سر تاج دئ نو ولې به د نه مال غوښتل نه کوي چې ددنيا څخه بيخي فارغه ولاړ سم.

ما په ټينګو ثابت سوو روايتو کې اورېدلي دي چې دحضرت مولانا شاه عبدالرحيم رائپوري (نورالله مرقده) عادت داو چې د نذرانو به څه پيسې جمعه سوې نو په پابندی به يې هغه پيسې راوغښتلې او ټولي به يې وويشلې دوفات کېدو څخه مخکې يې د خپلو اغوستلو جامې او نور شيان خپل خاص خادم حضرت مولانا شاه عبدالقادر صاحب ته ورکړه او ورته وې ويل چې زه به اوس ستا څخه دغه جامې په خواست تر لنډه وخته پوري وا خلم او ګټه به ځني اخلم او په مِلک کې به ستاوي.

د خپل پلار څخه مې ډېر اوريدلي دي چې څو زره قرضداره و او ويل به يې: چې داد جګړې شی زه د شپې د ځان سره نه ساتم ددې ډوله څخه د بزرګانو ډېري پېښې سته خو دا ضروري نه ده چې د هر بزرګ رنګ دي يو ډول وي بلکې د بزرګانو رنګونه بېل بېل دي او د چمن په ګلانو کښې د هر يو ګل شکل او خوی جلا ـ جلا وي.

٧- د حضرت ابو هريرة ﷺ په لوږه کې د مسئلې پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي: تاسو زموږ هغه حالت ليدليدئ ؟چي کله ـ کله به مونږ دومره خوراکه نه سوه پيدا کولای چي خپله ملا پرې جګه کړو مابه دلوږې دوجهي څخه ځيکر د مځکي سره يو ځای کړی او کله به مي نس پر مځکه اچولی و او پروت به وم او کله به مي په نس پوري ډبري تړلي وې يو واري زه پر هغه لاري باندي کښېنستم چي اصحاب کرام ﷺ به پر تېرېدل ، حضرت ابوبکر ﷺ تېر سو ما دده مبارک څخه د ځينو خبرو پوښتنه کول شروع کړه فکر مي کاوه چي کورته به مي بوځي او بيا به مي د عادت مطابق څه چي په کور کي موجود وي پر هغه به مي ميلمه کړي خو ده مبارک داسي نه وکړه شايد فکر يې بلي خواته تللي و يا دکور حال ورته معلوم و چي په کور کي هيڅ نسته ددې څخه وروسته حضرت عمر ﷺ تشريف راوړی دده په راتګ سره هم هغسي حالات پېښ سول، بيا نبي ﷺ تشريف راوړی زه يې وليدم نو مسکی سو زما په حالات او مقصد پوه سو راته وې ويل: راځه زما سره ولاړ سه زه هم ورسره ولاړم نبي ﷺ کورته ننواتی ماهم د ننوتلو اجازه واخيسته او کورته ورننوتم په کور کښي يوه پياله د شېدو پرته وه د رسول ﷺ په خدمت کي يې کښېښوده ده مبارک پوښتنه وکړه چي دا شيدې د کومي خواسوی دي جواب ورکړل سو چي د فلانکي ځای څخه تاسو ته هديه راغلي ده نبي ﷺ ماته وويل اې ابوهريرة ! ته ولاړ سه اهل صفه راوغواړه (اهل صفه د اسلام ميلمانه ګڼل سوی دي چي نه به يې کور درلودئ او نه يې ځای درلودئ او نه به يې د خوراک څه انتظام وو او اهل صفه ځکه ورته ويل کېده چي صفه اصلا ديو سايوان نوم وو دوی تر هغه سايوان لاندي وه نوځکه ورته اهل صفه ويل کېده) ددغه قصي په وخت کښي ددوی شمېر او يا تنه وو دنبي ﷺ عادت دا وو چي ددوی څخه به يې دوه دوه يا څلور څلور د يو شتمن صحابي ميلمانه کول او خپله به يې هم داسي کول چي کله به صدقه راغله نو ټوله به يې دوی ته ورلېږل او خپله به يې ګډون نه پکښي کاوه او که به ده مبارک ته ديو ځای څخه هديه راغله ده مبارک به هم ګډون پکښي کاوه يعني ورسره خوړل به يې ابو هريرة ﷺ وايي: کله چي رسول الله ﷺ ماته ددوی درابلني حکم وکړی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبيعت کې خو مې نه وه خوښه ځکه شيدې ډېرې لږ وې فکر مې کاوه که ټوله راسې او شيدې وڅيښې نو اخر واری ماته رارسيږي نو په پياله کې به هيڅ شی نه وي مګر ماته د نبي ﷺ امر و دمنلو پرته بله چاره نه وه زه ولاړم ټوله مې راوسته نبي ﷺ راته وويل: چې دا پياله واخله او په دوی شيدې و چيښه مابه يوه ـ يوه ته پياله ورکول هغه به په ښه ماړه نس شيدې چيښلې او پياله به يې بېرته ماته راکول په دغه ډول ټولو شيدې وچيښلې او ماړه سوه بيا نبي ﷺ پياله په لاس کې واخيسته ماته يې وکتل او مسکی سو بيا يې و فرمايل: چې اوس خو زه او ته پاته سو ماورته وويل: چې بېشکه داغسې ده ، ده مبارک راته وويل: واخله وې چيښه ما وچيښلې بيا يې راته وويل نورې وچيښه ما نورې و چيښلې آخر ماورته وويل: اې دالله رسوله ! اوس زه نورې نسم چيښلای نبي ﷺ د ټولو څخه وروسته پاته شيدې وچيښلې.

٨- دنبي کريم ﷺ د اصحابو څخه ددوو کسانو په باره کښې سوال

د نبي ﷺ په خدمت کې څه کسان موجود وه چې يو سړی مخاخ تېر سو نبي ﷺ پوښتنه وکړه چې تاسو ددې سړی په اړه څه نظر لری ؟ خلګو ورته وويل: اې دالله رسوله ﷺ ! دا سړی په عزتمنو خلګو کښې دئ په اللهﷻ قسم کوو که چيرې دی د يو چا دنکاح غوښتنه وکړې غوښتنه يې منل کيږې که د چا سپارښت کوې منل کيږې رسول الله ﷺ چې ددوی خبرې واورېدې چوپ سو ددې څخه وروسته يو بل ملګری مخامخ تېر سو نبي ﷺ دده په اړه هم پوښتنه وکړه خلګو په جواب کې ورته وويل اې د الله رسوله ﷺ ! دا يو غريب مسلمان دئ که چيرې د کوزدې غوښتنه وکړې نو څوک خور او لور نه ورکوې که د چاسپارښت کوې نه منل کيږې او که خبرې کوې څوک توجه نه ورته کوې نبي ﷺ وفرمايل: که چيرې د اول کس په څېر ټوله دنيا ډکه سې نو دغه دوهم کس تر ټولو بهتر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: مطلب دادئ چې یوائې نبوي عزت دالله ﷻ په نزد تر سلګونو هغه عزتمنو خلګو بهتر دئ چې په دنیا کې یې خبرې ته په درنه سترګه کتل کیږې او هر څوک یې د خبرو منلو او وربدلو ته تیار وي خو د اللهﷻ په نزد ددغه انسان هیڅ عزت نسته. حقیقت خبره داده چې دنیا دالله ﷻ دنامه ویونکو له برکته ودانه ده ځکه که په دنیا کې دالله تعالي نوم اخیستونکی نسي پاته قیامت به راسي او ددنیا وجود به ختم سي دا دالله ﷻ د پاک نامه برکت دئ چې ددنیا ټوله نظام ولاړ دئ.

## ۹- د نبي اکرم ﷺ سره پر محبت کوونکي باندي د مسکنت راتلل

یو صحابي دنبي ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وې ویل: اې د الله ﷻ رسوله! زه ستا سره محبت لرم رسول ﷺ ورته وویل وګوره څه وایې؟ صحابي بیا ورته وویل: چې زما ستا سره محبت دئ نبي ﷺ بیا په دغه ډول جواب ورته ووایه کله چې درې واري د اسوال او جواب وسو نو نبي ﷺ ورته وویل: که چیري ته په خپله خبره کي رېښتني یې نو مسکنت ته ځان تیار کړه ځکه کوم کسان چې زما سره محبت کوي پر هغو باندي مسکنت داسي په چابکۍ سره راځي لکه اوبه چې دلوړې څخه پر کښته په تېزۍ سره راځي.

فایده: همدا وجه وه چې ټول اصحاب کرام ﷡ به هر وخت په مسکنت او لوږه کي وه همدا ډول لوی محدثین، لوی صوفیان او لوی فقهاءِ کرام زیات یې شتمن نه دي پاته سوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰- د عنبر په سريه کښې د مسکنت حالت

نبي ﷺ د هجرت په اتم کال د خدای تعالي په مياشت کې د درياب وغاړې ته يو درې سوه کسيز لښکر ولېږئ همدغه درې سوه کسيز لښکر ته سريه ويل کيږي ([46]) پر دوی باندې يې حضرت ابوعبيده ﷺ آمر کړی نبي ﷺ په يوه کڅوړه کښې د خورما وو يوه توښه ورکړه دوی مبارکان په هغه ځای کښې پنځلس ورځې واوسېدل د دوی مبارکانو توښه خلاصه سوه حضرت قيس ﷺ پدې قافله کښې موجود و داوښانو د مالکانو څخه يې اوښان په پيسو واخيستل پدې طمعه چې په مدينه منوره کښې به يې پيسې ورکوي او درې - درې اوښان به يې هره ورځ حلالول خو دريمه ورځ د قافلې آمر داوښانو د حلالولو څخه منعه وکړه ځکه ده فکر کاوه چې سورلۍ به خلاصې سي او بېرته تګ به ګران سي نو د خلګو څخه يې خپلې، خپلې خرماوي راټولې کړې د چاسره چې وي بيايې په کڅوړه کښې واچولې او هره ورځ به يې يوه يوه خرما ورکول دوی به ځېښله بيا به يې اوبه پسې چيښلې تر ماښامه پورې يې دغه خوراک و که څه هم دا په ويلو کښې کوچنۍ خبره ده مګر د ځګړې پرمهال چې زياتې توانايي ته اړتيا وي په يوه دانه خرما ټوله ورځ تېرول ګران کار دئ او لويه خبره ده. کله چې حضرت جابر ﷺ د نبي ﷺ څخه وروسته خلګو ته دا قصه وکړه نو يو شاګرد پوښتنه وکړه چې صاحبه! دا يوې خرما به نو څه کار کاوه؟ ده مبارک ورته وويل: ددې يوې خرما قدر هغه وخت معلوم سو چې دا يوه خرما هم نه پيدا کېدل يوازې لوږه وه نور هيڅ نه وه د درختې وچې پاڼې به موځنډلې بيا به مو لندې کړې او خوړلې مو

[46] : اصلا سريه دمسلمانانو هغه لښکر ته ويل کيږي چې رسول الله ◀ خپله ګډون نه وي پکښې کړی او غزا وهغه لښکر ته ويل کيږي چې خپل رسول الله ◀ ګډون پکښې کړی وي . ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبوري هر څه کوي او د هري سختی وروسته الله ﷻ اساني راولي الله ﷻ ددې تکليفونو وروسته دغه مبارکو اصحابانو ته د درياب څخه يو ماهی راوايستی دغه ماهي ته يې عنبر وايه ددغه ماهي څخه اصحابو ﷺ تر اتلسو ورځو پوري خوراک کاوه او دمديني منوري تر تګ پوري په توښه دانونو کي ددغه ماهي غوښه پرته وه کله چي دوی مديني ته ورسېده او هلته يې نبي ﷺ ته پوره قصه وکړه رسول الله ﷺ ورته وويل: دا دالله ﷻ دلوري يو رزق دئ چي تاسو ته يې رالېږلی دئ.

فايده: په دنياکي تکليفونه تېرول ضروري دي په ځانګړي ډول پر سپېڅلو انسانانو باندي زيات تکليفونه راځي ځکه رسول الله ﷺ فرمايي: زيات تکليفونه الله ﷻ پر انبياؤ راولي ورپسي پر هغه چا ډېر تکليفونه راولي چي تر ټولو بهتر وي ورپسي يې پر هغه چاراولي چي په پاته کسانو کي بهتر وي. د هر سړی ازموينه د هغه سړی ددينې مرتبې سره برابره کيږي او د هر تکليف وروسته الله ﷻ د خپلي مهرباني لمخي اساني راولي. په دې خبره کي هم فکر وکړئ چي زموږ پر مشرانو څومره تکليفونه تېر سوي دي او دا ټول تکليفونه يې ددين لپاره پر ځان تېر کړي دي او ددين د خورولو لپاره يې تېر کړي دي او اوس يې موږ په لوی لاس ضائع کوو دوی مبارکانو به لوږي، تندي پر ځان تېرولې ، پاني به يې خوړلې ويني به يې تويولې او دين به يې نشر کاوه اوس موږ ددوی ګټه هم نسو ساتلای.

KKKKKK

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلورم باب

## د اصحابو کرامو‌ﷺ د تقوا په باب بيان کې

د اصحابانو‌ﷺ هر عمل او هر عادت ددې وړ دئ چې څوک يې د ځان لپاره غوره کړي او تابعداري يې وکړي. ولې به نه وي چې الله ﷻ د خپل نازولي او محبوب رسول ﷺ د ملګرتيا لپاره دغه ډله غوره او چاڼ کړه د رسول الله ﷺ ارشاد دئ چې فرمايي: زه د انسانانو په بهترين قرن او زمانه کې و لېږل سوم. (47)
له همدې امله دغه زمانه له هره پلوه غوره زمانه وه او د زمانې بهترين خلګ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کې وساتل سوه.

### ۱- د نبي ﷺ د يوې جنازې څخه بېرته راتګ او د يوې ښځې بلنه

نبي کريم ﷺ يوه ورځ د يوې جنازې څخه راتلی يوې ښځې د ميلمستيا بلنه ورکړه نبي ﷺ د خپلو خادمانو سره دهغې ښځې کو رته تشريف يووړی دده مبارک ومخ ته ډوډۍ کښېښودل

(47) شفـاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه خلکو ولیدل چې د نبي ﷺ خوله ښوري خو تېرېږي نه. نبي ﷺ وفرمایل: داسې معلومېږي چې ددې سېرلي غوښې د مالک بې اجازې اخیستل سوې وي هغې ښځې وویل: یا رسول الله ! ما ددغه سېرلي د رانیولو لپاره سرې لېږلې و خو پیدا نسو بیا مې د همسایه سېرلی واخیستې او پیسې مې ورولېږلې خو د کور مالک نه وو نو د هغه مېرمنې ته مې ورکړې او هغې مېرمنې سېرلی راولېږی رسول الله ﷺ و فرمایل: په دې دوډۍ بندیان و خوروئ.(48)

فایده: دنبي ﷺ د لوړ شان پر برابر یو مشتبه یا د شک شی هم تر ستوني نه تېرېږي دا څه لیرې خبره نه ده ځکه د نبي ﷺ ادنا مریانو ته دا ډول واقعاتې پېښېږي.

٢- د نبي ﷺ د صدقې د یوې خرما د ویرې څخه ټوله شپه ویښتیا

نبي ﷺ یوه شپه ټوله شپه وېښ وو اړخ پر اړخ اوښتی په بیبیانو کي یو چا ورته وویل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! نن خوب نه درځي؟ ده مبارک وویل: نن یوه خرما پرته وه ماراپورته کړه چې ضایع نسي او ومې خوړله اوس فکر راسره پیدا سو چې هسې نه چې هغه خرما د صدقې وه.

فایده: زیاته صحیح خبره خو دا وه چې هغه خرما د نبي ﷺ خپله وه مګر څرنګه چې د صدقې خرما وي نبي ﷺ ته راتلې نو ده فکر کاوه چې د صدقې خرما مې نه وي خوړلې ددې شک په وجه ټوله شپه خوب نه ورتلی او دایې ویل چې خدای مه کړه د صدقې خرما مې نه وي خوړلې دا خو د سردار عالم حال و چې د یوې خرما په وجه یې اړخونه بدلول او ټوله شپه خوب نه ورتلی

(48) ابو داؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس یې دا وسنی زمانې د غلامانو حال وګوره چې د رشوت، غلا ، سود او نورې پیسې په زړور تیا خوري او په فخر سره ځان د محمد ﷺ په غلامانو کې ګڼي.

## ۳- د حضرت ابوبکر ﷺ د یو کاهن (فالګر) د خوراک څخه قئ وهل

حضرت ابوبکر ﷺ یو غلام درلودی چې ده مبارک ته یې د غُله[49] په ډول ګټه ورکول یوه ورځ غلام ده ته د خوراک یو شی راوړی ده مبارک یو څه و خوړی غلام ورته وویل: چې تا به هر ورځ زما څخه پوښتنه کول چې د کومې لارې دې ګټه کړې ده نن دې هیڅ پوښتنه نه را څخه وکړه ده مبارک ورته وویل: چې نن ډیر وږی وم د لوږې له امله مې پوښتنه نه وکړه اوس ووایه چې د کومې لارې دې ګټلي ده غلام ورته وویل: چې د کفر په وخت کې زه پر یو قوم تېرېدم پر هغوی مې منتر ویلي وو دوی زما سره د یو شی وعده کړې وه نن د هغوی کره واده وو زه ورغلم دا ډوډۍ یې راکړه ابوبکر ﷺ ورته وویل: تا خو زه هلاک کړم ابوبکر ﷺ ددې څخه وروسته په ستوني ګوتې چخ کړې او د قې وهلو کوشش یې وکړی خو لکه څرنګه چې ده هغه ګوله په لوږه خوړلې وه نو قی یې نه کړه چا ورته وویل: چې په اوبو سره قی وهل کیدای سې نو ده مبارک یوه لویه پیاله د اوبو راوغوښته اوبه یې وڅیښلې بیا یې قې کړې تردا سې اندازې چې د ډوډې ګوله یې هم قی کړه یو چا ورته وویل: پر تا دې الله ﷻ رحم وکړي دیوې ګولې ډوډۍ لپاره دې دومره تکلیفونه پر ځان تېر کړل ده مبارک ورته وویل: که چیرې زما په ساه سره دا ګوله راوتلای مابه را ایستلې وای ځکه ما د نبي ﷺ څخه اوریدلي دي چې کوم بدن چې په حرامو سره وده وکړي نو د دوزخ اور

---

[49] غُله دې ته ویل کیږي چې غلام ته ووائي چې ولاړسه روزانه ماته دومره پیسي راکوه نوري که دي وګټي هغه ستا دي دا جائزه معامله ده. ( هذا الهامش من الشیخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه لپاره غوره دئ. زما سره داوېره وه چي هسي نه چي په دغه ګوله سره زما د بدن يوه برخه وده وکړي.(50)

فايده: د حضرت ابوبکرؓ څخه داسي ډېري پېښې راغلي دي ځکه دده په طبعت کي احتياط زيات و چي لږ شک به ورته پيدا سو دستي به يې قي وا هه.

هم دا ډول د بخاري شريف په يو روايت کي راغلي دي چي يوه ورځ يو غلام د جاهليت په وخت کي د سحر او جادو يو شی چاته ښودلی و هغه اتفاقاً صحيح سو نو هغه ودغه غلام ته څه پيسې ورکړې غلام په مقرر سوو پيسو کي و حضرت ابوبکرؓ ته دغه پيسي ورکړې ابوبکر ؓ و خوړلې بيا چي دده په نس کي کوم څه وه هغه يې ټوله قی کړه. دا لازمي نه ده چي په دغه ډول پيسو کي به د غلامانو پيسي حرامي وي بلکي حرام او حلال دواړو ګمان پر کېده خو حضرت ابوبکرؓ د ډېر احتياط له امله د شک مال نه خوښوی.

### ۴- د حضرت عمر ؓ د صدقې د شيدو څخه قي

حضرت عمر ؓ يو وار شيدې و چيښلې د هغو شيدو خوند عجيبه ورته معلوم سو نو کوم ملګري چي شيدې راوړي وي د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي دا څنګه شيدې وي؟ او د کومي خوا څخه راغلي وي؟ هغه سړي وويل: چي په فلانکی ځنګله کي د صدقې اوښان خرېدل زه هلته ولاړم هغو خلګو د اوښانو شيدې ولوشلې ماته يې هم راکړې، حضرت عمر ؓ په خوله کي ګوتي واچولې او هغه شيدې يې قی کړې. (51)

(50) منتخب کنز العمال
(51) مؤ طا امام مالک

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: د اصحابو مبارکانو سره تل دا فکر وو چې د شک په شی سره مو د بدن يوه برخه وده ونه کړي دا خو لاڅه کوي چې ښکاره حرام وي لکه زموږ په زمانه کي چې عام سوي دي.

## ۵- د حضرت ابوبکر ﷛ د احتياط لمخي باغ وقف کول

ابن سيرين ﷫ فرمايي: کله چې د ابوبکر ﷛ د وفات وخت نژدې سو نو ده مبارک و حضرت عائشې ﷞ ته وويل: کله چې زه خليفه سوم خلګو راته وويل چې که ته په تجارت مشغول سې نو د مسلمانانو په کارو کي به څه نيمګرتيا پيدا سي بايد ته خپله خوارکه د بيت المال څخه واخلې نو له دې وجي زه مجبور سوم چې يو څه واخلم نو اوس دي زما فلانکی باغ په بدله کي ورکړل سي هر کله چې حضرت ابوبکر ﷛ وفات سو نو حضرت عائشې ﷞ و حضرت عمر ﷛ ته سړی ولېږی او د پلار د وصيت مطابق يې باغ ورکړی حضرت عمر ﷛ وفرمايل: ستا پر پلار دي الله ﷻ رحم وکړي ده مبارک غوښتل چې چاته د خولې د خلاصولو وخت ورنه کړي.([52])

فايده: درنو لوستونکو ! د فکر کولو خبره ده چې اول خو هغه شی چې ابوبکر ﷛ اخيستی څه شی وو يعني ډېر لږ شی و بيا چې ده مبارک اخيستی د مشورې والاوو په ټينګار يې اخيستي او د مسلمانانو د فايدې په وجه سره و ددې سره، سره خومره چې دده مبارک توان وو بلکي تر هغه لا زيات يې احتياط پکښې کاوه چې د احتياط اندازه يې په دريم باب ځلورمه شمېره کي وښودل سوه چې بي بي يې د تنګسيا سره ديوه خوږ شی لپاره يو څه پيسې جمعه کړې وې ده مبارک هغه پيسې هم بيت المال ته وسپارلې او په هغه اندازه يې د خپلې عائشې (تنخوا)

([52]) (کتاب الاموال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه کمي کړې د ټولو څخه وروسته يې د ا آخر کار وو چي د اخيستل سوو پيسو بدله يې بېرته بيت المال ته وسپارل.

۶- د حضرت علي بن معبد د کرايې د کور په خاوره سره د خط وچول

علي بن معبد يو محدث دئ، دی مبارک فرمايي: د يو کرايې په کور کي اوسېدم. يوه ورځ مي يو شی وليکی د دغه خط د وچولو اړتيا پيدا سوه د دغه کور د ېوالونه خاورين وه نو فکر مي وکړی چي د دغه د ېوال څخه يو څه خاوره را واخلم او خط په وچ کړم بيا مي فکر وکړی چي دا کور خو ما په کرايه نيولی دئ داوسېدو لپاره دئ د دې لپاره خو مي نه دئ نيولی چي خاوره يې استعمال کړم بېرته مي په فکر کي راغله چي په دا لږ خاوره هيڅ نه کيږي پروا نه لري لږ شی دئ نو خاوره مي را واخيسته د شپې يو ځوک په خوب کي راغلی او راته وي ويل: چي صبا د قيامت په ورځ به درته معلومه سي چي لږ خاوره يا لږ شی څه پروا لري؟.

فايده: دا خبره چي صبا به معلومه سي د دې ظاهري مطلب دا دئ چي د تقوا درجې زياتي وي کا مله درجه يې يقيناً دا وه چي د دغه لږ شی څخه هم ځان وساتي که څه هم دومري لږ شی د جائز کيدو په اندازه کي دئ.(53)

۷- د حضرت علي کرم الله وجهه پر يو قبر تېرېدنه

(53) احياء

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیل ﷺ فرمايي: چي زه يو ځل د حضرت علي ﷺ سره روان وم چي يو ځنګله ته ورسېدو حضرت علي AA يوي هديري ته مخ کړی او وې ويل: اې د هديري ښتنانو ! اې پاته سوو خلګو ! اې د وېري او يوازيوالي خلګو ! څه خبري دي؟ څه حال مو دئ؟ زموږ خبر خو دادئ چي ستاسو وروسته ستاسو مالونه تقسيم سوه ، اولادونه مو يتيمان سوه ، ښځو مو نور مړونه وکړه دا خو زموږ خبر دئ تاسو هم يو څه ووایاست ،کمیل ﷺ وايي چي علي ﷺ ددې څخه وورسته زما لوري ته وکتل او وې ويل: اې کمیله ! کچيري دې خلګو ته د خبرو اجازه وای او خبري يې کولای سوای نو دوی به خامخا ويلي وای چي بهترينه توښه تقوا ده دايې وويل بيا په ژړا سو او وې فرمايل: اې کمیله ! قبر د عمل صندوق دئ د مرګ په وخت کي به معلوم سي ([54]).

فايده: يعني انسان که ښه کار کوي او که بد کار کوي په دغه قبر کي به ساتل کيږي لکه په صندوق کي چي يو شی ساتل کيږي.

په زياتو حديثونو کي راغلي دي چي ښه عملونه به په يوه ښايسته ښه جوړ سي په قبر کي به د مړي د زړه خوشاله کولو او محبت کولو لپاره راسي او ددې مړي دادګيرنه به کوي او بد عملونه به په يو بد شکل جوړ سي بد بوی به يې وي او مړي به نور په تنګيږي.

په حديث شريف کي راغلي دي چي يو سړی مړ سي نو تر قبر پوري دده سره دري ملګري ځي:

۱- لو مړی دده مال وي لکه چي د عربو داسي دود وو چي د مړي سره به يې دده مال وړی.

۲- دوهم هغه کسان دي چي دی تر قبر پوري رسوي.

۳- دريم دده عمل دئ.

---

([54]) منتخب کنز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ملګري يعني مال او دده خپلوان به بېرته ځني راځي او عمل به ورسره پاتـه وي. نبي ﷺ يوه ورځ اصـحابو کرامـو تـه وفرمايـل: چي ستاسـو د مـال او عمـل مثـال څـه ډول دئ؟ اصـحابو کرامو ﷺ ورته وويل: چي تاسو لارښوونه راته وکړئ رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې مثال داسي دئ لکه چي يو څوک درې ورونه لري او مړ کيـږي نـو دوی راوغـواړي او ورتـه ووايـي چـي وروره تـه پوهيږي چي پر ماڅه تيريږي؟ ته زما څنګه مرسته کولای سي دايـو ورور ورتـه ووايـي چـي زه بـه ستا درملنه وکړم او هر ډول خدمت به دي وکړم کله چي ته مړ سي غسـل بـه درکـړم کفـن بـه درکـړم او پر اوږو به دي تر قبره پوري يوسم او تر مرګ وروسته به دي پـه ښـو يـادوم دا ورور دانسـان اولاد او قريبان دي، بيا دوهم ورور ورته ووايي چي زما ستا سره تر مرګه پـوري اړيکـي دي د مرګ څخه وروسته زه ستا هيڅ پروانه لرم، دا ورور مـال دئ، بيـا دريـم ورور راوغـواړي پوښـتنه ځني وکړي دريم ورو ورته وايي چي زه ستا په قبر کي ملګري يـم دوېـري پـه وخـت کـي بـه دي زړه خوشاله کوم کله چي ستا سره حساب کيږي د نيکۍ په پله کي به دي کښـېنم د نيکـۍ پلـه بـه دي درنوم، دا ورور عمل دئ. رسول الله ﷺ و اصحابو کرامو ﷺ ته وفرمايل: اوس نـو تـاسـو وښـياست چي کـوم ورور ښـه او ګټـور دئ؟ اصـحابو کرامـو ﷺ وويـل: اې د الله ﷻ رسـوله ! دغـه دريـم ورور ګټور دئ هغه لومړني دوه ورونه خو بې ګټي دي.([55])

---

([55]) ايـضا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸- د نبي ﷺ ارشاد چې د خوراک چيښاک حرام وي د هغه دعا نه قبليږي

د نبي ﷺ ارشاد دئ: چې الله ﷻ خپله پاک دئ پاک مال قبلوي مسلمانانو ته د هغه شي امر کوي کوم چې يې خپلو رسولانو ته کړی دئ. الله ﷻ فرمايي:

✍□&⁀⑨❒🕯✵◷♦③
☎✂❑➔🖬↗✍ ⇱✍←♌❾❷♑◎✍✂
⌘♊♉✌ ♉●☼◷♦⌛✑♒⓿⅄➲♑◎✍✂
☎✂❑➔🖬♦✍◻↙✍✂♦❒
❼♑□❄♑➀ ☎ ✍◷•♑🖬◷✽◷
♦♌❑➔🖬⍓☺⬀➔•✍ ✍⍓☺♑✉
(56) ⮘♑⮚⮙⮜☹⬈♑🖬♦⬊

ژباړه: اې رسولانو! د پاکو شيانو څخه خوراک کوئ نيک عملونه کوئ زه په هغه شيانو خبريم چې تاسو يې کوئ.

دوهم ځای الله ﷻ فرمايي:

✍⍓♑❿③❒🕯✵◷♦③
☎✂❑➔🖬↗✍ ↓□✍□☪♑◎✍✂
⮘⮛⬀❻☞✿✍✂ ❼♑× ✍●☺♉✌
••♦❒ ✍✡⌨✑♒⓿•⮌ ✦⌧◷■🖬⍓❍
☎✂❑⇱➔♑⌛✹☺•✍
♉☠◷♦❑↗➲↗⌘

ژباړه: اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دئ خوراک کوئ د هغه پاکو شيانو څخه چې موږ په رزق درکړي دي د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ بيشکه شيطان ستاسو ښکاره دښمن دئ.

---

(56) سورة مؤمنون الاية (٥١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



✂✍✎☜☞✌☝☛⚈✈❍❒☟✍ 🗐
☺☞❍✡☼❂⚆☚ ☜⚉☠☘☛☝☟✍ ✌⚆◆⑨←❑✌
(57)✍❅✎☝☟✂✄✕✔✖✗✘✙✚

نبي ﷺ د يو سړي بيان وکړی چي اوږده، اوږده سفرونه يې کړي وي (د مسافر دعا قبليږي) او دی خواره واره ويښتانو والاوي، خړو پړو جامو والا (يعني پريشانه) وي دی دواړه لاسونه الله ﷻ ته پورته کړي او ووايي: اي الله! اي الله! مګر دده خوراک حرام وي چيښاک يې حرام وي جامې يې حرامي وي تل يې حرام خوړلي وي نو دده دعا چيري قبليږي.(58)

فايده: د خلکو سره تل دا فکر وي چي د مسلمان دعا ولي نه قبليږي که دې حديث شريف ته وګورو نو ټول حالات معلوميږي که څه هم الله ﷻ کله، کله په خپل فضل د کافر دعا لا هم قبلوي فاسق خولا څه کوي مګر د پرهيزګاره سړي دعا اصل شی دی ځکه نو د پرهيزګارانو څخه خلک د دعا هيله کوي. که څوک غواړي چي زما دعا قبوله سي نو د حرامو څخه دي ځان وساتي.

## ۹-د عمر ﷺ د خپلي بي بي منعه د مشکو د تللو څخه

د حضرت عمر ﷺ و حضور ته يو ځل د بحرين څخه مشک راغله نو عمر ﷺ وويل: څوک دا مشک تلي؟ چي پر مسلمانانو باندي يې وويشو دده بي بي حضرت عاتکې ▆ وويل: چي زه به يې وتلم ده مبارک واوريدل او چوپ سو لږ ساعت وروسته يې بيا وويل: چي څوک به يې وتلي؟ تر څو پر مسلمانانو يې وويشو. دې مبارکي وويل: چي زه به يې وتلم عمر AA بيا چوپ سو دريم

(57) سورة البقرة الاية (١٦٨)
(58) جمع الفوائد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل یې وویل: چې زه دا نه خوښوم چې ته خپل لاسونه د ترازو په پله کې کښېږدې او په مشکو یې ولړې او بیا هغه لړلي لاسونه پر بدن و موږې او ماته په دغه اندازه زیاتوب حاصل سي.

فایده: دا د حضرت عمر ﷺ کامل احتیاط و او خپل ځان یې د تهمت څخه خلاصوی که نه نو څوک چې تلل کوي د هغه لاسونه به خامخا لړل کېږي د دغه لږ اندازې په روا والي کې هیڅ شک نسته خو بیا هم ده مبارک خپلي بي بي ته دا خوښه نه کړه.

حضرت عمر بن عبدالعزیز چې عمر ثاني هم ورته وایي ده په خپل وخت کې یو ځل مشک تلل نو پوزه یې وتړل او وې ویل چې د مشکو ګټه بوی دئ (یعني زه نه غواړم چې د دغه ګټه تر نورو ماته زیاته ورسیږي ).[59]

فایده: دا د اصحابو کرامو ﷺ، تابعینو (رحمة الله علیهم)، او زموږ د مشرانو او رهبرانو احتیاط و.

### ۱۰- د عمر بن عبدالعزیز ﷺ د حجاج حاکم لره حاکم نه جوړول

عمر بن عبدالعزیز ﷺ په خپل وخت کې یو څوک د یو ځای حاکم مقرر کړی یو چا ورته وویل چې دا د حجاج بن یوسف په زمانه کې هم حاکم پاته سوی دئ عمر بن عبدالعزیز ﷺ دغه سړی د دندي څخه لیري کړی هغه سړي ورته وویل: چې زه ډېر لږ وخت د حجاج په زمانه کي حاکم پاته سوی یم. عمر بن عبدالعزیز ﷺ ورته وویل چې ستا لپاره دومره بدي بس ده چې چې د هغه سره یوه ورځ یا تر ورځي هم کم حاکم پاته سوي یې.[60]

(59) احیاء
(60) احیاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: مطلب دادئ چي دده سره د پاته کېدو اثر خامخا پاته کيږي. څوک چي د پرهېزګارو خلګو سره اوسيږي نو پراوسيدونکی باندي زوروره اغېز پـه نـه ليـدونکي ډول د پرهيزګـارو خلګو پرېوزي او څوک چي د بدعملو خلګو سره اوسيږي نو د بدعملو خلګو اثـر بـه خامخا پـرده پرېوزي همدا وجه ده چي د بدو خلګو د ناستي څخه منعه پکار ده انسانان لا څه کوي بلکـي د حيوانانو سره په اوسېدو لا اثر پرېوزي.

رسـول الله ﷺ فرمـايي: داوښـانو او اسـونو پـه مالکـانو کـي فخـر او لـويي وي او د بـزو پـه مالکانو کي عاجزي وي. نبي ﷺ ارشاد دئ چي فرمايي: دنيک سړی سره ناسته د مشـکو پـه څيـر ده که مشک ورونه رسيږي نو بوی به يې خامخا ورسيږي او د بد سړی سره ناسته د اور د کـورې په څېر ده که د اور بڅرکي ورونه رسيږي نو د دود (لوګي) څخه يې نه خلاصيږي. ([61])

پنځم باب

د لمانځه شوق او په لمانځه کي عاجزي

لمونځ په ټولو عبادتو کي اړين او لازم شی دئ د قيامت پـه ورځ بـه هم لـومړی د لمانځه پوښتنه کيږي.

نبي ﷺ فرمايي: د کفر او اسلام تر منځ لمونځ فـرق کوونکی دئ. ددي څخه عـلاوه نـور هـم زيات ارشادات راغلي دي چي زما په يوه بله رساله (فضائل نماز) کي بيان سوي دي.

([61]) جمع الفوائد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د الله ﷻ ارشاد د نفل کونکي په اړه

الله ﷻ فرمايي: څوک چي زما د دوست سره د ښمني کوي و دغه کس ته زما د جنګ اعلان دئ او هيڅوک زما سره نژدې والی نسي کولای تر څو هغه څه ادا نه کړي چي ما فرض کړي دي يعني زما نژدې والی د فرضونو په ادا ينه سره لاسته راتلای سي او د نفلو په وجه بنده ماته رانژدې کيږي تر داسي بريده چي زه يې خپل محبوب جوړ کړم نو بيا زه د هغه سړی غوږ سم چي اوريدل په کوي او زه د هغه سړی سترګه سم چي ليدل په کوي او د هغه سړی لاس سم چي يو شی په را اخلي او د هغه سړی پښه سم چي تلل په کوي او کوم شي چي زما څخه غواړي هغه به ورکوم او د کوم شی څخه چي پنا غواړي زه به يې ځني ساتم.(62)

فايده: د سترګي، غوږ او نورو غړو جوړېدو څخه مطلب دا دئ چي د هغه ليدل، اوريدل او ګرځېدل به زما د خوښی تابع وي او هيڅ خبره به زما د خوښی خلاف نه کوي. هغه کسان څومره نيک مرغه دي چي د فرضو دادايني وروسته د ډېرو نفلو توفيق ور په برخه سي او دا دولت ورپه برخه سي. الله ﷻ دي په خپل فضل سره ماته او زما دوستانو ته هم ورنصيب کړي.

## ۲- د نبي کريم ﷺ ټوله شپه لمونځ کول

يو سړي د عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چي د نبي ﷺ که څه عجيبه خبره تاليدلي وي نو راته وې وايه. عائشې رضي الله عنها وويل: د نبي ﷺ کومه خبره عجيبه نه وه ؟ بلکي هره خبره يې عجيبه وه يوه شپه راغلی زما سره پرېوتی بيا يې وويل ما پرېږده چي د خپل رب عبادت وکړم دا يې وويل

(62) مجمع الفوائد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پر لمانځه ودرېدئ او ژړا يې شروع کړه تر داسي اندازې چي اوښکي يې پر سينه مبارکي راتوی سوې بيا پر رکوع سو په رکوع کي يې هم په دغه ډول ژړل بيا پر سجده سو په سجده کي يې هم په دغه ډول ژړل تر داسي وخته چي بلال ﷺ راغلی او د سهار د لمانځه لپاره يې اواز وکړی ما وويل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! تاسو دومره و ژړل او حال دا چي تاسي د مخکي او وروسته ګناهو څخه پاک يې او که فرضاً هم يې نو الله ﷻ تاسو ته د مغفرت وعده درکړې ده. ده مبارک راته وويل: چي الله ﷻ داسي راسره کړی دي بيا نو زه د الله ﷻ شکر ګذار بنده نه سم جوړ؟ بيا يې راته وويل: ما به ولي داسي نه کول او حال دا چي نن پر ما باندي دا آياتونه نازل سوي دي:

✂🕾🕾🕯◆❑ ... (آیت په غلط فونټ کي چاپ سوی)

⸨٦٣⸩

دا خبره په زيات شمېر حديثونو کي راغلې ده چي رسول الله ﷺ به د شپې دومره اوږد لمونځ کاوه چي د ډېري ولاړي څخه به يې پښې وپړسېدې خلکو به ورته وويل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! ته دومره تکليف پر ځان تېروي حال دا چي الله ﷻ ته بخښلی يې ده مبارک به په جواب کي ويل: ايا زه د الله ﷻ شکر ګذار بنده جوړ نسم؟ (64)

## ۳- د رسول الله ﷺ په څلور رکعتو کي شپږ سپارې ويل

(63) سورة آل عمران الاية ( ١٩٠ ) ، اقامة الحجة

(64) بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عوف ﷺ فرمايي: چې زه يوه ورځ د رسول الله ﷺ سره په سفر ولاړم رسول الله ﷺ مسواک وواهه او اودس يې وکړی دلمانځه نيت يې وتړی زه هم په لمانځه کې ورسره شريک سوم نبي ﷺ په يو رکعت کې سورة بقره ولوستی کوم ځای چې به د رحمت آيات راغلی نو رسول الله ﷺ به لږ ساعت ودرېدئ او د رحمت د عا به يې غوښتل، کوم ځای چې به د عذاب آيات راغلی نو تر لږ وخته پوري به يې پنا غوښتل د سورة د ختمېدو سره سم يې رکوع وکړه او په رکوع کښې يې (سُبحَانَ ذِي الجَبَرُوت وَالمَلَكُوُت وَ العَظمَة ) بيا يې په همد غه اندازه اوږده سجده وکړه کله چې دوهم رکعت ته ولاړ سو په دوهم رکعت کې يې سورت آل عمران ووايه همدا ډول په يو رکعت کې يې يو ـ يو سورت ووايه چې په څلور رکعتو کښې پاو بالا شپږ سپارې کيږي دا به څومره اوږد لمونځ وچې په هر آيت د رحمت او آيات د عذاب باندې يې تر ډېره ساعته دعا غوښته او بيا يې په دغه پيمانه اوږده رکوع او سجده کول.

حضرت خذيفة ﷺ هم خپله يوه قصه د نبي ﷺ سره د لمونځ کولو رانقله کړې ده او فرمايي: چې رسول الله ﷺ په څلورو رکعتو کښې څلور لوی سورتونه ولوستل يعني د سورت بقره څخه د سورت مائده تر ختمه پوري يې وويل.

فايده: د غه څلور سورتونه چې نبي ﷺ په څلور رکعتو کښې لوستلي دي پاؤ بالا شپږ سپارې کيږي او د نبي ﷺ عادت داو چې قرآنکريم به يې په تجويد او ترتيل سره لواسته ( د اصولو سره برابر او په ډېره ارامتيا سره ) لکه چې په احاديثو کې راغلې دي. ددې سره رسول الله ﷺ پر هر آيت د رحمت او پر هر آيت د عذاب دربدئ او دعا به يې غوښتل بيا به يې د رکعتو د ولاړې په اندازه اوږده رکوع او سجده کول يعني کله به رسول الله ﷺ په يو رکعت کښې سورت بقره، ال عمران او سورت مائده لواسته چې د غه درې سورتونه نژدې پنځه سپارې کيږي ( بيا به يې په دغه اندازه رکوع کول).



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه وخت کېداى سي چي چا پـه لمانځـه کښي ارام او د سترګو پوخوالى نصيب سي.
نبي ﷺ فرمايي: زما د سترګو پوخوالي په لمانځه کښي دئ. اَللهُم ارزُقنِي اِتبَاعَهُ.

## ۴- د حضرت ابوبکر صديق، حضرت ابن زبير، حضرت علي او نورو اصحابو رضي الله عنهم د لمونځونو حالات

مجاهد رحمه الله د حضرت ابوبکر صديق، او حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنهما حال رانقل کړی دئ چي کله به دوی پر لمانځه ودرېدل داسي به ښکارېدل لکه يو لرګى چي ښخ کړې يعني هيڅ به نه ښورېده.(65)

علماو ليکلي دي چي حضرت ابن زبير د حضرت ابوبکر ﷺ څخه لمونځ زده کړی دئ او ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه لمونځ زده کړی دئ يعني په څه ډول چي رسول الله ﷺ لمونځ کاوه پدغه ډول به ابوبکر ﷺ لمونځ کاوه او عبدالله بن زبير ﷺ هم په دغه ډول لمونځ کاوه. ثابت ﷺ وايي چي د عبدالله بن زبير ﷺ لمونځ داسي و لکه يو لرګى چي يو ځاى ښخ کړې.يو څوک وايي چي ابن زبير ﷺ به کله دومره اوږده اوبې حرکته سجده وکړه چي مرغان به راغله دده پر ملا به کښېناسته ،کله به يې دومره اوږده رکوع وکړه چي ټوله شپه به ترسهاره په رکوع کښي و او کله به يې دومره اوږده سجده وکړه چي ټوله شپه به تېره سوه کله چي پر حضرت زبير ﷺ باندي جنګ کېدئ نو يو واری د مسجد پر د بواله ولګېدئ چي د مسجد د دېوال يوه ټوټه يې والوزل او د حضرت زبير ﷺ د ستوني اوږيري ترمنځ هغه واری تېر سو خوده هيڅ فکر نه وکړی نه وار خطا سو نه يې رکوع او سجده لنډه کړه يوه ورځ يې لمونځ کاوه دده زوی چي هاشم نوميدئ دده

(65) تاريخ الخلفاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخنګ ته بيده و دبام څخه يو مار راولوېدئ او دده پر زوی باندي راتاوسو زوی يې چغي کړې دکور خلګ ټوله په چابکی سره راغله شورماشورجوړسو هغه مار يې مړکړی ابن زبیر رضي الله عنه په هغه ډول سره په ښه ارامتیاسره لمونځ کاوه کله چي يې سلام وګرځاوه نووې ويل چي يو څه شور او ږغ مي تر غوږ وسو څه شی و؟ بي بي يې ورته وويل چي الله (ﷻ) دي پرتارحم وکړي زوی خو به دي مړسوی وای ته په خبرنه هم نه يې ؟ده مبارک ورته وويل ورکه سې که په لمانځه کښي مي بلي خوا ته توجه اوفکرکولای نولمونځ به څيري پاته سوی وای.(66)

حضرت عمر رضي الله عنه چي په اخروخت کي په خنجرووهل سواو ددغه زخمو څخه بیاشهید سوهروخت به وینه تري بهیدله اوزیات وخت به بې هوښه وخوبیاهم دلمانځه لپاره بیداره کېدئ لمونځ به يې کاوه دا به يې ويل چي دهغه چاليپاره په اسلام کي هيڅ حصه نسته چي لمونځ پرېږدي.

حضرت عثمان رضي الله عنه به ټوله شپه ويښ واو په يوه رکعت کښي به يې ټوله قرآنکريم ختماوه.

دحضرت علي (کرم الله وجهه) مبارک عادت داسي و چي کله به دلمانځه وخت راغلی نوپربدن به يې رپيدل راغله اومخ به يې ژړسويو چاپوښتنه څني وکړه چي دا څه خبره ده چي دلمانځه دوخت په راتګ سره دي مخ ژړسي اوبدن دي رپيږي؟ ده مبارک ورته وويل: دادهغه امانت وخت دئ چي اللهﷻ پراسمانو مځکه اوغرونوباندي نازل کړی دوی يې دپورته کولو څخه ناتوانه سول خوماپورته کړی.

دحضرت خلف بن ايوب رحمه الله څخه يو چاپوښتنه وکړه چي تاپه لمانځه کښي مچان نه تنګوي؟ ده مبارک په جواب کښي ورته وويل چي بدکاره خلګ حکومت په دورو وهي دی ږغ نه کوي دا تکليفونه پرځان تېروي خوپه دې فخرکوي چي زه دحکومت په هرډول وهلوکي نه ښورم

(66) بدايه وغيره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې چې زه خوځـومره ټينـګ يـم زه چې د خپـل رب ﷻ وحضـورته ولاړيـم زه ديـوه مـچ لـه املـه ونښوربړم.

مسلم بن يسار ﷺ چې به کله دلمانځه لپاره ودرېدى نو دخپل کورخلګوته به يې وويل چې تاسوماته خبري کوي زه ستاسوپه خبرونه پوهېږم يوه ورځ ده مبارک دبصرې پـه جامع مسـجد کې لمونځ کاوه چې دمسجديوه برخه راچپه سوه خلګويې له امله وځغستل دباندي سره يوځاى سوه شوراوغوغاسوه خودى هيڅ په خبرنه سو.

دحضرت خاتم اصم ﷺ څخه چادلمانځه دحالاتو پوښتنه وکړه ده مبارک پـه جواب کښـې ورته وويل: کله چې دلمانځه وخت راسي اودس وکړم اوهغه ځاى تـه ولاړسم چې لمونځ پکښـې کـوم لږساعت کښـېنم چې دبدن پـه ټولوحصو کښـې مي ارامتياپيداسي بيادلمانځه لپاره پـه داسي ډول ودرېږم چې بيت الله شريفه دخپـل نظرورانـدي وګڼم ، پـل صـراط تـر پښـولاندي جنت راسته طرف ته ، دوزخ چپه طرف ته اودمرګ ملائکه دشا طرفته وګڼم او دا فکر وکړم چې دا مي وروستى لمونځ دئ ددې څخه وروسته په پوره عاجزۍ او کمينۍ سره لمونځ ادا کړم بيا دااميد او ويري ترمنځ واوسم چې قبول به سي که يا.([67])

**۵**- د مهاجر او انصاري چوکيداري او په لمانځه کښې پر انصاري غشي لګېدل

نبي ﷺ د يو غزا څخه تشريف راوړى د شپې يې يو ځاى د تېرولو لپاره غوره کړى او بيـايې وويل چې نن شپه به چوکيداري څوک وکړي يـو مهاجرصـحابي حضـرت عمـر بـن ياسـر ﷺ او يـو انصاري صحابي حضرت عباد بن بشر ﷺ وويل چې مونږدواړه به چوکيداري وکړو نبي ﷺ د هغـه غره ولوري ته ولېږل چې د هغه لوري څخه ددښمن دراتلو وېره وه او ورتـه وې ويـل چـې تاسـي بـه

---

(67) احيـآء

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دغه غره باندي چوکیداري وکړی دوی مبارکانو و هغه غره ته تشریف یوړی انصاري و مهاجر ته وویل چي شپه به پر دوو برخو وویشو په یوه برخه کي به ته بیده سي زه به ویښ سم په دوهمه برخه کښي به ته ویښ سي زه به بیده سم ځکه که دواړه ټوله شپه ویښ سو نو کېدلای سي چي پر دواړو باندي د خوب غلبه راسي او دواړه به بیده سو که چیري څه خطر ویښ ملګري ته معلوم سي نو خپل ملګري به کښېنوي د شپې لومړۍ برخه د انصاري ملګري دویښ والي لپاره وټاکل سوه مهاجر بیده سوه انصاري د لمانځه نیت وکړی ددښمن لخوا څخه یو سړی راغلی او یو ځوک یې د لیري څخه ولاړ ولیدئ دستي یې په غشي وویشتی انصاري هیڅ نه وښورېدئ بیا یې دوهم غشي وویشتی ورپسي یې په دریم غشي وویشتي هر غشي چي به یې په بدن کي ولګېدئ ده به په لاس د بدن څخه راوایستی او وه به یې غورځوی ددې څخه وروسته یې په ښه ارامتیا سره رکوع او سجده وکړه لمونځ یې پوره کړی بیا یې خپل ملګری راویښ کړی دښمن چي دوی دوه ولیدل و تښتېدئ او فکر یې وکړی چي نده معلومه چي دابه څومره ملګري وي دده ملګری چي کله راویښ سونو وې لیدل چي د انصاري د بدن ددرو ځایو څخه وینه بهیږي مهاجر ورته وویل: سبحان الله تا ولي زه په لومړي وخت نه ویښولم ؟ انصاري په جواب کښي ورته وویل: ما په لمانځه کښي سورة کهف شروع کړی و زړه مي نه غوښتل چي د خلاصېدو مخکي رکوع وکړم خو زما سره دا ویره پیدا سوه چي د ډېرو غشو په لګېدو سره مړ نه سم او دنبي ﷺ د حفاظت خدمت چي ماته یې سپارلی و هغه را څخه پاته نه سي که چیري زما سره دا ویره نه وای نو د سورة د خلاصېدو مخکي به مي رکوع نه وای کړې. ([68])

فایده: داد مبارکو اصحابو کرامو لمونځ و او دلمانځه سره مینه وه چي دغشو د ویشتلو سره او د وینو د بهېدو سره یې هم د لمانځه په خوند کښي فرق نه راتلی زموږ لمانځه ته ګوره چي

([68]) بیهقي ، ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوماشه مو وخوري نو دلمانځه فکر راخخه ولاړ سي او د مچمچۍ او غالبوزي پوښتنه خو مه کوه.

دلته يو مذهبي اختلافي مسئله سته هغه دا چي زمونږ د امام اعظم په اند په وينو تويېدلو سره اودس ماتيږي او د امام شافعي په اند اودس نه ماتيږي کېدلای سي چي د همدې صحابي طريقه همدا وه ، ياکېدلای سي چي تر د غه وخته پوري ددې مسئلې تحقيق نه وسوی ځکه نبي ﷺ په دغه مجلس کي تشريف نه درلودئ يا تر دغه وخته پوري ده ته دا مسئله معلومه نه وه.

۲- د حضرت ابو طلحه ؓ په لمانځه کښي د فکر راتلو په وجه باغ وقف کول

حضرت ابو طلحه ؓ يوه ورځ په باغ کښي لمونځ کاوه نو يو مرغه والوتی نو څرنګه چي باغ ډېر ګڼ و او مرغه ته ژر د وتلو لار پيدا نه سوه مرغه به يوې اوبلې خوا ته الوتی او د وتلو لار به يې لټول دده مبارک نظر د مرغه په لوري پربواتی او فکر يې د مرغه په لوري بند سو کله چي يې د لمانځه تورو ته فکر راجمعه کړی تېروتی چي کوم رکعت دئ نو ډېر خوابدی سو چي ددې باغ په وجه دا غم راپيښ سو چي په لمانځه کښي تېروتنه راخخه وسوه ژر د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی او ټوله قصه يې ورته وکړه او غوښتنه يې ځني وکړه چي ددې باغ په وجه دا مصيبت ماته راپيښ سو نو له همدې امله دغه باغ زه د الله ﷻ په لاره کښي ورکوم، کوم ځای چي ستازړه غواړي هلته يې ولګوه. همدا ډول يوه بله قصه د حضرت عثمان ؓ په زمانه کښي هم پيښه سوې ده چي يو انصاري په خپل باغ کښي لمونځ کاوه د خرماوو د پخېدو وخت په وه وو د خرماوو غونچي ډېري ښې ورته معلومي سوې فکر يې د خرماوو په لوري ولاړی او داځني ورکه سوه چي څو رکعته مي کړي دي نو ډېر غم او خفګان ورته پيښ سو ددې غم په وجه يې دا ټينګه اراده وکړه چي داسي باغ به ځانته ونه ساتم چي په وجه يې ماته دومره لوی غم پيښ سو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ يې راخخه ورک کړی نو د حضرت عثمان ﷛ وحضورته ورغلی او ورته وې ويل: چي دا باغ زه د الله ﷻ په لاره کي خرخوم تاسو چي څه په کوی هغسي ورسره وکړی عثمان ﷛ په پنځوس زره خرڅ کړی او پيسي يې پر ديني کارونو ولګولې.(69)

فايده: دا ايماني غيرت دئ چي د لمانځه په ډول يو مهم شي کي چي د بل شي فکر بند سي نو د پنځوسو زرو باغ يودم صدقه کړي. زمونږ حضرت شاولي الله په قول جميل نومي کتاب کښي د صوفيانو د نسبت ډولونه ليکلي دي ددې په اړه يې دا هم ليکلي دي چي دا نسبت دالله ﷻ په اطاعت کښي پر نورو باندي مخکي والی او په دې کي د غيرت کولو دئ دوی مبارکانو ته پردې کار باندي غيرت دريږي چي د الله ﷻ په اطاعت کښي يې فکر بلې خواته ولاړ سي.

## ۷- د حضرت ابن عباس ﷛ د لمانځه په وجه د سترګي علاج نه کول

د حضرت ابن عباس ﷛ په سترګه کي يو وخت اوبه راغلې نو د سترګي علاج کوونکي دده حضور ته ورغلی او ورته وې ويل که اجازه وي مونږ به ستا د سترګي علاج وکړو خو تر پنځو ورځو پوري به تاسو احتياط کوی او دمځکي څخه به يو څه پر لوړ ځای يا پر يو لرګي باندي سجده کوئ ده مبارک ورته وويل هيڅکله دا سي نسي کېدلای ، زما دي په الله ﷻ قسم وي چي په دې ډول ماته يو رکعت هم دقبلولو وړندئ د نبي ﷺ ارشاد ماته معلوم دئ چي فرمايي: کوم څوک چي قصداً لمونځ پريږدي هغه به د الله ﷻ سره په داسي ډول ملاقات وکړي چي الله به ځني ناراضه وي.(70)

(69) موطا امام مالک
(70) درمنثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: که څه هم شريعت لمونځ په داسې مجبوري کښې جايز کړی دئ او پـه داسـې حالاتو کښې که څوک لمونځ قصداً پرېږدي دعذاب تر وعيد لاندي نه راځي خو دا د اصحابو کرامـو د لمانځه سره محبت و او دنبي کريمﷺ پـه ارشـاد بانـدي پـه لويـه پيمانـه د عمـل کولـو اهميت و پـه همدې وجه حضرت عبدالله بن عباس د سترګي عـلاج خوښ نه کړی دوی مبارکـانو پـر يـوه لمانځه باندي ټوله دنيا قربانول، نن مونږ د بې حيا يې، څخه چي څه غواړو ددې قرباني کوونکو پـه خبـر کـي يـې تـر خولې باسو هرکله چي سبا ددوی سره مخامخ سو نو دغـه پـر ديـن قربـاني ورکوونکي به د حشر دميدان د سيل خوند اخلي بيا به حقيقت معلوم سي چي دوی څوک وه او مونږ ددوی سره څه سلوک کړی دئ.

٨-د صحابه د لمانځه په وخت کښي دستي دوکانونه بندول

حضرت عبد الله بن عمر په بازار کي تشريف درلودئ چي د لمانځه د جماعت وخت سو وي ليدل چي فوراً ټولو خپل دوکانونه بند کړل او مسجد تـه ننوتـل عبـد الله بـن عمـر فرمـايي: چي ددې خلکو په اړه دا آيات نازل سوی دئ:

•⬩◆❒ ➢□♦❷🕔■♑♎👌 ⬀☠♇♐❸♍♑▫🖬➔✍ ⬩⬥ ➢✌🔔⍓♊♇❻
(⁷¹) ★✏👓✂▩❷⬂📫♎❶ ♊♦⬉➚➚⬂⓿♦📪

د پورتني آيات پوره ترجمه داسي ده: په دغه مسجدونو کي داسي خلګ سته چي د الله ﷻ د ذکره څخه يعني د لمانځه، روژې او زکوة څخه يې رانيول او خرڅول نه مشغول کوي دوی دداسي ورځي دنيولو څخه ويرېږي چي د هر زړونه او سترګي به اوړي. (⁷²)

(71) سورة نور الاية ( ١٨)
(72) بيان القرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله بن عباس فرمايي: چي دغه خلک به په خپل کارو بار مشغول وه کله چي به يې اذان واوريدئ نو دستي به يې کار اوبار پرېښودئ او مسجدو ته به ولاړه. نوموړي يو ځای وايي چي قسم په الله ﷻ دا خلک تاجران و مکر ددوی تجارت دوی د الله ﷻ د عبات څخه نه مشغولول. حضرت عبدالله بن مسعود ‌‌ يوه ورځ په بازار کي تشريف درلودئ چي اذان وسوده مبارک وليدل چي خلکو خپل سامانونه پرېښودل او مسجد ته ولاړل ابن مسعود ‌‌ وفرمايل: داهـم هغـه خلـک دي چـي پـه اړه يـې الله ﷻ فرمـايي: ❻⌘♌⌑⌓♋♉⮜ ••

✍⮕◘▫♑⌐❸♑♐☠⬀♍♐⌑♑◘⏲❷♦◘⮜❒♦••✍♦⓪⬂⮥⮥⇖♦⌶

❶♐✍✍⬂❷⚉✂♐✍✎★ (سورة نور).

په يو حديث شريف کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ فرمايي: په ورځ د قيامت چي ټوله دنيا الله ﷻ سره يو ځای کړي نو ږغ به وسي چي هغه خلک دي جلا سي چي د غم او خوشالۍ په دواړه وختونو کي يې د اللهﷻ حمد او ثنا ويل، يوه کوچنۍ ډله به راپورته سي بې حسابه او بې کتابه به جنت ته ولاړه سي. بيا به ږغ وسي چي هغه خلک دي جلاسي چي په شپه کي به د خپلو بسترو څخه جلا اوسيدل او خپل رب به يې په وېره او مينه سره يادوی، يوه کوچنۍ ډله به راپورته سي او بېله حسابه او کتابه به جنت ته ولاړه سي، بيا به ږغ وسي چي هغه خلک دي جلا سي چي تجارت د الله ﷻ د ذکر څخه نه منعه کول بيابه يوه دريمه کوچنۍ ډله راپورته سي او جنت ته به بېله حسابه ولاړه سي ددې درو ډلو د تللو څخه وروسته به د پاته خلکو سره حساب شروع سي. ([73])

۹- د حضرت خبيب ؓ د قتل په وخت کي لمونځ کول او د زيد او عاصم قتل

---

([73]) درمنشور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احد په غزا کي چي کوم کافران وژل سوي وه د خپلوانو يې د بدل هڅه پياوړي وه چي د خپلو قريبانو بدل واخلي. سلافه چي دوه زامن يې د احد په غزا کي وژل سوي وه پر ځان يې نذر منلى وو چي که د عاصم سر په لاس راغلى نو په کوپړه کي به يې شراب چيښم عاصم ددې زامن وژلي وه او دې اعلان کړی و که هر چا ماته د عاصم سر راوړی زه به سل اوښان انعام ورکوم خالد بن سفيان ددغه کار لپاره يوه غولونکې تګلاره جوړه کړه او دده مبارک د سر راوړلو کوشش يې کاوه. خالد بن سفيان څو کسان د (عضل) او (قارة) و مدينې منورې ته ولېږل دغه کسانو هلته ځان مسلمانان ښکاره کړل د نبي ﷺ څخه يې د څوک کسانو غوښتنه وکړه چي ددوی سره ولاړ سي د تبليغ او وعظ لپاره . په دغه کسانو کي يې د عاصم رضي الله عنه غوښتنه هم وکړه چي دده وعظ پر خلګو ښه لګيږي او د خلګو هم خوښ دئ. نبي ﷺ لس کسان ددوی سره ولېږل په يوه روايت کي راغلي دي چي شپږ کسان يې ددوی سره ولېږل چي په دوی کي عاصم رضي الله عنه هم موجود وو . په لاره کښي بيوونکو خلګو ددوی سره دوعدې مخالفت وکړی او ددوی د مقابلې لپاره يې د ښمن ورته راوغوښتی چي دوه سوه کسان وه په دې کسانو کي سل کسان غشي ويشتونکي وه. په ځينو رواياتو کي راغلي دي چي دغه کسان رسول الله ﷺ د مکې د حال د معلومولو لپاره لېږلي وه چي پر لاري يې د (بنو لحيان) ددوو سو کسانو سره مقابله سوه دغه کوچنۍ ډله چي د لسو يا شپږو کسانو څخه جوړه وه کله چي يې د ا حالات وليدئ نو يو غره ته چي (فدفد ) نومېدئ و ختل کافرانو ورته وويل: چي موږ خپله مځکه ستاسو په وينو رنګول نه غواړو بلکي يواځي موږ د مکې د خلګو څخه ستاسو په بدله کي يو څه پيسې او مال غواړو تاسو موږ ته راسی موږ تاسو نه وژنو مسلمانانو ورته وويل: موږ د کافرانو تر لاس لاندي راتلل نه غواړو نو دستي يې د ترکش څخه غشي راوايستل مقابله يې شروع کړه. حضرت عاصم رضي الله عنه په جذبه خپلو ملګرو ته وويل: ستاسو سره دوکه وسوه خو د ويري خبره نه ده شهادت غنيمت وګڼی ستاسو محبوب ستاسو سره دئ د جنت حوري ستاسو انتظار کوي دد ي خبري په کولو سره يې په پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



توان جګړه پیل کړه کله چې نېزه ماته سوه بیا یې په توره جګړه پیل کړل خو د کافرانو ډله ډېره وه آخر شهید سو او دعا یې وکړه چې اې الله ﷻ ! خپل رسول ◄ ته زموږ د قصې خبر ورکړه دا دعا یې قبوله سوه الله ﷻ په دغه وخت کې رسول الله ﷺ ته خبر ورکړئ. عاصم ﵁ خبر و چې سلافه نذر منلی دئ چې زما په کوپړه کې به شراب چیښي نو دعا یې وکړه چې اې الله ﷻ ! زما سر ستا په لاره کې پرې کیږي نو زما د سر حفاظت وکړه. الله ﷻ یې دعا قبوله کړه کافرانو چې کله دده د سر د پرې کولو اراده وکړه نو الله ﷻ د شاتو مچمچۍ را ولېږلې او په یوه روایت کې راغلي دي چې د غالبوزو یوه ډله الله ﷻ راولېږل د عاصم ﵁ پر بدن باندي د څلورو طرفونو څخه راوګرځېدلې. کافران ونه توانیدل چې دده مبارک سر پرې کړي بیا دوی فکر وکړی چې د شپې به دا کار وکړو د شپې بیا د باران یوه څپه راغله دده مبارک جسد یې یووړی دوی ته په لاس نه ورغلی. په دغه ډول درې یا اوه کسان شهیدان سول درې کسان پاته سوه چې یو حضرت خبیب ﵁ وو دوهم زید بن طارق ﵁ وو او دریم عبد الله بن د ثنة ﵁ پاته سو ددوی سره کافرانو وعده وکړه چې تاسو راکښته سئ موږ ستاسو سره دوعدې مخالفت نه کوو دوی مبارکان راکښته سوه کافرانو دلیندیو تسمې خلاصي کړې ددوی موټې یې ټینګې وتړلې عبد الله بن طارق ﵁ وویل چې دا لومړی دوعدې مخالفت دئ زه هیڅکله ستاسو سره نه ځم دهغو شهیدانو پر لاره تلل زما هم خوښ دي کافرانو چې دی هر څومري پوري واهه دی مبارک دځایه څخه نه وښوربدئ آخر یې شهید کړی یو ازې دوه مبارک اصحابان پاته سوه خبیب ﵁ و او بل زید بن دثنة ﵁ و، زید بن دثنة ﵁ صفوان بن امیه دپنځوسو اوښانو په بدله کې واخیستی چې دخپل پلار امیه په بدل کې یې ووژني حضرت خبیب ﵁ جحیر بن ابي اهاب دسلو اوښانو په بدله کې واخیستیچي دخپل پلار اهاب په بدله کې یې ووژني ، دبخاري شریف په یوه روایت کې راغلي دي چې خبیب ﵁ دحارث بن عامر اولادو رانیوی ځکه ده حارث دبدر په غزاکې وژلي و، صفوان خپل بندي یعني زید بن دثنة ﵁ ژر دیوه غلام په لاس ورکړی د حرم دباندي یې د وژلو له پاره بوتی دده مبارک دشهادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر وخت زيات خلک يو ځای سوي وه چې ابو سفيان هم راغلی و دده د شهات پر وخت يې دده ځخه پوښتنه وکړه چې ستا دي په الله ﷻ قسم وي ريښتيا ووايه که ستا پر ځای محمد ﷺ قتل سي ته خلاص سي خوشحاله يې؟ حضرت زيد ؓ وفرمايل: چې زما دي په الله ﷻ باندي قسم وي چې د محمد ﷺ قتل خو لا څه کوي که په هغه يو ځوز جګ يې او زه په کور کي ارام کښېنم لا يې هم نه خوښوم. قريشو چې د اجواب واورېدی حيران پاته سوه ، ابوسفيان وويل: د محمد ﷺ د ملګرو چې څومره محبت دده سره ما وليدئ مثال مي هيڅ چيري نه و ليدلی ددې ځخه ورسته زيد ؓ شهيد کړل سو. حضرت خبيب ؓ تر ډه وخته پوري بندي و د جحيرمينځه چې بيا وروسته مسلمانه سوه وايي: خبيب ؓ چې کله زموږ سره په بندکي و موږ وليدل چې د خبيب ؓ په لاس کي يوه ورځ د سړی د سر په اندازه يوه لويه غونچه د انګورو وه او خوړله يې. په مکه کي دغه وخت انګور بيخي نه وه. نوموړې مينځه زياتوي چې کله دده دمرګ وخت رانږدې سو نو د نظافت لپاره يې يوه چاړه وغوښتل کله چې يې چاړه ورکړه نابره يو ماشوم و خبيب ؓ ته ورغلی خلګو چې وليدل چې خبيب ؓ چاړه په لاس کي او ماشوم ورته ولاړ دئ خلک وو ېرېدل چې خبيب ؓ د غه ماشوم مړ نکړي. خبيب ؓ دوی ته وويل: ايا ستاسو فکر دئ چې زه به دا ماشوم ووژنم؟ هيڅکله به داسې و نکړم. ددې ځخه وروسته کافرانو خبيب ؓ د حرم ځخه وايستی او په رسی يې وځړاوه په دغه وخت کي کافرانو پوښتنه ځني وکړه: که دي په زړه کي څه ارمان وي نو ووايه ده مبارک په جواب کي ورته وويل ماته دومره وخت راکړئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم ددنيا ځخه د تلو وخت دئ او د الله ﷻ سره ملاقات نږدې دئ کافرانو د ه ته وخت ورکړی ده مبارک دوه رکعته نفل په ډېره ارامتيا سره وکړه او بيا يې وفرمايل: که چيري زما دا فکر نه وای چې ستاسو به دا خيال وي چې زه د مرګ د ويري له وجهي وخت تېروم نو دوه رکعته به مي نور هم کړي وای ددې ځخه وروسته يې په رسی و ځړاوی او دعايې وکړه چې اې الله ﷻ! داسې څوک به وي چې ستا تر رسول ◄ پوري به زما وروستی سلام ورسوي. نبي ﷺ ته دوحيو په واسطه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام ورسول سو. نبي ﷺ وفرمايل: وعليکم السلام يا خبيب او ملګرو ته يې خبر ورکړی چي خبيب قريشو قتل کړی دئ.

حضرت خبيب ﷺ چي کله په رسۍ باندي و ځړول سو نو ځلور کافرانو د ځلورو طرفونو څخه پرده باندي دنېزو حمله وکړه او بدن يې ور غلبېل کړی په دغه وخت کي يو چا قسم ورکړی بيا يې پوښتنه ځني وکړه چي ته دا خوښوې چي تا پرېږدو او محمد ﷺ قتل کړو؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل والله العظيم زما دا هم نه ده خوښه چي زما د ځان په بدله کي دي په محمد ﷺ يو ځوز ننوزي.([74])

فايده: که څه هم ددې قصو هر لفظ د عبرت دئ خو په دې قصه کي دوه شيان په ځانګړې ډول د درنښت او عبرت قابل دي: لومړي دا چي ددې مبارکو اصحابانو محبت او عشق دومره زيات و چي د نبي ﷺ د يوه لږ تکليف په ليدلو کي هم خپل ځانونه قربانول. که څه هم ددغه کافرانو ورسول الله ﷺ ته لاس نه رسېدئ خو خبيب ﷺ يو اځي په خوله هم نه غوښتل چي دا خبره پر ځان ومني چي ګويا دده په بدله کي دي محمد ﷺ ووژل سي. کافرانو تر خپله وسه پوري کوشش کاوه چي هر ډول تکليف نبي ﷺ ته ورسوي که څه هم محض په خوله وي پدې يې هم زړه سرېدئ. دوهم شی د صحابه کرامو ﷺ د لمانځه د درنښت او د لمانځه سره محبت و په دغسي وخت کي خلګ خپل اولادونه، ښځه، قريبان يادوي او د هغوی شکلونه ليدل غواړي پيغام او سلام ورته وايي خو د مبارکو اصحابانو ﷺ سلام دنورو پر ځای و نبي ﷺ ته و او اخري ارمان يې دوه رکعته لمونځ و.

١٠- د نبي ﷺ سره د جنت د ملګرتيا لپاره د لمانځه مرسته

([74]) فتح الاسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ربيعه ﷺ فرمايي چي ما دنبي ﷺ په خدمت کي شپه تېرول او د تهجيد په وخت کي به مي ورته داوداسه اوبه او نور د ضرورت وړ شيان لکه مسئله، مسواک او داسي نور ورته اېښودل يوه ورځ نبي ﷺ زما د خدمت څخه ډېر خوشحاله سو اوراته وې ويل: وغواړه څه شي غواړې؟ ماورته وويل اې د الله ﷻ رسوله !په جنت کي ستا ملګرتيا غواړم نبي ﷺ راته وويل نور څه غواړي؟ ما ورته وويل بس دغه يو شی مي بس دئ نبي ﷺ راته وويل د سجدو په ډېر والي سره زما مرسته کوه.([75])

فايده: په پورتنۍ خبره کښي ددې خبري خبرداری دئ چي يوائي په دعا سره بې فکره کښېناستل نه دي په کار بلکي د عمل اړتيا هم سته او په عباداتو کي تر ټولو بهتره عبادت لمونځ دئ ځومره چي د لمانځه ډېروالی وسي سجدې زياتي کيږي.کوم خلګ چي په دې هيله ناست دي چي پلانکی پير يا پلانکی بزرګ ماته دعاوي وکړي دا محض د ځان تېرايستل دي ځکه الله ﷻ دا دنيا په اسبابو سره چلولې ده که څه هم بې له اسبابو هم پر هر شی باندي قدرت لري او د قدرت د ښکاره کولو لپاره کله داسي هم کوي چي بې له اسبابو يو کار ترسره کړي خو عام عادت يې دادئ چي ددنيا کارونه د اسبابو سره تړي. د حيرانتيا خبره داده چي موږ ددنيا په کارونو کي پر تقدير او يوازي ددعا په هيله نه کښينو بلکي (۵۰) ډوله کوششونه کوو چي څرنګه پيسې پيدا کړو اوڅنګه يې ډېري کړو مګر ددين په کارونو کي تقدير او د عا رامنځته کوو په دې کي هيڅ شک نسته چي د سپېڅلو انسانو دعا ډېره ضروري ده خو نبي ﷺ دا ارشاد هم فرمايلی دئ چي د سجدو په ډېروالي سره زما مرسته وکړئ.

([75]) ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم باب

## ايثار، همدردي او د الله ﷻ په لاره کښې مال خرڅول

ايثار و دې ته وايي چې د خپلو اړتياوو مخکې د نورو اړتياوې پوره کړې د اصحابو کرامو ﷺ هر عادت هم داسې و چې د خپلې اړتيا ترپوره کولو مخکې يې د بل ورور مسلمان اړتيا پوره کول. دا صحابو کرامو د ټولو عادتونو سره برابر والي خو څه کوي که د دوی مبارکانو د عادتونو څخه يوه برخه د يو چا نصيب سي لو يه نيکبختي ده. ځينې داسې عادتونه په دوی مبارکانو کې خاص وه که يې ځوک په ځان کې راولي نو د دوی مبارکانو د عادتونو يوه برخه به يې په ځان کې راوستلې وي چې د دغه عادتونو څخه يو هم ايثار دئ الله ﷻ په قرآن شريف کې د دې ايثار ستاينه کړې ده او فرمايي:

➾♍❐↖❷✍⚐⬃⬧↖③◆❐
✁❼■✍◆↖
⬀❑⬧♐◆❐ ⬀☠✍✍⬁❍➔▦☼❐🕮
⬀☠✍✍✍▯ ◆♌🔔☒✍
(76)🗐⮜◘❁🕒✍❁🕐⍓⌘

ژباړه: دوي د نورو اړتياوې تر خپلو اړتياوو مخکې پوره کوي که څه هم دوي وږي وي.

### ۱- د صحابي د ميلمه له خاطره ډيوه مړه کول

(76) سورة حشر الآيـة (٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو صحابي د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی او د خپلې لوږې او سترې ژوند حال یې ورته بیان کړی. نبي ﷺ خپلو کورونو ته خلک ولېږل تر څو دده لپاره یو شی پیدا کړي ، خو هیڅ شی پیدا نسو بیا نبي ﷺ و اصحابو ﷡ ته وویل: یو څوک سته چې ددغه صحابي میلمستیا وکړي؟ یو انصاري صحابي وویل: اې د الله ﷻ رسوله ! زه به یې مېلمه کړم، نو دغه صحابي یې خپل کورته بوتی او خپلې بي بي ته یې وویل: دادنبي ﷺ میلمه دئ، هر څومره عزت چې یې کولای سې، کمی مه پکښې کوه، او هیڅ شی مه پوټه وه ، بي بي ورته وویل: په الله ﷻ دې مې قسم وي چې د ماشومانو لپاره مې یو شی ایښې دئ نور هیڅ په کور کې نسته. صحابي ورته وویل: ماشومانو ته تسلي ورکړه او بیده یې کړه کله چې دوی بیده سوه نو ته ډوډی راواخله بیاته دڅراغ دسمولو په بهانه ولاړه سه او څراغ مړ کړه موږ به داغسې ورته کښېنو صحابي به ډوډی وخوري بي بي هم داسې وکړه. صحابي، بي بي او ماشومانو په نهاره شپه تېره کړه او هغه میلمه صحابي یې موړ کړئ ، الله ﷻ دا آیات نازل کړي:

| | |
|---|---|
| ☐◆③⇖⧫⬀⚐⚭❷⇖☐♍ | ژباړه: دوي د نورو اړتیاوي تر خپلو اړتیاوو |
| ⇖◆✍■❼✁ | مخکې پوره کوي که څه هم دوي وږي وي. |
| 🕮☐☼▦→❍⬁✍✍☠⬀ ☐◆⌾•☐⬀ | |
| ✍✍⬔◆Ω🔔☒✍ ⌷✍✍✍☠⬀ | |
| ⌘⍓⌚✽✍⌚✽☐⊲✍(77) | |

فایده: په دې ډول اصحابو کرامو ته ګڼ شمېر واقعات پېښ سوي دي چې یوه بله واقعه یې هم په لاندې ډوله ده:

(77) سورة حشر الآیة (۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د روژاتي لپاره خراغ مړ کول

يو صحابي ﷺ په پرله پسې ډول روژې نيولې او د روژه مات لپاره يې هيڅ نه درلوده يو انصاري صحابي حضرت زيد بن ثابت ﷺ ته معلومه سوه چي دغه صحابي په پرلپسې ډول روژې نيسي او د روژمات لپاره شی نه لري نو خپلې بي بي ته يې وويل چي زه نن شپه يو ميلمه راولم چي خوراک شروع سي نو ته د څراغ د سمولو په بهانه څراغ مړ کړه تر هغه وخته پوري چي ميلمه مړيږي او خپله خوراک مه کوه بي بي يې هم داسي وکړه ټول پر سترخان باندي د ميلمه سره ناست وه ګويا ډوډی خوري په حقيقت کي دوی ډوډی نه خوړل صبا چي کله زيد بن ثابت ﷺ د رسول الله ﷺ و حضورته ورغلی رسول الله ﷺ ورته وويل: تاسو تېره شپه د ميلمه سره ډېر ښه سلوک وکړی د الله ﷻ ډېر خوښ راغلی.(78)

## ۳- د يو صحابي په زکوة کښي اوښ ورکول

حضرت ابي بن کعب ﷺ فرمايي: زه يو ځلي نبي ﷺ د زکوة راټولولو لپاره ولېږلم زه يو صحابي ته ورغلم د مال حالات چي مي معلوم کړی نو د اوښ يو بچی پر لازم کېده ماغوښتنه ځني وکړه ده مبارک په جواب کښي راته وويل چي يو کلن جونګی خو نه د شېدو کار کوي او نه د سپر تيا کار کوي بيا ولاړی يو ګران قيمته اوښه يې راوستل او راته وي ويل چي دا اوښه بوزه

(78) منشور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماورته وويل چي دا نسم ښولاى ځكه چي ماته دښه مال اخيستولو حكم ندى سوى كه چيري دا اوښه وركول غواړې نو نبي ﷺ په سفركښي دئ اونن په پلانكى ځاى كښي تشريف لري نو ته پخپله ورسه او دده په خدمت كښي يې وړاندي كړه كه چيري رسول ﷺ قبوله كړه زه هيڅ انكار نه كوم او كه يې قبوله نكړه زه مغفرت غواړم هغه صحابي دغه اوښه زما سره يو ځاى روانه كړه او دنبي ﷺ حضور ته ورغلو او ورته وې ويل اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! ستاسو قاصد زما د زكوة اخيستلو لپاره راغلى و په الله ﷻ دي مي قسم وي چي ماته به تر ننه پوري داسي نيكمرغي نواى چي د الله ﷻ رسول ﷺ زما په مال كښي مداخله كړې واى نو ما خپل ټول مال قاصد ته وړاندي كړى قاصد راته وويل چي ستا په مال كښي يو كلن اوښ زكوة واجب دئ يا رسول الله ﷺ !يو كلن اوښ خونه د شېدو كار كوي او نه د سپرتيا كار كوي نو له همدې امله مي ستاسو قاصد ته يو ښه ځوانه اوښه وركړه خو ستاسو قاصد قبوله نه كړه نو ماخپله راوستل او ستاسو حضور ته حاضر سوم نبي ﷺ ورته وويل ستاسو زكوة هم هغه يو كلن اوښ دئ او پر تاسو هم هغه اندازه واجب دئ كه چيري ته د خپل لوري څخه زيات اوښه مال وركوې نو قبول دي يې كړي الله ﷻ دي يې وتاته بدله دركړي صحابي ﷺ وويل داده اوښه حاضره ده ، نبي ﷺ اوښه قبوله كړه او د بركت دُعايې ورته وكړه.

فايده: داد اصحابو كرامو ﷺ د زكوة د مال حال و نن ډېر د اسلام دعوه كونكي سته او درسول الله ◄ سره د محبت او ميني دعوه هم كوي د زكوة څخه زيات مال خو څه كوې بلكي هغه پوره اندازه وركول هم ورته مرګ دئ نن دلوړي مرتبې خلګ چي زيات شتمن ورته ويل كيږي ددوى په وړاندي د زكوة بيان كول بيخي نسته او كوم كسان چي دميانه مرتبې خلګ دي او خپل ځانونه ديندار هم ګڼي هغه هم زيار باسي چي كوم خيرن مال وخپلوانو ته وركړي او يا كوم بل ځاى مجبوره سي نو د زكوة نيت پكښي كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د حضرت ابوبکر AA او حضرت عمر AA په صدقه کښې مقابله

حضرت عمر ﷺ فرمايي چې يوه ورځ نبي ﷺ د صدقې ورکولو امر وکړی نابېره پدغه وخت کښې زما سره يو څه مال موجود و ماوويل چې نن ورځ خو زما سره نابېره مال سته او زه هيڅ کله په صدقه ورکولو کښې تر حضرت ابوبکر صديق ﷺ زيات سوی نه يم نن به ترې زيات سم دا فکر چې مې وکړی او په خوشحالی سره کور ته ولاړم او هر څه چې په کور کښې وه نيم مې ټوله راوړل نبي ﷺ راته وويل د کور خلګو ته دې يو څه پرېښول ماورته وويل چې نيم مې ورپرېښودل حضرت ابوبکر صديق ﷺ چې په کور کښې څه درلودل هغه يې ټوله راوړل رسول الله ﷺ ورته وويل چې اې ابوبکر صديق ! د کور خلګو ته دې يو شی پرېښودئ حضرت ابوبکر ﷺ ورته وويل: چې د کور د خلګو لپاره مې الله ﷻ او دده د رسول ﷺ د نوم برکت او د دوی رضا او خوشحالي پرېښودل حضرت عمر ﷺ فرمايي: ما وويل: زه هيڅ کله د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خبر نه سم مخته کيدلای.

فايده: په ښو صفتونو او نيکو کارونو کښې سيالي کول يعني يو تربل ځان مخکې کول مستحب دئ په قرآن کريم کښې و دې کار ته هڅونه راغلې ده. (دا پېښه د تبوک په غزاء کښې راغلې ده) په دغه وخت کې نبي ﷺ د صدقې راټولو لپاره په ځانګړي ډول د اصحابو کرامو هڅونه کړې وه او اصحابو کرامو د خپل توان سره برابر بلکې تر همت او وس زياتې مرستې کړې وې چې بيان يې په دوهمه باب اتمه قصه کښې په لنډ ډول تېرسوی دئ.

جَزَاهُمُ اللّٰهُ عَناوَعَن سَائِرَالمُسلِمينَ اَحسَنَ الجَزَا

## ۵- د اصحابو کرامو ﷺ د نورو په وجه د تندې څخه مړه کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابو جهم بن حذيفه ﷺ فرمايي چي د يرموک پـه غـزاء کښـي زه خپـل دا کـا د زوی پـه لټه کښي راووتلم چي زموږ سره يې په جنګ کښي ګډون کړی و ، د اوبو يو لوښی اويـو جـام مـي د ځان سره واخيستی فکر مي کاوه چي هغه بـه تـږی وي نـو اوبـه بـه پـه و چيښـم نـابيره هغـه پـه يـو داسي ځای کښي پروت و چي ساه يې پر وتو وه ماپوښتنه ځني وکړه چي اوبه درتـه راوړم ؟ هغـه په اشاره راته هو وکړه په دغه حالت کښي يو بـل ملګري نژدې پـروت وو آه يـې وکـړی زمـا داکـار زوی چي ددغه صحابي ږغ واوريدئ ماته يې اشاره وکړه چي ده تـه اوبـه وروړه مـاچي اوبـه ور وړې هغه هشام بن ابي العاص ﷺ و زه ور ورسـېدم ده تـه نژدې يـو دريـم ملګـری د مـرګ پـه حالـت کښي پروت و چي ساه يې پر وتو وه آه يې وکړی هشام ﷺ وماته اشاره وکړه چي ده تـه اوبـه وروړه زه چي ورغلم د هغه مبارک ساه ختلې وه کله چي زه بيرتـه هشـام ﷺ تـه ورغلـم د هشـام ﷺ سـاه هـم ختلې وه بيا بېرته د اکا زوی ته ورغلم د اکا زوی مي هم شهيد سوی و.

⛍❍⬂⓿⬧⌨✌☎✏✍✵☼✌☎◆❒✶✏✍✵☼✌☎
❻◆⌚♉⮈➔⬉❒♌♦⮋⛍✌⮊⮉ (79)

فايده: ددې ډول څخه زيات شمېر قصې په احاديثو کښـي ذکـر سـوی دي دا څـومره نهـايي ايثار دئ يعني د بل اړتيا تر خپلې اړتيا مخکې پوره کول دي چي خپـل داکـا زوی يـې مـري سـاه يې پر وتووي او تږي وي دی دي بل چاته اوبه ورکوي.پـه داسي حالـت کښـي د بـل چـا وطـرف تـه پاملرنه کول مشـکل کـار دئ دا لاخه کوي چه هغـه تـږي پرېـږدي ددريـم کـس د اوبولـو لپـاره ځـي ددغه مړه سوو انسانانو روحونه دي الله ﷻ پخپل فضل او مهرباني سره مشـرف کـړي چـي د مـرګ پـه وخت کښـي چـي هـوښ او حواسـو جـواب ورکـړی دئ بيـا هـم دنـورو ملګـرو مرسـته کـوي اود مرستي په حالت کښي مري.

(79) درايــة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د حضرت حمزة ﷺ کفن

دنبيﷺ اکا حضرت حمزه ﷺ داحد پـه غـزا کښـې شهيد سـو او کـافرانو ډېرېې رحمـه کړنـه ورسره کړې وه يعني پزه ، غوږونه اوداسي نوراندامونه يې ځني پرې کړي وه سينه يې ورڅيرلې وه زړه يې ځني را ايستلي و آخيرداچي ډول ـ ډول ظلمونه يې پر کړي وه د جنګ د خلاصېدو سره سم نبي ﷺ اونوراصحابانو د شهيدانو د جسدونو لټون شروع کړی او د کفنونو انتظام يې کـاوه پـه دغه وخت کي يـې حضرت حمزهﷺ پـه دې بـد حالت کښـې وليـدئ نـو ډېرېې زړه درد وکـړی پـه يـو پټوېې پټ کړی په دغه وخت کي د حضرت حمزهﷺ سکه خور حضرت صفيه تشـريف راوړی چي د خپل ورور حـال ووينـي نبيﷺ پـه دې فکرچي دده خوربـه دداسي حالـت دليـدلوزغم ونلري ځکـه داهـم دښـځي ذات ده نـوددې زوی حضرت زبيـر ﷺ تـه يـې امـر وکـړی چـي خپلـه مـوردې د حضرت حمزه ﷺ دليدلو څخه منعه کړه زبيرﷺ مورتـه وويـل چي رسـول اللهﷺ دليدلو څخه منعه کړې ده موريې ورته وويل چي مااوربدلي دي چي زمادورور پزه ، غوږونه اوداسي نوراندامونه پرې کړل سوي دي نودا دالله ﷻ په لارکي کومه لويه خبره نه ده مورږ پـه دې کـار راضـي يـو دالله ﷻ څخه د ثواب هيله لرو او انشاءالله صبربه وکړم حضرت زبير ﷺ نبي ﷺ تـه ورغلـی دمورخبري يې ورته وکړې نبي ﷺ چي دهغې جواب واوربدئ نودليدولو اجازه يې ورکړه دا راغله خپـل ورور يـې وليدئ اِنالِله يې وويل او دده لپاره يې استغفار اودعاوويل. په يوبل روايت کي راغلي دي چي د احد په غزاکي چي کوم ځای مړي پراته وه نويوه ښځه په چابکۍ سره راتله نبيﷺ وفرمايـل چـي وګورئ هغه ښځه منعه کړئ حضرت زبير ﷺ فرمايي: ماوپېژندل چي زمامورده زه په تلوار دمنعه کولولپاره ورمخکي سوم خوهغه ډېره زوره وره وه زه يې پـه سوک ووهلم اورا تـه يې وويـل چي ليري سه ماورته وويل چي نبي ﷺ منعـه کړې ده نـودا دستي ودربده ددې څخه وروستـه يـې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټوان راو ايسته او وې وويل چي ماد خپل ورور دکفن لپاره راوړي دي اوزه يې دوفات څخه خبره سوې يم په دغه پټووانو کښې کفن ورکړئ مور هغه پټووان راواخيسته چي حضرت حمزه ﷺ ته کفن پکښې ورکړو په دغه وخت کي يو بل انصاري صحابي دده وښنګ ته پروت و چي کافرانوهم دحمزه ﷺ په څېرظلم ورسره کړی واو شهيد کړی يې وو نوم يې حضرت سهيل ﷺ وو نو مور ته پردې خبره شرم ودرېدئ چي حمزه ﷺ ته په دووجامو کښې کفن ورکوو او انصاري يوکفن هم نلري نوله همدې امله دداړولپاره يوه يوه جامه وټاکل سوه خويوه جامه (پټو) لوی و اوبل کوچنی و نو مور هيسکه واچوله ددې لپاره چي هره جامه دهرچا په نامه راووتل هغه ته به يې ورکوو کله چي موهيسکه تر سره کړه لويه جامه د حضرت سهيل ﷺ په برخه سوه او لنډه جامه د حضرت حمزه ﷺ په برخه سوه چي دده مبارک تر قد کوچنۍ وه پښې چي به مو ورپټې کړې سر به يې لوڅ سو او سر چي به مو ورپټ کړی پښې به يې لوڅي سوې نبي ﷺ و فرمايل چي سر ورپټ کړئ پر پښو يې پاڼي او داسي نور شيان ورواچوئ.([80])

د ابن سعد ﷺ په روايت کي راغلي دي چي حضرت صفيې ﷺ چي کله دوې جامې راخيستي وې او دخپل ورور د جسد په لټه کي وه چي وښنګ ته يې د ورور په څېر يو بل انصاري هم وليدئ نو يو يو پټو يې دواړو ته کفن ورکړی د حضرت حمزه ﷺ پټو لوی وو. دا روايت مختصر دئ او دخميس کتاب روايت تفصيلي دئ.

فايده: دا ددواړو جهانود پاچا د اکا کفن و هغه هم پدې ډول چي يوه ښځه د خپل ورور لپاره دوې جامې راوړي دوی دا هم نه خوښوي چي ده ته دي دواړي جامې ورکفن کړي او يو بل انصاري دي بې کفنه پاته سي نو بيا هغه دوې جامي يوه ـ يوه ددوی په منځ کي وېشي او لنډه جامه و هغه چاته رسيږي چي ددواړو جهانو د پاچا اکا دئ څوک چي دمسکينانو ملاتړ کوي او د

---

([80]) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدل دعوه کوي که چيري په خپلو دعوو کي ريښتني وي نو ددې پاکو انسانو تابعداري دي وکړي ،چي يوازي په وينا سره نه بلکي په عمل سره يې هم وښودل ، موږ چي ددې پاکو هستو دتابعدارۍ دعوه کوو دا زموږ لپاره دشرم خبره ده .

## ۷- د سيرلي سره ګرځېدل او بيا بېرته راتلل

حضرت ابن عمر فرمايي چي يو صحابي ته يو چا سېرلی په تحفه کښي ورکړی هغه فکر وکړی چي زما فلانکی ملګری تر ماډېري اړتيا وي لري د اولادو او بچيانو څښتن دئ او د هغه د کور خلګ ډېر محتاجه دي نو دستي يې د هغه ملګري وکورته ورولېږی هغه بيا وبل ملګري ته ولېږی لنډه دا چي اوو کورونو ته ولېږل سو آخر بېرته د هغه صحابي وکور ته راغلی چي لومړي ورته تحفه سوی و([81]).

فايده: ددې ډول قصو څخه معلوميږي چي دوی هم ډېر اړ وه خو هر يوه به د خپلي اړتيا تر پوره کولو مخکي دنورو اړتياوي پوره کولې.

## ۸- حضرت عمر ﷺ دد ابي توب لپاره د خپلي بي بي بېول

امير المومنين حضرت عمر ﷺ چي د خپل خلافت په زمانه کښي يې ډېر واري د شپې د چوکيدارۍ په ډول د ښار ساتنه هم کول يوه ورځ په يوه ډګر باندي تېر سو چي دوړيو يوه خيمه يې وليدل چي پخوا دلته نه وه ولاړه نو نژدې ورغلی کله چي ورنژدې سو نو يو ملګری هلته ناست

([81]) در منثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ او د خيمې څخه د ځګېروي اواز راځي حضرت عمر ﷺ سلام ورته ووايه او د هغه ملګري سره کښېناستی او پوښتنه يې ځني وکړه چې ته څوک يې؟ هغه سړي په جواب کې ورته وويل چې زه مسافر يم د ځنګله اوسېدونکی يم امير المومنين ته خپلې اړتياوې وړاندې کوم او د مرستې غوښتلو لپاره راغلی يم بيا ده مبارک پوښتنه ځني وکړه چې د خيمې څخه څنګه اواز راوزي؟ هغه سړي ورته وويل چې ځه سړيه خپل کار دې کوه نوري پوښتني مه کوه خوده مبارک ټينګار وکړی چې خامخا به وايې چې داد څه شي تکليف دئ هغه سړي ورته وويل چې ښځه مې پر اولاد مريضه ده دردونه ورته پيدا سوي دي ده مبارک ورته وويل چې بله کومه ښځه نسته ؟ هغه سړي ورته وويل چې هيڅوک نسته دی مبارک ددې ځای څخه راروان سو کورته يې تشريف يووړی او خپلې بي بي حضرت ام الکلثوم ته يې وويل چې د يو ډېر ثواب شی ستا لپاره راغلی دئ هغې پوښتنه وکړه چې څه شي دئ؟ ده مبارک ورته وويل چې د ځنګله ديو اوسېدونکي يوه بېوزله ښځه يو اځي ده پر اولاد باندي مريضه ده ، بي بي وويل: چې دا خومره نيکمرغي ده زه تياره يم که ستا اجازه وي زه به ورسم. ولي به دانه وه تياره ځکه دا هم د حضرت فاطمې لور وه حضرت عمر ﷺ ورته وويل کوم شيان چې د ولادت په وخت کې پکارېږي لکه تيل، ټوکران او داسې نور هغه هم درسره واخله او يو څه غوړي او دانې هم درسره واخله ام الکلثوم دغه دضرورت شيان واخيسته او روانه سوه حضرت عمر ﷺ وروسته پسې تلی تر داسې وخته پوري چې بي بي خيمې ته ننوته او عمر ﷺ د خيمې دباندې د هغه صحرايي سړي سره کښېناستی او ورېې بل کړی کټو يې باندي کړه يو څه دانې يې وايشولې بيا يې غوړي وروا چول په دغه وخت کې هغه ښځه دزيږد څخه فارغه سوه دخيمې دننه بي بي ناره کړه چې يا امير المؤمنين ! خپل دوست ته مبارکي ورکړه چې هلک پيدا سو هغه سړی چې د امير المؤمنين لفظ واورېدئ نو وو ېرېدئ امير المؤمنين وويل: د ويري خبره نه ده وروسته يې هغه کټو د خيمې سره کښېښودو او بي بي ته يې وويل: دغه کتغ هغې ښځې ته ورکړه چې وې خوري. بي بي هم ښځې ته خوراک ورکړی هغې



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړی بیا یې کتو د باندي راوايسته اميرالمؤمنين و هغه سړی ته وويل: واخله دغـه پاتـه شيان ته وخوره تولـه شپه دي په نهاره تېره کړې ده ددې څخه وروسته يې بي بي د خپل ځان سره بوتـه او سړي ته يې وويل: چې صبا راسه ستا لپاره به انتظام وسي. ([82])

فايده: زموږ د زماني پاچا نه ، رئيس نه بلکي د يوه کـوچنی حيثيت لرونکي شـتمن سـړی داسي سته چې د مسافر لپاره دي خپله بي بي د شپې ځنګله ته بوزي ؟او په خپله دي په نغري کي اور بلوي بيادي پخول کوي؟ شتمن سړی خو پرېږده يو ديندار سړي هم داسي کړي دي؟ يـو څـه فکر کول پکاردي د چا نوم چې موږ اخلو د چاپه اړه چې موږ د برکت هره خبره کـوو ايـا ددوی پـه شان موږ هم يو څه کړي دي؟

## ٩- دحضرت ابو طلحة ﷺ باغ وقف کول

حضرت انس ﷺ فرمايي: د مديني په انصارو کي ابو طلحة ﷺ تر ټولو زيـات شـتمن و او تـر ټولو دلوی باغ څښتن و دده مبارک يو باغ وو چې (بيرحآء) نومېده دده ډېر خوښ و مسجد نبو ي ته هم نژدې و او خوږې اوبه هم پکښي زياتي وې نبي ﷺ به زيات وخت هغه بـاغ تـه ورتلـی او اوبـه به يې چيښلې.

کله چې دا آيات نازل سو:

🗐⌀✹☹⍓❍ ▪➌⇫🖭⇘🖭🕶✂ ☎✂❑⇗🖭🕶❑✡♦✍ ♊♦🖭

🕶♦👌◆❐ 🗐 ♈♍❑♋⌛♎♦🡅👌 🕶⦿☺♎👌 ☎✂❑→✆♎⊞☪➔✍

---

([82]) اشهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



⅄✎ᏊᏑ✁ ❑♌⛢✉⬧▫ 🕮⬈⬄⊘☒★ ♊♎✌ ☎✁❑➔☽♎▦☪➔✍
( [83] ) ⬖⊘⚔⬀ ⊘⚐⑩⛢⬛⬧⬂⌚♎❍⛢📨

ژباړه: هيڅکله به تاسو د نېکۍ کاملې درجې ته نه ورسيږئ تر څو هغه مال نفقه نه کړئ چې تاسو ته ډېر خوښ وي.

ابو طلحة ﷺ چې دغه آيات واورېدې د رسول الله ﷺ و حضور ته ورغلی او ورته وې ويل: اې د الله ﷻ رسوله ◀ ! ماته تر ټولو زيات بير حآء خوښ دئ او د الله ﷻ فرمان دئ چې تاسو به تر ټولو ښه مال د الله ﷻ په لاره کې خرڅوئ او س زه خپل دغه باغ د الله ﷻ په لاره کې خرڅوم څنګه چې يې تاسو مناسبه بولئ په هغه ډول يې خرڅ کړه نبي ﷺ ډېر خوشحاله سو او ورته وې ويل: زه دا مناسبه بولم چې د خپلو قريبانو په منځ کې يې وويشې ابو طلحة ﷺ هغه باغ د خپلو قريبانو په منځ کې وويشی ټوله يې د الله ﷻ په لاره کې مصرف کړی.( [84] )

فايده: موږ ته تر ټولو خوښ مال يعني خپل ښه جايداد کله په يو وعظ يا د قرآنکريم د يو آيات په لوستلو يا اوريدلو سره خيراتوو ؟ که د خيراتولو فکر هم راته پيدا سي نو دغه کار هغه وخت کوو چې موږ د ژوند څخه نااميده سوي يو يا د قريبانو څخه خوابدي سوي يو د هغوی د محرومه کولو په موخه د خيراتولو فکر راسره پيدا سي او کلونه په دې فکر کې يو چې يو داسې شی پيدا سي چې زما په ژوند کې په کار راسي وروسته چې هر څه کيږي پروانه کوي. که نوم ښودنه پکښې وي لکه دواده يا کوزدې مجلسونو جوړول نو دداسې کار لپاره چې د پيسو مصرف کيږي نو که په سود او قرض راته پيدا سي هم مخ نه ګرځوو.

( [83] ) سورة آل عمران الاية ( ٩٢ )
( [84] ) درمنثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰- د حضرت ابوذر غفاري ﷛ و خپل خادم ته خبر ورکول

حضرت ابوذ غفاري ﷛ يو مشهور صحابي دئ چي د اسلام راوړلو قصه يې په لومړي باب پنځم شمېره کي تېره سوه نوموړی د لويو زاهدانو څخه و. ده مبارک خپله هم مال او شتمني نه سره جمعه کول او نه يې دا خوښېدل چي بل څوک يې جمعه کړي زيات وخت به د شتمنو خلګو سره په جنګ اخته و په همدې وجه د حضرت عثمان بن عفان ﷛ په حکم په زبدة نومي ځای کي اوسېده چي په ځنګله کي ډېر کمزوری ځای و د حضرت ابوذر ﷛ سره په ځنګله کي اوښان وه يو کمزوری ځرونکي يې درلودئ ده مبارک به يې احوال پوښتی ، يوه ورځ د بنو سليم قوم يو سړی ده مبارک ته راغلی او ورته وې ويل: اې ابوذره ﷜ ! زه غواړم چي ستا خدمت وکړم او ستا د فيوضاتو څخه ځان برخمن کړم حضرت ابوذر ﷛ ورته وويل: زه هغه څوک خوښوم چي زما خبره مني که ته زما خبره منې نو په شوق او مينه سره اوسه که يې نه منې نو ستا اړتيا نسته. سليمي صاحب وايي چي ما ورته وويل: اې ابوذره ﷜ ! کوم شی ستاسو پکار دئ چي په هغه کي زه ستاسو اطاعت وکړم ؟ ابوذر ﷛ وويل: زه چي کوم مال دالله ﷻ د رضا لپاره خرڅوم نو ترټولو ښه مال به ورکوې. دغه نوی خادم وايي: ما دده خبره قبوله کړه. خادم وايي: نابېره يوه ورځ ابوذر ﷛ ته چا وويل: چي پر اوبو باندي ځني خلګ اوسيږي چي زيات ضرورتمن دي خوراک ته اړ دي ده مبارک ماته وويل: چي يو اوښ راوله زه هم ولاړم ډېر ښه اوښ چي د سورلۍ لپاره زيات فرمانبردار و د وعدي مطابق مي د بيولو اراده وکړه بيا مي فکر وکړی چي غريبان خو يې غوښي خوري نو دا ښه طاقتور د سورلۍ اوښ ولي ورولم نو تر هغه مي يوه درجه کم اوښه وکته دده مبارک حضور ته مي وروستل داسي اوښه وه چي تر پاته ټولو اوښانو غوره وه يوازي تر هغه اوښ کمزوري وه چي ما ويلي وه چي داډېره ښه د سورلۍ اوښ دئ کيدلای سي دده اوملګرو د سورلۍ لپاره يو وخت پکار سي ابوذر ﷜ راته وويل: اې خادمه ! تا خيانت وکړی زه دستي يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوم د ستي ولاړم هغه ښه او ښ مي ابوذر ﷺ او نورو ملګرو ته راوستى چي اول مي پري ايښي و ابوذر ﷺ و ناستو کسانو ته وويل: په تاسو کي داسي کسان سته چي د الله ﷻ د رضا لپاره کارو کړي ؟ دوه کسان ولاړ سوه او وې ويل چي موږ يې کوو. ابو ذر ﷺ ورته وويل: دا اوښ حلال کړئ ټوټې - ټوټې يې کړئ بيا هغه ټول کورونه وشمېرئ چي پراوبو باندي ودان دي د ابوذر ﷺ يعني زما کور هم يو ددوى څخه حساب کړئ او په ټولو کورونو باندي غوښې ووېشى زما کورته هم دومره اندازه غوښه ورکړئ لکه و هغه نورو کوروته چي يې ورکوئ دوى هم داسي وکړل غوښي يې تقسيم کړې خادم وايي: وروسته يې زه راوغوښتم او راته وې ويل: زما هغه وصيت د ښه مال خرڅول دي په قصده پرې ايښى و او که درڅخه هېر سوى و که در څخه هېر سوى وې نو معذوره يې. ماورته وويل: چي هېر سوى مي نه و ماهم لومړى هغه اوښ راروان کړى وروسته مي فکر وکړى چي دا اوښ تاسو ته زيات په کار راځي ابوذر ﷺ وويل: يواځي ماته په کار راځي ما ورته وويل: هو ! يواځي تاسو ته په کار راځي اوستاسو د ضرورت لپاره مي پرې ايښي و ده مبارک راته وويل: زه د خپل ضرورت وخت درښيم؟ زما ضرورت هغه ورځ ده چي زه يواځي په قبر کي وغورځول سوم دغه ورځ زما دضرورت او احتياج ورځ ده په مال کښي درې برخه لرونکي سته لومړي برخه لرونکى تقدير دئ چي د مال په بېولو کي د هيڅا انتظار نه کوي ښه او بد دواړه بيايي ، دوهم برخه لرونکى ستا وارث دئ چي ستا د مړيني وروسته ستا مال اخلي اودريم برخه لرونکى ته په خپله يې نو څومره چي دي په توان وي او کيدلاى سي نو په درو برخه لرونکي کي عاجزه مه جوړېږه ځکه الله ﷻ فرمايي:

□〇⊠☹✸✐✉ ■❸✍♑⚐♑♑✍✂ ☎✂❑↗♑✍❑✡⬧✍ ♊⬧♑

✍⧫✌⧫❒ ✉ ✂♍❑✍⌛✍⧫⬆✌ ✍⬤☺✍✌ ☎✂❑→☽✍▦☪➔✍

(c) ketabton.com: The Digital Library



⅄✎👓✂ ☐♌⚟✉♦▫ 🕮⬈⬄⌀☒★ ♊⚟👌 ☎✂❑➔✆⚟▦☪➔✍
([85]) ⬑⚟⚜⬀ ⚟⚐⑩⚟🖫♦⬂🕗⚟❍⚟📪

ژباړه: هیڅکله به تاسو دنېکۍ کاملي درجې ته نه ورسیږئ تر څو هغه مال نفقه نه کړئ چي تاسو ته ډېر خوښ وي.

نو له همدې امله د خپل ځان لپاره تر ټولو ښه مال مخکې ولېږه. هغه مال چې ستاتر ټولو خوښ وي تر څو ستا لپاره جمعه سي.

فایده: په درو برخه لرونکو کې تر ټولو دعاجزانه جوړېدو مطلب دادئ چې څومره دې په توان وي د آخرت په زخیره کې یو شی جمعه کړه داسې نه چې مقدر غالب سي او هغه مال ستا څخه ضائع سي یاته مړ سي مال دې د نورو په لاس کښېوزې بیا دې څوک یوښتنه نه کوي دکورنۍ غړي او ښځه به دې یو لږ وخت درپسې وژاړي بیا دې نه یادوي داسې ډېر خلګ سته چې په مړي پسې خیرات هم نه کوي.

په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي ﷺ فرمایي: انسان تل دا وایي چې زما مال، زما مال ، حال دادئ چې دده مال هغه دئ چې ده وخوړی او ختم یې کړی یایې واغوستی او زوړ یې کړی او یایې د الله ﷻ په لاره کې مصرف کړی د ځان لپاره یې خزانه کړی ددې نه پرته نور چې دی هر څه مال یو ځای کړی وي هغه د نورو لپاره یو ځای کړي دئ.

په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي ﷺ پوښتنه وکړه چې په تاسو کې څوک سته چې تر خپل مال یې د وارث مال خوښ وي؟ اصحابو وویل: یا رسول الله ﷺ! داسې څوک به نه وي چې د نورو مال یې تر خپل مال خوښ وي. (یعنې داسې څوک نسته) نبي ﷺ وفرمایل: خپل مال یوازې هغه دئ چې سړی یې خپله وخوري او کوم مال چې پاته سو هغه د وارثانو مال دئ. ([86])

---

([85]) سورة آل عمران الاية ( ٩٢ )
([86]) مشكوة



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱- د حضرت جعفرؓ قصه

حضرت جعفرؓ د نبيﷺ د اکا زوی و او د حضرت علي کرم الله وجهه سکه ورور و. لومړی خو ددوی کورنۍ په سخا، بهادري او شجاعت کې نوموتې کورنۍ وه مګر د حضرت جعفرؓ د مسکينانو سره خاصه رابطه او علاقه وه او زياته ناسته يې ورسره کول کله چې د کافرانو څخه تنګ سو نو لومړی يې حبشې ته هجرت وکړی حبشې ته چې کافران پسي ورغلل نو ده خپله صفايي او پاکوالی نجاشي پاچا ته وړاندې کړی چې قصه يې د اول باب په لسم شمېره کې تېره سوه د حبشې څخه يې بيا ومدينې منورې ته هجرت وکړی او د موته په غزا کې شهيد سو چې قصه به يې دراتلونکې باب په پای کې راسي دده مبارک دوفات سره رسول اللهﷺ دده کور ته تشريف يووړی تر څو دده دکورنۍ سره غم رازې وکړې او تسلي ورکړې دده زامن عبدالله، عوان او محمد يې راوغوښتل پر سرو يې لاس ورتېر کړی د برکت دعا يې ورته وکړه د حضرت جعفرؓ په ټول اولادو کې دده اثر (اغيزه) وه خو په عبد الله نومې زوی کې يې د سخاوت صفت زيات و له همدې امله ده ته د قطب السخاء لقب ورکول سوی دئ يعني د سخاء ستوری د اوو کالو په عمر يې د نبيﷺ سره بيعت وکړی. يو چا عبد الله بن جعفرؓ و حضرت عليؓ ته د سپاربنت لپاره بوتی دده په سپاربنت د هغه سړی کار وسو نو هغه سړی دده لپاره څلوېښت زره روپۍ د نذراني په ډول را واستولې دده مبارک بېرته ورواستولې او ورته وي ويل: موږ خپله نيکي نه خرڅوو يو بل چا هم درې زره روپۍ د نذراني ورته راوړې ده په ناستو خلګو ووېشلې خپله يې نه کړې قبولې يو وخت يو تاجر بازار ته شکره راوړې وه په بازار کې هيڅ خرڅه نه سوه د هغه تاجر سره ډېر فکر او غم و عبد الله بن جعفرؓ خپلو کارکوونکو ته وويل: تاسو ددغه تاجر څخه شکره (بوره) رانيسئ او په خلګو يې مفته (وړيا) وويشئ. د شپې چې به ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قو م ته میلمه راغلی نو دده په کور کې به یې خوراک او چینباک کاوه او هر ډول اړتیاوې به یې ده پوره کولې.[87]

حضرت زبیر ﷺ په یو جنګ کې ګډون کړی و یوه ورځ یې خپل زوی عبدالله راوغوښتی او وصیت یې ورته وکړی په وصیت کې یې ورته وویل: فکر کوم چې زه به نن شهید سم ته زما پور ادا کړه او فلانکی او فلانکی کار وکړه دا وصیتونه یې زوی ته وکړه په همدغه ورځ شهید سو زوی چې یې د پور حساب وکړی نو پر ده باندې دوویشت لکه روپۍ باندې وې هغه هم په دې ډول وې چې خلګو ده ته په امانت مالونه ایښودل ځکه دی په امانت دارۍ کې زیات مشهور وکله چې به خلګو مال ورته راوړی ده به ورته وویل چې زما سره خو ځای نسته ستا مال یې پر ما قرض دا خبره به یې ورته وکړه مال به یې ځني واخیستې دستې به یې صدقه کړی. دا یې هم وزوی ته ویلې وه که څه مشکل درته پېښ سو نو زما مولا ته وایه عبد الله وایې: چې زه په دې نه سوم پوه چې د مولا څخه یې مقصد څوک دئ نو ماپوښتنه ځنې وکړه چې ستامولا څوک دئ؟ ده مبارک راته وویل: زما مولا الله ﷻ دئ. آخر دا چې حضرت عبد الله ﷺ دده مبارک ټول قرضونه اداکړه، عبد الله بن زبیر ﷺ فرمایې: کله چې ماته مشکل دیوه قرض په ادا کولو کې پېښ سو نو ما به وویل: یا د زبیر مولا ! فلانی کار نه کیږي هغه کار به دستي وسو عبد الله بن زبیر ﷺ فرمایې: یوه ورځ ما وعبد الله بن جعفر ﷺ ته وویل: چې زما دپلار لس لکهه روپۍ د قرضونو په سر لیک کې ستاسو پر ذمه دئ ده مبارک راته وویل کومه ورځ چې دې خوښه وې په هغه ورځ راسه چې پیسې درکړم عبد الله ﷺ وایې زه ددې خبرې کولو وروسته پوه سوم چې ما غلطي کړې وه په حقیقت کې دده قرض زما د پلار پر ذمه و نو زه بېرته ورغلم و عبد الله بن جعفر ته مې وویل چې زه غلط سوی وم ستاسو زما پر پلار باندې قرض دئ ده مبارک راته وویل: ما ور وبخښلی

---

(87) اصابه


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ ماورته وويل: بخښنه نه غواړم ده مبارک راته وويل: ښه دئ، هره ورځ چې درته اسانه وي په هغه ورځ يې راکړه ماورته وويل: ددې پيسو په بدله کې مځکه زما څخه واخله ماته د غنيمت په مال کښې ډېره مځکه راغلې ده ، ده مبارک راته وويل: ښه دئ، مايوه کمزوري مځکه چې او به او نور داړتيا شيان يې هم نه درلوده ور مې کړه ده دستي را څخه قبوله کړه غلام ته يې امر وکړ چې په دغه مځکه کې د لمانځه مسئله اواره کړه غلام په هغه مځکه کې د لمانځه مسئله اوراه کړه عبد الله بن جعفر رضي الله عنه پر هغه ځای دوه راکعته نفل وکړه او ډېره اوږده سجده يې وکړه د لمانځه څخه چې فارغه سو غلام ته يې وويل : دا ځای وکنده غلام چې هغه ځای وکندی دستي يوه چينه د اوبو راپورته سوه چې جوش يې واهه.[88]

فايده: داصحابو مبارکانو دغه کارونه وه چې ددې باب په قصو کې ليکل سوي دي يا په نورو قصو کې ليکل سوي دي دا ددوی لپاره څه لويه خبره نه وه بلکې دا ددوی عام عادتونه وه.

اوم باب

بهادري، زړه ورتوب او دمرګ ارزو

د مرګ د شوق لازمي نتيجه بهادري ده څوک چې تر خپل سر تير سي نو بيا هر څه کولای سي وبره، فکر کول، د ځان د ساتنې لاري چاري لټول ، مال او شتمني ټوله دژوند لپاره دي کله چې دمرګ شوق پيدا سي دمال محبت پاته کيږي ددښمن وېره لمنځه ځي. ارمان چې ددې مبارکو انسانانو په برکت ماته هم دادولت را نصيب سوی وای.

---

[88] اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د حضرت ابن جحش او حضرت سعد دعا

حضرت عبد الله بن جحش ﷺ د احد په غزا کي و حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ته وويل: اي سعد ! راسه چي په ګډه دعا وکړو په ما او تا کي دي هر يو دخپل ضرورت دعا وکړي هغه بل به امين وايي ځکه داسي دعا قبليدو ته زياته نژدې ده دواړه مبارکان يو کونج ته ولاړل او هر يوه دعا وکړه لومړی حضرت سعد ﷺ پدې ډول دعا وکړه: اې الله ﷻ! صبا وماته په جنګ کي يو لوی بهادر انسان په مقابله کي راولې چي پر ما زوروره حمله وکړي او زه هم زورورة حمله پرې وکړم بيا ماته فتحه (برى) رانصيب کړې او هغه ستا د رضا لپاره ووژنم او غنيمت يې ماته حاصل کړې. حضرت عبد الله بن جحش ﷺ آمين پرې وايه وروسته حضرت عبد الله بن جحش ﷺ پدې ډول دعا وکړه: اې الله ﷻ! صباو ماته يو لوى بهادر په مقابله راولې چي پر ما سخته حمله وکړي او زه هم سخته حمله باندي وکړم او بيا ما ستا په لاره کي شهيد کړې بيا پزه او غوږونه راڅخه پرې کړي کله چي قيامت سي ته پوښتنه راڅخه وکړې چي اې عبد الله ! ستا غوږونه او پزه ولي پرې سوي دي ؟ زه درته ووايم چي يا الله ! ستا او ستا د رسول ﷺ په لاره کي پرې سوي دي حضرت سعد ﷺ پرې آمين ووايه. دوهمه ورځ جنګ شروع سو ددوی دعاوي په هغه ډول قبولي سوې لکه دوی چي کړي وې. ([89])

سعد ﷺ وايي: د عبد الله بن جحش ﷺ دعا زما تر دعا غوره وه ما د احد د غزا په ميدان کي مابنام وليدل چي د جحش ﷺ غوږونه او پزه په يو تار پيودل سوي وه. هم دا ډول دده توره هم

([89]) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته سوې وه بیا رسول ﷺ یو ښاخ ورکړی چي دده په لاس کي توره جوړه سوه تر ډېره وخته پوري هم داسي وه بیا په دوه سوه دیناره خرڅه سوه.[90] دینار د سرو زرو د یوې سیکي نوم دئ.

فایده: په دې قصه کي د یوې خوا لوی کمال بهادري او زړور توب دئ چي د یوه بهادر دښمن د مقابلې ارزوه ده دبلې خوا لوی کمال د خپل محبوب سره مینه او عشق دئ چي په لاره کي یې د ځان ټوک، ټوک کولو هیله ده په آخر کي چي پوښتنه ځني وسي چي داولي؟ دی ورته وو ایې چي داستا لپاره.

رهیگا کوئی تو تیغ ستم کي یادرگارون مین ۞ مری لاشی لاشو کي تکری دفن

کرنا کرسو مزارون مین

ژباړه: چیري خو به دظلم دتوري ځخه یوه ټوټه د نښې په ډول پاته سي زما د وجود ټوټې په سلو قبرونو کي ښخي کړئ.

## ۲- داحد په غزا کي د حضرت علي ﷺ بهادري

د احد په غزا کي مسلمانانو ته یو څه ماته وه چي لوی لامل یې د نبي ﷺ د یوه امر نه پر ځای کول وه چي بیان یې د اول باب په دوهمه قصه کي سوی دئ په دغه وخت کي مسلمانان د څلورو طرفونو څخه د کافرانو په منځ کي راغلل په همدې وجه ډېر مسلمانان شهیدان سوه یو څه و تښتېده نبي ﷺ هم د کافرانو د یوې ډلي په منځ کي راغلی کافرانو دا اوازه خپره کړې وه چي نبي ﷺ شهید سو په دغه وجه هم ډېر مسلمانان و تښتېدل حضرت علي ﷺ فرمایي: کله چي کافرانو مسلمانان راګیر کړه او نبي ﷺ زما د سترګو څخه پټ سو نو لومړی ما د رسول الله ﷺ لټون

[90] اصابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوندو کي وکړی نه مي کړی پیدا بیا مي په شهیدانو کي ولټوی هلته مي هم نه کړی پیدا نوما په خپل زړه کي وویل چي دا خو شوني نه ده چي رسول الله ﷺ دي د جنګ دمیدان څخه تښتېدلي وي داسي معلومېږي چي الله ﷻ زموږ دعملونو له امله ناراضه سوی وي او خپل رسول ﷺ یې اسمانو ته پورته کړي وي نو د علاج لپاره بله لاره نسته بې له دې چي د کافرانو په ډله ورګډ سم ترڅو شهید سم ما خپله توره راواخیستته حمله مي وکړه تر داسي اندازې چي کافران دمنځ څخه و یوې خواته سوه زما پر رسول الله ﷺ باندي سترګي ولګېدې زه ډېر خوشحاله سوم او پوه سوم چي الله ﷻ دملائکو په واسطه دخپل محبوب حفاظت کړی دئ نو ولاړم د رسول الله ﷺ سره ودرېدم کافران ډلي ډلي راتلل پر رسول الله ﷺ یې حملي کولې نبي ﷺ و فرمایل: اې علي ! دا ډله منعه کړه زه هم د هغې ډلې مقابلې ته ورغلم یواځي مي د هغې ډلي مقابله وکړه او ځیني مي ځني مړه کړه بیا یوه بله ډله پر نبي ﷺ دحملي په نیت رامخکي سوه رسول الله ﷺ زما و طرفته اشاره وکړه زه بیا ددوی مقابلې ته ورمخکي سوم ددوی مقابله مي وکړه. ددې څخه وروسته جبرائیل ؑ راغلی دحضرت علي ؓ د بهادرۍ او مرستي ستاینه یې وکړه رسول الله ﷺ وفرمایل: اِنهُ مِني وَ اَنَا مِنهُ یعني زه دده څخه یم دی زما څخه دئ. نبي ﷺ پدغه خبره سره په خپل منځ کي پوره یوالي ته اشاره وکړه جبرائیل ؑ وویل: وَاَنَا مِنکُمَا یعني زه ستاسو ددواړو څخه یم.(91)

فایده: یواځي سړی چي د یوې ډلي سره مقابله کوي او بیا نبي ﷺ پیدا کوي بېرته د شهادت په نیت د کافرانو په ډله ورننوځي داکه د یوې خوا درسول الله ﷺ سره زیاته مینه او عشق څرګندوي خو د بلي خوا کامل او پوره دلاوري او زړورتوب دئ.

(91) قرة العیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- حضرت حنظلة ﷺ شهادت

حضرت حنظلة ﷺ په لومړي وخت کي داحد په غزا کي ګډون نه وکړی وايي: چي ده واده کړی و دشپې د بي بي سره يو ځای سوی و سهاريې دغسل تياري کول د غسل لپاره ناست و سر يې مينځی چي نابېره د مسلمانانو د ماتي رږغ يې تر غوږ سو ددې اواز زغم يې نه درلودی دستي ولاړ سو توره يې واخيسته د جنګ ميدان ته يې ځان ورساوه پر کافرانو يې حملې شروع کړې او برابر پر مخ روان و چي په دغه حالت کي شهيد سو ځرنګه چي شهيد که جنوب نه وي نو بېله غسله په قبر کي ښخيږي نو اصحاب ﷺ خو دده په جنابت نه وه خبر نو دده سره يې هم داسي معامله وکړه خو نبي ﷺ وليدئ چي دده مبارک ته ملائکي غسل ورکوي نبي ﷺ واصحابو کرامو ته دده د غسل بيان وکړی ابوسعيد ساعدي ﷺ فرمايي: ماچي دنبي ﷺ فرمان واورېدئ نو زه ولاړم حنظلة مي وکاتی د حنظلة تر سر اوبه څڅېدې نبي ﷺ چي کله داحد د غزا څخه راغلی او خبړنه يې وکړل ورته معلومه سوه چي حنظلة د غسل پرته و غزا ته تللي و.([92])

فايده: داهم کامله بهادري ده ځکه بهادر سړي ته په خپله اراده کي ځنډکول ګران کار دئ نوله همدې امله ده مبارک دومره انتظار هم نه سو کولای چي غسل وکړي.

## ۴- د حضرت عمرو بن جموح ﷺ دشهادت ارزو

حضرت عمر بن جموح ﷺ په پښه ګوډ وو څلور زامن يې درلوده زيات يې د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضرول او په غزاو کي يې ګډون کاوه. د احد په غزا کي دده سره هم دا فکر پيدا سو

([92]) ايضا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کاشکې زه هم په غزا کې ګډون وکړم خلګو ورته وويل: چې ته معذور يې د ګډوالي لـه املـه ستا لپاره تلل ګران کار دئ ده مبارک ورته وويل: دا ښومره بده ده چې زما زامن جنت تـه ولاړ سي او زه دې پاته سم. بي بي يې هم د پيغور په ډول دده دتيارولو لپاره ورته وويل: زه وينم چې تـه د جنګ څخه راتښتېدلی يې او بېرتـه راغلی يې عمروبن جموح رضي الله عنه چې دا واورېدل وسله يې واخيستل د قبلې پر لوري روان سو او دادعا يې وويل: : اَللهُم لَا تُرَدِني اِلي اَهلِي ژباړه: اې خدايه ! مابېرته خپل کور ته مه راولې دستي راغلی د نبي صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سو د خپل حال بيان يې ورته ووايه چې دی خپل قوم د غزا څخه منعه کړی و او دځان شوق يې هم ورتـه ووايـه اووې ويل: يار رسول الله صلی الله علیه وسلم ! زه اميد لرم چې په دې ګوډه پښـه پـه جنت کې وګرځم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل: الله جل جلاله ته معذوره کړې يې نو ستا پـه نـه تلو کې څه تـاوان دئ ده مبارک بيا دخپلې مينې اوشوق څرګندونه ورته وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړه. ابو طلحة رضي الله عنه وايي: ماعمروبن جموح رضي الله عنه په جنګ کې وليدئ چې سينه يې ايستلې وه نيغ روان و او دايې ويل: قسم پـه الله جل جلاله زه د جنت شوقي يم دده يو ځوی هم پـه ده پسې روان و دواړه جنګېدل آخر دواړه شـهيدان سوه دده بي بي دخپل مېړه او زوی جسدونه پر اوښ واچول ددفن کولو لپاره يې مدينې منورې تـه راوړل خو اوښ کښېناستی هر څه چې يې په وکړه اوښ نه ولاړېدئ چې وي به واهه اوښ به بېرتـه د احد پر لوري مخ کړی بي بي يې ونبي صلی الله علیه وسلم تـه بيان وکړی نبي صلی الله علیه وسلم ورتـه وويـل: دا اوښ تـه امر سوی دئ عمرو بن جموح رضي الله عنه چې د کور څخه وتی څه خوبه يې نه وي ويلي دې ورته وويل: عمروبن جموح رضي الله عنه چې د کور څخه وتی مخ يې وقبلې ته کړی دادعا يې وويل: اَللهُم لَا تُرَدِني اِلي اَهلِي. نبي صلی الله علیه وسلم ورتـه وفرمايل: په همدغه وجه اوښ نه ځي.([93])

([93]) قـرة

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: دداسي چانوم د جنت شوق دئ او هم د الله ﷻ او د هغه درسول الله ﷺ سره ریښتني محبت دئ ځکه اصحاب دیوه ځای ځخه بل ځای ته ورسېدل خو دی مبارک دمرګ ځخه وروسته په هغه ډول دئ. ډېر کوشش یې وکړی چي ددې ځای ځخه یې یوسي خو اوښ نه تلی یابه کښېناستی او یابه بېرته د احد پر لوري روان سو.

## ۵- د حضرت مصعب بن عمیر ﷺ شهادت

حضرت مصعب بن عمیر ﷺ د اسلام دراوړلو ځخه مخکي په ډېر ناز پالل کېده دډېرو شتمنو هلکانو ځخه و پلار به دده لپاره یوه جوړه کالي په دوسوه اخیستنه بیا به یې په دده باندي اغوسته د نوي عمر ځوان و په ډېر ناز او نعمتو کښي لوی سوی و. د اسلام په پیل کي د کورنۍ د خلګو ځخه په پټه مسلمان سو دی هم په دغه حالت کي اوسېده چي یو چادده کورته خبر ورکړی چي مصعب AA مسلمان سوی دئ کورنۍ چي یې خبره سوه دی یې بندي کړی او وې تړی ځو ورځي تېري سوې یو وخت یې موقع پیدا کړه وتښتېدئ کومو خلګو چي حبشې ته هجرت کاوه ده هم هجرت ورسره وکړی د هغه ځای ځخه چي راغلی نو مدینې منورې ته یې هجرت وکړی د پرهیزګارۍ او مسکنت ژوند یې تېراوه ، په تنګ حالت کي یې ژوند تېرواه. یوه ورځ رسول الله ◂ تېرېدئ مصعب ﷺ یوازي په یوه پټو کي و هغه هم داسي پټو و چي ځای پر ځای به شکېدلی و او ځای پرځای به د تو کر یاد ځرمني پنه ورکړل سوې وه نبي ﷺ دده داوسنی حالت او تېر حالت بیان وکړی سترګي مبارکي یې د اوښکو ډکي سوې.

داحد په غزاکي د مهاجرو مجاهدینو بیرغ دده مبارک نیولی و یو کافر دیوې خوا راغلی دی مبارک یې پر هغه لاس ووا هه چي بیرغ یې په نیولی و ددې لپاره چي بیرغ ولویږي او مسلمانانو ته خپله ماته ښه ښکاره معلومه سي ده مبارک دستي په بل لاس بیرغ ونیوی کافر پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بل لاس پـه تـوره وواهـه ده مبارک بيـرغ پـه ځيگـر کـي ښـخ کـړی يعنـي پـه منډوانو يې ونيـوی مځکې ته يې نه پرېښودئ کافر دی مبارک په غشي وويشـتـی دی شـهيـد سـو بـل صـحابي راغلـی بيرغ يې پورته کړی هر کله چي يې دی ښخوی نو دده سره يوازي يو پټهو ورسره و چي سر به يې پـه پټ کړی پټبې به يې ښکاره سوې چي پټبې به يې ورپټي کړې سربه يې ښکاره سو رسول الله ﷺ امر وکړی چي د سر خوا يې ورپټه کړی پر پښو باندي يې پاڼي ورواچوی.[94]

فايده: داد هغه نازولي آخري ژوند دی چي په ناز ـ ناز سره لوی سوی و او يـوه جوړه کـالي يې په دوسوه درهمه اخيستل او اغوستل به يې نن دده مبارک يو کفن هم نه پيـدا کيـږي او دا يـې مېړانه وه چي په خپل ژوند يې بيرغ و مځکي ته نه پرېښودئ لاسونه يې دواړه پـرې سـوه خـو بيـا يې هم بيـرغ مځکـي تـه نـه پرېښـودئ. ډېر پـه نـاز لـوی سـوي و خـو د هغـو خلگـو ايمانونـه دومـره مضبوط سوي وه چي د ايمان د مينې له وجې به يې د ځان سره هيڅ شی نه پرېښـودئ پيسـې، ارام او شوق به يې هيڅ و ځان ته نه پرېښودئ او خپل ځان يې د ايمان په خوارۍ کي لگاوی.

## ۲- د قادسيې په جنگ کي د حضرت سعد ﷺ خط

د عراق په جنگ کي د حضرت عمر ﷺ اراده وه چي په جنگ کي گډون وکړي خو د خاصـو او عامو ډلو سره يې په دې کار کي تر څو ورځو پوري مشوره کېدله چي د عمر ﷺ پاتېـدل بـه ښـه وي او که به په جنگ کي تلل ښه وي د عامو خلگو داخوښه وه چي حضرت عمر ﷺ په جنـگ کـي گـډون وکړي او د خاصو خلگو داخوښه وه چي عمر ﷺ گډون نه پکښې وکړي او پـه مدينـه کـي پاتـه سـي دلښکرو انتظام وکړي. د مشورې په خبرو کي د سعد بـن ابـي وقـاص ﷺ نـوم واخيسـتل سـو ټـولو

[94] قـرة - اصابـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ کړی او وې ویل: که سعد ولاړسي نو بیا عمر ﷺ ته اړتیا نسته حضرت سعد ﷺ مشهور بهادر وو د عربو په زمریانو کي شمېرل کېدئ لنډه دا چي سعد ﷺ و ټاکل سو او ولېږل سو کله چي په قادسیه کي د حملې لپاره ورسېدئ نود کسرا پاچا دده د مقابلې لپاره رستم خان را واستوی چي مشهور پهلوان و پر رستم خان باندي و بري غلبه کړې وه او پوره کوشش یې کاوه چي پاته سي پاچا ته یې وېره نه ښکاره کوله په ښکاره به یې دا ویل چي مادلې پرېږده زه به دلته ستاسره په لښکر لېږلو ،صلاح او مشورو کولو کي ستاسره مرسته کوم خو پاچا چي نوم یې (یزدجرد ) و ونه منل آخر د مجبوري څخه په جنګ کي شریک سو.[95]

حضرت سعد ﷺ چي کله روانېدئ حضرت عمر ﷺ ده ته وصیت وکړی چي دا الفاظو لنډه ترجمه یې داده: اې سعده ! په دې خبره خطانه وزې چي ته د رسول الله ﷺ ماما بلل کېدې او د هغه صحابي وې الله ﷻ بدي په بدي نه مینځي بلکي بدي په نیکي مینځي د الله ﷻ او د بندګانو تر منځ هیڅ خپلوي نسته بلکي الله ﷻ ته یوازي بندګي قبوله ده د الله ﷻ په نزد باعزته او بې عزته ټوله یو برابر دي ټول دالله ﷻ بندګان دي او الله ﷻ د ټولو رب دئ د الله ﷻ نعمتونه په بندګۍ سره لاسته راځي په هر کار کي و هغه شي ته ګوره چي د نبي ﷺ طریقه وه په هم هغه شي باندي عمل کوه زما دا نصیحت یاد ساته ته دیوه لوی کار لپاره لېږل سوې یې چي خلاصون یې یوازي د الله تعالي په تابع داري کي لګېدلای سي د خپل ځان او ملګرو سپېڅلي عادتونه جوړه د الله تعالي څخه وېره اختیار وه د الله ﷻ څخه وېره په دوو خبرو کي یو ځای کېدای سي لومړي د الله په اطاعت کښي ، دوهم د ګناه څخه په ځان ساتلو کي ، د الله اطاعت چي د چا په برخه سي د دنیا څخه به یې کرکه کېږي او د آخرت سره به مینه لري.[96]

(95) اشهر
(96) اشهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ځخه وورسته حضرت سعد ﷛ په ډېره خوشحالی سره لښکر تيارکړی او د جنګ پر لوري روان سو دده د خوشحالي کيفيت دهغه خط څخه معلوميږي چي ده رستم ته لیږلی دئ ده مبارک په خپل خط کي ليکل دي: فَاِن مَعِيَ قَومٍ يُجِبونَ المَوتَ كَمَا يُحِبونَ الا عَاجِمَ الخَمرَ) ژباړه : بېشکه زما سره داسي قوم ملګری دی چي د مرګ سره داسي مينه لري لکه عجم چي يې د شرابو سره لري.(97)

فايده: د شرابو د مينه لرونکو څخه که پوښتنه وسي چي په شراب چيښلو کي څومره خوند دئ؟ (نو هغه ته خامخا معلوميږي چي تر تولو خوړو خوند ور دئ) څوک چي د مرګ سره په دغه پيمانه مينه لري نو کاميابي ولي دداسي چاپلونه نه موچوي؟

### ۷- د حضرت وهب بن قابوس ﷛ شهادت د احد په غزاء کي

حضرت وهب بن قابوس ﷛ يو صحابي دي چي يو وخت مسلمان سو په صحراء کښي په يو کور کښي اوسېدئ بزې يې څرولې يو وخت يې د وراره سره بزې په يوه پړی وتړلې او د مديني منورې پر لوري روان سو کله چي مديني منورې ته ورسېدئ پوه سو چي محمد ﷺ د احد غزاء ته تللی دئ بزې يې هلته پرېښودې د محمد ﷺ ملاقات ته ورغلی په دغه وخت کي د کافرانو يوه ډله راغله رسول الله ﷺ و فرمايل: څوک دغه ډله خواره واره کولای سي چي زما سره به په جنت کي ملګری وي حضرت وهب ﷛ په ډېر زور سره توره وچلول کافران يې ټوله خواره واره کړل دوهم او دريم ځل بيا داسي پېښه وسوه رسول الله ﷺ وده مبارک ته د جنت زيری ورکړی ده چي دا واورېدل توره يې واخيستل د کافرانو په يوه ګڼه ډله ورننوتی او شهيد سو.

(97) تفسير عزيزي اول ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت سعد بن ابي و قاص ﷛ فرمايي: ما د وهب ﷛ په څېر بهادري او شجاعت د هيچا ندی ليدلی دده د شهادت څخه وروسته ما رسول الله ﷺ وليدئ چي دده دسر لوري ته ولاړو او دايې ويل: الله ﷻ دي ستا څخه راضي سي زه ستا څخه راضي يم ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دی په خپلو مبارکو لاسونو سره ښخ کړی سره ددې چي په دغه غزاء کي رسول الله ﷺ هم ځني راضي سوي و حضرت عمر ﷛ فرمايي زما د هيچا په نيکو کارونو غبته[98] نه وه سوې لکه د وهب په نيکو کارونو چي مي وسوه زما زړه غواړي چي د الله ﷻ څخه دده په څېر عمل نامه واخلم.[99]

فايده: په ده باندي د حضرت عمر ﷛ غبته کېدل د يو خاص کار له امله و ، هغه دا چي خپل ځان ته يې په ځان نه وه و يلي ( يعني تر خپل سر تير و ) که نه نو حضرت عمر ﷛ او د نورو صحابه کرامو ﷡ نيک کارونه تر دغه هم زيات وه.

## ۸- د بير معونه جنګ

---

([98]) غبطه ودې ته وايي چي يوڅوک يوه ځانګړتيا ولري بل کس چي يې ويني نو دافکر ورته پيدا سي چي کاشکي ماهم دغه ځانګړتيا درلوداى . حسد دې ته ويل کيږي چي يوڅوک يوه ځانګړتيا ولري بل کس فکر وکړی چي کاشکي دغه ځانګړتيا دده نه درلوداى بلکي ما درلوداى غبطه روا ده اوحسد ناروا دی .ژباړن

([99]) اصابه – قره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیر معونه یو مشهور جنګ دئ چې د اصحابانو او پاکسیزه لوی جماعت په پوره ډول پکښې شهید سوی دئ چې دوی ته قرآء (قاریان) ویل کیږي ځکه چې دوی ټوله د قرآنکریم حافظان وه زیات شمېر یې انصار وه پرته دیو څو کسانو څخه چې مهاجرین وو ددوی د نبي ﷺ سره ډېره مینه وه ځکه چې دوی د شپې زیاته برخه په ذکر او تلاوت تېرول او دورځې به یې د نبي ﷺ د بیبیانو دکورونو، اړتیا وي لکه لرګي، اوبه او داسې نور پوره کولې. دغه سپېڅلې ډله د نجد یوا وسیدونکي د بني عامر د قوم یو سړي چې نوم یې عامر بن مالک و او کنیه نوم یې ابوبراء و د خپل ځان سره یې تر خپل سیوري لاندې دتبلیغ او وعظ په نامه ببولې وه که څه هم نبي ﷺ دوی ته ویلي وه چې زما سره داوېره ده چې اصحابو ﷺ ته کوم تاوان ونه رسیږي خو دغه سړي ډېره تسلي ورکړې وه نبي ﷺ دغه اویا اصحاب ﷺ ورسره کړه او یو خط یې د عامر بن طفیل په نامه چې دبني عامر رئیس و ولیکی په خط کښې د اسلام بلنه لیکل سوې وه. دوی مبارکان د مدینې منورې څخه رخصت سوه کله چې بیرته معونه ته ورسېده هلته تم سوه ددوی دوو ملګرو هر یو حضرت عمر بن امیة ﷺ او حضرت منذر بن عمر ﷺ دخپلو ملګرو ټولو اوښان دڅرولو لپاره پر غاړه واخیستل او حضرت حرام ﷺ ددوو ملګرو سره یو ځای وعامر بن طفیل ته ورغلل ددې لپاره چې د رسول الله ﷺ خط وروړې هلته چې نژدې سوه حضرت حرام ﷺ و خپلو ملګرو ته وویل: تاسو دلې ودرېږئ زه به ورسم کچیرې یې زما سره دوکه وکړه نو تاسو ولاړ سئ ځکه ددرو تر مړه کېدو نو د یوه مرګ بهتر دئ. عامر بن طفیل د عامر بن مالک وراره و هغه عامر چې مسلمانان یې راوستلي وه عامر بن طفیل دمسلمانانو سره سخته دښمني درلوده حرام ﷺ چې د رسول الله ﷺ خط ورکړی عامر بن طفیل مخکې تر دې چې خط ولولي حرام ﷺ یې په نېزه داسې وواهه چې نېزه پورې ووري ترې ووتل حرام ﷺ وویل: (فُزتُ وَرَبِّ الکعبَةِ) یعنې د کعبې په رب قسم کوم چې زه کامیاب سوم ددې وینا څخه وروسته شهید سو عامر بن طفیل په دې هم بسنه ونه کړه چې قاصد وژل په هیڅ قوم کې روا کار نه دئ او نه یې دې ته کتل چې دغه حضرات زما اکا په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنا کي راوستلي دي بلکي خپل قوم يې را جمعه کړی ددې لپاره چي دا ټول اصحابان ووژني او يو هم ژوندی پرې نهږدي خو دده قوم په دې وجه چي عامر بن مالک دغه اصحابان په خپله پناه کي راوستلي دي د اصحابانو ووژلو ته تيار نسوه خو عامر بن طفيل د شاوخوا څخه خلک را جمعه کړه يوه لويه ډله يې تياره کړه پر مسلمانانو باندي يې حمله وکړه مسلمانانو هم مقابله وسره شروع کړه اخر مسلمانانو به ترکومه پوري ددوی سره مقابله کولای چي د څلور خواوو څخه کافرانو حمله پرې وکړي وه اودوی يې په منځ کي محاصره سوي وه ؟ د کعب بن زيد ﷺ پرته چي کافرانو مړ بللی وو نورټول اصحابان ﷺ شهيدان سوه . حضرت منذر ﷺ او حضرت عمر بن امية ﷺ چي اوښان يې څرول د اسمان وخواته يې وکتل وې ليدل چي مردار خواره مرغان الوتل دواړو وويل چي خامخا يو څه پېښه سوې ده نو بېرته د خپلو ملګرو و خواته راغلل کله چي راورسېدل وې ليدل چي ملګري يې ټوله شهيدان سوي دي او شاوخوا په توره سمبال سواره پرې راګرځي دوی دواړو چي دا حالت وليدی نو په خپلو منځو کي يې مشوره وکړه حضرت عمر بن امية ﷺ وويل: راځه چي بېرته ولاړ سو رسول الله ﷺ خبر کړو خو منذر ﷺ وويل رسول الله ﷺ خو به هغسي هم خبر سي زما زړه نه کيږي چي شهادت پرېږدم او ددې ځاي څخه ولاړ سم چي ملګري مي بيده پراته دي درځه چي د خپل ملګرو سره يو ځای سو نو دواړو و ميدان ته ورودانګل حضرت منذر ﷺ شهيد سو او حضرت امية ﷺ ونيول سو. څرنګه چي د عامرمور د يوه غلام ازادول په يو کار کي نذر اينبې و نو عامر په هغه وجه عمربن امية ﷺ ازاد کړی.(100)

په دغه مبارکو انسانانو کي د حضرت ابوبکر ﷺ غلام عامر بن فهيره هم و دده مبارک قاتل جبار بن سلمي وايي: ماچي کله عامر بن فهيره په نيزه وواهی ده وويل: (وَ اللهِ فُزتُ) يعني په الله ﷻ مي دي قسم وي چي زه کامياب سوم ددې څخه وروسته ماوليدی چي دده جسد و

(100) اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماني طرف ته پورته سو زه ډېر حيران سوم ددې څخه وروسته ما د خلګو څخه وپوښتل : چي دغه سړی ما په نيزه وواهی دستي مړ سو خو بيا هم دی وايي چي په الله ﷻ قسم چي زه کامياب سوم دده کاميابي نو په څشي کي ده؟ خلګو راته وويل: دده کاميابي په جنت کي ده پدې وجه زه مسلمان سوم.([101])

فايده: دا هغه خلګ دي چي اسلام په دوی فخر کوي نو پر ځای خبره ده چي وويل سي: بېشکه دوی د مرګ سره دعجمو تر ميني د شرابو زياته مينه درلوده ولي به دوی ته مرګ خوښ نه و چي دوی په دنيا کي داسي کارونه کړي وه چي د الله ﷻ په نزد ددوی کاميابي يقيني وه نو دوی چي به مړه کېده کاميابه کېده.

## ۹- د حضرت عمير رضي الله عنه وينا چي خرما خوړل اوږد ژوند دئ

د بدر په غزا کي رسول الله ﷺ په يوه خيمه کي تشريف درلودئ چي اصحابانو ته يې اشاره وکړه يعني ورته وې ويل: ولاړ سئ داسي جنت ته ورمخکي سئ چي پلنوالی يې تر اسمانو او مځکو زيات دئ او دمتقيانو لپاره جوړ دئ يو صحابي حضرت عمير بن الحمام AA چي دا خبره واورېدل وې ويل: واه ، واه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر کومه خبره دي واه واه وويل ده مبارک ورته وويل: چي زه به هم غواړم چي د دغه خلګو څخه سم چي جنت ته ځي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته هم د دغه خلګو څخه يې بيا يې د خرما کڅوړه راواخيستل او خرماوي يې خوړلې بيا يې وويل زه چي دغه خرماوي خورم چي زما په لاس کي دي دا هم ډېر وخت دئ او

[101] خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصوم يې نو زه دومره انتظار نه سم کولای خرما وي يې وغورځولې توره يې وا خيستل د کافرانو په يوه ګڼه ډله ور ننوتی تر هغه وخته پوري وجنګېدی تر څو شهيد سو.[102]

فايده: په حقيقت کي هم دا خلک د جنت ور وو او په جنت يې ټينګ يقين و زمو ږ که يقين ټينګ سي نو ټولي خبري به سمي سي.

## ۱۰- د حضرت عمر ﷺ هجرت

د حضرت عمر ﷺ به څه بيان کوې هر سړی دده په بهادري خبر دئ او دده په مېړانه اقرار کوي د اسلام په شروع کي چي مسلمانان په کمزوري حالت کي وو نبي ﷺ په خپله د اسلام د قوت لپاره دده د مسلمانېدو دعاوکړه او د رسول الله ﷺ هغه دعا قبوله سوه حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي: مو ږ د عمر ﷺ تر مسلمانېدو تر وخته پوري و کعبې ته نژدې په ښکاره لمونځ نه سوای کولای ، حضرت علي ﷺ فرمايي: په لومړي وخت کي به مسلمانانو په پټه هجرت کاوه يو ـ يو به تلي خو کله چي عمر ﷺ د هجرت اراده وکړه نو توره يې په غاړه کړه لېندۍ يې په لاس کي وا خيستل او ډېر غشي يې هم د ځان سره وا خيستل لومړی مسجد ته ولاړی په ښه ارامۍ سره يې طواف وکړی بيا يې په ښه ارامۍ سره لمونځ وکړی وروسته د کافرانو مجلسو ته ورغلی او ورته وې ويل: د چاچي زړه غواړي چي موريې پر وژاړي ، ښځه يې کونډه سي او اولادونه يې يتيمان سي هغه دي د مکې دباندي راووزي او زما مقابله دي وکړي دا وينا يې جلا ـ جلا ډلو ته وکړه بيا يې تشريف يووړی په هيچا کي دومره همت نه سو پيدا چي دده مقابلې ته ورووزي.[103]

---

[102] طبقات ابن سعد
[103] اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱- د موته د غزا قصه

رسول الله ﷺ و مختلفو پاچهانو ته د اسلام د بلنې ليکونه واستول چې په هغو کې يې يو د حضرت حارث بن عمير ازدي ﷺ په لاس د بصرا پاچا ته وليږی حارث بن عمير ﷺ چې کله و موته ته ورسېدئ د قيصر د حاکمانو څخه يو کس چې شرحبيل غساني نومېدئ دغه مبارک قاصد وواژی او حال دا چې د قاصد وژل د ټولو قومونو په اصطلاح کې يو ناروا کار بلل کېدئ پر نبي ﷺ باندې دا خبره ګرانه پرېوتل نو درې زره کسيزه لښکر يې تيار کړی حضرت زيد بن حارثة ﷺ يې ور امير کړی بيا يې ورته وفرمايل: که زيد بن حارثه ﷺ شهيد سي نو بيا د ي جعفر بن ابي طالب ﷺ امير سي که دی هم شهيد سي نو بيا دي عبد الله بن رواحة ﷺ امير سي که دی هم شهيد سي بيانو د مسلمانانو چې هر څوک زړه غوښتی هغه دې امير کړي يوه يهودي دا خبرې واورېدې او وې ويل: د اکسان به خامخا شهيدان کيږي ځکه د لومړنيو انبياؤ ددغه ډول خبرو څخه مطلب هم داسې و رسول الله ﷺ يو سپين بيرغ جوړ کړې حضرت زيد ﷺ ته يې ورکړی بيا رسول الله ﷺ اوددوی ديوې ډلې سره ددوی درخصتولو په اراده د ښار د باندې راووتی د ښار دباندې چې مجاهدين رخصتېدل پاته خلګو دعا ورته کوله چې الله ﷻ دې تاسو کامیابه کړې او په خير او سلامتيا سره مو رب تعالي ﷻ بېرته راولـه او الله ﷻ دې تاسو د هر ډول بدی څخه و ساتي حضرت عبد الله رواحة ﷺ ددوی په جواب کې درې بيتونه وويل چې مطلب يې داسې و: زه د خپل رب څخه د ګناهونو بخښنه غواړم او يوه داسې توره وي چې په هغې سره زما د وينو داري رواني سي او يا په يوه داسې نېزه ووهل سم چې زما تر کولمو او اينې ووزي خيري يې کړي کله چې څوک زما و قبر ته تيريږي نو وو ايي: الله ﷻ دې تالاربسود او کامیابه کړي ريښتيا هم ته لمر او کامیاب وي ددې څخه وروسته دوی مبارکان روان سوه شرحبيل ته هم ددوی د روانېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر وروررسېدئ د شرحبيل سره سل زره فوج تيار سو د مقابلي لپاره ، کله چي دوی مخکي ولاړل نو ورته معلومه سوه چي د روم پاچا هرقل هم د سلو زرو فوجيانو سره مقابلي ته راروان دئ ددې خبر په اورېدو سره اصحابان فکر من سوه چي ددې دومره لوی طاقت مقابله شروع کړي او که رسول الله ﷺ ته خبرورکړي په دغه حال کي عبد الله بن رواحة﷜ په لوړ اواز وويل: اې خلګو ! تاسو د کومي خبري څخه وېرېږئ ؟ تاسو د کوم مقصد لپاره راوتلي ياست ؟ ستاسو مقصد شهيد کېدل دي موږ هيڅ کله د قوت او د سړو د ډېروالي په زور نه يو جنګېدلي بلکي موږ يوازي د هغه دين په زور جنګېدلي يو چي د هغه دين په وجه الله ﷻ موږ ته عزت راکړی دئ. مخ په وړاندي ځئ د دوو کاميابيو څخه به يوه خامخا لاسته راوړئ يا به برياليتوب وي او يا به شهادت وي مسلمانانو چي دا خبره واورېده ميړانه يې وکړه پر مخ روان سوه آن تر دې چي موته نومي ځای ته ورسېده او جنګ شروع سو حضرت زيد ﷜ بيرغ په لاس کي واخيستي ميدان د جنګ ته ورغلی زورور جنګ شروع سو د د شرحبيل ورور ووژل سو او ملګري يې و تښتېدل خپله شرحبيل هم و تښتېدئ يه يوه کلا کي پټ سو و هرقل ته يې د مرستي لپاره سړی ولېږی هر قل دوسوه زره فوجيان راولېږل جنګ په زيات زور سره شروع کېدئ چي زيد ﷜ شهيد سو دستي حضرت جعفر﷜ بيرغ په لاس کي واخيستي د خپل آس پښې يې په خپله پرې کړې چي بيرته تګ يې د زړه څخه ووزي يو څو اشعار يې وويل چي مطلب يې دادئ: اې خلګو ! جنت څومره ښه شی دئ او جنت ته نژدې کېدل څومره ښکلی دئ او د جنت اوبه څومره يخي دي. دروم پر خلګو عذاب راغلی ماته په کار ده چي هغه ووژنم ، دا شعرونه يې وويل د آس پښې يې پخپله پرې کړې چي بېرته تلل يې د زړه څخه ووزي توره يې واخيسته کافرانو راسته لاس ځني پرې کړی بيا يې بيرغ په چپه لاس کي ونيوی کافرانو چپه لاس ځني پرې کړی ده مبارک بيرغ په موټانو کي ټينګ کړی په خوله يې کلک ونيوی يو سړی د شا دخوا څخه ورغلی د شا دخوا يې دوې ټوټې کړی ، دی مبارک غوزار سو دستي شهيد سو. عبد الله بن عمر ﷠ فرمايي: موږ چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله شهيدان را ټولول دی چې مو راپورته کړی په بدن کې یې (۹۰) زخمونه وه. حضرت جعفر ؓ چې شهيد سو خلګو عبد الله بن رواحة ﷺ ته اواز وکړی ده په دغه وخت کې د جنګ په يو طرف کې د غوښې يو ټوټه خوړله ځکه درو ورځو څخه يې هيڅ شی نه و خوړلی ده چې اواز واورېدئ دستي راپورته سو او وې ويل: حضرت جعفر ﷺ شهيد سوی دئ ته په دنيا اخته يې دستي راغلی بيرغ يې راپورته کړی سخت جنګ يې شروع کړی ګوته يې زخمي سوه په وځړېده ده مبارک د اځړېدلې ګوته په پښه ونيول لاس يې راکش کړی ګوته يې پرې سوه ليري يې و غورځوله په سخت جنګ او خفګان کې فکر من سو چې نه د مقابلې توان سته او نه همت سته. لږ وخت ددې فکر تېرسوي و چې خپل زړه ته يې وويل: اې زړه ! اوس د څشي شوق او مينه درته پاته ده؟ چې ته يې له خطره و برېږي د بي بي شوق غواړي؟ هغه په درې طلاقه طلاقه ده. د غلامانو شوق غواړي؟ هغه ټول ازاد دي د باغ او پيسو شوق غواړي؟ هغه ټوله د الله ﷻ په لاره کې صدقه دي ددې څخه وروسته يې يو څو اشعار وويل چې ترجمه يې داسې ده. اې زړګيه ! ته به ورکښته کېږې په خوشحالي ورکښته کېږې که په خوابدی ورکښته کېږې ستا د ارام ژوند يوه زمانه تېره سوه. فکر وکړه ته د يو څاڅکي نطفې څخه پيدا يې کافران ګوره پر مسلمانانو په ډاډه زړه راروان دي تا ته څه پېښه سوه چې جنت نه خوښوې که شهيد نه سې نو آخر خو هم مرې په دغه وخت کې د آس څخه راکښته سو د اکا زوی يې يوه ټوټه غوښې ورته ونيولې چې وې خوره ! ملا به دې سيده سي د څو ورځو څخه دې شی نه دی خوړلی ده د اکا دزوی څخه هغه ټوټه غوښه واخيستله د يو طرف څخه د حملې اواز راغلی ده هغه ټوټه غوښه وغورځول او سخت وجنګېدی ترشهيد کېدو پورې يې توره وچلول.(104)

---

(104) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: دا داصحابو کرامو د ژوند یوه نمونه ده ددوی مبارکانو هر قصه ددنیاد فاني کېدو او د آخرت سره دمینې سبق ورکوي. د اصحابانو کرامو ﷺ څخه به څه پوښتنه کوې چې په تابعینو کې داسې خلک ختلي دي چې په یوه په قصه سره یې دغه باب ختموو چې د هغه رنګ بل ډول دئ ددښمن مقابله خو تاسو ولیده اوس یې د حکومت په وړاندې د لاورې هم ووینئ:

## ۱۲- د سعید بن جبیر او حجاج بن یوسف خبرې اترې

نبي ﷺ فرمایي: اَفضَلُ الجَهَادِ کَلِمَةُ حَق عِندَ السلطَانٍ جَائِرٍ
ژباړه: بهترین جهاد د ظالم پاچا په وړاندې د حق خبره کول دي.

د حجاج بن یوسف ظلم او تېرى په ټوله دنیا کې مشهور دئ که څه هم د هغې زماني ظالم پاچا په ظلم سره ددین د خورولو کار هم کاوه خو دعادل او دیندار پاچا په پرتله به دى بد ګڼل کېدئ او په دغه وجه به خلک دده څخه بېزاره وه.

سعید بن جبیر دابن الاشعث سره یو ځاى سو د حجاج مقابله یې شروع کړه حجاج د عبد المالک بن مروان له خوا حاکم و او سعید بن جبیر مشهور تابعي و او دلویو علماؤ څخه و دحکومت دده سره دښمني درلودل په ځانګړي ډول حجاج دده سره زیاته دښمني درلوده لکه څرنګه چې مبارک تابعي دحجاج سره مقابله شروع کړې وه او هغه ونه کړاى سواى چې دى ونیسي نو خامخا یې دښمني ورسره کول د ماتې وروسته و مکې ته په پټه ولاړى حکومت مکې ته نوى حاکم ولېږى زوړ حاکم یې راوغوښتى نوى حاکم چې ورغلى خطبه یې وویل او په آخر کې یې د عبد المالک بن مروان دافرمان خلګو ته واوروى چې هر چا چې و سعید بن جبیر ته پناه ورکړه خیر یې نسته وروسته حاکم د خپل ځان لخوا ورته وویل د هر چاپه کور کې که دى پیدا سو نو هغه به وژل کیږي. یوازې دده کورنى نه بلکې د همسایه ګانو کورونه به یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغورځوم لنډه داچې دمکې حاکم پـه ډېر تکليف سره نومـوړي تـابعي ونيـوى او حجاج تـه يې ولېږى حجاج ته د خپل درد (غصې) او وژلو موقع په لاس ورغلـه خپـل مخ تـه يې راوغوښـتى او پوښتني يې ځني وکړې:

حجاج: ستا نوم څه شي دئ؟

سعيد: زما نوم سعيد دئ.

حجاج: ستا د پلار نوم څه شي دئ؟

سعيد: زما د پلار نوم جبير دئ. (سعيد معني نيک بختـه او جبيـر معنـي اصـلاح سـوى) که څه هم په نومونو کې خو معني مقصود نه وي خو حجاج ته دغه ښه معني والا نـوم هـم خونـد نـه ورکوى نو پدې وجه يې ده ته وويـل: تـه شقي بـن کسـيرېې (شـقي معنـي بدبختـه او کسـير معنـي مات سوى)

سعيد: زما مور زما نوم تر تا ښه پېژندى.

حجاج: ته هم بدبخته يې او ستا مور هم بدبخته ده.

سعيد: په غيبو باندې ستا څخه علاوه يو بـل ذات خبر دئ (يعنـې عـلام الغيـوب الله ﷻ دئ)

حجاج: ګوره زه اوس تاوژنم.

سعيد: نو زما مور زما نوم صحيح ايښى دئ.

حجاج: اوس زه تا دژوند په بدله کې دوزخ ته لېږم.

سعيد: -که ماته معلوم واى چې دوزخ ستا په لاس کې دئ نو تـه بـه مې معبـود جـوړکړى واى.

حجاج: د نبي ﷺ په هکله ستا څه عقيده ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعيد ﷺ هغه د رحمت نبي و، د الله ﷻ رسول و او په هدايت ښودلو سره ټولې دنيا ته لېږل سوی و.

حجاج: د خلفاو په هکله ستا څه نظر دئ؟

سعيد ﷺ زه د هغوی محافظ يم هر څوک د خپل عمل زموار دئ.

حجاج: زه هغوی ته ښه وايم که بد؟

سعيد ﷺ په کوم څه چي زه نه يم خبر د هغه په هکله زه هيڅ نسم ويلای ماته يوازي خپل حال معلوم دئ.

حجاج: په دوی کي تاته تر ټولو خوښ څوک دئ؟

سعد ﷺ ماته تر ټولو خوښ زماد ښښتن تعالي ﷻ راضي کوونکي دئ. په ځينو کتابو کي ددې جواب پرځای داسي توري راغلي دي: دهغوي ځيني حالات پر ځينو باندي تر جيح ورکوي.

حجاج: د ټولو څخه زيات د مالک راضي کونکی څوک دئ؟

سعيد ﷺ دغه کس و هغه چاته معلوم دئ چي د زړه پر ښکاره او پر پټ رازونو باندي علم لري.

حجاج: حضرت علي ﷺ به په جنت کي وي که به په دوزخ کي؟

سعيد ﷺ زه ددې څخه کم يم چي په پټو حالاتو باندي خبر درکړم.

حجاج: ته زما سره د ريشتيا ويلو اراده نه کوي؟

سعيد ﷺ ما درواغ نه دي ويلي.

حجاج: ته ولي نه خاندي؟

سعيد ﷺ د خندا خبره نه ده سوې چي زه وخاندم او هغه څوک به څنګه خاندي چي د خاورو څخه جوړ وي قيامت ته بې تلل وي شپه او ورځ په فتنو کي اوسي.

حجاج: زه خو خاندم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعيد ﷛ الله ﷻ مورې په مختلفو طريقو پيدا کړې يو.

حجاج: زه خو تاوژنم.

سعيد ﷛ زما د مرګ سبب پيدا کونکی د خپل کار څخه فارغ سوی دئ.

حجاج: زه و الله ﷻ ته تر تا ډېر خوښ يم.

سعيد ﷛ په الله ﷻ هغه څوک د لاوري نه سي کولاي چي تر څو خپله مرتبه معلومه نه کړي په غيبو يوازي الله ﷻ خبر دئ وبس.

حجاج: زه به ولي دلاوري نه کوم زه د ټولني د پاچا سره يم او ته د باغيانو د ډلي سره يې.

سعيد ﷛ زه د ټولني څخه جلا نه يم او نه فتنه خوښوم څه چي په تقدير کي دي هيڅوک يې نه سي بدلولای.

حجاج: کوم شيان چي مورږ دا مير المؤمنين لپاره جمعه کوو ته يې په اړه څه نظر لرې؟

سعيد ﷛ زه نه يم خبر چي تاسو څه شي جمعه کوی؟

حجاج: سره زر، سپين زر، ټوکران او داسي نور ، بيا يې دا شيان را وغوښتل او د سعيد په مخکي يې کښېښودل.

سعيد ﷛ دا ښه شيان دي چي د خپلو شرطونو مطابق وي.

حجاج: شرطونه څشي دي؟

سعيد ﷛ شرطونه دادي چي په دغه سره داسي شيان واخلې چي د قيامت په ورځ امن پيدا کړي که نه نو د شيدې ورکونکي به تی روه دونکی هېر کړي او حمل به وغورځي او سړي ته به د ښه عمل څخه پرته بل هيڅ شی کار نسي کولای.

حجاج: مورږ چي دا شيان يو ځای کړي دي دا ښه شيان دي.

سعيد ﷛ ددې شيانو ښه والي تاته معلوميږي.

حجاج: ته په دې شيانو کي يو شی ځانته خوښوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعيد: زه يوازې هغه شې خوښوم چې الله ﷻ يې خوښوي.

حجاج: ستا دپاره دې هلاکت وي.

سعيد: هلاکت دې هغه چالره وي چې د جنت څخه ليرې سوی وي او دوزخ ته داخل سوی وي.

حجاج: وښيه زه تا په کومه طريقه ووژنم ؟

سعيد: کومه طريقه چې د ځان لپاره خوښوې.

حجاج: ايا زه تا معاف کړم؟

سعيد: معافي د الله ﷻ په نزد ده ستا معافي هيڅ شی نه ده.

حجاج: جلاد ته امر وکړی چې سعيد ووژني، سعيد چې يې دباندې راواېستی سعيد وخندل حجاج ته خبر ورکړل سو چې سعيد وخندل حجاج راوغوښتی پوښتنه يې ځني وکړه چې ولې دې وخندل؟

سعيد: ستا په زړورتيا باندې چې پر الله ﷻ يې لرې او دالله پر صبر باندې چې ستا په وړاندې يې لرې.

حجاج: زه هغه څوک وژنم چې د مسلمانانو په ټولنه کې بيلتون رامنځته کوي بيا يې جلاد ته وويل: دده سر زما په مخکې پرې کړه.

سعيد وويل: زه دوه رکعته لمونځ کوم لمونځ يې وکړی او دا کلماتې يې وويل:

❽♎♎♎♎♎ "❻♏♑⇳♉◆❒ ➔❍⇳♑▪♉◆❒ ❼♏❑❄♏☽

♈←⬀❻☞❀♐✁◆❒ ⬁✞◷◆❑◷⌹☺○○♎♐✁ ⧫❷⬩➲⬩▫

(c) ketabton.com: The Digital Library



❍◻︎⚐☪︎♉︎⓿▦☪︎✌︎ ☎︎ ❒◆✌︎♦︎✌︎✎ 🕮❒☼♦︎✌︎🏱 ✌︎♉︎⬀🙵
✁✌︎♐︎⬂☺︎⇦⌑⇧❸♐︎♉︎✍︎✓▫︎🙵⬀♓︎♓︎⬃ (105)

ژباړه : ما خپل مخ د هغه ذات ولوري ته واړوی چي اسمانانونه او مځکي یې پیدا کړي دي په داسي حال کي چي د باطل څخه وحق ته میل کونکی یم زه د مشرکانو څخه نه یم.

حجاج وویل: دده مخ د قبلې څخه واړوئ د نصاراوو و قبلې ته یې کړئ ځکه هغو هم په دین کي تفریق کاوه او اختلاف یې رامنځته کوی. ژر دده مبارک مخ واړول سو. سعید🏛وویل:

❒◆✎★ ✁✌︎→▫︎☼◻︎⌖⇧❷⌧✉︎⬈ ❒◆✁✌︎→▫︎☼◻︎⬄⬂❷⌧☹︎➲ 🗐
▫︎♦︎⚱︎❒③⬃☪︎◆☺︎⍓✌︎ ✍︎➔❒◆♍︎♋︎❒✁☎︎ ▫︎♦︎✞♦︎☠︎▪︎ ❒◆♉︎⇧❍⇦
✁✌︎✎★🗐 ☽♐︎♍︎· ✁✌︎✎⅄ ❒◆🕒♒︎⬁⬈⬈ ⬂♦︎🖬♐︎⑩🏱♓︎ ⬃♐︎⬂⬂⬁
الکافِي بِالسرآئر (106)

ژباړه: الله ﷻ لره ختیځ او لویدیځ دئ هري خواته چي مخ واړوي هم هلته خدای ﷻ سته بېشکه الله ﷻ پراخي راوستونکی اوزیات عالم دئ. الله ﷻ کافي دی په پټو رازو کي یعني په پټو احوالو خبر دئ.

حجاج وویل: پرې مخ یې واړوئ موږ په ظاهر باندي د عمل کولو زمه وار یو.

سعید🏛وویل: ✉︎✌︎♉︎❁⬀&◻︎✌︎⌘⍓🖬■☽⬂✡︎◻︎🕒▤⬈☠︎⬁

❒◆▫︎♉︎❸&◻︎✌︎☼⬅︎➔♉︎⓿⑨⬅︎✍︎⬈☠︎⬁ ❒◆✌︎♉︎❁⬀&◻︎✌︎
✞⬆︎③⬂❷⌧♉︎⬉▤⬈☠︎⬁✍︎♦︎✌︎❻◆◻︎🕐 🕮⬆︎⌘⬃❷♦︎❽▤ ⬃♐︎♐︎⬂ (107)

---

(105) سورة آل عمران الاية (٧٩)
(106) سورة بقرة الاية (١١٥)
(107) سورة طه الاية (٥٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: موږ ددې مځکي څخه پیدا کړي یاست بېرته مو دې مځکي ته ورولو او بیا مو ددې مځکي څخه راباسو.

حجاج وویل: وي وژنئ! سعید ﷺ وویل: زه تا ددې خبرې شاهد جوړوم چې زه وایم. لا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده ورسوله.

ته دغه کلمه په یاد ساته کله چې زه ستاسره د قیامت په ورځ یو ځای سم بیا به یې بدله درڅخه اخلم. ددې څخه وروسته شهید سو. (انا لله و انا الیه راجعون)

دده په شهادت دده د بدن څخه زیاته وینه ولاړه حجاج ورته حیران سو د خپل طبیب څخه یې پوښتنه وکړه چې ولې دومره وینه ځني ولاړه؟ طبیب ورته وویل: دده زړه ډېر ارام و په زړه کي یې د مرګ هیڅ وېره نه وه نو وینه یې پر خپل نورمال حالت باندي وه نو ځکه ډېر وینه ځني ولاړه. د اسي نه لکه نور خلګ چې تر مرګ مخکي یې ټوله وینه دوېري څخه وچه سي.[108]

فایده: ددې قصې په سوال او جواب کي نور کتابونو زیادت او کمی کړی دئ نورو بیا ځني نور سوالونه او جوابونه رانقل کړي دي زموږ مقصد یوازې نمونه ښودل دي نو له دې امله مو په دغه اندازه بسنه وکړه.

ددې ډول څخه د تابعینو زیاتي قصې راغلي دي (چې ددوی پر بهادري باندي ښودنه کوي) امام اعظم ﷺ، امام مالک ﷺ، امام احمد بن حنبل ﷺ او داسي نورو مبارکو انسانانو د حق وینا په وجه ډېري سختی، تیري کړي دي خو حق یې د لاسه نه دئ ورکړی.

اتم باب

(108) علماء سلف کتاب الامامة و السیاسة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علم شوق او په علم کښې بو ختيا

ځرنګه چي د دين اصل د توحيد کلمة ( لا اله الا الله محمد رسول الله ) د ټولو کمالاتو بنسټ ده د دې کلمې پرته هيڅ سپېڅلي کار د قبول وړ نه دئ په همدې وجه اصحابانو خصوصا د اسلام په لومړيو وختو خپل ټول قوت د همدې کلمې په خپرولو کې مصرفوی ، د کافرانو سره به يې جهاد په پوره زور سره کاوه دوی مبارکا ن د علم لاسته راوړلو ته فارغ او متوجه نه وو د دې دومره بو ختيا و سره ـ سره د دوی د علم سره دومره شوق او مينه وه ( دومره علم يې لاسته راوړی ) چي نن څوارلس سوه کاله وروسته د قرآن او حديث د علومو د بقا ذريعه ده، دا يو څرګند حقيقت دئ. د دې مبارکو انسانانو چي د وخت په تېرېدو سره څه فراغت تر لاسته کړی او د مسلمانانو ډله هم يو څه لو سوه نو لاندينی آيات کريمه نازل سو:

✉ ❒♦✌♦✍ ✍☒🔔♍☞ ✂✍♑⬂☺←⬧⬁✌⧫☪⇱❑♌♦

♑⧫⑩♦✡▥⧫⧫⑩❒⇱❒✂☎ 🗎•✍✏▫⅄❑☪ 🗐 ▫•⬛■❑⬀•• ☼♦▥☒❷♦

✌⧫♏Ⅱ ✍⬈✍♏⬁ ▫⧫❷⬀🔔•❑⌨ ✌♓⧫☸⬃✍⬋☠⬀ ⬖•✍✏✶✍▥☒❑⮘

♑✍⧫⑩♦✌♦▥☒☽⊙♑←❑✂☎ ✗⧫❼ ✂✍✏✍♏⧫③Ⅱ⮈

❒♦♑⧫⑩⇱✡⓿✌❻⬇❑✂☎ 🔔•❑⬀✌♦♑←⚐⬄ ☽⧫❶•✂

❻♦♉⧫⍓➔⇱❑☑✂☎ ☽⧫♑•❸⬀✍⬁✍☠⬀ ♑•➔⍓■☼♑←⚐⬄

⑥•♦⬂⓿☒❻⬇❑♍☞ ⬁⌘⌘⬂⮈ (109)

---

( 109 ) سورة التوبة الاية (١٢٢) ، بيان القران

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: نه ښايي مومنانو لره چې ټول له دي ووزي كه چيري داسي نه وي ددوى د هر ډلي څخه دي يوه كوچنۍ ډله ځي ددي لپاره چې پوهه په دين كښې حاصله كړي او كله چي بېرته قوم ته راسي نو خپل قوم دي دالله ﷻ د عذاب څخه ووېروي.

حضـرت عبـدالله بـن عبـاس ﷺ فرمـايي: كـوم عـاموالي چـي ددغـه آيـاتو څخـه:
✁☼⊞⊠✓⊡❷⇖❒✁☎⌘⊞⊠✓▫❁✓❒◆⚐⊘☽•✓•☪ ☎(110) او د ـــــ

☽⊘•⊘☪⊞⊘❷⇖❒✁☎ ③⇖➔⊠⓿℮✍⊠⌛➔☠⌑

⇖◆⓿⊠✁⊠⌚✓⊡⊞❒⊘⑩☺✞✓ (111) هغـه پـدي آيـات سـره ❒◆✌◆✓

⊠⊘⊠♍✁✓⊘☺←•⊘✌⊘☪⇖❒♌◆⊘⑩◆✡⊞⊘❷⇖❒✁☎

🗎•✓✎▫⅄◘☪ منسوخ سو. اصحابان ﷺ په پيل كي د شمېر له مخي لږ وه دوى اړ وه چي ددوى دغه كوچنۍ ډله ددين ټول كارونه سرته ورسوي خو كله چي د تابعينو په زمانه كښي اسلام تر لېرو ځايونو پوري خپور سو نو د مسلمانانو يو لويه ډله رامنځته سوه د اصحابو ﷺ په خبر لږ والى له مينځه ولاړى الله ﷻ ددين دهري څانګي لپاره خلک پيدا كړه. د حديثو لپاره خپله ډله پيدا سوه چي په پوره پاملرنه سره به يې د حديثو منظمول او خپرول كول، د فقهاؤ بېله ډله جوړه سوه، د صوفيانو، قاريانو، مجاهدينو او داسي نورو لپاره ډلي جوړي سوې. مطلب دا چي ددين دهري شعبې لپاره مستقل سمبالونكي پيدا سول په هغه وخت كښي دا شي ضروري وو چي په يوه شعبه كښي دي ځان كمال ته ورسوي ځكه چي ددين په ټولو شعبو كښي ځان كمال ته رسول ګران كارو داصفت الله ﷻ و انبياؤ (عليهم السلام) ته وركړى و خصوصا و سيد الانبياء ﷺ ته يي وركړي و نو له همدې امله به پدې باب كښي د اصحابانو ترڅنګ د نورو مباركو انسانانو

---

(110) سورة التوبة الاية (٤١)
(111) سورة التوبة الاية (٣٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصې هم ذکر سي ترڅو معلومه سي چي دوی مبارکانو په څومره سختيو کي د علم سره شوق دلوردئ.

# ۱- د فتوا ورکونکي ډلي سرليک

که څه هم اصحابان د اعلاء کلمة الله لپاره د جهاد په کولو سره مشغول وه خو بيا هم ددغه بوختيا سره ـ سره په علم هم بوخت وه او ددې علم خپرول او رسول هم ددوی دنده وه په دوی کي يوه ډله دفتوي لپاره خاصه سوې وه چي د نبي ﷺ په زمانه کي يې هم د فتوي کار کاوه نومونه يې په لاندي ډول دي: حضرت ابوبکر رضی الله عنه، حضرت عمر رضی الله عنه، حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت عبدالرحمان بن عوف رضی الله عنه، حضرت علي رضی الله عنه، حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، حضرت معاذ بن حبل رضی الله عنه، حضرت عمار بن ياسر رضی الله عنه، حضرت خذيفة AA ، حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه، حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه، حضرت ابو موسي رضی الله عنه او حضرت ابودرداء رضی الله عنه (112)

فايده: دا ددغه مبارکو انسانانو د کامل او بشپړ علم خبره وه چي د نبي ﷺ په موجوديت کي دوی د فتوي ورکولو کارکاوه.

۲ د حضرت ابو بکر رضی الله عنه د حديثو د مجموعې سوځل

(112) تلقيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي: زما پلار حضرت ابوبکر رضي الله عنه د پنځوسوو حديثونو يوه مجموعه تياره کړې وه يوه شپه ما وليدئ چي زما پلار ډېر ناارامه دئ پر ځاى باندي اړخ پر اړخ اوړي ما چي وليدئ ډېره خوابدې سوم پوښتنه مي ځني وکړه چي څه تکليف لرې او که دي څه دفکر وړ خبره اورېدلې ده ؟ لنډه دا چي ټوله شپه کت پر کت اوښتى سهار يې راته وويل: هغه زما د حديثو مجموعه چي ما ستا سره ايښې وه هغه راوړه ما چي راوړه ده مبارک وسوځل ما پوښتنه ځني وکړه چي ولي دي وسوځل؟ ده مبارک راته وويل: زما سره ويره وه چي صبا به زه مړ سم او د احديثونه به مي تر شا پاته سي حال دا چي په دې حديثونو کي داسي څه موجود دي چي د ځان څخه جوړ سوي دي په هغه وخت کي به مامعتبر روايتونه ګڼلي و خو وروسته راته معلومه سوه چي معتبر روايتونه نه دي او څه ګړ بړ پکښې دئ چي بيا به يې مسئوليت زما دغاړې وي ځکه زما د خوا خلګو ته ورپاته دي. (113)

فايده: حضرت ابوبکر رضي الله عنه چي د پنځوسوو حديثونو يوه رساله جمعه کړې وه داد ده پوره علم او د علم سره محبت و او دا چي ده سوځل داد ده مبارک پوره احتياط و. داد مخورو اصحابانو رضي الله عنهم د حديثونو په هکله احتياط و همدا وجه ده چي د مخورو اصحابانو رضي الله عنهم څخه ډېر کم حديثونه روايت سوي دي ددې کار څخه زموږ لپاره سبق اخيستل په کار دي په ځانګړې ډول هغه کسانو ته چي پر منبرانو ناست وي او حديثونه رانقلوي چي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه دا احتياط دغه حال وو . حال دا چي اصحابان رضي الله عنهم فرمايي چي ابوبکر رضي الله عنه په موږ ټولو کي لوى عالم و ددې تر څنګ د رسول الله ﷺ د وفات وروسته د بيعت خبره پېښه سوه نو ابوبکر رضي الله عنه په خپل تقرير کي هيڅ داسي حديث يا آيات نه دى پرې ايښى چي د انصارو په فضليت کي راغلي و ددې خبري څخه

(113) تذکرة الحفاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومیږي چې ابوبکر ﷛ په ټولو حدیثونو کې او په ټوله قرآن کې پوره معلومات درلودئ خو بیا هم دده څخه ډېر لږ روایتونه نقل سوي دي هم دا سبب دئ چې امام اعظم﷫ ډېر لږ روایتونه رانقل کړي دي.

## ۳- د حضرت مصعب ﷛ تبلیغ او د نبي ﷺ تعلیم ښودل

مصعب بن عمیر ﷛ چې قصه یې په اوم باب پنځمه شمېره کې تېره سوه نبي ﷺ دی مبارک دمنی ددرې دهغه مسلمانانو سره دتبلیغ او دیني تعلیم ښودلو لپاره لیږلي و کوم چې د منې په دره کې تر ټولو مخکې مسلمانان سوی وه. په مدینه منوره کې به دی هروخت په تعلیم او تبلیغ کولو مشغول و. خلکو ته به یې قرآنکریم ښودئ او ددین خبري به یې ورته ښودې. د اسعد بن زرارة ﷛ سره اوسېدئ د مقري په نامه مشهور سوی دئ. سعد بن معاذ او اسید بن حضیر چې دواړه سرداران وه په دې خبره ناراضه وه سعد واسید ته وویل: چې ته اسعد ته ورسه او ورته ووایه چې موږ اورېدلي دي چې تا یو ثوک مسافر پیدا کړی دئ د ځان سره دي کښېنولی دئ او زموږ ناپوه خلک تېر باسي. اسید چې اسعد ﷛ ته راغلی نو په سختۍ سره یې خبري ورسره وکړې اسعد﷛ ورته وویل: ته راسه د هغه خبري واوره که دي خوښي سوې نو قبولي یې کړه که دي خوښي نه سوې نو بیا که یې منعه کړې پروانه لري اسیدورته وویل: دا ښه دانصاف خبره ده حضرت مصعب ﷛ و اسید ته د اسلام صفتونه واورول او د قرآنکریم آیاتونه یې ورته تېر کړل اسید چې دده خبري واورېدې نو وې ویل: دا ثومري ښې خبري دي دا ثومره ښه کلام دئ اسید زیاته کړه: اې مصعبه AA ! تاسو چې ثوک په خپل دین کې داخلوی نو څنګه یې داخلوی؟ مصعب ﷛ ورته وویل: غسل وکړه د شهادت کلمة ووایه. اسید ﷛ دغه ټول کارونه وکړه او مسلمان سو د مسلمانېدو سره سم ولاړی سعد یې هم راوستی هغه هم دده خبري واورېدې مسلمان سو بیا


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قوم بنو الا شهل ته ولاړې او هغوته یې وویل: زه ستاسو په نظر څنګه سړی یم هغو ورته وویل: ته زموږ په نظر د بر غوره او بهتر سړی یې پردې خبره باندې سعد ﷺ ورته وویل: ستاسو د نارینوو او ښځو سره زما خبرې تر هغه وخته پورې حرامې دي تر څو چې تاسو مسلمانیږی او په محمد ﷺ باندې ایمان راوړی ده مبارک په دې خبره سره د بنو الاشهل قوم ټوله نارینه او ښځینه مسلمانان سوه او حضرت مصعب ﷺ دوی ته په تعلیم ورکولو باندې مشغول سو.([114])

فایده: د اصحابانو ﷺ دا عمومي قاعده وه چې کله به څوک مسلمان سو نود مسلمانېدو سره سم به دی یو مستقل تبلیغ کوونکیو او کومه خبره چې به د اسلام ده ته ورسېده نو ده به دستي نورو ته رسول او خورول به یې دا دده د ژوند یوه وظیفه وه په دغه وظیفه کې د پیسو، تجارت، دنده او کوم بل دنیوي مسلک نه و.

## ۴- د حضرت ابي بن کعب ﷺ تعلیم

حضرت ابي بن کعب ﷺ یو مشهور صحابي دئ، د مشهورو قاریانو څخه دئ او د اسلام راوړلو مخکي یې لیک او لوست زده و په عربو کې د لیکلو دود نه وو خو د اسلام څخه وروسته د لیکلو دود عام سو دی مبارک د لومړی وخت څخه په لیک دود پوهه و دی مبارک به د رسول الله ﷺ په حضور کې حاضرېدئ او وحي به یې لیکلې. د قرآنکریم لوی ماهر و، نوموړی د هغه کسانو څخه و چې د نبي ﷺ په ژوند کښې یې قرآن یاد کړی و نبي ﷺ دده په اړه فرمایې: زما د امت لوی قاري ابي بن کعب دئ ده مبارک په پابندۍ سره په اتو شپو کښې د تهجد په لمانځه کښې قرآنکریم ختماوی نبي ﷺ یوه ورځ ورته وفرمایل: الله ﷻ ماته فرمایلي دي چې زه و تاته قرآنکریم

([114]) تلقیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوروم ده مبارک ورته وویل اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! الله ﷻ زما نوم واخیستی ؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل: هو ، ستانوم یې واخیستی ده مبارک چې دا خبره واورېدل د ډېرې خوشحالۍ څخه په ژړا شو. شعر

ذکر میرا مجه سی بهتر هی کی اس محفل می هی

یعني زما یادونه تر ما بهتره ده چې په دغه مجلس کې کیږي.

جندب بن عبد الله AA فرمایي: زه مدینې منورې ته د علم حاصلولو لپاره حاضر سوم په نبوي مسجد کښې د حدیثو لوستونکې ګڼ شمېر مبارکان ناست وو د شاګردانو ټولۍ په جلا ـ جلا ډول استاذانو ته ناستې وې زه په دې حلقو کې تېر سوم یو سړی د مسافر په ډول ناست و چې دوې جامې یې په تن وې حدیث یې نورو ته ښودل ماد خلګو څخه وپوښتل: دا کوم بزرګ دئ؟ دوی راته وویل: دا د مسلمانانو سردار ابي بن کعب ﷺ دئ ، زه هم دده مبارک د درس په ټولۍ کې کښېناستم کله چې د حدیثو څخه فارغه سو کور ته تلی زه په پسې سوم کله چې دی کورته ورسېدئ ومې لیدئ چې کوربې ډېر زوړ، خراب او د کمزوري سامان لرونکی و او ډېر د عاجزۍ او زهد ژوند یې و.(115)

حضرت ابی بن کعب ﷺ فرمایي: یوه ورځ نبي ﷺ زما څخه امتحان واخیستی چې د قرآنکریم لوی آیات کوم دئ؟ (د برکت په لحاظ) ما ورته وویل: اې د الله ﷻ رسوله ! الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي نبي ﷺ دوهم ځل پوښتنه را څخه وکړه ما داب له وجې په هغه ډول جواب ورکړی دریم ځل یې بیا را څخه وپوښتل نوما په جواب کې ورته وویل: د آیة الکرسي آیات دئ. نبي ﷺ ډېر خوشحاله سو او راته وې ویل: الله ﷻ دې تاته ستا علم مبارک کړي.

(115) طبقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځلي نبي ﷺ لمونځ وركاوى يو آيات ځني پاتـه سو ابي بن كعب ﷺ فتحه وركړه (د لمانځه د فراغت څخه وروسته) نبي ﷺ و پوښتل چي دا فتحه چا راكړه؟ ابي بن كعب ﷺ و فرمايل: دا زه وم. نبي ﷺ وفرمايل: زما هم دا ګمان و چي تا به ښودلى وي.[116]

فايده: دا د ابي بن كعب ﷺ علم او قرآن سره مينه او محبت و او دده مبارك خاص خدمتونه وه، دده مبارك د نبي ﷺ سره په هره غزا كي ګډون كړى و د نبي ﷺ هيڅ داسي جهاد نه و چي ده ګډون نه وي پكښي كړى.

## ۵- د حضرت خذيفة ﷺ د فتنو د پېژندني اهتمام

حضرت خذيفة ﷺ د نومتو اصحابو څخه دئ دده مبارك لقب صاحب السر (راز ساتونكى) و نبي ﷺ د منافقينو او فتنو علم ده ته ښودلى دئ. ويل سوي دي:يو ځلي نبي ﷺ ده مبارك ته تر قيامته پوري راتلونكي فتنې ټولي په شمار سره وښودلې. نبي ﷺ هيڅ داسي فتنه نه ده پرې ايښې چي په هغه كي دي درې سوه كسان شريك وي مګر ده ته يې دهغې فتنې حال او د لاربښود نوم، د پلار او مور نوم او د هغه د قوم نوم يې په ځرګند ډول ښودلي دئ. حضرت خذيفة ﷺ فرمايي: خلګو به د نبي ﷺ څخه د خير د خبرو پوښتنه كول خو ما به د بديو د خبرو پوښتنه كول ددې لپاره چي ځانونه ځني وساتو، ما يوه ورځ د نبي ﷺ څخه و پوښتل: اې د الله ﷻ رسوله ! دغه بركتونه چي ستا په وجه مونږ ځني برخمن يو ايا ددې څخه وروسته يوه بدي هم راتلونكي ده؟ نبي ﷺ راته وفرمايل: هو، بدي راځي، ما ورته وويل: ددې بدۍ وروسته بيا نيكي راځي؟

(116) مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي ﷺ راته وويل: اې خذيفة ﵁ ! د الله ﷻ کلام وايه او پـه معناوو کي يې فکر کوه او د احکامو تابعداري يې کوه (دي مبارک وايي: زه فکر اخيستی وم) وه مي ويل: ددې بدی وروسته بـه نيکي راځي؟ نبي ﷺ و فرمايل: هو، نيکي راځي خو زړونه به داسي نه وي لکه لومړي چي وه. مابيا ورته وويل: اې د الله ﷻ رسوله ﴿ ! ددې نيکۍ وروسته به بيا بدي وي؟ نبي ﷺ راتـه وويـل: داسي خلګ به پيدا سي چي نور به ګمراه کوي او ددوزخ لوري ته به يې بيايي ما ورتـه وويـل: کـه زه پـه دغـه زمانـه کي موجود وم نو څه به کوم؟ نبي ﷺ راتـه وويـل: کـه چيري پـه دغـه وخت کي دمسلمانانو يوه متحده ډله وه او يو پاچا يې درلودئ نو ددوی سره واوسه که نه ووتولي ډلي پرېږده په يو کونج کي جلا کښېنه او يا ديوې درختي په بيخ کي کښېنه او هم دلته تر مرګه پوري واوسه.

څرنګه چي رسول الله ﷺ و ده ته د ټولو منافقانو حال ښو دلي و نوله همدې امله بـه حضرت عمر ﵁ دده څخه پوښتنه کول چي زما په حاکمانو کي خو څوک منافق نسته؟ حضرت عمر ﵁ بـه هغه حاکم ددندې څخه ليري کوی چي غالباً بـه يې پـه خپـل فراست (الهي پوهه) سره پېژنـدلی وای. کله چي به څوک مړسو نو عمر ﵁ به څېړنه کول چي خذيفة ﵁ يې پـه جنازه کي ګډون کوي که يا؟ که به خذيفة ﵁ په جنازه کي و نو عمر ﵁ به يې هم په لمانځه کولو کي ګډون کاوه که به يې ګډون نه وکړی نو عمر ﵁ بـه هم نه ورتلی. کلـه چي حضرت خذيفة ﵁ وفات کېدئ نو پـه ډېره ناارامۍ سره يې ژړل خلګو پوښتنه څني وکړه (چي ولي ژاړې؟) ده مبارک پـه جواب کي ورتـه وويل: ددنيا په پاته کېدو باندي نه ژړام بلکي مرګ خو زما خوښ دئ مګر زه پردې ژاړم چي زه به دالله ﷻ په رضاکي روان يم او که به ناراضي کي روان يم ددې څخه وروسته يې وويـل: دا زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دژوند وروستی ساعت دئ اې الله ﷻ! تاته معلومه ده چي زه ستا سره مینه لرم نو پدې وجه سره په خپل ملاقات سره ماته برکت راکړې.(117)

۷_د حضرت ابو هريرة ﷺ د حديثونو يادول

حضرت ابـو هريرة ﷺ يونومـوتي اوددرنښـت وړصـحابي دئ اودومـره ډېـر حديثونـه دده مبارک رانقل کړي دي چي دده په څېر بل صحابي نه دي نقل کړي دده مبارک وعلم ته خلک حيران وه ځکه دی په اووم کال دهجرت راغلی اومسلمان سو په يوولسم کال دهجرت نبيﷺ وفات سوی دئ په دومره لږوخت کي چي څلورکاله کېږي ده څنګه دومره ډېرحديثونه يادکړل ؟ددې خبري وجه خپله حضرت ابـو هريرة ﷺ ښـودلې ده فرمـايلي يـې دي چـي خلـک وايـي ابوهريرة ﷺ ډېرروايتونه رانقل کړي دي حال داچي زمامهاجر ورونو تجارت کاوه ، بازارته تلل اوراتلل اوزماانصارو ورڼود کښت اوکروندې کار کاوه دوی ټوله په کارونو بوختوه (ماهيڅ بوختيانه درلوده ) حضرت ابوهريرة ﷺ داصحاب صفه دمسکينا نو څخه يومسکين ودنبيﷺ په خدمت کي به چي يوڅه دخوراک لپاره ورکړل سوه په هغه به يې صبر کاوه پروت به وپه داسي پېښوکي به دی مبارک موجودوچي نوراصحابان به نه وه موجود داسي شيان به يې يادول چي هغوی به نسوای يادولای.

ابوهريرة ﷺ فرمايلي دي: مايوورځ نبيﷺ ته دخپلي حافظې شکايت وکړی رسول اللهﷺ راته وويل ته خپل پټو هوارکړه ماچي پټوهوارکړی نبيﷺ په دواړولاسونو په پټوکي ديوشي

(117) ابوداؤد – اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره وکړه بيايې راته وويل: داپټو ځان سره يوځای کړه ماهم هغه پټو په خپله سينه پوري ونيوی ددې څخه وروسته بياهيڅ شی زما څخه نه سو هېر.([118])

فايده: اصحاب صفه وهغه کسانو ته ويل کېږي چې دنبيﷺ په خانقاه کې به اوسېدل ددوی مبارکانو دخوراک لپاره څه خاص انتظام نه و.دومري به وو ايوچې دوی دنبيﷺ ميلمانه وه دکوم ځای څخه چې به څه هديه ياصد قه راتله په هغه به ددوی ګوزاره وه حضرت ابوهريرة هم په دې خلګوکې و دېروختونه به پردوی باندې په نهاره تېرېدل ځنې وخت به دلوږې له امله دليونتوب په څېرحالت کې سوه لکه چې ددريم باب په دريمه اواومه قصه کې تېرسوه ددې دومره سترياووسره ــ سره بياهم ده مبارک حديثونه يادول داده شغل وچې له برکته يې ده ترټولوزيات حديثونه ښودلي دي.

ابن جوزي په (تلقيح ) نومي کتاب کې ليکلي دي چې ابوهريرة پنځه زره درې سوه څلوراو يا(۵۳۷۴ )حديثونه رانقل کړي دي.

يوه ورځ ابوهريرة دجنازې اړوند يو حديث بيان کړی چې دنبيﷺ ارشاددئ: څوک چې دجنازې لمونځ اداکړي بېرته راسي يوقيراط ثواب ورکول کېږي اوڅوک چې دمړي په ښخولو کې شريک سي دوه قيراطه ثواب ورکول کېږي اوديوه قيراط ثواب د احد ترغره زيات دئ حضرت عبدالله بن عمر ته په دې حديث کې يو څه شک پيدا سو اوورته وې ويل: اې ابوهريرة ! په فکر سره خبري کوه ده مبارک ته درد(غصه) ورغله دستي وعائشې ته ورغلی اوورته وې ويل: زه تاته قسم درکوم چې دغه دقيراط حديث تادنبيﷺ څخه اورېدلی دئ؟ عائشې وفرمايل: هو،اورېدلی مې دئ ، ابوهريرة وفرمايل: زمالپاره خونه په باغ کې ددرختو اېښودلو څه کارو او نه په بازار کې دمال خرڅولو څه کارو زه به دنبيﷺ په درباركي

---

[118] بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت وم یوازې داکار مې درلو دئ چې دیادولوڅه خبره په لاس راسي او یا څه خوراک راکړل سي.

حضرت عبدالله بن عمر ووېل: بېشکه ته ترمو دنبيﷺ په حضور کې زیات حاضر وې او په حدیثونو زیات پوهه يې.(119)

ددې سره سره ابوهریرةAA فرمايي: زه هره ورځ دولس زره واره استغفار وایم. دده سره یوتار و چې زرغوټې ورکړل سوي وې (دتسبوح په څېر )دشپې به تر هغه وخته پورې نه بیده کېدئ ترڅو چې دغه غوټې به يې په سبحان الله نه وې پورې کړې.(120)

# ۷ـ دمسیلمة کذاب وژل او دقرآن جمعه کول

دنبيﷺ دوفات څخه وروسته دمسیلمة کذاب پر خلګو باندې اثر پر زیاتېدو سو(ده د نبيﷺ په ژوند کې دنبوت دعوه کړې وه )څرنګه چې په عربو کې ددین څخه اوښتل په زورسره شروع سوه نوله وجهې يې دی نورهم طاقتور سو.حضرت ابوبکرAA دده سره جنګ وکړی اللهﷻ

(119) مسند احمد
(120) تذکره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام ته برلاسی ورکړی او مسیلمة ووژل سو مگر په دې جنګ کې د اصحابانو یوه لویه ډله هم شهیدان سوه خصوصا د قرآنکریم د حافظانو یوه ډله هم شهیدان سوه.

حضرت عمر ﷺ د ابوبکر ﷺ حضور ته ورغلی او ورته وې ویل: په دې جنګ کې قاریان ډېر شهیدان سوه که چیرې په دغه ډول په یوه یادوو جنګو کې نور حافظان هم شهیدان سي نو د قرآنکریم ډېرو برخو د ضائع کېدو ویره ده نو دا قرآنکریم په یوځای کې ولیکه چې وساتل سي حضرت ابوبکر ﷺ ورته ویل: ته څنګه په یوه داسي کار کې دلاوري کوې چې نبي ﷺ نه دئ کړی. حضرت عمر ﷺ پر دغه خبره باندې ټینګار کوی او دا ړتیا څرګندونه یې کول په آخر کې د حضرت ابوبکر ﷺ نظر هم ورسره برابر سو نو حضرت زید بن ثابت ﷺ یې راوغوښتی (چې قصه یې په یوولسم باب اتلسم شمېره کې راروانه ده) زید ﷺ فرمایي: زه د حضرت ابوبکر ﷺ و حضور ته ورغلم چې عمر ﷺ هم تشریف درلودئ حضرت ابوبکر ﷺ خپلې خبرې او د عمر ﷺ ټولې خبرې راته بیان کړې وروسته یې وفرمایل: (اې زیده ﷺ!) ته ځوان او د عقل څښتن یې پرتا باندې هیڅ ډول بدګمان نسته د دې ټولو خبرو سره ته د نبي ﷺ په زمانه کې د وحیو لیکونکی پاته سوی یې نو لدې وجهې دغه کار هم ته وکړه د خلکو څخه قرآنکریم را جمعه کړه او یوځای یې نقل کړه حضرت زید بن ثابت ﷺ فرمایي: په الله ﷻ قسم کوم که ابوبکر ﷺ ماته امر کړی وای چې فلانی غرونړوه اوودې خوا ته یې رابدل کړه ماته به تر دغه کار آسانه وای. ماورته وویل: تاسو څنګه داسي کار کوی چې نبي ﷺ نه دی کړی دوی مبارکانو به زه وپوهولم. (یعني قناعت به یې راکړئ) په یو حدیث کې راغلي دي چې حضرت ابوبکر ﷺ و زید ﷺ ته وفرمایل: که ته د عمر ﷺ ملګرتیا وکړې نوزه به هم د دغه کار حکم درکړم او که یې نه کوې نوزه هم د دغه کار اراده نه کوم زید بن ثابت ﷺ فرمایي: چې ډېرو خبرو وروسته الله ﷻ زما سینه ودې لوري ته خلاصه کړه چې قرآنکریم دې یوځای جمعه کړل سي نوما هم د امر په عملي کولو کې د خلکو څخه قرآنکریم



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجمعه کړئ چې جلا ،جلا لیکل سوی واو هغه قرآنکریم مي هم راجمعه کړی چې د اصحابانو په سینو کي ساتل سوی و د ټولو لټه مي وکړه او سره یوځای مي کړی.([121])

فایده:ددې قصې څخه لومړی دا معلوميږي چي دوی مبارکان دنبيﷺ د تابعداری دومره پابنده وه چي دغره بدلول ورته اسانه کار و تر داسي کار چي نبيﷺ نه ووکړی.ددې دومري اخلاص په نتیجه کي اللهﷻ دیوه داسي کتاب جمعه کېدل چي ددین بنسټ دئ ددوی په عملنامو کي ایښي دئ. بیا حضرت زید AA دقرآنکریم په جمعه کولو کي دومري احتیاط کاوه چي هیڅ آیات به یې دلیکلو پرته نه اخیستي (بلکي داسي آیات به یې په لیکلي ډول اخیستي ) چي دنبيﷺ په زمانه کي به لیکل سوی و دغه آیات به یې دنورو سره یوځای کوی بیا به یې دحافظانو دلوستلو سره کاتی (چي لیکلي آیات او دیاد سوي آیات خو فرق نسته) څرنګه چي قرآنکریم په جلا ـ جلا ځا یونو کنبي لیکل سوی و په همد غه وجه یې په پیدا کولو کي څه ستړیا او زحمت و مګرټوله قرآنکریم پیدا سو .ابي بن کعب AA چي نبيﷺ په خپله دقرآنکریم زیات پوه ورته ویلي و دقرآنکریم په جمعه کولو کي یې دزید بن ثابت AA مر سته کول.په داسي زحمتونو سره قرآنکریم دغه مبارکوانسانانو ترټولو لومړی جمعه کړی.

## ۸- دحضرت ابن مسعود AA دحدیث په روایت کي احتیاط

حضرت عبدالله بن مسعود AA دنوموتو اصحابانو څخه دئ ، دهغه اصحابانو دډلي څخه دئ چي فتوي ورکونکي وه او داسلام په پیل کي مسلمانان سوی وه او دحبشې هجرت یې هم کړی و په ټولو غزاووکي یې دنبيﷺ سره ګډون کړی و دخاص خد مت په وجه دصاحب النعل

([121]) دُر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(څپلووالا) ، صاحب الوسادة( بالبنت والا ) صحاب المطهرة(داوداسه ابووالا )لقبونه ورکړي سوي دي ځکه دنبيﷺ زيات خدمتونه ده ته سپارل سوي وه رسول اللهﷺ دده په اړه داهم فرمايلي دي: دمشورې پرته که مي څوک اميرټاکی نوعبدالله بن مسعود به امير ټاکم . نبيﷺ ده مبارک ته فرما يلي وه چي تاته هروخت دراتلو اجازه ده په بل ځای کي رسول اللهﷺ فرمايلي دي: څوک که غواړي چي په هغه ډول قرآنکريم ولولي چي نازل سوی دئ نودعبدالله بن مسعود ﷺ په طريقه دي يې ولولي نبيﷺ فرمايلي دي: ابن مسعود ﷺ چي کوم حديثونه بيان کړي هغه رښتيا بولی ابوموسی اشعريﷺ فرمايلي دي: موږچي کله ديمن څخه راغلو نو ترډېره وخته پوري مو ابن مسعود ﷺ داهل بيتو څخه ګڼی ځکه درسول اللهﷺ په کورکي دده او دمور تګ اوراتګ دومره زيات و لکه دوی چي يې دکور خلک وي.(122)

خوددې ټولو سره ابوعمرو شيباني ﷺ فرمايلي دي چي زه دابن مسعود ﷺ سره يو کال واوسېدم ما هيڅ کله دی نه وليدئ چي ديوې خبري نسبت دي يې رسول اللهﷺ ته کړي وي که به يې نسبت رسول اللهﷺ ته کوی نو پربدن به يې رپېدل راغله. عمر بن ميمون ﷺ وايي چي زه تر يو کاله پوري دهر ي پنجشنبي په ورځ ابن مسعود ﷺ ته ورتللم ماهيڅ کله دده څخه داسي خبره وانه ورېدل چي ده يې و رسول اللهﷺ ته نسبت کړي وي يوازي يوه ورځ يې حديث بيانوی پرژبه يې راغلل چي نبيﷺ وفرمايل نو بدن يې ورپېدئ په سترګو کي يې اوښکي راغلې رګونه يې وپړسېدل او دايي وويل انشاءالله هم داسي به يې ويلي يا به يې دې ته نژدې ويلي وي او يا به په دغه ډول و، يابه ددې وينا څخه يو څه کم او يا به يې يوڅه زيات فرمايلي وي.(123)

فايده: دادصحابانو مبارکانوﷺ دحديثونو په اړه احتياط وځکه رسول اللهﷺ فرمايلي دي : څوک چي پر مابانديدرواغ ووايي نو خپل ځای دي په اوردوزخ کي تيارکړي. دوی مبارکان

(122) بخاري
(123) مقدمه او جزمسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ویري څخه چې درواغ پررسول اللهﷺ راڅخه ونه ویل سي نوهره مسئله به یې درسول اللهﷺ دویناا وحالاتو سره برابره بیانول خودا به یې نه ویل چې دادرسول اللهﷺ وینا ده ځکه دوی مبارکان وېرېدل چې داسي نه چې پر رسول اللهﷺ باندي درواغ وویل سي ددوی په وړاندي که موږخپل ځانونه پرتله کړو نو بې شمېره بې څېړني حدیثونه بیانوو یوه ذره هم نه وېرېږوحال داچې دنبيﷺ ولوري ته دخبري دنسبت کولو اورانقلولو کاریوه لویه ذمواري ده.حنفي فقه هم زیاته دعبدالله بن مسعود ﷠ دویناوو څخه اخیستل سوې ده.

۹-وحضرت ابودرداء ﷠ ته دیوه حدیث لپاره دمدینې څخه ودمشق ته ورتلل

کثیربن قیس وایي چي زه ددمشق په مسجد کي دابودرداء ﷠ سره ناست وم چي یو سړی ابودرداء ﷠ ته راغلی او ورته وې ویل چي زه دمدینې څخه دیوه حدیث لپاره راغلی یم مااورېدلي دي چي تا هغه حدیث درسول اللهﷺ څخه اورېدلی دی ابودرداء ﷠ پوښتنه ځني وکړه چي دتجارت خودي څه کار نه و؟ هغه سړي ورته وویل:یا ، بیاابودرداء ﷠ تري وپوښتل:بل څه مقصدخودي نه و؟ سړي ورته وویل :یا ،یوازي دحدیث دزده کړي لپاره راغلی یم ابودرداء ﷠ ورته وویل: ما درسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چي څوک دعلم لاسته راوړلو لپاره ځي اللهﷻ دهغه کس لپاره دجنت لاره اسانه کوي ،ملائکي خپل وزرونه دعلم دزده کونکي دخوښۍ په موخه غوړوي او دطالب العلم لپاره دآسمان اوځمکي اوسېدونکي دمغفرت غوښتنه کوي تردا سي بریده چي ماهیان په اوبو کښې طالب العلم ته دمغفرت غوښتنه کوي. دعالم ارزښت پرعبادت کونکي باندي داسي دئ لکه دسپوږمئ ارزښت پرستوروباندي . علماء دانبیآؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارثـان دي ، انبيـآء خپـل وارثـان دمـال اوشـتمنۍ نـه جـوړوي بلکـي خپلـو وارثـانو تـه علـم پرېږدي.څوک چي علم لاسته راوړي هغه لوی دولت لاسته راوړی.([124])

فايده: حضرت ابودرداء په هغه اصحابانو کي دئ چي په فقه کښي پوهېدئ اودتـه حکيم الامت (دامت پوه ) ويل سوي دي .ده مبارک فرمايلي دي: مادنبيﷺ دنبوت په وخت کي تجارت کاوه دمسلمانېدو وروسته مي وغوښتل چي تجارت اوعبادت دواړه وکړم خودواړه نه سره کېده نوتجارت مي پرېښودئ اوس مي زړه داسي دئ: که چيري دمسجد په دروازه کي مي دکان وي يولمونځ هم نه راڅخه قضاکېږي ، دورځي څلوېښت ديناره وګټم اوبيا يې صد قه کړم لامي هم تجارت نه خوښيږي .يو چاپوښتنه ځني وکړه:چي ولي دي داسي تجارت نه خوښيږي چي لمونځ هم نه درڅخه قضا کېږي اوهره ورځ دومره ګټه هم کوې بيايې دالله ﷻ په لاره کي خرڅوې؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل: حساب خوغواړي. ابودرداء دا هم فرمايلي دي چي زه دمرګ سره مينه لرم ددې لپاره چي دخپل بادارسره ملاقات وکړم ، دمسکنت سره مينه لرم دعاجزۍ لپاره ، او دناروغۍ سره مينه لرم ددې لپاره چي ګناه مي ومينځل سي.([125])

په پورتنۍ قصه کي (تاسو وليدل) چي يو صحابي ديوه حديث لپاره دومره لوی سفر کړي و ددوی مبارکانو لپاره دحديثونو په لاسته راوړلو کي سفر څه ګران کارنه و ديوه حديث داورېدلو اوزده کولو لپاره ډېرلري سفرکول دوی مبارکانو تـه اسانه و . شعبي يو مشهور محدث دئ دکوفې اوسيدونکی دئ يوه ورځ يې خپل شاګرد ته يو حديث وايه اوبيا يې ورتـه وويل واخله دا حديث دي په خپل کورکي مفت (وړيا )په لاس درغلی که نه نو ددغه يوه حديث لپاره به دي هم مديني منورې ته سفرکاوه ځکه په لومړيو کي دحديثونو خزانه مدينه منوره وه . دعلم سره مينه لرونکو حضراتو دعلم لاسته راوړلو لپاره ډېر لوی او اوږده سفرونه کړي دي

---

([124]) ابـن مـاجة
([125]) تـذکره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعيد بن المسيب﷫ يو نوموتي تابعي دئ ، دی مبارک فرمايي: زه ديوه حديث شريف لپاره څو ورځې او شپې پياده( پلې ) تللی يم امام الائمه امام بخاري﷫ په سنه ۱۹۴هـ کې پيدا سوی دئ په سنه ۲۰۵هـ کې يعنې ديوولسو کالو په عمريې دحديثو دعلم لوستل شروع کړي دي. عبدالله بن مبارک﷫ ټول کتابونه په کوچنوالي ياد کړل کوم حديثونه چې په خپل ښارکې لاسته ورتلل هغه يې زده کول بيايې په ســـنه ۲۱۲هـ کې سفرپيل کړی دده مبارک پلار وفات سوی و دی يتيم و په سفرکې يې مور ورسره ملګرې وه. د سفر د پيل څخه وروسته يې بلخ ، بغداد ، مکې مکرمې ، بصرې ، کوفې ، شام ، عسقلان ، حمص او دمشق ښارونو ته سفرونه وکړل او هر ځای چې به دحديثو زخيره لاس ته ورتله په لاس يې راوړل په داسې کشرتوب کې دحديثو استاذ سو چې پرمخ يې دېرې وېښته نه و دی مبارک وايي: زه داتلس کالو وم چې ماداصحابانو او تابعينو د فيصلو نومی کتاب جوړ کړی. حاشد﷫ او دده يو ملګري وايي چې موږ به د امام بخاري﷫ سره يو ځای استاذ ته ورتلو ما او ملګري به ليکل کول خو امام بخاري﷫ به داغسې چوپ ناست و يو وخت موږ ورته وويل: ته خو داغسې وخت تېروې؟ ده جواب رانه کړی موږ په تکرار سره دغه سوال ځني وکړی ده مبارک راته وويل: زه مو ډېر تنګ کړم راوړی تاسو څه ليکلې دي موږ خپله ليکنه راوړه چې شا وخوا پنځلس زره (۱۵۰۰۰) حديثه کېدل ده مبارک دغه ټوله حديثونه په ياد راته وويل موږ ېيخي ورته حيران سو.

### ۱۰- د حضرت ابن عباس﷠ و يو انصاري ته ورتلل

حضرت عبد الله بن عباس﷠ فرمايي: ما يو انصاري ته وويل: نبي ﷺ خو وفات سو تر اوسه پورې د اصحابانو يوه لويه ډله موجوده ده راځه ددوی څخه په پوښتنو مسئلې يادې کړو انصاري راته وويل: ددومره ډېرو اصحابانو په شتون کې به تاته خلک د مسئلې پوښتلو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي؟ لنډه دا چې هغه انصاري همت نه وکړی خوزه د مسئلو په زده کړه پسي روان سوم کله چې به زه خبرسوم چي فلاني صحابي فلانی حديث د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی دئ زه به ورتلم او ښېړنه به مي ځني کوله. ماته د مسائلو ډېره لويه زخيره د انصارو څخه لاسته راغله ځينو خلګو ته به ورغلم نومعلومه به سوه چي بيده دئ نو خپل پټو به مي په دربندکي کښېښودئ هلته به کښېناستم که څه هم د باد او دوړو له امله به خاوري زما پر خوله او بدن باندي بادېدلې خو ما به انتظار کاوه کله چي به هغه را کښېناستی نو کومه خبره به چي ما به ځني زده کول هغه به مي ځني وپوښتل هغه سړي به راته وويل: ته د نبي ﷺ د اکا زوی يې تاولي دومره تکليف ايستلی دئ ؟ زه به درغلی وای ما به ورته وويل: زه د علم حاصلونکي يم او د علم حاصلونکی د راتلو مستحق وي. ځينو اصحابانو ﷺ به زما څخه پوښتنه وکړه چي د څه وخت څخه ناست يې؟ ما به ورته وويل ډېر وخت څخه ناست يم. هغه سړي به راته وويل: تا بد کول ولي دي خبر نه راکوئ؟ ما به ورته وويل: زما زړه نه غوښتل چي تاسو زما په وجه د خپلو اړتياو د خلاصېدو مخکي راسی آخر داسي وخت راغلی چي خلګ به ماته راجمعه سول ددې لپاره چي علم را څخه زده کړي. بيا هغه انصاري صاحب وويل: افسوس د غه هلک ترموږ ډېر هو ښيار و.([126])

فايده: دا هغه شی دی چي په وجه يې عبد الله بن عباس ﷺ ته يې د(حبر الامة) او د (بحر العلم) لقبونه ورکړي دي. کله چي دی مبارک وفات کېدی نو په طائف کي يې تشريف درلودئ د جنازې لمونځ حضرت محمد ﷺ ورکړی چي د حضرت علي کرم الله وجهه زوی و اووي فرمايل: نن ددې امت امام رباني رخصت سو. حضرت عبد الله بن عمر ﷺ فرمايي: د قرآنکريم د آياتونو د شان نزول په پېژندلو کي عبد الله بن عباس ﷺ تر ټولو ممتازو حضرت عمر ﷺ به ده ته د علماؤ په خاص صف کي ځای ورکاوه دا ټولـه دده د قربانۍ نتيجه وه کـه نـه نـو دی چـي د خپلي

([126]) دارمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحبزادګۍ په ګمان او سېدی (یعني دا چي زه د رسول الله ﷺ د اکا زوی یم) چیرې دې لوی مقام ته رسېدای سوای په خپله د آقای نامدار حضرت رسول اکرم ﷺ ارشاد دئ چي فرما یي: د کوم چا څخه چي علم حاصلوی د هغه په مخ کي عاجزي کوئ په بخاري شریف کي د مجاهد ؒ څخه نقل سوی دئ: چي څوک په علم او زده کړه کي شرم یا کبر کوي علم لاسته نه سي را ورلای حضرت علي ؓ فرما یي: څوک چي ما ته یو حرف را وښیي هغه زما بادار دئ دده خوښه ده چي ما ازادوي که مي غلاموي.

یحیي بن کثیر ؒ فرمايي: علم په ارامتیا او استراحت سره نه حاصلیږي. امام شافعي ؒ فرمايي: څوک چي د میني پرته او یا په بې پروایۍ سره علم حاصل کړي دغه کس نه سي کامیاب کېدلای څوک که علم په عاجزۍ او داړتیا په ډول لاسته راوړي کامیابه کېدای سي.

یحیي بن مغیره ؒ یو لوی محدث دئ ، دی مبارک فرمايي: موږ به د استاذ څخه داسي ویرېدو لکه څوک چي د پاچا څخه ویریږي: امام بخاري ؒ دده په اړه وایي: ده مبارک به د محدثینو دومره احترام کاوه چي ما دبل چا دومره احترام نه دئ لیدلی. امام ابویوسف ؒ فرمايي: ما د مشرانو څخه اورېدلي دي چي څوک د استاذ احترام نه کوي هغه نه سي کامیابه کېدای. په پورتنۍ قصه کي د عبدالله بن عباس ؓ دیوې خوا د استاذانو احترام او د هغوی په وړاندي عاجزي معلومیږي د بلي خوا دده مبارک د علم سره مینه او شوق معلومیږي د چا څخه چي به یو حدیث وو دی به په خبرسو دستي به ورتلی هغه حدیث به یې زده کوی که هر څومره تکلیف او زحمت پکښې وای. اصلي خبره دا ده چي څو تکلیف پر ځان نه یوسي علم خوڅه کوي بلکي یو کوچنی شی هم لاسته نه سي راوړای دا یو مشهور متل دئ چي وایي: (مَن طَلَبَ العُلی سَهَرَ اللیَالِي)

یعني څوک که لوړي مرتبې غواړي نو شپې به رونوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متفرقي علمي کارنامې

حارث بن يزيد ، ابن شبرمة ، قعقاع او مغيره ﷺ څلور اصحابان وه دوی مبارکانو به د ماخستن تر لمانځه وروسته يو علمي بحث شروع کړی د سهار تر اذانه پوري به يو هم نه جلا کېدئ. ليث بن سعد ﷺ فرمايي: امام زهري ﷺ به د ماخستن د لمانځه څخه وروسته په اوداسه باندي د حديثونو سلسله شروع کړه د سهار تر اذانه به يې ورسول.([127])

(دارمي) دراوردي ﷺ وايي: امام ابوحنيفة ﷺ او امام مالک ﷺ ماوليدل چي د ماخستن تر لمانځه وروسته يې په يوه مسئله کي بحث شروع کړی پر سهار سو او هلته يې د سهار لمونځ وکړی هغه هم داسي مسئله وه چي ملامتول نه وه پکښې.([128])

ابن فرات بغدادي ﷺ چي کله وفات سو اتلس ۱۸ صندوقه کتابونه ځني پاته سوه چي په دغه کتابو کي يې اکثره په خپل قلم ليکلي وه ستره خبره لا داده چي د محدثينو په آند د نقل په صحت او ښه والي کي دده ليکل سوی ښه دليل دئ. ابن جوزي ﷺ يو نوموتی محدث دئ دده مبارک پلار دده په دري کلنی کي وفات سو ده مبارک ديتيم والي په حالت وده وکړه. مګر د تکليف ايستلو يې دا حال و چي د جمعي د لمانځه پرته به بل چيري د کور څخه ليري نه تلی يوه ورځ يې پر منبر وويل: ما په دغه خپلو ګوتو دوه زره (۲۰۰۰) جلده ليکلي دي په دې کي تر دوه نيم سوه (۲۵۰) کتابونو زيات دده خپل وه. څلور برخي ليکل روزانه دده عادت و. د درس يې دا سي حالت و چي په يو وخت کي دده شاګردان سل زره اټکل سوي دي. اميران ، پاچاهان او وزيران به دده د درس په مجلس کي حاضره وه.

([127]) دارمي

([128]) مقدمة

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن جوزي رحمه الله فرمايي: سلو زرو ۱۰۰۰۰۰ کسانو زمالاس نيوی کړي دئ او شل زره زما په لاس مسلمانان سوي دي .ددې سره چې د شيعه ګانو زور و ده مبارک ډېر تکليفونه پرځان تېر کړي دي.([129])

ده مبارک د حديثو د ليکلو په وخت کي قلمونه تراشل هغه تراش سوی پسپل يا هغه برادہ يې سره يوځای کول کله چې وفات کېدئ نو وصيت يې وکړی چې په دغه تراشنو (برادې) سره زما د غسل اوبه تودې کړی ده مبارک دومره قلمان استعمال کړي وه چې يوازي تراشني يې دومره زياتي وې چې دده مبارک د مړيني وروسته يې دده د غسل اوبه په تودې کړې يوځه تراشني لا پاته سوې.

يحيي بن معين رحمه الله يو نوموتي استاذ دئ ، دی مبارک وايي: ما په خپلو لاسونو لس سوه زره ۱۰۰۰۰۰۰ حديثونه ليکلي دي.

ابن جرير طبري رحمه الله يو مشهور مؤرخ دئ ،دی مبارک د اصحابانو او تابعينو په حالاتو ښه خبر دئ ترڅلويښتو کالو پوري يې هره ورځ څلوېښت پاڼې ليکل عادت وو دده مبارک د وفات وروسته دده شاګردانو حساب وکړی څومره پاڼې چې ده په ژوند کي ليکلي وې د بالغ کېدو څخه تر وفات پوري يې ټولي پاڼې جمعه کړې بيا يې دده پرژوند وويشلې نو پر ورځ باندي څوارلس پاڼې راووتې. دده د تاريخ طبري نومي کتاب مشهوره دئ په عمومي ډول تر ګوتو کيدای سي کله چې ده د تصنيف اراده وکړه نو د خلګو څخه يې وپوښتل چې د ټول عالم تاريخ ليکل به تاسو خوشحاله کړي ؟ خلګو پوښتنه څني وکړه چې اندازه به يې څومره وي ؟ ده په جواب کي ورته وويل: چې تقريبا ديرش زره پاڼې به راسي خلګو ورته وويل: ددې کتاب د پوره کېدو مخکي به عمرونه ختم وي يعني مونږ به مړه سو بيا به بشپړسي ده ورته وويل: انا لله ، همتونه ټيټ سوه

---

([129]) تذکره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې څخه وروسته يې کتاب رالنډ کړی تقريبا درې زره پاڼې سو په همدغه ډول دده تفسير چې يادونه يې وسوه په عمومي ډول لاسته راتلای سي.

دارقطني[icon] دحديثو يومشهور مؤلف دئ دحديثو دزده کړې لپاره يې بغداد ،بصرې ، کوفې ، واسط ، مصر اوشام ته سفرونه کړي دي يوه ورځ داستاذ په مجلس کي ناست وو استاذ حديث لوستی ده يوشی دکتاب څخه نقل کاوه يوه ملګري يې نيوکه باندي وکړه چي ته بلي خواته متوجه يې ده ورته وويل: زمااو ستاپه توجه کي فرق دئ ته راوښايه چي استاذ تراوسه پوري څومره حديثونه وويل ملګري يې په فکرکي ډوب سو ده ورته وويل: استاذ اتلس ١٨ حديثونه وويل لومړی داو دوهم داوو په دغه ترتيب يې ټوله حديثونه سره دسنده ورته وويل.

حافظ اثرم[icon] يومحدث دئ ، ده مبارک دحديثوپه يادولوکي زيات تمرين کاوه يو ځلي يې حج ته تشريف يوړی هلته حرم ته دخراسان څخه دوه لوی دحديثو عالمان راغلي وه اوپه حرم شريف کي يې په جلا ـ جلا ډول درس ورکاوه وهر يوه ته د زده کونکو يوه لويه ډله ناسته وه دی مبارک د دواړوپه منځ کي کښېناستی او د دواړو څخه يې په يوه وخت کي حديثونه وليکل.

عبدالله بن مبارک[icon] يومشهور محدث دئ دده مبارک په علم حاصلولو کي زحمتونه زيات مشهوره دي ده مبارک په خپله فرمايلي دي: چي ماد څلور زرو استادانو څخه حديث زده کړي دي .

علي بن حسن[icon] وايي: يوه شپه سخت يخ وو زه او ابن مبارک دماخستن دلمانځه کولو وروسته دمسجد څخه راتلو چي په دروازه کي ديوه حديث په اړه زما او د ده په منځ کي خبري شروع سوې مابه څه ويل ده به هم يوڅه ويل په همدغه ځای کي په ولاړي ولاړ وو چي دسهار اذان وسو.

حميدي[icon] يومشهورمحدث دئ نوموړي هغه کس دئ چي دبخاري اومسلم حديثونه يې يوځای کړي دي ټوله شپه به يې ليکل کول دګرمي په وخت کي چي به ډېر تنګ سو نو يوه تالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پياله ) به يې داوبو څخه ډکه کړه په هغه کې به کښېناستی ليکل به يې کول. دټولو خلګو څخه به جلا اوسېدئ اوشاعر هم و چې دده يو شعر په دې ډول دئ:

لِقَآءَ الناسِ لَيسَ يُفِيدُ شَيئًا سِوَي الهَذيَانِ مَن قِيلٍ وَقَالٍ

فَاقلل مَن لقَاءِ الناسِ الّا لَاَخذِ العِلمَ اَو اِصلاح حَالِ

ژباړه: دخلګو په ملاقات کې هيڅ ګټه نسته دبې ځايه خبرو پرته نو دخلګو ملاقات لږکړئ ماسوا ددې څخه چې داستاذ څخه دعلم حاصلولو لپاره خبرې وکړی يا دنفس داصلاح لپاره دشيخ سره ملاقات وکړئ.

امام طبراني﷬يو مشهور محدث دئ ډېر کتابونه يې ليکلي دي يو چا دده دکتابونو ډېروالی وليدئ نو پوښتنه يې ځنې وکړه چې څنګه دې ليکلي دي ؟ده مبارک ورته وويل: ديرش کاله مې شپه او ورځ پر بوريا ) چټايي تېرکړي دي. ابوالعباس شيرازي﷬وايي: مادطبراني﷬ څخه درې سوه زره ۳۰۰۰۰۰ حديثونه ليکلي دي.

امام ابوحنيفة﷬په ناسخ او منسوخ حديثونو کې زياته څېړنه کول کوفه چې په دغه زمانه کې دعلم کور ورته ويل کېده هرڅومره محدثين چې پکښې وه ده مبارک دټولو حديثونو جمعه کړي وه کله چې به ددباندي څخه يو محدث راغلی نو ده به شاګردانو ته امر وکړی: چې که دده سره يو داسې حديث وي چې زموږ سره نه وي نو څېړنه يې وکړی .امام ابوحنيفة﷬ چې به کله په يو علمي مجلس کې ديوې مسئلې څېړنه کول په دغه مجلس کې به په حديثو او فقه پوه خلګ په زيات شمېر ناست وه نو کله به پردغه مسئله يوه مياشت خبرې وسوې وروسته چې به فيصله وسوه نو هغه به دده مذهب وګرځول سو او وه به ليکل سوه

دامام ترمذي﷬دنامه څخه به څوک ناخبره وي (يعني هرسړی يې پېژني )دحديثو زيات يادول دده خصوصي ځانګړتيا وه او دحافظې په توان کې مشهوره و يو وخت دده څخه محدثينو امتحان واخيستی څلوېښت داسې حديثونه يې بيان کړه چې مشهوره نه و امام ترمذي﷬دستي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان کړه. امام ترمذي رحمه الله فرمایي: ما یوه ورځ د مکې مکرمې په لاره کښې د استاذ څخه دوه حدیثونه نقل کړه نابېره د هغه استاذ سره مې ملاقات وسو که څه هم هغه حدیثونه ما نقل کړي وه خو مې غوښتل چې د استاذ څخه یې په خپله واورم نو د استاذ څخه مې دویلو غوښتنه وکړه استاذ حدیثونه ویل شروع کړه نابېره د استاذ سترګې زما په لاس کې پر هغه کاغذ ولګېدې چې ما هغه دوه حدیثونه پکښې لیکلي وه استاذ چې کاغذ ولیدی نو دواړه حدیثونه یې ولیدل ناراضه سو او ماته یې وویل: ته نه شرمیږې چې حدیثونه دې زده دي او د رسره دي بیایې په ما هم وایې ما ورته وویل: استاذه! دا حدیثونه ما ستا څخه پرلاري واورېدل ته چې هر حدیث ووایې زما دستي په یاد وي د استاذ باور نه وسو نو راته وې ویل: ښه ته هغه حدیثونه ووایه چې ما ویلې وي، ما هوله حدیثونه ورته وویل بیا استاذ راته وویل دا حدیثونه به ستا د پخوا څخه یاد وه ماورته وویل: استاذه! ته اوس نوي حدیثونه ووایه زه به یې دستي درته ووایم استاذ نوي حدیثونه وویل ما دستي په یاد ورته وویل یوه غلطي مې نه وکړل. دا د پخوانیو محدثینو او علماو زحمتونه وه چې د علم په لاسته راوړولو او خورولو کې یې ګالل چې د هغه تولو شمېرل هم ګران کار دئ.

قرطمة رحمه الله یو محدث دئ چې زیات مشهور نه دئ دده یو شاګرد داؤد رحمه الله وایي: خلګو به د ابوحاتم رحمه الله او د اسي نورو د حافظې بیان کاوه خو ما چې د قرطمة رحمه الله حافظه لیدلې ده بل مې هیڅ چیرې دومره حافظه نه ده لیدلې زه یوه ورځ قرطمة رحمه الله ته ورغلم ده راته وویل: په دغه کتابو کې چې دي هر یو زره غواړې را وایې خله زه یې په یاد درته وایم ما کتاب الاشربة را پورته کړی ده مبارک د دغه کتاب هر باب د سر څخه تر پایه پوري تهوله ووایه په دغه ترتیب یې تهوله کتاب په یاد تېر کړی.

ابوذرعة رحمه الله وایي: د امام احمد بن حنبل رحمه الله لس سوه زره ۱۰۰۰۰۰۰ حدیثونه یاد وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسحاق بن راهویه وایي: ما سل زره حدیثونه جمعه کړي دي او ددیرشو زرو ډېر زما په یاد دي. خفاف وایي: اسحاق موږ ته یوولس زره حدیثونه په یاد ولیکل او بیا یې هغه ټوله په لیکل سوي ترتیب په یاد وویل یو حرف یې نه پکښې کم کړی دی او نه یې پکښې زیات کړی دی.

ابو سعد اصبهاني بغدادي دابو نصر بغدادي دحدیثو دزدکړي لپاره دشپاړسو کالو په عمر بغداد ته روان سو پر لاري یې دده دوفات خبر واورېدئ بې اختیاره یې وژړل او په چغو یې وویل: چي ددې استاذ دحدیثو سند به بیا دچا څخه ترلاسه کوم. دا هغه وخت کېدای سي چي دیوچا دیو شی سره مینه وي. دده مبارک مسلم شریف ټوله په یاد و او په یاد به یې طالبانو ته لیکی. یوولس حجه یې کړي وه کله چي به خوراک ته کښېناستی نو سترګي به یې داوښکو څخه ډکي سوې. ابوعمرضریر چي پیدا اسو ړوند و خو دحدیثو په حافظانو کي شمېرل کیږي. په علم فقه ، تاریخ او علم میراث کي یې پوره مهارت درلودئ.

دابو الحسین اصبهاني بخاري او مسلم دواړه یاد وه بخاري خوبې داسي یاد و چي چابه دکوم حدیث سند ووایه ده دستي دهغه حدیث متن ورته وایه. شیخ تقي الدین بعلبکي په څلورو میاشتو کي مسلم یاد کړی او دجمع بین الصحیحین حافظ و ،دکرامت څښتن و ، بزرګ و او دقرآنکریم حافظ و. سورة الانعام یې په یوه ورځ په یاد کړی.

ابن السني دامام نسائي مشهور شاګرد دئ دژوند تر پایه پوري په حدیثو کي مشغول و. زوی یې وایي: زما پلار لیکل کول آخریې قلم او مشوانۍ کښېښوده لاسونه یې په دعا پورته کړه په دغه حالت کي مړسو. علامه ساجي په کوچنیوالي کي دفقه علم لاسته راوړی. بیا په حدیثو مشغول و. په هرات کي لس کاله و اوسېدئ د دغه وخت په اوږدو کي یې شپږ واره ترمذي په خپل لاس ولیکی دابن منده څخه یې غرائب شعبه ، زده کاوه ابن منده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حالت کې د ماخستن تر لمانځه وروسته وفات سو. د استاذ علمي مينه د شاگرد تر علمي مينې د درنښت وړ ده ځکه د ژوندتر آخري پوري يې درس کاوه.

دابو عمر خفاف رحمه الله سل زره حديثونه په ژبه ياد و. د امام بخاري استاذ عاصم بن علي رحمه الله چې کله بغداد ته ورسېدئ نو د شاگردانو دومره باندي گڼه سوه چې زيات وخت به د شاگردانو شمېر سلوزرو ته ورسېدئ يوه ورځ د شاگردانو اندازه معلومه کړل سوه نو يوسل او شل زره شاگردان وه. ځني وختونه به د حديثو ځني الفاظ څوواره تکرار بدل. دده يو شاگرد وايي چې يو وار (حدثنا ابو الليث) لفظ څوارلس واره تکرار سو ښکاره خبره ده چې څوک يوسل او پنځويشت زرو ته اواز رسوي نو خامخا به ځني الفاظ تکراريږي.

ابو مسلم بصري رحمه الله چې کله بغداد ته ورسېدئ نو په يولوی ميدان کي د درس لپاره کښېناستی اوو نفرو به په ولاړه و نورو ته دليکلو لپاره ويل کول لکه د اختر تکبيرونه چې ويل کيږي د درس څخه وروسته مشوانۍ وشمېرل سوې څلويښت زره وې او هغه کسان چې ليکل يې نه کول بلکي يوازې يې اوريدل کول د هغو شمېر تر ليکونکو زيات وو.

د فريابي رحمه الله په مجلس کي په دغه ډول درې سوه ليکوالان ولاړوه د شاگردانو د شمېر ډېروالي د دغه ليکوالانو څخه معلوميږي چې څومره به زيات وه چې يوازې فتحه ورکونکي درې سوه دي. په دغسې سترياو تېرولو سره د دغه پاک دين علم ترنن پوري ژوندی دئ.

امام بخاري وايي: د شپږوسوو زرو حديثونو څخه مي دبخاري د حديثونو انتخاب وکړی چي اوه زره دوه سوه پنځه اويا (۷۲۷۵) حديثونه دي او دده مبارک چي به هر حديث ليکی نو دوه رکعته نفل به يې کول بيا به يې حديث ليکی کله چي بغداد ته ورسېدئ نو محدثينو دده څخه امتحان واخيستی په دې ډول چي لس کسان وگمارل سو دغه کسانو ته يې لس، لس حديثونه انتخاب کړل بيا يې الفاظ وربدل کړل بيا يې دده څخه پوښتنه وکړه په غلط ډول به يې حديث ورته ووايه بيا يې ورته وويل زه نه يم خبر چي حديث څه ډول دئ په دغه ډول لسو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه ځني وکړه ده مبارک په ترتيب سره لومړی و لومړي پوښتوونکي ته وويل: تادا سوال وکړی حديث دي په دې ډول وو ايه دا غلط دئ اصل يې داسي دئ. بيايې دوهم ته وو ايه بيا يې دريم ته وو ايه په دغه ترتيب يې لسو کسانو ته جواب وو ايه او هر سړي ته به يې هغه الفاظ هم ويل چي هغه به اول غلط ويلي وه په دغه ډول يې سل حديثونه دوی ته وويل.

امام مسلم د څوارلسو کالو په عمر د حديثو زده کړه شروع کړه او د ژوند ترپايه پوري په دغه حديثو مشغول و. دی مبارک فرمايي: ما د مسلم شريف د پاره د درو سوو زرو حديثونو څخه حديثونه انتخاب کړه او مسلم شريف مي ځني وليکی چي دوولس زره حديثه پکښې دي.

امام داود فرمايي: ما پنځه سوه زره حديثونه اوربدلي دي په دغه ټولو کي مي څلورزره اته سوه حديثونه انتخاب کړه او سنن ابي داود کتاب مي ځني جوړ کړی.

يوسف مزي يو مشهور محدث دئ ، د اسماء رجال ( د حديث د نقل کونکو د نومانو ) امام دئ اول يې په خپل ښار کې فقه او حديث زده کړل بيا يې مکې مکرمې ، مدينې منورې ، حلب ، حمات ، بعلبک او داسي نورو ځايونو ته سفرونه وکړل. ډېر کتابونه يې په خپل قلم سره ليکلي دي. تهذيب الکمال يې په دوه سوه ټوکه کې ليکلي دئ او کتاب الاطراف يې تر اتياوو جلدو زيات دئ . دده مبارک عادت دا و چي زيات وخت به چوپ و د خلکو سره يې خبري کمې کولې زيات وخت به په کتاب مشغول و ، د حسد کونکو له وجهي دښمني ورته پېښه سوه خو ده د هيچا څخه بدله نه واخيسته . ددې مبارکانو حالات او قصې بېخي ډېري دي د ټولو ليکل لوی ، لوی کتابونه هم نسي کولای خو دلته مي دوې درې قصې د نمونې په ډول ددې لپاره راوړې چي دا د حديثو علم چي ديارلس سوه کاله وروسته داسي پياوړی دئ ، ددې لپاره څومره تکليفونه ايستل سوي دي او په څومره قربانۍ سره ساتل سوی دي او کوم خلک چي د علم لاسته راوړلو دعوې کوي او ځانته طالب العلمان وايي هغه ددې علم لپاره څومره خواری تېره وي آيا په هغه ډول دي که يا ؟ او که صرف وخت تېرول دی ؟ او که چېري موږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرامی ، استراحت ، عيش او عشرت ژوند غواړو او د دنيا په کارنو کي مشغول اوسو او دا مو فکر وي چې د نبيﷺ د دين او حديثو حفاظت کوونکي يو نو دا د (اين خيال است ومحال است وجنون) پرته بل شی نه دئ.

(يعني دا داسي يو فکر دئ چي شونی نه دئ او ليونتوب دئ)([130])

## نــهم بــاب

دنبيﷺ فرمانبرداري ، حکم منل او دا کتل چي د نبيﷺ منشاء مبارکه څه ده؟

که څه هم د اصحابانو هر کار دنبيﷺ په تابعداري کي و او دتېرو قصو څخه هم دا خبره معلوميږي خو دلته يو څو قصې بيانوو چي مورږ د خپلو حالاتو سره په دې باب سره په خصوصي ډول مقابله وکړو او وګورو چي موږ د اللهﷻ او دهغه د رسولﷺ فرمانبرداري تر کومي اندازې پوري کړې ده ، کوم چي زموږ خلک په دې هيله دي چي هغه ترقي او نصرت به موږ ته راسي لکه دوی مبارکانو ته چي راغلی وکه زموږ خلک رښتيا ددې هيله لري نو په هغه ډول دي ژوند اختيار کړي لکه دوی چي وکړی او دنياته يي وښودئ.

١- دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص AA پټو سوځل

---

([130]) نومړی بيت په پوره ډول داسي دی . هم خدا خواهی هم دنيا خواهی هم بنون — اين خىال است ومحال است وجنون .
ژباړه : هم خدای غواړی هم دنيا غواړي هم زامن غوړي دا يوازي خيال دی امکان نه لري اوليونتوب دی په پورته موضوع کي شيخ وفرمايل : چي څوک داسي په عيش اوعشرت کي علم لاسته راوړل غواړي دا داسي دی لکه څوک چي خدای ، دنيا اوزامن ټوله غواړي لکه هغه چي ليونتوب دی په داسي ډول علم لاسته راوړل هم ليونتوب دی . ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷠ فرمايي: چې موږ يو وار د نبيﷺ سره په سفر کې وو زه د نبيﷺ حضور ته ورغلم پر ما باندې يو پټو و چې په کسم (ژړ ډوله رنګ) باندې لړ رنګ سوی و نبيﷺ چې پټو وليدئ نو ماته يې وويل: دا دې څه شی پر ځان اچولی دئ؟ ما د نبيﷺ ددې پوښتنې څخه دده مبارک د ناخوښۍ اثرات معلوم کړل دستې کورته ولاړم په کور کې ښځو په نغري کې اور بل کړی و ما پټو په اور کې واچوی. دوهمه ورځ چې راغلم نبيﷺ راته وويل: هغه پټو دې څه کړئ ما ورته قصه وکړه ده مبارک راته وويل: ولې دې وښځو ته نه ورکاوئ د ښځو لپاره خو يې پروا نه کول.([131])

فايــده: که څه هم د پټو سوځولو اړتيا خونه وه خو د چا په زړه کې چې د چا د ناخوښۍ او ناراضۍ ګذارسوی وي هغه ددې هم نه وي جوګه چې لږ فکر وکړي چې آيا ددې پټو لپاره يوه بله لاره هم سته که يوازې له منځه وړل دي. البته زما په ډول نالايقه چاته به نو خدای خبر څومره فکرونه ورلوېدلي وای چې د نبيﷺ ناراضي څومره اندازه ده او پوښتنه به مې کړې وای چې بله لاره هم لرې داجازې لپاره که يا؟ نبيﷺ خو پوښتنه کړې ده منعه خويې نه ده کړې او داسې نور.

## ۲- د يو انصاري خپله ودانۍ نړول

نبيﷺ يوه ورځ د کور دباندې تشريف وړی و چې وې ليدل يو ګنبده لوړه جوړه سوې ده دملګرو څخه يې پوښتنه وکړه چې دا څه شی دئ؟ ملګرو ورته وويل: دا فلانې سړې ګنبده

[131] ابــو داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړې ده نبيﷺ چوپ سو . يو بل وخت هغه انصاري د نبيﷺ و حضور ته ورغلی نبيﷺ ته يې سلام وواېه نبيﷺ مخ څنې واړوی انصاري فکر وکړی چې ښايي دنبيﷺ نه وي فکر سوی بيا يې سلام ورته وواېه نبيﷺ بيا هم جواب نه ورته وواېه انصاري ددې زغم نه سوای کولای دستې يې د ناستو اصحابانو ﷺ څخه پوښتنه وکړه او خبړنه يې وکړه چې ولې زه د نبيﷺ په نظر نه ورځم ؟ اصحابانو ﷺ ورته وويل: نن نبيﷺ دباندې تللی و ستا گنبده يې وليده بيايې پوښتنه وکړه چې دا دچا ده ؟ انصاري چې دا واورېدل دستې ولاړی هغه گنبده يې ونړول داسې يې د مځکې سره سمه کړه چې هيڅ نښان يې نسو پاته او بيا يې داهم ونه کړه چې راغلی وای او نبيﷺ ته يې ويلي وای چې ستا د ناخوښۍ له وجې مې گنبده ونړول ، نابېره نبيﷺ په خپله هلته تېرېدئ نو وې ليدل چې گنبده نسته پوښتنه يې وکړه ، اصحابانو ﷺ ورته وويل : څو ورځې مخکې چې تاسو دده څخه مخ اړولی و ده زموږ څخه پوښتنه وکړه ، موږ ورته وويل : نبيﷺ ستا گنبده ليدلې ده دی ولاړی هغه گنبده يې بېخي ونړول. نبيﷺ وفرمايل هره آبادي د سړي لپاره عذاب دئ مگر هغه آبادي نه چې دسختي اړتيا او مجبوری لپاره وي.(132)

فـايده: دا دپوره مينې خبرې دي ، دوی مبارکانو داهم نه سوای زغملای چې درسول اللهﷺ مخ مبارک غمجن ووينې ترخپل ځان يې رسول اللهﷺ گران بلی ، دغه مبارک صحابي خپله گنبده ونړوله بيايې داهم نه کول چې د نړېدو وروسته راغلی وای او رسول اللهﷺ ته يې ويلې وای چې ستا د خوشحالی په موخه مې گنبده ونړول بلکې نبيﷺ چې کله په پېښېدونکي ډول هلته ولاړی په خپله يې وليدل. نبيﷺ ته پر آبادۍ باندې پيسې مصرفول په خصوصي ډول ناخوښه کار و په ډېرو احاديثو کې ددې بيان راغلی دئ. په خپله د نبيﷺ د بيبيانو خونې دخرما د ښاخونو کوډلې وې او د دروازو پردې يې د کونيو څخه جوړې وې

(132) ابـوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره چې د پردې سرې نظر دننه ولاړ نسي. یو ځل نبيﷺ یو ځای په سفر تللی وو ام سلميؓ ته یو څه مال په لاس ورغلی نو دې مبارکې خپله خونه د خرما وو د لښتو پر ځای په اومو خښتو جوړه کړه نبيﷺ چې کله ولیده نو دې ته یې وویل: دادې څه کړې دي؟ دې مبارکې ورته وویل : په هغه خونه کې د بې پردګۍ شک و ، نبيﷺ وفرمایل: بدترین شی پر تعمیر باندې پیسې خرڅول دي. عبدالله بن عمرؓ فرمایي : یوه ورځ ما او زما مور د خپل کور دیوال سماوی چې ډېر خراب سوی و نبيﷺ چې ولیدئ نو راته وې فرمایل: مرګ ددې دېوال ترنړېدو ډېر نژدې دئ.([133])

### ۳- د اصحابانو سَرَه پټوان راکښته کول

حضرت رافع ؓ فرمایي: یوه ورځ موږ د نبيﷺ سره په سفر کې و او زموږ په اوښانو کې پټوان پراته وه چې په دغه پټوانو کې سور رنګه تارونه وو نبيﷺ وفرمایل: زه پوهیږم چې دغه سوروالی پر تاسو غالبه کیږي نبيﷺ چې دا ارشاد وفرمایه موږ په داسې وېره کې وغورزېدو چې اوښان یوې خوا اوبلې خواته وتښتېدل او موږ دستي د اوښانو څخه پټوان راکښته کړه.([134])

فـــایده: اصحابانو مبارکانوؓ ته په ژوندکي داسې پېښو اهمیت نه درلودئ البته زموږ د ژوند په لحاظ سره وداسې پېښو ته حیرانتیا کیږي ځکه د اصحابو کرامو ؓ عام ژوند هم داسې و ، د حدیبې صلح چې په لومړی باب دریمه قصه کې یې بیان وسو په دغه صلح کې عروة بن مسعود د کافرانو لخوا و مسلمانانو ته قاصد راغلی و ده د مسلمانانو ژوند په غور سره ترنظر تیر کړی کله چې مکې ته ولاړی و کافرانو ته یې وویل: زه و لویو ـ لویو پاچاهانو ته د

(133) ابـو داؤد
(134) ابـو داؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاصد په توګه تللی یم لکه د فارس ،روم او حبشې پاچاهانو سره چې مې لیدلي دي ماد هیڅ پاچا په دربار کې د درباریانو دومره درنښت نه دئ لیدلی چې خپل پاچا ته یې ورکوي لکه د محمد ﷺ ملګري چې محمد ﷺ ته تعظیم کوي.هیڅکله دده بلغم ومځکې ته نه پرېږدي بلکې هر یوه ته چې په لاس ورسي دستي یې پر مخ او بدن مږي ، کله چې دیﷺ د یو شی امر کوي نو ټول ملګري یې تلوار کوي چې هغه کار وکړي . کله چې هغه اودس کوي نو داوداسه د اوبو اخیستلو لپاره ټوله تلوار کوي چې پر بدن یې ومږي د تلوار بڼه یې داسې وي چې ګویا دوی به په خپلو منځو کې جګړه کوي.او کله چې هغه خبري کوي نو ټوله چوپ سې هیڅوک دده د درنښت له وجهې دده لوري ته پورته نه ګوري.(135)

۴- دحضرت وائل AA د ذباب په لفظ سره وېښته پرېکول

وائل بن حجر AA فرمايي: زه یوه ورځ د رسول اللهﷺ حضور ته ورغلم زماد سرو ښتان ډېر غټ سوي وه کله چې زه ورته مخامخ سوم نو نبيﷺ راته وویل: ذباب،ذباب . مافکر وکړی چې دايې لکه چې زماد سر دوېښتانو په اړه وویل نو زه دستي ولاړم د سر وېښتان مې وکښل کله چې په دوهمه ورځ درسول اللهﷺ حضور ته ورغلم رسول اللهﷺ راته وفرمایل: ماتا ته نه وه ویلي مګر ښه دي وکړه (چې د سر وېښتان دي لري کړه ).(136)

فـــايده: ذباب دسپېره په معني دئ او دبېکاره په معني هم دئ دادنبيﷺ په اشارو باندي د اصحابو دقرباني خبره وه چې دمنشاء پېژندلو وروسته که هغه غلط پوه سوی وي بیا هم په عمل کولو کې به یې ځنډ نه راوستی. دلته نبيﷺ ورته وویل:چې تاته مي نه و ویلي خو دە

(135) بخاري شريف
(136) ابـوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خبره دخپل ځان په اړه بلل په دې وجه څه شونتيا وه چې ځنډ راغلی وای ، د اسلام په پيل کې په لمانځه کې خبرې کول روا وې بيا وروسته منعه سوې حضرت عبدالله بن مسعود AA يوه ورځ د رسول اللهﷺ حضور ته ورغلی رسول اللهﷺ په لمانځه کولو اخته و ده مبارک دعادت سره سم سلام ورته وواېه خرنګه چې په لمانځه کې خبرې منعه سوې وې نو نبيﷺ جواب ورنکړی. دی مبارک فرمايي: د نبيﷺ په جواب نه راکولو سره نوې اوزړې خبرې را پرزړه سوې په بيلو فکرونو کې ډوب سوم کله به مې فکر کاوه چې پر فلانۍ خبره به ناراضه سوی وي کله به مې فکر کاوه چې فلانۍ خبره پښبه سوې ده پرهغه به ناراضه سوی وي کله چې نبيﷺ سلام وګرزاوه نو راته وې ويل چې په لمانځه کې خبرې کول منعه سوې دي نو په دې وجه مې د سلام جواب در نه کړی د نبيﷺ د دې خبرې په کولو سره په ما کې ساه وچلېده.

۵ - د حضرت سهيل بن حنظلية AA عادت او د خريم AA ويښته پرېکول

په دمشق کې سهيل بن حنظلية AA نومې صحابي اوسېدئ يوازې ژوند يې تېروی ډېر کم به يې دخلګو سره ګډون کاوه هيچيري به نه تلی ټوله ورځ به په مسجد کې په لمانځه يا تسبوح مشغول و او يا به يې وظيفه کول ومسجد ته د تللو پروخت د حضرت ابو درداء AA سره مخ سو چې مشهور صحابي دئ ابودرداء AA ورته وويل: په تلو کې د خير يوڅه خبرې کوه زمونږ لپاره فايده ده تاته څه تاوان نسته نو سهيل AA به د نبيﷺ د زماني څه واقعاتي او حديثونه ورته وويل ، يوه ورځ سهيل AA پرلاري روان و ابودرداء AA د عادت مطابق خواست ورته وکړی چې يوه د خير خبره راته وکړه بيا ولاړ سه ده مبارک ورته وويل: يوه ورځ نبيﷺ وفرمايل: چې خريم اسدي AA ښه سړی دئ که چيري دا دوې خبرې نه وای پکښې يو دا چې د سر وېښتان يې لوی دي دوهم دا چې لنګ تر بجلکو کښته کوي کله چې خريم ته د نبيﷺ دا ارشاد ورسېدئ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستي يې چاړه راواخيسته د سر ويښتان يې تر غوږو کښته پرېکړل او لنګ يې تر نيمي پنډۍ پوري پورته تړل شروع کړل.([137])

فايـــده: په ځينو روايتو کي راغلي دي چي نبيﷺ خپله و خريم ته ارشاد وکړی او خريم قسم وکړی چي دادواړه به د اوس څخه نه وي په هرصورت په دواړو روايتـو کي شک نسته، کېدلای سي چي وده ته يې خپله ارشاد فرمايلي وي او دده په نه موجوديت کي دي يې هم ارشاد فرمايلي وي چي اوربدونکی تللی وي او هغه ته يې خبر رسوليوي.

## ۷ - د حضرت ابن عمر د خپل زوی سره خبري نه کول

حضرت عبدالله بن عمر يو ځلي وويل: نبي ◄ فرمايلي دي چي ښځو تـه و مسجد تـه د تللو اجازه ورکوئ دابن عمر يو زوی وويل: چي موږ اجازه نسو ورکولای ځکه دوی ومـوږ ته بهانه جوړوي او دآزادۍ او فساد لاره خلاصوي. حضرت عبدالله بـن عمـر ډېر ناراضه سو او زوی ته يې بد او رد وويل او ورته وې ويل چي زه د نبيﷺ ارشاد درته وايم ته وايي چي اجازه نسو ورکولای ددې څخه وروسته يې د تل لپاره د خپل زوی سره خبري پرېښودې.([138])

فايده: دده مبارک دزوی د اجازې نه ورکول له دې وجهې څخه و چي ښځي فساد ته بهانه جوړوي (دخپلې زمانې دښځو حال يې ليدلی و ) په همدې وجه حضرت عائشة په خپله فرمايي: که چېري نبيﷺ د اوسنيو ښځو حالت ليدلی وای نو ښځو تـه بـه يې و مسجد تـه د تللو اجازه نه وای ورکړې او حال دا چي د عائشي زمانه د نبيﷺ څخه ليري نه وه خو ابن عمرو دا نسوای زغملای چي دی دي د نبيﷺ ارشاد ووايي او څوک دي يو څه شک پکښي پيدا کړي

---

([137]) ابو داؤد

([138]) مسلم ، ابو داؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې پر دې خبره چې هغه د نبيﷺ د ارشاد څخه انکار وکړي ټول عمر يې د خپل زوی سره خبرې نه وکړې . مبارکو اصحابانو په دې کې ډېر تکليفونه راغلل د يوې خوا د نبيﷺ د ارشاد اهميت و چې دوی خپل ځان باله او د ښځو اجازه پکښې امر سوې وه او د بلې خوا د فتنو او فساد بيره وه نو دوی مبارکانو ته هم د ښځو اجازه مشکل کار سو او بندول يې هم مشکل کار سو . حضرت عاتکه چې څو واري يې نکاح سوې وه او د حضرت عمر AA سره يې هم نکاح سوې وه دا به مسجد ته تلل د حضرت عمر AA پر طبيعت ښه نه لګېده يو چا ورته وويل چې ته مسجد ته ځې د حضرت عمر AA نه خوښيږي دې ورته وويل چې دده نه خوښيږي نو منعه دې وکړي . د حضرت عمر AA تر وفات وروسته دې د حضرت زبير AA سره نکاح وکړه د حضرت زبير AA نه خوښېده چې دا مسجد ته ځي خو ددې دلاوري يې نسوای کولای چې منع دې يې کړي ( ځکه د رسول اللهﷺ د اجازې ارشاد و ) يو وار زبير AA د شپې د ماخستن دلمانځه پر وخت پر لارې ورته کښېناستی کله چې دا تېره سوه نو وې ځوروله ده ته خو جائزه وه ځکه مېړه يې و دې د تيارې له امله ونه پېژندی چې دا څوک دئ ددې څخه وروسته دې ومسجد ته تلل پرېښودل، حضرت زبير AA پوښتنه ځني وکړه چې مسجد ته تلل دې ولې پرېښودل ؟ دې ورته وويل: اوس هغه زمانه نه سوه پاته کوم چې د رسول اللهﷺ زمانه وه .

۷-د حضرت ابن عمر څخه پوښتنه چې دلمانځه قصر په قران کې نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضرت ابن عمر شخه چا پوښتنه وکړه چې د کورني سړي د لمانځه بيان خو په قرآن کي سته د ويري د لمانځه بيان سته او د مسافر دلمانځه بيان په قرآن کي نسته ؟ ابن عمر و فرمايل: واوره ! اللهﷻ نبيﷺ جوړ کړی بيا يې راولېږی موږ نه پوهېدو هيڅ مونه پېژندل اوس نو موږ چې هغه مبارک په څه ډول په کولو ليدلی دئ هم غسې به کوو.(139)

فايـــده: مقصد دادئ چې د هري مسئلې وضاحت په قرآن کريم کي لازمي نه دئ بلکې د عمل لپاره د نبيﷺ شخه تائيدول بسه کوئ. پخپله نبيﷺ فرمايلي دي: ماته قرآنکريم راکړل سوی دئ او ددې برابر نور حکمونه راکړل سوي دي ډېر ژر هغه زمانه راتلونکې ده چې د مړې ګيډې وخلک به پر خپلو ګديانو ناست وي او وايي به چې بس قرآنکريم ټينګ ونيسئ کوم احکام چې په قرآن کي دي په هغه عمل وکړئ.(140)

٨- د حضرت ابن مغفل د خذف په وجه خبري پرېښودل

حضرت ابن مغفل يوه ورځ يوه ځوان وراره وليدئ چې ډبري يې غورځولې لوبې يې په کولې نو ده ورته وويل: اې وراره ! دا کار مکوه ځکه د نبيﷺ ارشاد دی: چې دا کار نه ښکار دئ او نه دښمن ته څه تاوان په رسيږي نابېره به پر يو چا ومښلې د هغه به يا سترګه وچوي او يا به يې غاښ مات سي. وراره چې يې کم عمره و دا کار يې نه پرېښودی بلکې چې اکا بـه يې وليدي نو بيا به يې ډبري ويشتل شروع کړه اکا يې ورته وويل: زه د نبيﷺ ارشاد تاته وايم تـه دغـه کـار نـه پرېږدې په اللهﷻ دي مې قسم وي چې بيا به هيڅکله ستا سره خبري نه وکړم پـه يـوه بلـه قصـه کي

(139) شفـا ء
(140) ابـو د اؤ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي دي چې ده ورته وويل: په اللهﷻ قسم کوم چې زه به ستا په جنازه کې ګډون نه کوم او نه به ستا د ناروغۍ پوښتنې ته درځم.([141])

فایـــده: خذف دې ته وايي چې پر بټه ګوته کوچنۍ ډبره کښېږدي بیا یې غورځوي په کوچنیانو کې عموماً د دا ډول لوبو مرض وي دا داسې ډبرې غورځول دي چې ښکار نه پرې کیږي که نابېره د چا پر سترګه ومښلي نو هغه به زخمي کړي حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ دا نسواې زغملای چې د رسول اللهﷺ د ارشاد وروسته دي هغه کوچنی بیا هم دغه کار کوي. موږ هره ورځ د نبيﷺ څومره ارشادات اورو او بیا د هغه څومره اهتمام کوو هر سړی خپله د خپل ځان په اړه پرېکړه کولای سي.(جالبه خو لا داده چې موږ خپل اولادونه دهغه کارونو څخه نه منعه کوو چې رسول اللهﷺ یې منعه کړې ده بلکي موږ خپل ماشومان په داسې کارونو امر کوو چې درسول اللهﷺ مخالفت پکښې وي دمثال په ډول ښکنځل په کوو او داسې نور دضرر رسولو کارونه په کوو او هم هغه توکي ورته په خپل لاس برابروو چې نبوي منعه پرې راغلې ده لکه ډبرو غورځولو ځیني ربړي الات ، پلاستکي توپکان او داسې نور.)

### ۹- د حضرت حکیم بن حزام ﷺ د سوال نه کولو ژمنه

حضرت حکیم بن حزام ﷺ یوه ورځ د نبيﷺ و حضور ته ورغلی او یو شی یې ځني وغوښتی نبيﷺ ورکړی بیا یې په بله موقع کښې یو څه ځني وغوښتل نبيﷺ بیا ورکړه دریم واري یې بیا یو څه ځني وغوښته نبيﷺ ورکړه او ورته وې وفرمایل: اې حکیمه! مال داسې دئ لکه شین باغ خو قاعده یې داده چې که چېري د زړه په شتمنۍ سره راسي نو په دې مال کي

([141]) ابن ماجه ، دارمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکت دئ او که په طمعه او دوکې سره لاسته راسي نو بيا برکت نسته پکښې بيا داسې کيږي ( لکه د غوايي د لوږي ناروغي ) چې هر وخت خوراک کوي خو نه مړيږي. حضرت ابن حزم ﷺ وويل : اې د الله رسوله ! ستا څخه به وروسته زه هيڅوک نه تنګوم . وروسته بيا د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خلافت کې ابوبکر ﷺ و ابن حزام ﷺ ته د بيت المال څخه د يو شی د ورکړې اراده وکړه خو ده انکار وکړی وروسته بيا حضرت عمر ﷺ پخپل خلافت کې د يو شي د ورکړې اراده وکړه او ټينګار يې وکړی خو ده انکار وکړی.[142]

فايـــده : همدا وجه ده چې نن سبا زموږ په مالو کې برکت نسته چې په چل او طمعه سره لاسته راغلي دي.

## ۱۰- د حضرت خذيفة ﷺ د جاسوسی ( مخبری ) لپاره تلل

حضرت خذيفة ﷺ فرمايي: چې د خندق په غزا کې د مکې کافران زموږ طرفته وه او د دوی سره د کافرانو نوري ډيري ډلي وې چې پر موږ باندې راختلي وې او د حملې لپاره تياري وې او دلته په مدينه منوره کې د بني قريظوو يهوديان وه چې هر وخت د دوی څخه دا ويره وه چې دوی مدينه منوره خالي ووينې او زموږ اهل او عيال بيخي را ختم کړي موږ د مدينې باندې د جنګ په سلسله کې پراته وو منافقانو به د کور د يوازيوالي او خالي والي په بهانه د نبيﷺ څخه اجازه غوښته او بيرته به کورو ته راتلل نبيﷺ به هر اجازه غوښتونکي ته اجازه ورکول په دغه بهير کې يوه شپه دومره سخته سيلۍ ( باد ، دوړي ) راغلي چې نه ددې څخه مخکې راغلي وې او نه وروسته او تياره دومره زياته وه چې د يو سړی ليدل خو څه کوې خپل

[142] بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس نه لیدل کېده ، با د دومره سخت و چې بوږهاری یې د برق په څېر و منافقان خپلو کورو ته بېرته تلل زموږ دري سوه کسیزه ډله په دغه ځای کې وه نبيﷺ د هر یوه پوښتنه کوله او دهري خوا څېرنه یې کول په دغه لړ کې نبيﷺ زما خواته تېرېدئ زما سره نه د دښمن څخه د حفاظت وسله وه اونه د یخ دمخنیوي لپاره څه جامه وه یو کوچنی پټو را سره و چې ما اغوستی و پر پوندو باندې پر مځکه پورې مښتي ناست وم نبيﷺ پوښتنه وکړه چې څوک یې ؟ ما ورته وویل: خذیفة یم ، زه د یخ له امله ولاړېدای نسم او د شرم له وجې په مځکه پورې پیوست سوم نبيﷺ راته وویل: ولاړ سه و دربړه د دښمنانو ټولګیو ته ولاړ سه او دهغوی حال راوړه چې څه کېږي ؟ زه په دغه وخت کې د بیرې او یخنۍ له وجهې تر ټولو په بد حالت کې وم خو د رسول اللهﷺ د امر منلو لپاره ولاړ سوم دستي روان سوم کله چې زه روان سوم نو نبيﷺ داسې دعا وکړه:

اللهم احفظه من يديه و من خلفه و عن يمينه وعن شماله ومن فوقه ومن تحته.

ژباړه: اي الله ! دده ساتنه دمخ دلوري او د شا د لوري څخه وکړې د راسته او چپه لوري څخه یې (ساتنه وکړې ) د لوړې او لاندې خوا څخه یې ( ساتنه وکړې ) .خذیفة ﺭﺿ وایي نبيﷺ چې دا دعا وکړه زما څخه بیره او یخني بیخي ولاړل او پر هر قدم ماته معلومېده چې ګویا زه په ګرمۍ کې را روان یم او زما د روانېدو په وخت کې نبيﷺ دا هم راته وویل: چې په پټه خوله ولاړ سه هیڅ حرکت مه کوه محض وګوره چې څه کېږي ، زه چې هلته ورسېدم نو ومې لیدل چې اور بلیږي خلګ ځانونه ورته تودوي یو سړی مي ولیدی چې پر اور لاس تودوي بیا یې پر تشي مږي هري خواته نارې دي چې بېرته ولاړ سئ (یعني درځئ کورو ته ) هر سړی د خپل قوم وخلګو ته د بېرته تلو نارې وهي د دوی پر خیمو باندې د څلورو طرفو څخه با د ډبرې اوروي ، خیمې یې شکیږي، آسونه او نور حیوانات یې هلاکیږي . ابو سفیان چې د ټولو قومونو لکه سردار داسې جوړ سوی و پر اور یې ځان تو داوی په زړه کې مې راغله چې له منځه یې یوسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستي مې د ترکش څخه غشي راوکښی خو دنبيﷺ ارشاد را په ياد سو چي حرکت ونه کړې وګوره راسه ! ببرته مې غشي وترکش ته واچوی دوی ته يو څه شک پيدا سو اووې ويل: په تاسو کې يو څوک جاسوس سته هر يو دي خپل ملګري تر لاس ونيسي ما هم ژر يو سړی تر لاس ونيوی او پوښتنه مي څني وکړه چې ته څوک يې؟ هغه راته وويل: سبحان الله ته ما نه پېژنې زه فلانکی يم زه دهغه ځای څخه ببرته را روان سوم کله چې نيمي لاري ته راورسېدم تقريباً شل سواره دشا له خوا راپسي راغله چې لنګوټې يې ترلي وې او راته وې ويل: چې ته خپل آقا ته ووايه چې اللهﷻ د دښمنانو چاره وکړه ته بې غمه اوسه زه چې کله ببرته راورسېدم نبيﷺ يو کوچنی پټو پر سرکړی و لمونځ يې کاوه د نبيﷺ مبارک عادت داو چې کله به د ويري څه خبره پېښه سوه ده مبارک به د لمانځه و لوري ته توجه کول ، کله چي رسول اللهﷺ دلمانځه څخه فارغه سو ما خپل د حال ټوله قصه ورته بيان کړه کومه چي مي ليدلې وه نبيﷺ چې د جاسوسی قصه واورېده نو غاښونه مبارک يې (دخنداځخه ) و ځلېدل ، نبيﷺ زه د خپلو پښو مبارکو سره پرې ايستلم او دخپل پټو يوه برخه يې پر ما واچول ما خپله سينه د رسول اللهﷺ د تلو مبارکو سره ومښلول.(143)

فايـــده: دا د دوی مبارکانو برخه وه او دا د دوی لپاره مناسبه وه چي په دومره سختو تکليفونو کې د رسول اللهﷺ امر منل د خپل بدن ، مال ، ځان او تر ټولو ورته خوښ و.اللهﷻ دي د استحقاق او اهليت پرته ما ناپاکه ته هم د دوی داتباع يوه برخه را نصيب کړي.

(143) درمنثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم باب

## دښځو ديني جذبه

حقيقت دادئ چي که چېرې په ښځو کي د دين جذبه پيدا سي نو په اولادو کي ددې اثر وجود لازمي دئ او حال دا چي زموږ په ټولنه کي ددې پر خلاف اولادونه په لومړيو وختو کي په يوه داسي چاپيريال کي ساتل کيږي چي پر اولادو باندي د دين خلاف اثر پرېوزي يا لږ تر لږه ودين ته نه پاملرنه پکښې پيدا سي کله چي يوماشوم د پيل څخه د دين په خلاف چاپير يال کي وساتل سي نو نتيجه يې هغه نتيجه ده چي ښکاره ده.

### ۱- د بي بي فاطمې تسبيحات

حضرت علي يوه ورځ خپل يو شاګرد ته وويل: چي زه د ځان او د بي بي فاطمې قصه درته وکړم چي د نبيﷺ نازولې لوروه ؟ شاګرد ورته وويل : بيخي يې راته وکړه علي ورته وويل: بي بي فاطمې په خپلو لاسونو مېچن چلول تر داسي اندازې پوري چې په لاسو کي يې تناکي پيدا سوي پخپله به يې اوبه راوړلې چي د سلواغو د رسۍ نښې به يې په سينه کي معلومي سوې دکور ټول کارونه لکه جارو او داسي نور به يې پخپله کول تر داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازې پورې چې کالې به يې خيرن سوه. يو وار نبيﷺ ته څه غلامان او مينځې راغلې ما وفاطمېﷺ ته وويل چې ته هم ورسه دنبيﷺ څخه يو خادم وغواړه چې د کور په کارو کې مرسته درسره وکړي دا مبارکه دنبيﷺ و حضور ته ورغله هلته چې ورغله ګنه ګونه وه ددې مبارکې په طبيعت کې شرم او حيا ډېره وه نو د شرم له وجهې وپلار ته د نورو مخکې ورتلل شرم او حيا ورته وګڼل سوه نو بېرته راغله دوهمه ورځ نبيﷺ پخپله زموږ کورته تشريف راوړی او وې ويل: اې فاطمېﷺ ! پرون ته راغلې وې څه کار دې و؟ فاطمېﷺ د شرم له وجهې چوپ سوه. عليﷺ وايي ما وويل: چې اې د اللهﷻ رسوله ﷺ ! دا په داسې حالت کې ده چې د ميچني له وجهې يې په لاسو کې تڼاکې پيدا سوي دي د اوبو راوړلو له وجهې يې په سينه کې درسې نښې معلومېږي د کور په کارو کې دومره بوختـه ده چې هره ورځ يې کالې خيرن وي نو ما ورته وويل: چې رسول اللهﷺ ته څه غلامان او مينځيانې راغلې دي ته هم ورسه يو خادم ځني راوله چې مرسته درسره وکړي ددغه لپاره درغلې وه. په ځينو رواياتو کې راغلي دي چې بي بي فاطمېﷺ وويل: اې د الله ﷻ رسوله ! زه او عليﷺ د څرمني يوه بستره لرو د شپې پکښې بيديږو او د ورځې بيا اوښ ته دانه او وابښه پکښې ايږدو. رسول اللهﷺ ورته وويل: لورې !صبر کوه د حضرت موسيﷺ او دهغه د بي بي تر لسو کالو پورې يوه بستره وه هغه هم د موسيﷺ چپنه وه د شپې به پر بيديدل، ته تقوي حاصله کړه د اللهﷻ څخه وويرېږه او دخپل ښبتن تعاليﷻ رضاء لاسته راوړه د کور خدمت کوه کله چې بيدېږې دروديرش واره سبحان الله وايه، دروديرش واره الحمدالله وايه او څلوردېرش واره الله اکبر وايه دغه تسبيح تر خادم ښه دي بي بي فاطمېﷺ وويل: زه د اللهﷻ او د هغه د رسولﷺ څخه راضي يم.[144]

---

(144) ابوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایـــده: یعني کوم څه چي د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ زما لپاره خوښ وي او د دوی پکښي رضا وي زه په راضي یم ماته په خوشالۍ قبول دي. دا د دواړو جهانو دسردار د لور ژوند و. زموږ خلک چې دوې پیسې پیدا کړي نو دکور کارونه خو څه کوي خپل کار هم نسي کولای په تشناب کي د اوبو ګډوه بل څوک ورته ایږدي یوازي په پورتني واقعه کښي د بیدېدو دوخت دذکر بیان سوی دئ. په نورو حدیثونو کي تر هر لمانځه وروسته پورتنۍ دري کلمې درودېرش واره ویل ښودل سوي دي او یو وار لاندینۍ کلمې ویل هم راغلي دي: لا اله الا الله وحده لا شریک له، له الملک وله الحمد و هو علي کل شئ قدیر.

## ۲- د حضرت عائشې ؓ صدقه

د حضرت عائشې ؓ و حضور ته دوې لوی، لوی ګونۍ دپیسو ډکي راوړل سوې چي تر سلو زرو درهمو زیاتي پکښې وې حضرت عائشې ؓ څو لوښي را وغوښتل او هغه یې په ډک کړل وېشل یې شروع کړل تر ماښامه پوري یې ټولي خیرات کړې یو درهم یې لا هم نه پرېښودئ خپله یې روژه وه و مینځي ته یې وویل چي د روژمات لپاره یو شی راوړه مینځي یوه ډوډۍ او څه د زیتون تیل ورته راوړه او ورته وې ویل: څومره به ښه وای چي نن مو د یوه درهم غوښي را غوښتي وای او په غوښو مو نن روژه ماته کړې وای دې مبارکي ورته وویل: اوس نو په پیغور څه کیږي هغه وخت به دې را په یاد کړي وای چي پیسې مې وېشلې ما به را غوښتي وای.(145)

(145) تـذکـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایــــده: د حضرت عائشې رضي الله عنها وحضـور تـه بـه دغـه ډول نـذراني د امیـر معاویـة رضي الله عنه ، عبدالله بن زبیر رضي الله عنه اوداسې نورو حضراتو لخوا وړاندې کېدې ځکه دغه زمانه د فتوحاتو زمانه وه دنیوي فراخي وه پـه کـورو کښـې بـه د غلـو پـه څېـر د اشرفیو زخېرې وې ددې ټولـو اسانتیاوو سره، سره دې مبارکې ډېر ساده او کمزورې ژوند تېراوی آن تر دې چې د روژه مات لپاره به هم د خدمتګار د یادولو اړتیاوه تر سلو زرو درهمو پورې یې پیسې خیرات کړې دا یې هم په فکر کې نه راغله چې زما روژه ده د غوښو راغوښتل غواړې په اوس وخت کې داسې پیښې دومره لیرې سوې دې چې په خپله ددې واقعاتو په ریشتیا کېدو کې لا شک پیدا کیږي خو د کومو کسانو چې دهغې زمانې ژوند تر نظر تېرکړې وي پر داسې واقعاتو او نورو په سوونو واقعاتو باندې هیڅ حیرانتیا نه کوي . په خپله د حضرت عائشې رضي الله عنها ډېرې واقعاتې نژدې ، نژدې دې یو وار یې روژه وه پـه کـور کـې یـې د یـوې ډوډۍ پرتـه بـل هـیڅ نـه وه یـو فقیـر راغلی سوال یې وکړی دې مبارکې و خادمې ته وویل چې هغه یوه ډوډۍ ورکړه خادمې ورتـه وویل چې د روژه مات لپاره په کور کې هیڅ شی نسته دې مبارکې ورتـه وویـل پـروا نـه کوي تـه هغه ډوډۍ ورکړه خادمې هغه ډوډۍ ورکړه.([146])

یو واري یې په کور کې مار مړکړی په خوب کې یو چا ورتـه وویـل چې مسلمان دې مړ کړی دئ دې ورته وویل چې مسلمان و نو دنبي ﷺ د بیبیانو کور ته به نه راتلی هغه ورتـه وویـل چې په پرده کې راغلی و په دې خبره سره ډېره ووېرېده راوېښـه سـوه دولس زره درهمه یعنې د یوه انسان دوینې تویولو سره برابر یې خیرات کړل.

عـروة رضي الله عنه فرمـایي: مـا یـوه ورځ ولیـده چې اویـا زره درهمـه یـې خیـرات کـړل او خپلـه یـې قمیص پیني درلودې.([147])

([146]) مـوطا
([147]) طبقـات

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د حضرت ابن زبير ؓ د عائشې ؓ منعه کول دصدقې څخه او  ددې خوابدتيا

حضرت عبدالله ابن زبير ؓ د حضرت عائشې ؓ خوريى و دې مبارکې دده سره مينه درلوده ګويا خوريى والى يې ورسره پاللى و عبدالله بن زبير ؓ  په دې ډېر پريشانه و چې عائشة ؓ پر خپل ځان دومره تکليفونه تېروي او هر څه چې يې کورته راځي خيراتوي يې يو ځل يې وويل چې د خاله لاس به څنګه ددې کار څخه بندوم حضرت عائشې ؓ ته دا خبر ورسېدئ نو ډېره خوابدې سوه چې دى زما لاس دخيرات څخه بندوي نود نذر په ډول يې قسم وکړى چې دده سره به خبرې نه کوي حضرت عبدالله بن زبير ؓ د خپلې خاله په خوابدتيا سره ډېر په تکليف سو نو ډېر خلګ يې ورته واسطه کړه چې دده سره خوشاله سې خو هغې به دقسم عذر کاوه آخر عبدالله بن زبير ؓ ډېر زړه تنګى سو نو دنبيﷺ د ماما خيلو څخه يې دوه کسان د سپارښت لپاره د ځان سره بوتلل دعائشې ؓ کورته ورغلل دوى مبارکانو د دننه تلو لپاره اجازه واخيسته دننه ورغلل دى هم په پټه ورسره ولاړى د پردې شاته کښېناستل بي بي عائشة ؓ د پردې بلې خواته ناسته وه خبرې شروع سوې ، دى د پردې دننه خواته ورغلى لاس يې په غاړه کې وروا چوى ډېر يې وژړل او خوشامندى يې کولې هغه دوو مبارکانو هم د سپارښت خبرې کولې او دمسلمانانو دخبرو نه کولو په اړه چې رسول اللهﷺ د منعې کوم حديثونه وه هغه يې ورته ويل او دنبيﷺ چې کوم حديثونه د پخلا کېدو په اړه راغلي وه هغه يې ورته بيانول ،حضرت عائشې ؓ چې درسول اللهﷺ حديثونه واورېدل نو هغه عذابونو ته يې طاقت ونسو چې دمسلمان دخبرو نه کولو په اړه رسول اللهﷺ فرمايلي وو نو په ژړا سوه دى يې معاف کړى خبرې يې ور سره شروع کړې خو ددغه قسم په فديه کې يې په واروار غلامان ازاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل آن تردې چې څلوېښت غلامان يې آزاد کړل کله چې به د غه قسم په ياد ورغلی نو دومره به يې وژړل چې پوړنی به يې په اوښکو لوند کړی.([148]) .

فايـــده: مورې د سهار څخه تر ماښامه پوري څومره قسمونه په يوه ساه اخلو بيا يې څومره پروا کوو ؟ددې جواب پخپله په فکر وهلو کې دئ. د کوم چا سره چې د الله ﷻ دنامه عزت وي او هغه د الله ﷻ په نامه قسم وکړي بيا ترې و پوښتې چې په نه وفا يې پر زړه څه تيريږي؟ همدا وجه وه چې عائشې ﷺ ته به قسم په ياد ورغلی ډېر به يې ژړل.

۴- د حضرت عائشې ﷺ د الله ﷻ څخه د ويرې حالت

د رسول الله ﷺ چې د عائشې ﷺ سره څومره محبت و د چا څخه پټ نه دئ آن تردې چې چا به د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو دچا سره ډېر محبت دئ ؟رسول الله ﷺ به و فرمايل چې دعائشې ﷺ سره ددې سره ، سره دا مبارکه په مسئلو دومره خبرداره وه چې لوی ، لوی اصحابان به د مسئلې دخېړلو لپاره ددې حضور ته ورتلل . جبرائيل ؑ به دې ته سلام وايه . رسول الله ﷺ ته په جنت کې ددې د بي بي کېدو زيری ورکړل سوی دئ. منافقانو چې پردې تهمت ولګاوی په قرآنکريم کې ددې دبرائت آياتونه نازل سوه.په خپله عائشة ﷺ فرمايي: په ما کې لس داسي خصوصيات سته چې بله بي بي يې نلري . ابن سعد ؒ په تفصيل سره رانقل کړي دي.

ددې مبارکي دسخا حالت د پورتنيو قصو څخه معلوم سو خو ددې سره ، سره ددې د الله ﷻ د ويري څخه داسي حالت و چې ويل به يې : کاشکي زه درختنه وای چې د الله ﷻ تسبيح

---

([148]) بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ويلای او په آخرت کې زما څخه مطالبه نه وای ، کاشکې زه ډبره وای ، کاشکې زه لوټه وای ، کاشکې زه نه وای پيدا سوې ، کاشکې زه ددرختې پاڼه وای،کاشکې زه وابنه وای.(149)

فايــــده: دالله ﷻ څخه د ويرې بيان په ورته ډول په دريم باب ، پنځمه قصه کې هم تېر سوې دئ.د دوی مبارکانو دا عمومي حالت ودالله ﷻ څخه ويره ددوی يوه برخه وه.

## ۵- د حضرت ام سلمة رضی الله عنها د خاوند دعا او هجرت

ام المؤمينين حضرت ام سلمې رضی الله عنها د نبي ﷺ څخه مخکې د ابوسلمة رضی الله عنه په نکاح وه دوی دواړو په خپل منځ کې دومره محبت درلودئ چې ددې قصې څخه يې اندازه معلومېږي يوه ورځ ام سلمې رضی الله عنها و ابو سلمة رضی الله عنه ته وويل چې ما اورېدلي دي چې مېړه او ماينه دواړه جنتيان وي او ښځه چې د بل مېړه سره نکاح نه وکړي الله ﷻ په جنت کې دغه ښځه وهغه سړي ته په نکاح ورکوي نو راسه ددې لپاره چې ما او تا ژمنه وکړو چې په موږ کې هر يو مخکې مړ سو د بل چا سره به نکاح نه کوي.ابوسلمة رضی الله عنه وويل: چې ته به زما خبره ومنې ؟ام سلمة رضی الله عنها وويل چې زه مشوره کوم ددې لپاره چې ستا خبره ومنم .ابوسلمة رضی الله عنه وويل چې زما تر مرګ وروسته ته نکاح وکړه ، بيا يې دعا وکړه چې اې خدايه !زما څخه وروسته ام سلمة رضی الله عنها ته تر ما غوره خاوند ورنصيب کړې چې نه دا تنګوي او نه يې په عذابوي .دوی دواړه يعني ښځه او خاوند د اسلام په شروع کې و حبشې ته يو ځای مهاجر سوه دحبشې د هجرت وروسته يې بيا مدينې منورې ته هجرت وکړی چې خپله ام سلمة رضی الله عنها يې قصه په تفصيل سره داسې بيانوي : ام سلمة رضی الله عنها وايي: کله چې ابوسلمة رضی الله عنه د هجرت اراده وکړه نو اوښ يې تيار کړی زه او زما زوی

(149) بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلمة يې پر سپاره کړو ابوسلمة د اوښ مهار کشاوی زما پلرګنۍ بنو مغيره چې موږ وليدو نو ابوسلمة ته يې وويل چې ته دخپل ځان اختيار لرې آزاديې موږ خپله نجلۍ ستا سره نه پرېږدو چې ته يې ښار په ښار ګرځوې دستي يې د ابو سلمة د لاس څخه د اوښ مهار کش کړی زه يې په زوره راکښته کړم زما خسرګنۍ بنو الاسد خبر سوه چې د ابو سلمة خپلوان وه هغوی چې دا حالت وليدی نو زما د پلرګنۍ سره په جنګ اخته سوه او ورته وې ويل چې تاسو ابوسلمة ته نجلۍ په لاس نه ورکوی نو تاسو هم دخپلې نجلۍ اختيار لرى مګر زموږ هلک سلمة په لاس نه درکوو (چې ددوی مبارکانو زوی و) دا مبارکه وايي چې زما خسرګنۍ هلک را څخه وګرزوی زه يې د پلرګنۍ په لاس ورکړم په دغه حالت کي موږ درې سره پر درې لاري سو ابوسلمة مدينې ته ولاړی زه د پلرګنۍ سره پاته سوم او زوی مې د نيکه کور ته ورسېدئ زه به هره ورځ ميدان ته راتلم تر ما ښامه پوري به مې ژړل پوره يو کال مې وژړل چې نه زه خاوند ته ورتلای سوم او نه ماته زوی راکول کېدئ يوه ورځ زما د اکا زوی پرما زړه وسو خپلو خلګو ته يې وويل: تاسو ولې پردې مسکينې رحم نکوی دمېړه څخه مو جلا کړې ده د زوی څخه مو جلا کړې ده دا ولې نه پرېږدی چې خپل مېړه ته ولاړه سي؟ لنډه دا چې زما دا اکا زوی په خبرو دوی راضي کړه دوی ماته اجازه راکړه چې که مېړه ته ځې نو ولاړه سه. بنوالاسد(زما دخاوند قريبانو) چې دا حال وليدئ نو هغوی هم زما زوی را سره کړی ما يو اوښ تيار کړی او زوی مې په غېږ کي ونيوی يوازې مدينې ته روانه سوم درې څلور ميله تللې وم چې په تنعيم کي مې عثمان بن طلحة وليدی ده زما څخه پوښتنه وکړه چې يوازې چېرې ځې؟ ما ورته وويل چې پخپل خاوند پسې مدينې ته ځم بيايې راته وويل ستا سره بل څوک سته ؟ ما ورته وويل: د الله ﷻ پرته بل څوک نسته را سره نو ده د اوښ مهار ونيوی مخکي روان سو. په الله ﷻ قسم کوم چې ما تر عثمان بن طلحة شريف سړی نه و ليدلی. کله چې به زه کښته کېدم نو اوښ به يې چوک کړی دی به خپله د يوې درختي شاته جلا کښېناستی کله چې به د سپرېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت سو نو اوښ به يې نژدې ماته چوک کړی زه به پر سپره سوم بيا به ده د اوښ مهار ونيوی روان به سو پر دغه ترتيب مديني ته ورسېدو کله چي قبا ته ورسېدو نو عثمان راته وويل: ستا خاوند دلته دئ تر دغه وخته پوري ابو سلمة ﷺ په قبا کې اوسېدئ عثمان بن طلحة زه مديني ته ورسولم دی بېرته مکې ته ولاړی دا مبارکه بيا وايي په الله ﷻ قسم کوم چي ما دعثمان بن طلحة په څېر شريف او کريم سړی نه دی ليدلی. پدې کال کې چي ما څومره زحمتونه تېر سوي دي ښايي پرهيچا نه وي تېر سوي.([150])

فايـــده: دا پر الله ﷻ باندي د توکل خبره وه چي يوازي يې د هجرت اراده وکړه الله ﷻ په خپل فضل سره ددې د سفر دسامان انتظام وکړی او ددې مرسته يې وکړه څوک چې پر الله ﷻ باندي توکل کوي الله ﷻ د هغه مرسته کوي د بندګانو زړونه د الله ﷻ په قدرت کې دي دښځي لپاره چي هجرت فرض وي يوازي هم سفر کولای سي که څه هم محرم نه وي ورسره هم دا وجه ده چي ددې پر سفر باندي شرعي نيوکه نسته.

## ۲- دحضرت ام زياد ﷺ د يو څو ښځو سره دخيبر په جنګ کې ګډون

د رسول الله ﷺ په زمانه کې نارينوو د جهاد مينه او محبت درلودئ چي په زيات شمېر سره يې قصې راغلي دي خو د جهاد دګډون په شوق کې ښځې هم تر دوی نه وي پاته تل به يې د

([150]) اسد الغابة . کومه ښځه چي دوهمه نکاح وکړي په اړه يې دوه حديثه راغلي دي په يوه حديث کې راغلي دي چي دوهم مېړه ته په جنت کې ورکول کېږي په دوهم حديث کې راغلي دي چي ښځې ته اختيار ورکول کېږي دکوم مېړه سره چي اوسېدل غواړي دهغه سره به اوسېږي. پدې خبره کې هم اختلاف سته چي په جنت کې به يوه سړی ته څومره بيبياني ورکول کېږي . هذا الهامش من الشيخ ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد سره مینه درلوده کله چې به موقع په لاس ورغله نو ځان به یې رساوه ، حضرت ام زیادؓ فرمایي: موږ شپږ ښځې په جهاد کې د شریکېدو لپاره رواني سو نبيﷺ چې خبر سو نو موږ یې راوغوښتلو او په مخ مبارک کې یې د درد(غصې) نښې ښکارېدې راته وې فرمایل: تاسو د چا په اجازه راغلي یاست؟ موږ ورته وویل: اې د اللهﷻ رسوله ◄ !زموږ وړې وربشلـ زده دي او په جهاد کې اړتیا ورته پېښیږي او دواوې هم زموږ سره دي که نور هیڅ نه وي نو د مجاهدینو سره خو په غشو ورکولو کې مرسته کولای سو ،که څوک زخمي سي نو د هغه درملنه خو کولای سو ، د اوبو لوښي موښې ډکولای سو ،د چیښلو لپاره خو اوبه برابر ولای سو.([151])

فایده: اللهﷻ په هغه وخت کې په ښځو کې داسې دلاوري پیدا کړې وه چې دنن سبا سړي یې نه لري ، ګورئ دغه مبارکې اصحابیاني د خپل شوق له مخې د جهاد ډګر ته رسېدلې وې او څومره کارونه یې دځانو لپاره په خپله وټاکل ، حضرت ام سلیمؓ سره ددې چې عبدالله بن طلحه یې په نس وو یعني حامله وه دحنین په غزا کې یې ګډون وکړی او یوه چاړه یې د ځان سره ساتلې وه رسول اللهﷺ پوښتنه ځنې وکړه چې دادې دڅه لپاره ساتلې ده؟ دې ورته وویل: که کوم کافر ماته نژدې کېدئ نو زه به یې په دغه چاړه ووهم تردې مخکې د احد په غزا کې هم شریکه سوې وه د زخمیانو او ناروغانو دارو درمل به یې کاوه حضرت انس ؓ فرمایي: ما حضرت ام سلیم او عائشهؓ ولیدې چې د اوبو لوښې یې په چابکی سره ډکول او راوړل یې زخمیان یې اوبول کله چې به لوښي خالي سوه بیا به تللې.

## ۷- د ام الحرامؓ د البحر په غزا کې د شرکت خواهش

([151]) ابـو داؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ام حرام د انس خاله وه نبيﷺ به د هغې کورته زيارت تشريف وړی او کله ـ کله به يې د غرمې آرام هم ددې په کور کې کاوه يوه ورځ نبيﷺ ددې په کور کې آرام کاوه په مسکا راپورته سو ، ام حرام پوښتنه ځني وکړه چې زما مور او پلار دې تر تا قربان سي پر څه شي مسکی سوې؟ ده مبارک وفرمايل: زما د امت څه خلک ماته وښودل سوه چې د درياب پر څنډه د جنګ په اراده داسې پر آسانو سپاره دي لکه پاچهان چې پر تختو ناست وي ام حرام وويل: اې د اللهﷻ رسوله ! ماته هم دعا وکړه چې اللهﷻ مې په دوی کې شامله کړي ، نبيﷺ وفرمايل: ته به هم په دوی کې شامله سې له دې څخه وروسته بيا نبيﷺ آرام وکړی ، بيا راپورته سو مسکی ام حرام د مسکا سبب ځني وپوښتی نبيﷺ په هغه ډول جواب ورکړی دې بيا ورته وويل : اې د اللهﷻ رسوله ! ماته دعا وکړه چې زه هم د دوی په ډله کې داخله سم نبيﷺ ورته وويل: ته به په لومړی ډله کې يې

د حضرت عثمان په خلافت کې امير معاويه د شام حاکم و پر جزائر قبرص باندي يې د حملې کولو اجازه وغوښته حضرت عثمان اجازه ورکړه ، امير معاويه يو لښکر تيار کړی او حمله يې وکړه په دغه لښکر کې ام حرام او ددې مېړه دواړه موجود وه د بېرته راتګ پر وخت ام حرام پر يوه غاتره سپره وه چې هغه غاتره و توريده دا مبارکه ځني ايله سوه مغزی يې مات سو او وفات سوه او هم هلته خاورو ته وسپارل سوه.([152])

فايده: داد جهاد سره مينه وه چې په هره غزا کې به يې دګډون شوق کاوه خو لکه څرنګه چې د ام الحرام په دوهم جنګ کې ګډون په تقدير کې نه و ليکلی نو ځکه يې ګډون نه وکړی او رسول اللهﷺ هم دعا نه وه ورته کړه.

(152) بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- د حضرت ام سليم رضي الله عنها د زوی د مرګ سره ، د خپل مېړه سره يو ځای والی

حضرت ام سليم رضي الله عنها د حضرت انس رضي الله عنه مور وه کله چې د انس رضي الله عنه پلار وفات سو نو د انس رضي الله عنه د پالنې په موخه يې تر څه وخته پورې نکاح نه وکړه ځو ورځې وروسته يې د ابو طلحة رضي الله عنه سره نکاح وکړه د ابو طلحة رضي الله عنه څخه يې يو زوی ابو عمير پيدا سو نبي ﷺ چې به کله د دوی کورته تشريف يو وړی نود ابو عمير سره به يې خوشطبعي کول. نابېره ابوعمير وفات سو ام سليم رضي الله عنها ښه پاک ولمبوی کفن يې ورکړې پر يو کټ يې پرې ايستی د ابو طلحة رضي الله عنه روژه وه د خوراک شيان يې ورته برابر کړه او خپله يې ځان ښه ښايسته کړی خوشبويي يې ولګول ماښام چې يې خاوند راغلی ډوډۍ يې وخوړله او د خپل زوی پوښتنه يې وکړه دې ورته وويل: چې هغه خو اوس آرام دئ بيخي ښه سوی دئ نو خاوند يې ډاډه سو دشپې يې د خپلې ميرمنې سره يو ځای والی وکړی کله چې سهار سو ام سليم رضي الله عنها و ابو طلحة رضي الله عنه ته وويل: که څوک تاته څه پيسې په قرض درکړي او بيا يې بېرته غواړي نو بېرته يې ورکول په کار دي او که نه ؟ابو طلحة رضي الله عنه ورته وويل: ورکول يې په کار دي د ځان سره د ساتلو هيڅ حق نه لري دهغه شی دی بيرته يې غواړي. وروسته ام سليم رضي الله عنها ورته وويل: ستا زوی چې الله ﷻ تاته امانت درکړی و بېرته يې واخيست په دې خبره سره ابوطلحة رضي الله عنه غمجن سو او ورته وې ويل: تا ولې زه نه خبرولم . سهار د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلی او ټوله قصه يې ورته وکړه نبي ﷺ ورته دعا وکړه او وې فرمايل چې ښايي الله ﷻ په د غه شپه کې برکت واچوي. يو انصاري وايي چې ما د نبي ﷺ د هغې دعا برکت وليدی د هغې شپې د حمل څخه عبدالله بن طلحة رضي الله عنه پيدا سو چې دده بيا نهه اولادونه وسوه ټولو قرآن کريم ولوا ستی.[153]

[153] بخاري - فتح

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: ډېر دصبر خبره ده چي خپل زوی يې مړ سي او پـه دغـه ډول دي يې وزغمي چي خاوند يې هم په پوه نسي ځکه چي د خاوند يې روژه وه که چېري خبر سي نو د خوراک څخه به ووزي.

## ۹- د حضرت ام حبیبې خپل پلار پر بستره نه کښېنول

ام المومنین حضرت ام حبیبة د نبيﷺ څخه مخکي د عبدالله بن جحش په نکاح کښي وه دوی دواړه يعني مېړه او ماينه يو ځای مسلمانان سوي وه او د حبشې هجرت يې هم يو ځای کړی و کله چي حبشې ته ولاړل نو مېړه يې د اسلام څخه واوښتی مرتد سو دکفر په حالت کي مړ سو دي مبارکي د کونډتوب وخت په حبشه کي تېر کړی نبيﷺ د نکاح پيغام ورواستوی او دحبشې د پاچا په معرفت نکاح وسوه چي ددې باب په پای کي به دبيبيانو په بيان کي راسي ، د نکاح څخه وروسته يې مديني منورې ته تشريف راوړی د حديبې د روغي جوړې په وخت کي ددې پلار ابو سفيان مديني منورې ته راغلی چي د نبيﷺ سره د روغي جوړې د ټينګوالي لپاره خبري وکړي ، د لور دملاقات لپاره کورته ورغلی کله چي دی ورغلی ددې په کور کي بستره غوړېدلې وه ابوسفيان پر کښېناستی حضرت ام حبیبې هغه بستره ژر راټوله کړه پلار يې حيران سو چي ددې پر ځای چي بستره را هواره کړي ، هواره کړې بستره يې ټوله کړه پوښتنه يې ځني وکړه چي زه په دې بستره نه ارزېدم چي راسه ټوله دي کړه او که يې زه وړ نه وم؟ ام حبیبې ورته وويل: دا د اللهﷻ دپاک نبيﷺ بستره ده او ته ناپاکه مشرک يې زه تا څنګه پردې بستره کښېنوم ، پلار يې ډېر ورته په درد ( غصه ) سو او ورته وې ويل: چي له ما څخه د جلاکېدو وروسته په ډېرو بدو عادتونو اخته سوې يې خو د ام حبیبې په زړه کي چي د رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهﷺ کوم درنښت و دهغې په وجه يې دانسواى زغملاى چي يو ناپاک مشرک دي يې پر بستره کښېني که يې پلار وي يا بل څوک وي.

يو ورځ يې د نبيﷺ څخه د ثابت د دوولسو رکعتونو فضيلت واورېدى نو تل به يې په پابندۍ سره کول.

ددې پلار چي اوس يې قصه تېره سوه وروسته مسلمان سو کله چي وفات سو نو لوريې دريمه ورځ خوشبويي را وغوښتل او استعمال يې کړه او وې ويل چي زما و خوشبويي ته اړتيا نه وه او نه مي شوق ورته کېدئ خوما دنبيﷺ څخه اورېدلي دي چي ښځي ته د مېړه پرته جائز نه ده چي پر بل چا باندي تر درو ورځو زيات غم وکړي يوازې به پر مېړه باندي څلور مياشتي او لس ورځي غم کوي زه له دې وجهي خوشبويي استعمالوم چي غم ونه ګڼل سي. کله چي يې د وفات وخت را ورسېدئ نوحضرت عائشة يې را وغوښتله او ورته وې ويل چي زما او ستا د بنوالي ژوند و او دبنو تر منځ خامخايو څه راځي نو اللهﷻ دي ماته بخښنه وکړي او ته يې هم راته وکړه حضرت عائشې ورته وويل: اللهﷻ دي تاته ټول شيان درو بخښي او معافي دي درته وکړي ، دې چي دا واورېدل نو ورته وې ويل: تا ماته ډېره خوشحالي راوبخښل اللهﷻ دي تاته هم خوشحالي درکړي او اللهﷻ دي تر او تازه و لره وروسته يې ام سلمې ته هم سړى ور ولېږى.([154])

فايده: دبنو په منځ کي داسي اړيکي وي چي يوه دبلي درنګ ليدل هم نه غواړي خودي ته دا معلومه وه چي د دنيا اړيکي پر همدې ځاى خلاصيږي او دآخرت بارونه به مي پر سر پاته سي. ددې چي دنبيﷺ سره څومره محبت و اودنبيﷺ چي څومره درنښت ددې سره و په پورته قصه کي د بسترې څخه معلوم سو.

([154]) طبقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰- د حضرت زينب ﷺ د افک په معامله کي پاکوالی او صدقه

ام المومنين حضرت زينب بنت جحش ﷺ په قرابت کي د نبي ﷺ د خاله لور وه د اسلام په پيل کي مسلمانه سوې وه په اول کي ددې نکاح د حضرت زيد AA سره سوې وه نوموړي د نبي ﷺ ازاد سوی غلام و او نبي ﷺ په زوی سره هم نيولی و په همدې وجه ورته زيد بن محمد ﷺ ويل کېږي.

د زيد AA د زينب ﷺ سره جوړوالی نه راغلی نو زيد AA طلاق ورکړی نبي ﷺ پدې موخه چي د کفر دوخت دا دود مات کړي چي کوم ځوک به په زوي والي سره نيول سوی و هغه د سکه زوی په څېر و د ماينې سره به يې نکاح نه کول (يعني لکه چي د مړور سره نکاح نه ده روا د کفر په وخت د نيول سوي زوی د مېرمنې سره هم نکاح روا نه وه دا چي د غه رواج مات سي) نو نبي ﷺ و زينب ﷺ ته د نکاح پيغام ورواستوی زينب ﷺ ورته وويل: زه د خپل خداي ﷻ سره مشوره کوم دستي يې اودس تازه کړی دلمانځه نيت يې وکړی او وې ويل: چي د الله ﷻ د مشورې پرته زه کار نه کوم ، ددې د دغه پاک نيت برکت و چي الله ﷻ پخپله د نبي ﷺ نکاح د زينب ﷺ سره وکړه او دا آيات نازل سو:

✍□♉⬀❁♌♓♗ ⊘⑨⬀③⊡♒ ▤⊘❁⊘⬩♔ ✍●☺■◘⬩▫

♦♌❑⬈▤♦③ ⬩⬩ ⬀❼⬩▯♌♎ ✍⊡♑⬩▤◷□✡⇳♉☐❒⊡♒ ✁ॐ❷⬩⬖◆❒

☑❼♓✗ ⊘●♦❷⊡❍ ♦✗✓♌☪♌♗⬀⬩⇦☺⬂♎✍✁ ❼■✍◆⬉

✁⬩➊♓☽ ⬀☠♓♑⊘✶✎✍◆⓿♌⬉⬃⑩❒📖 ➬●◷◆❒⬂♒❒📖

(c) ketabton.com: The Digital Library



♏︎⍓︎♒︎⌧︎✍︎◆︎❑︎ 🗐 ✂︎ॐ❷⬧︎⬥︎◆︎❑︎ ⚫︎♊︎⬃︎⬅︎⬀︎✵︎♎︎✌︎ ☎︎✂︎⬀︎❑︎⬧︎♑︎⬧︎♒︎ 🕮︎❑︎✌︎⬂︎❷⬉︎✂︎✍︎✏︎★︎✌︎♦︎⌸︎⬂︎➔︎⬉︎❑︎⬧︎⚶︎ ⬀︎♑︎⌧︎⬀︎ [155]

ژباړه: نو کله چي زيد خپله اړتيا له هغې(زينب) څخه پوره کړه (جوړوالى يې ورسره نه راغلى) نو موږ هغه (زينب) ستا په نکاح کښي درکړه دپاره ددې چي پر مومنانو باندي تنګي را نسي په ښځو کي د زوى نيول سوي ( يعني دنيول سوي زوى دښځي سره نکاح روا سي ) کله چي هغوى خپل ضرورت پوره کړى وي ، او د الله ﷻ امر خامخا کېدونکى دى.

کله چي زينب ته ددې آيات د نازلېدو زيرى ورکړل سو نو دې زيري کونکي ته هغه کالي ورکړه کوم چي يې اچولي وه او پخپله پرسجده پرېوته او دوې مياشتي روژه يې نذر کړه.

دحضرت زينب دا وياړ په برخه و چي نکاح يې په آسمان کي وسوه او په قرآن کي نازله سوه او دنورو بيبيانو نکاحي د دوى د خپلوانو لخوا سوي وي دا د عائشي مقابلي ته راغله ځکه پر نبي ﷺ باندي د عائشي ترټولو د محبوبيت ناز و او ددې دآسمان دنکاح ناز وو . ددې سره ـ سره چي کله پر عائشي باندي د تورلګولو قصه پېښه سوه نو نبي ﷺ د نورو تر څنګ ددې څخه هم پوښتنه وکړه دې په جواب کي ورته وويل چي زه په عائشه کي د نيکى پرته بله بدي نه وينم دا ريشتني ديندارده . (دادې مبارکي دبني په وړاندي دريزوو )کنه نو همدغه پر بن باندي د تورلګولو وختو او ددې وختو چي دمېره د نظر څخه يې وغورځوي او نازبينه هم وه (ځکه د بني خو هغه بن بيخي نه خوښيږي چي پر مېړه ګرانه وي ) ددې سره يې د زړه له کومي د عائشي صفايي وکړه.

حضرت زينب ډېره بزرګه وه ډېري روژې يې نيولې او ډېر نفلونه يې هم کول پخپلو لاسو به يې زيار ايستي څه چي به په لاس ورغلل خيراتول به يې ، د رسول الله ﷺ د وفات په

(155) سورة الاحزاب الاية (٣٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې بیبیانو پوښتنه وکړه چې ستاسو سره به لومړی کومه بي بي ملاقات کوي رسول اللهﷺ وفرمایل : د چا چې لاسونه اوږده وي دوی مبارکانو لرګي راواخیستل د لاسو اندازه کول یې شروع کړل وروسته معلومه سوه چې د لاسو د اوږدوالي څخه مقصد ډېر خیرات او ورکړه ده ځکه تر ټولو مخکې زینب وفات سوه .

حضرت عمر چې کله د نبيﷺ بیبیانو ته تنخوا مقرره کړه او دې ته یې ددې برخه دوولس زره درهمه ور ولېږل دې فکر وکړی چې دا د ټولو بیبیانو دي نو وې ویل چې د وېش لپاره نوري بیبیاني وړ دي قاصد ورته وویل : داپیسې یوازي ستا دي او دټول کال لپاره دي دې په حیرانتیا سره وویل : سبحان الله دستې یې پر مخ یوه زړه ټوټه ټوکر واچوی ددې لپاره چې دا مال نه ووینې بیا یې وویل چې د خونې په کونج کې یې واچوه او یو ټوکر یې پرې واچوی بیا یې برزه ته وویل : ( د قصې نکل کوونکې دئ ) ددې مال څخه یو موټ فلانې ته ورکړه او یو موټ فلانې ته ورکړه لنډه دا چې په قریبانو او مسکینانو یې یو ـ یو موټ ووېشی آخر لږ پیسې پاته سوې نو برزه یې هم غوښتنه وکړه دې مبارکې ورته وویل : کومې پیسې چې تر ټوکر لاندې پاته سوې دي هغه ته واخله برزه وایي : ما پاته پیسې واخیستې او حساب مې کړې ځلور اتیا درهمه وې ددې څخه وروسته یې دعا وکړه چې اې الله ! راتلونکی کال ماته داسې پیسې مه راکوې ځکه په راتلو کې یې فتنه ده ، ددې دعا قبوله سوه د راتلونکې کال مخکې دا وفات سوه کله چې حضرت عمر ته خبر ورغلی چې دې مبارکې هغه ټولې پیسې خیرات کړې نو دوولس زره نوري یې وروا ستولې دې هغه هم خیرات کړې. سره ددې چې مسلمانانو ډېري فتوحاتي کړي وي او ډېري لاسته راوړني یې درلودې خو ددې څخه د وفات په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کي هيڅ مال نسو پاته يوازي هغه کور ورته پاته سو چي دا پکښي اوسېده ددې دډېري صدقي له امله ددې لقب ماءوى المساکين و يعني د مسکينانو تم ځاى.[156]

يوه ښځه وايي چي زه دحضرت زينب په کور کي وم موږ د کالو په رنګولو اخته وو نبي ﷺ تشريف راوړى موږ چي بې وليدو ببرته ولاړى د زينب دا فکر سو چي نبي ﷺ ته جامې رنګول خوښ نه سوه نو دستي يې هغه رنګ سوي جامې ببرته پرېولې رنګ يې ځني بوتيدو هم ځل نبي ﷺ تشريف راوړى هغه د رنګ اثر نه و نو خوني ته يې تشريف يووړى.[157]

۱۱- د حضرت خنساء دخپلو څلورو زامنو سره په جنګ کي ګډون

حضرت خنسآء يوه مشهوره شاعره وه د خپل قوم د څو کسانو سره يو ځاى مديني ته راغله مسلمانه سوه. ابن اثير وايي : د علماؤ پر دې اتفاق دئ چي په ښځو کي تر دې چا ښه شعر ونه دي ويلي نه مخکي اونه وروسته . د حضرت عمر په خلافت کي په سنه ۱۲ هـ کښي دقادسيې جنګ وسو په دغه جنګ کي دا د خپلو څلورو زامنو سره شريکه سوه د جنګ يوه ورځ مخکي يې خپلو زامنو ته نصيحت وکړى د جهاد جذبه يې پکښي پيدا کړه او ورته وې ويل: اې زما زامنو ! تاسو پخپله خوښه مسلمانان سوى ياست پخپله خوښه مو هجرت کړى دئ په هغه ذات دي مي قسم وي چي دده څخه ماسوا بل څوک د عبادت نسته لکه څرنګه چي تاسو دمورد يوه نس څخه پيدا سوى ياست په همدغه ډول د يوه پلار څخه پيدا سوي ياست ما ستاسو د پلار سره خيانت ندئ کړى نه مي ستاسو ماماګان شرمولي دي او نه مي ستاسو پر عزت څه خال پيدا کړى دى . تاسو ته معلومه ده چي د کافرانو سره جهاد کول څومره ثواب لري

---

[156] طبقات
[157] ابوداؤد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهﷻزیات ثوابونه پکښي ایښي دي دا هم یاد ساتی چي په آخرت کي تل ژوند کول د دنیا تر ژوند ډېر بهتر دئ ځکه اللهﷻفرمایي :

☎✁❑⇖✡♦✌✁♦⇗ ✍✉⇦✍⍾♙⅄✐✍✁ ✍⍌♑⑩③❐⚱✵⌚♦③

☎✁❐⇖❷⍾✍✍✾⌚♦❐ ☎✁❐⇚❸☞✍⇳⌚✍✁

⅄✐✍✁ ☎✁❑→◑☐✍✍✁♦❐ ☎✁❑⇗⊃⍾✍✁♦❻♦❐

(158) ⇐✂☞☞⇨✍♍❑←⍾◘⍂⊞➔✍⇗☠⇗▤✦◘⍌➔✍

ژباړه: اې هغه کسانو ! چي ایمان یې راوړی دئ صبر وکړئ پر تکلیفونو باندي صبر وکړئ ( د کافرانو سره پر جنګ باندي ) ( د کافرانو وجنګ ته ) تیار و اوسئ د اللهﷻ څخه وویرېږئ ښایي چي تاسو خلاص سئ.(159)

نو په همدې وجه کله چي تاسو سهار په سلامتیا سره را کښېناستاست نو په ډېر فکر سره د کافرانو دمقابلې په جنګ کي شریک سئ د کافرانو په مقابله کي د اللهﷻ څخه مرسته وغواړئ په جنګ کي مخکي ځئ کله چي تاسو ووینئ چي جنګ تېز سو لمبې یې پورته سوې نو تاسو هغه تېزو لمبو ته ورننوځئ د کافرانو د سردار سره مقابله وکړئ انشاء الله په جنت کي به په عزت سره کامیاب واوسیږئ. هم داسې وسوه کله چي سبا جنګ په تېزۍ سره شروع سو نو څلور زامن یې نوبت پرنوبت مخکي کېده او دمور نصیحت یې په شعرو کي وایه چي دخلګو شوق اوجذبه په زیاته سي آخر به شهید کېدئ بیا به بل مخکي سو شهید به سو لنډه دا چي څلور زامن یې ټوله شهید سوه کله چي یې مور ته خبر ورغلی چي څلور زامن دي ټوله شهیدان

(158) سورة آل عمران الاية (٢٠٠)
(159) بيان القران

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه دې وويل: الله ﷻ لره دې شکر وي چې د دوی په شهادت سره يې ماته عزت راکړی د الله ﷻ شخه هيله لرم چې زه هم په هغه سايه کې واوسم چې د الله ﷻ د رحمت سايه پر دوی خلوره ده.[160]

فايده: داسې ميندې هم وې چې خپلو ځوانانو زامنو ته يې په تيز جنګ کې د ورننوتلو هڅونه ورکول او کله چې شهيدان سوه نو د الله ﷻ شکر يې ادا کړی.

## ۱۲- د حضرت صفيې رضي الله عنها په يوائې سر د يهودي وژل

حضرت صفية رضي الله عنها د نبي ﷺ عمه وه او د حمزة رضي الله عنه خور وه د احد په غزا کې يې ګډون کړی و په دغه غزا کې چې مسلمانانو شکست وخوړی نو کله چې به يو مسلمان تښتېدی دې به پر مخ په نېزه وهی او بيرته به يې د جنګ لوري ته استوی ، د خندق په غزا کې رسول الله ﷺ ټولې ښځې په يوه کلا کې بندي کړې حسان بن ثابت رضي الله عنه يې باندې محافظ کړی و يهوديانو دا موقع ګټه وبلل او يوې ډلې يې پر ښځو د حملې اراده وکړه ځکه دوی اصلي دښمنان وه نو يو يهودي د حال معلومولو لپاره راغلی صفيې رضي الله عنها دليري شخه وليدئ حضرت حسان رضي الله عنه ته يې وويل چې د کلا شخه دباندې ور ووزه هغه يهودي مړ کړه احسان رضي الله عنه کمزوري سپين ږيری و دلاوري يې ونه کړه نو دې خپله د يوې خيمې موږی را واخيستی دباندې ور ووته هغه يهودي يې په يوازې سر مړ کړی دا چې هغه يهودی نامحرم و نو د يهودي سامان يې نه را واخيستی د سر او پښو شخه ئي شيان نه وايستل راغله و حضرت حسان رضي الله عنه ته يې وويل چې هغه يهودي ما مړ کړی ته ورسه سامان يې راوړه او سر يې هم ورپرې کړه ده بيا د کمزوری له وجهې دلاوري ونه کړه دا په خپله ور ووته سامان يې ځنې راوړی او سر يې ځنې پرې کړی رايې وړی پر ديوال باندې يې د

(160) اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



يهوديانو پر يوې ټولې باندې وروغورزوي يهوديانو چې سر وليدى وې ويل چې محمدﷺ خپلې ښځې يوازې نه پرېږدي خامخا محافظين ور پرېږدي او په کلا کې دننه موجود دي.[161]

فايده:حضرت صفيةﷺ د هجرت په شلم کال د دراويا کلو په عمر وفات سوې ده او دخندق غزا د هجرت په پنځم کال کې سوې ده نو په دغه وخت کې ددې عمر (۵۸) کاله کيږي په اوس وخت کې زموږ ښځو ته په دومره عمر کې د کور کار لا ورته ګران وي پر يوازې سر سړی قتلول خو لا ايسته پرېږده په داسې حال کې چې يوې خواته ښځې وې او بلې خواته د يهوديانو نارينوو ډله وه .

## ۱۳- د حضرت اسماءﷺ د ښځو د ثواب په هکله پوښتنه

حضرت اسمآء بنت يزيدﷺ يوه صحابيه وه د نبيﷺ وحضور ته ورغلل او ورته وې ويل: اې د اللهﷻ رسوله ﴿ ! زما مور او پلار دې تر تا قربان سي زه د مسلمانانو ښځود استازي په توګه راغلې يم تاسو اللهﷻ دنارينوو او ښځو دواړو لپاره پيغمبر لېږلی يې موږ ښځې پر اللهﷻ او پر تاسو ايمان لرو موږ په کورو کې ګېريو نارينوو موږ په کورو کې ښخې کړي يو د نارينوو خواهشات زموږ څخه پوره کېږي د دوى اولادونه موږ په نس وړو ددې ټولو خبرو سره ـ سره نارينه تر موږ په ديني کارو کې مخکې دي ، د جمعې لمونځ کوي ، لمونځ په جماعت کوي ، دناروغانو پوښتنه کوي ، په جنازو کې ګډون کوي ، دحج پسې بل حج کوي او تردې ټولو زيات جهاد کوي ، کله چې دوى حج ، عمرې او جهاد ته ځي نو موږ ښځې د دوى دمالو حفاظت کوو ، جامې ور جوړوو او اولادونه يې ور پالو ايا موږ د دوى سره په ثواب کې شريکې نه يو؟

[161] اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبيﷺ چې ددې خبرې واورېدې اصحابو ته متوجه سو ورته وې ويل: آيا تاسو د دين په اړه تر دې ښځې ښه سوال کوونکی ليدلی دئ؟ اصحابو ورته وويل: اې د اللهﷻ رسوله ◄ ! موږ هم فکر نه کاوه چې ښځې دې هم داسې سوال کولای سي رسول اللهﷺ د اسمآء و لوري ته متوجه سو او ورته وې ويل: اې اسماء ! ښه يې واوره او ځان په پوه کړه او هغه ښځو ته يې وښيه چې ته يې رالېږلې يې چې دښځې د خپل مېړه سره ښه سلوک ، د مېړه خوښې لاسته راوړل او په امر يې عمل کول دهغه دټولو ثوابونو سره برابر دئ اسماء چې دا خبره واورېدل ډېره خوشحاله سوه او بېرته ولاړل.(162)

فايده: دښځو د خپلو مړو سره ښه سلوک کول او د دوی اطاعت کول ډېر قيمتي شی دئ خو ښځې په ناخبره دي. اصحابانو يوه ورځ رسولﷺ ته وويل: عجم خلګو خپلو پاچهانو او سردارانو ته سجده کوي ته تر دوی ډېر حقدار يې موږ به تاته سجده کوو نبيﷺ منع وکړه او ورته وې ويل: که چيري د اللهﷻ پرته بل چاته سجده روا وای نو ښځو ته به يې امر کړی وای چې خپلو مړو ته سجده وکړي بيا نبيﷺ وفرمايل: په هغه ذات دې مې قسم وي چې زما روح يې په قدرت کې دئ چې ښځه به تر هغه وخته د خپل خدای حق ادا نه کړي تر څو د مېړه حق يې نه وي ادا کړي ، په يو حديث کې راغلي دي چې که يوه ښځه په داسې حال کې مړه سوه چې مېړه يې ځني راضي و جنت ته به ځي ، په يوه حديث کې راغلي دي چې که چيري يوه ښځه د خپل مېړه څخه نا راضه سي او ولاړه سي جلا شپه تېره کړي ملائکې لعنت باندي وايي ،په يوه حديث کې راغلي دي چې د دوو کسانو لمونځ چې تر سر پورته سي د قبوليت لپاره آسمان ته نه ځي يو غلام چې د بادار څخه تښتېدلی وي دوهمه ښځه چې مېړه ځني ناراضه وي.

(162) اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴- د حضرت ام عمار ﷺ اسلام او په جنګ کې ګډون

حضرت ام عمار ﷺ يوه انصاري صحابيه ده چې د اسلام په پيل کې مسلمانه سوې ده او په بيعة العقبة کې يې ګډون کړی دی دعقبة معنې دَرّه ده نبي ﷺ په اول کې خلک په پټه مسلمانانول ځکه کافرانو دغه مسلمانانو ته بيا ډير تکليفونه ورکول دمدينې څخه خلک د حج په زمانه کې راتلل د منې په غره کې يوه دره وه په دغه دره کې به پټه مسلمانانېدل . د هجرت وروسته چې کله د جنګونو سلسله پيل سوه نو دا په زياتو جنګونو کې شريکه سوې ده خصوصاً د احد ،حديبة ، خيبر ، عمرة القضاء ، حنين او ديمامة په جنګونو کې يې ګډون کړی دئ د احد په غزا کې دا خپله قصه کوي چې د احد په غزا کې ما لوښې د اوبو ډک کړي وه احد ته روانه سوم ددې لپاره چې ورسم مسلمانان د نژدې څخه ووينم چې څه حال يې دئ که تږي وه اوبه به ورکړم او که څوک زخمي و دوا به ورکړم په دغه وخت کې ددې عمر دروځلويښت کاله وو اوددې دوه زامن او مېړه هم په دغه غزا کې وه دا وايي په اول کې مسلمانانو فتحه تر لاسه کړه وروسته د کافرانو برلاسی ښکاره سوه ما رسول الله ﷺ ته نژدې ځان ورسوی کوم کافر چې به درسول الله ﷺ و خواته تلی هغه به مې منع کوی په اول کې ددې سره ډال نه وو ورسره وروسته بيا ورکړل سو چې د کافرانو حملې به يې په منعه کولې يو ټوکر يې تر ملا تړلي و د رښکيو (زړو ټوکرانو ) څخه ډک و کله چې به څوک زخمي سو نو دستي به يې يو ټوکر راوا خيستی وبه يې سوځی او هغه زخم به يې په ډک کړی خپله هم زخمي سوه دوولس يا ديارلس ځايه زخمي سوه په دغه زخمو کې يو زخم ډيرزيات و . ام سعيد ﷺ وايي : ما ددې پر اوږو يو ژور زخم وليدئ ما پوښتنه ځني وکړه چې دا زخم څنګه جوړ سوی دئ؟ دې راته وويل: د احد په غزا کې کله چې خلک لالهانده يوې او بلې خواته ګرځېدل نو ابن قيمة را مخکې سو او وې ويل : محمد ﷺ چيرې دئ؟ماته يې يو څوک راوښياست که نن ژوندی ولاړی نو بيا زما خلاصون نسته. مصعب بن عمير AA او څو کسان يې



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومخته ورغلل په هغو کسانو کي زه هم وم ابن قیمة زما پر اوږه ګذار وکړی ما هم څو ګذارونه پر وکړه خو هغه دوې زغري اغوستي وي هیڅ تاثیر یې پر ونه کړی. دغه زخم داسي سخت زخم و چي په ټوکرانو سره مي علاج وکړي خو علاج یې نه و سو. کله چي رسول اللهﷺ د حمراء الاسد دجنګ اعلان وکړی ام عمار هم ملا وتړله خو لکه څرنګه چي زخم یې ډېر تازه و په دغه وجه یې شرکت نه وکړی ، رسول اللهﷺ چي کله دغزا څخه راغلی نو لومړی یې ددې حال معلوم کړی کله چي خبر سو چي دابنه ده نو ډېر خوشاله سو ددې څخه علاوه نور زخمونه هم ددې پر بدن داحد په غزا کي جوړ سوي وه ، ام عمار فرمایي چي په اصل کي دوی سپاره وه موږ پلي (پیاده) وو که چیري دوی یعني کافران هم پیاده وای نو اصلي مقابله به معلومه سوې وای ، کله چي به پر آس یو څوک سپور راغلی نو دهغه حملې به ما په ډال منعه کولې خو کله چي به هغه بلي خواته روان سو نو ما به دهغه دآس پښه پرېکړه آس به غوزار سو سپور به هم راپرېوتی کله چي به هغه راپرېوتی نونبيﷺ به زما زوی ته ناره وکړه زوی به مي راغلی زما مرسته به یې وکړه په دواړو به مو مړ کړی ددې زوی عبدالله بن زید ؓ فرمایي : زما چپه مټ زخمي سو وینه یې نه دربدل نبيﷺ وفرمایل چي پردغه مټ پټۍ وتړه زما مور راغله دملا څخه یې رښکۍ را وایستل او پټۍ یې را وتړل بیا یې راته وویل : ځه ولاړسه دکافرانو سره مقابله وکړه نبيﷺ داپېښه ولیدل او وې فرمایل: اې ام عمار ! دا ستا په ډول څوک همت لري؟( یعني هیڅوک دومره همت نه لري چي خپل زخمي زوی دي جنګ ته استوي ). نبيﷺ په دغه حالت کي دې او ددې کورنۍ ته څو ـ څو واره دعاوي وکړې او ستاینه یې وکړه ام عمار فرمایي یو وار یو کافر راغلی نبيﷺ وفرمایل : اې ام عمار ! دا هغه سړی دئ چي ستا زوي یې زخمي کړی دئ دا وایي ما حمله پرې وکړه پر پنډۍ مي وواهه هغه زخمي سو دستي کښېناستی بیا زموږ څو خلګ ورمخته سوه هغه مو مړ کړی نبيﷺ مسکی سو او راته وې ویل : د خپل زوی بدله دې واخیستل. دا وایي: کله چي نبيﷺ موږ ته دعاوي کولې ما ورته وویل: اې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ رسوله ! موږ ته دعا وکړه چي الله ﷻ مو ستا سره په جنت کي يو ځای کړي کله چي نبيﷺ دغه دعا ورته وکړل دې ورته وويل: چي اوس نو زه هيڅ پروانه کوم هر څومره تکليفونه چي په دنيا کي پر ما تېر سي.د احد د غزا څخه علاوه دا په نورو غزاوو کي هم شريکه سوې ده کارنامې يې معلومي سوي دي.د نبي کريمﷺ د وفات وروسته د اسلام څخه اوښتل زيات سوه او په يمامة کي سخت جنگ وسو دا په دغه سخت جنگ کي هم شريکه سوه په دغه غزا کي ددې يو لاس پرې سوی دئ او يوولس زخمونه يې پر بدن باندي جوړ سوي دي ددغه زخمو په حالت کي مديني منوري ته ورسېده.(163)

فايده: دا د يوې ښځي دکارنامو حال دئ چي د احد په غزا کي يې عمر دروڅلوېښت کاله و او ديمامة په غزا کي يې عمر دوپنځوس کاله وبيايې هم داسي په جنگو کي گډون کاوه دي ته نو کرامت ويل کيږي.

## ۱۵- د حضرت ام حکيم اسلام او په جنگ کي گډون

ام حکيم بنت حارث دعکرمة بن ابي جهل بي بي وه او د احد په غزا کي يې د کافرانو د لوري څخه گډون کړی وکله چي مکة مکرمه فتحه سوه نو مسلمانه سوه دخپل خاوند سره يې زياته مينه وه خو هغه دخپل پلار ابو جهل د اثر له وجهي نه و مسلمان سوی کله چي مکة فتحه سوه نو خاوند يې يمن ته وتښتېدئ دي د رسول اللهﷺ څخه د خپل مېړه دپاره امن وغوښتی بيا خپله يمن ته ولاړه او مېړه يې په ډېر تکليف راضي کړی چي ستا لپاره مي د نبيﷺ

---

(163) طبقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لمن کې امن غوښتی دئ ته د رسول اللهﷺ د توري څخه پناه پیدا کولای سې نوهغه مدینې منورې ته ورسره راغلی مسلمان سودواړو په خوشحالیژوند تېراوه.

وروسته د حضرت ابو بکر ؓ په خلافت کې د روم جنګ وسو عکرمة ؓ ګډون پکښې وکړی دغه ښځه هم ورسره وه ، عکرمة ؓ په دغه غزا کې شهید سو ، بیا ددغه بي بي سره حضرت خالد بن سعید ؓ نکاح وکړه ده مبارک په دې سفر کې په مرج الصفر نومي ځای کې د یوځای کېدو غوښتنه وکړه دې ورته وویل: اوس لاهم د دښمن وېره ده یو څه صبر وکړه ده ورته وویل: زه په دغه جګړه کې خپل شهادت په سترګو وینم نو په یوه خیمه کې یوځای والی وکړی سهار د ولیمې انتظام کېدئ چې د رومیانو فوځیان راپورته سوه سخت جنګ شروع سو حضرت خالد بن سعید ؓ شهید سو ام حکیمؓ هغه خیمه راواخیستله چې شپه یې پکښې تېره کړې وه خپل ټول سامان یې پکښې وپیچی خپله یې د کافرانو مقابله شروع کړه اووه کسان یې په یوازې سر ووژل.([164])

فایده: زموږ ښځې وګوره د یوې خوا خو په داسې حالت کې نکاح ته نه تیارېږي که تیاري هم سي نو په داسې ناڅاپه مرګ سره ترډېرو ورځو پورې ژاړي جهاد کول خو لا څه کوي دې مبارکې د ژړا پر ځای جهاد شروع کړی او اوه کسان یې په ښځینه لاس ووژل.

## ۱۲- د حضرت سمیة ام عمارؓ شــــهادت

سمیة بنت خیاطؓ د حضرت عمار ؓ مور وه چې قصه یې د اول باب په اوومه شمېره کې تېره سوې ده دې هم د خپل خاوند او زوی په څېر د اسلام لپاره ډول ، ډول تکلیفونه تېر

---

([164]) اسد الـغـابـة

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې دي خو د اسلام ميني چې ددې په زړه کې کوم کور جوړ کړی و له وجهې يې ددې په زړه کې يوه ذره فرق هم نه راتلی دا به يې د ګرمۍ په سخت وخت پر ډېرو پرې ايستل د اوسپني تودې زغرې به يې په واغوستلې بيا به يې ودرول ددوبې په ګرمي کې چې اوسپنه ډېره توديږي دا به په ډېر سخت تکليف کې وه نبيﷺ چې به کله د دوی وخواته تېرېدئ نو د صبر نصيحت به يې ورته کاوه او دجنت وعده به يې ورکول يوځلې بي بي سميةؓ ولاړه وه ابوجهل په ډېر درد او غصه سره دا مبارکه په نېزه په شرمګاه کې ووهل اودهغه زخم څخه وفات سوه. د اسلام په خاطر دا تر ټولو لومړی شهيده ده.(165)

فايده: د ښځو دومره صبر زغم او همت د غبتې ورډئ يعني (دا چې کاشکې زه هم داسې وای) خو اصلي خبره داده چې د چا په زړه کې چې کوم شی کور جوړ کړي بيا د هيڅ شي پروا نه کوي او هر څه ورته اسانه کيږي ، اوس هم داسې په لس ګونو قصې راځي چې خلګ خپل ځانونه قربانوي مګر که ځان قربانول د اللهﷻ په لاره کې وي ، ددين لپاره وي او دهغه ژوند لپاره وي چې ترمرګ وروسته راځي نو دکاميابی سبب ګرځي اوکه دنيوي مقصد پکښې وي نو دنيا خو يې ولاړه آخرت يې هم برباد سو.

## ۱۷- د حضرت اسماء بنت ابوبکرؓ ژوند او تنګ لاسي

حضرت اسماءؓ د ابوبکرؓ لور وه ، د حضرت عبدالله بن زبيرؓ مور وه او د حضرت عائشېؓ ميربزۍ خور وه او مشهوره صحابيه بي بي ده د اسلام په پيل کې مسلمانه سوې ده ويل سوي دي چې د ا دلسو نارينوو څخه وروسته مسلمانه سوې ده او د هجرت څخه اوويشت

(165) اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله مخکې پيدا سوې ده کله چې حضرت محمدﷺ او حضرت ابوبکر AA و مدينې منورې ته هجرت وکړی نو زيد AA او داسې نورې ولېږل ددې لپاره چې د دوی اهل او عيال راولي دهغې خوا د دوی سره حضرت اسماء هم راغله کله چې قباء ته راورسېده نو عبدالله بن زبير AA پيدا سو د هجرت وروسته دا لومړی پيدا اېښت دئ. ددغه زمانې فقر ، مسکنت مشهور و خو ننګ ، همت زړه ور تيا او جفا کشي يې هم بې ساري وه ، په بخاري شريف کې د اسماء بنت ابې بکر د ژوند حالات په خپله ددې څخه نقل سوي دي چې داوايي: کله چې زما نکاح د زبير AA سره وسوه ، دده سره نه مال وو ، نه جايداد وو او نه غلام و يو اوښ يې درلودئ چې اوبه به يې پرې راوړلې او يو آس يې درلودی ، ما به هم داوښ لپاره واښه راوړل ، خرما خستکي به مې ورته راوړلې ميدولي به مې د دانو په ډول به مې په خوړلي .ما به پخپله اوبه راوړلي د اوبو ځلواغه چې به وشکېده په خپله به مې ګنډله او هم به مې د آس خدمت په خپله کوی، واښه او دانې به مې ورکولې او دکور ټول کار او خدمت به مې کاوه مګر ډوډۍ پخول مې ښه نه وه زده نو اوړه به مې واغښل د همسايه انصارو کور ته به مې وروړل د همسايه د کور ډېره ريشتني مخلصه ښځه وه زما ډوډۍ به يې را پخه کړه. رسول اللهﷺ په مدينه کې وزبير AA ته يوه ټوټه ځمکه ورکړه چې نژدې دوه ميله ليري وه ما به دهغه ځای څخه پر خپل سر د خرماوو هډوکي راوړل زه يوه ورځ په دغه ډول چې بار مې پر سر و نبيﷺ په مخه راغلی چې پر اوښ را روان و او يوه ډله انصار هم ورسره وه نبيﷺ چې زه وليدم نوآس يې ودراوه او اوښ ته يې د چوکېدو اشاره وکړه ددې لپاره چې زه پر سپره سم زه د خلګو په مخکې پر اوښ باندې په سپرېدو شرمېدمه او دامې هم په فکر کې وه چې زبير AA ډېر غيرتمن دئ کېدای سي دده پر طبيعت ګرانه پرېوزي ، نبيﷺ ته زما حال معلوم سو چې دا شرمېږي نو بيرته کورته روان سو او زه چې خپل کورته چې ورسېدم و زبير AA ته مې قصه وکړه چې زه شرمېدم هم او ستا دغيرت فکر مې هم کاوه ،زبير AA وويل: قسم په الله ﷻ چې ستا پر سر د هډوکو راوړل ماته تر دغه هم ګران دي (

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر مجبورۍ وه مسلمانان زيات وخت په جهاد او نورو د دين په کارو اخته وه نو له دې امله زيات د کور کارونه ښځو کول ) دا مبارکه وايي ددې څخه وروسته زما پلار ابوبکر ؓ يو غلام راواستوی چې نبيﷺ ده ته ورکړی و هغه غلام د آس خدمت کاوه زه د آس دخدمت څخه ډېره سترې وم غلام چې راغلي زه داسې سوم لکه د لوی بند څخه چې خلاصه سوم.([166])

فايده: د عربو دا رواج و او اوس يې هم دا رواج دئ چې د خرما وو هډوکي ميده کړي بيا يې ميچن کړي وروسته يې په حيواناتو د دانې په ډول خوري .

۱۸- د حضرت ابوبکر ؓ دهجرت په وخت کي د اسماء ؓ خپل نيکه ته تسلي ورکول

حضرت ابوبکر ؓ چې کله د هجرت اراده وکړه نو فکر يې کاوه چې ښايي پر لاري د ډېرو تکليفونو سره مخ سو او نبيﷺ هم ورسره و نو څه پيسې چې ورسره وي ټولي يې د ځان سره واخيستې ( چې نژدې پنځه يا شپږ زره درهمه کېدې )ددې څخه وروسته د حضرت ابوبکر ؓ پلار ابوقحافه چې په سترګو ړوند و او تر دغه وخته پوري لا مسلمان سوی هم نه و خپلي لمسۍ ته دتسلي لپاره راغلی او ورته وې ويل افسوس چې ابوبکر ؓ په خپل تګ سره تاسو ته تکليف ورساوی او ښايي خپل ټول مال يې هم وړي وي دا بيا بل تکليف دئ، اسماء ؓ وايي چې ما ورته وويل : يا ، نيکه ! زما پلار ډېر مال پرې ايښی دئ داخبره مې ورته وکړه دستي مې کوچنۍ، کوچنۍ ډبري را ټولي کړي او په يوه ټوکره کې مې غوټه کړي او په هغه تاخچه کې مې کېښېښودې چې پيسې به ايښودل کېدې نيکه چې لاس پر وګرځاوه ورته معلومه سوه چې تاخچه د پيسو ډکه ده نو وې ويل دا يې ښه کړي دي ستاسو به ګوزاره په وسې اسماء ؓ وايي

[166]) بخاري -فتح

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم په خدایﷻ زما پلار یوه پیسه هم نه وه پرې ایښې خو ما دخپل نیکه دتسلي لپاره او ددې لپاره چې غمجن نسي دغه چم مې ورته وکړی.[167]

فایده:داد همت او صبر خبره ده کـه نـه نـو تـر نیکـه بـه دغـه نجونـو زیـات غـم کـاوه او هرڅومره شکایتونه چې یې نیکه ته په دغه وخت کې کړي وای صحیح و ځکه ظاهري اسره یې په دغه نیکه وه په دغه وخت کې چې نیکه ودې ته متوجه کړې چې د یوې خوا د پلار جلا والی دئ او دبلې خـوا د مـال نیسـتي ده ددې سـره ،سـره دمکـې او سـیدونکي د دوی سـره چنـداني اړیکي هم نه لرلي او اکثره یې دښمنان وه ځکه دوی مسلمانان وه خو اللهﷻ دغه مبارکو انسانانو هر یوه ته جلا جلا نارینه و که ښځینه وو یوه ــ یوه ځانګړتیا ورکړې وه چې د انسـان غبتـه پـرې کېږي یعنې دا چې کاشکې ما هم داسې ځانګړتیا درلوداې ، حضرت ابوبکر ﷺ پـه اول کـې زیات مالدار و او لوی تاجرو خو اسلام ته د راتلو وروسته یې د اللهﷻ پـه لاره کـې دومـره پیسـې خرڅي کړي چې دتبوک پـه غـزا کـې یـې ټولـه مـال راوړی او وریـې کـړي لکـه د شـپږم بـاب پـه ثلورمه قصه کې یې چې بیـان پـه تفصـیل سـره وسـو پـه همدا وجه رسول اللهﷺ فرمـایي: ماتـه دهیچا مال دومره فایده نه ده رسولې لکه دابوبکر ﷺ مال چې فایده را رسولې ده مـا دهـر چـا د احسانونو بدله ورکړې ده خو دابوبکر ﷺ د احسانونو بدله به اللهﷻ ورکوي.

### ۱۹- د حضرت اسماء ﷺ سخاوت

حضرت اسماء ﷺ ډېره سخي وه په اول کې به یې صدقه په ټاکلې اندازه ورکـول یعنـې پـه تول او ترازو یا په پیمانه بـه یې خیرات کـاوه خو کله چې رسول اللهﷺ ورتـه وویـل: پیسـو تـه

(167) مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوټه مه ورکوه ، تړل مکوه  او حساب مه کوه څومره چې دې توان وي صدقه ورکوه بيا يې زيات خيراتونه کول خپلو لوڼو او دکور ښځو ته به يې داسي نصيحت کاوه: کله چې د اللهﷻ په لاره کي صدقه کول غواړی نو ددې انتظار مه کوئ چې پيسې به زياتي سي بيا به صدقه ورکړم که مو دا انتظار کاوه هيڅکله پيسې نه زياتيږي ځکه اړتياوي هم ور سره ډيريږي او که مو بېله انتظاره پيسې مصرفولې نو ستاسو  په پيسو کې به هيڅ کمی رانسي.([168])

فايده: ددې مبارکو انسانانو لاسونه چې په پيسو کې څومري تنګ وه  پدغه پيمانه د دوی لاسونه په صدقه ورکولو کې پراخ او لوی وه.(عجيبه داده چې د رسول الله ﷺ په زمانه کي هيچا د مسکنت شکايت نه کاوه) او اوس ټول خلک د مسکنت څخه شکايت کوي سره ددې چې هيڅ به اوس داسي ډله پيدا نه کړی چې په نسو پوري يې ډبري تړلي وي يا يې څو ورځي په نهاره تيري کړي وي .

## ۲۰- د نبيﷺ د لور حضرت زينب رضي الله عنها هجرت او وفات

د دوارو جهانو د سردار حضرت محمدﷺ لور زينب رضي الله عنها د نبوت لس کاله مخکي پيدا سوې ده يعني هغه وخت چې نبي کريمﷺ د ېرش کلن و او د خپلي خاله د زوی ابو العاص بن ربيع سره يې نکاح وسوه کله چې نبيﷺ هجرت کاوه نو دا نه ور سره ولاړه ددې خاوند د کافرانو له لوري د بدر په غزا کي راغلی و بيا ونيول سو دمکې خلکو چې کله د خپلو بنديانو لپاره فديې راواستولې نو دې مبارکي هم د خپل خاوند لپاره فديه راواستول په هغه فديه کي اميل و چې خديجې رضي الله عنها و دې ته د واده په وخت کي ورکړی و نبيﷺ چې اميل وليدی نو بي بي خديجة رضي الله عنها ور

([168]) طبقـات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد سوه او دسترګو څخه یې اوښکې راغلې ، د اصحابو په مشوره دا پرېکړه وسوه چې ابوالعاص دې د فدیې پرته آزاد سي په دې شرط چې دی مکې ته ولاړ سي نو زینب دې مدینې ته راولېږي ، دوه کسان د زینبې د راوستلو لپاره ورسره کړل سوه یعنې هلته چې ورسېږي نو دغه دوه مسلمانان به د مکې دباندې تم سي ، ابوالعاص به دوی ته دامبارکه په لاس ورکړي زینب خپل لېور کنانة پر اوښ سپره او روانه سوه. د مکې کافران چې په دې پېښه خبر سوه نو اور پر بل سو دستي یې یوه ډله دمقابلې لپاره ولېږل چې په هغو کې یو بن اسود و چې دخدیجې د تربره زوی وو په همدې لحاظ د زینبې د ورور په درجه کې و او یو بل نفر ورسره و. پر حضرت زینب باندې یې د نېزې واری وکړ ی دا مبارکه د اوښ څخه راولوېده ، ځرنګه چې ماشوم یې په نس و نو هغه ماشوم یې هم ضایع سو اکثره وایي چې دغه حمله کونکی جبار و کنانة د دوی سره د غشو مقابله شروع کړه ابو سفیان ورته وویل د محمد ﷺ لور چې په دومره ښکاره ډول مدینې ته ځي دا خو موږ نه سو زغملای نو داسې وکړه چې اوس بېرته ولاړ سئ بل واري په پټه ولاړ سئ کنانة ورسره خوښه کړه د زینبې دغه زخم تر څو کاله پوري و او ددغه زخم څخه ناجوړه سوه او په اتم کال د هجرت وفات سوه

(رضي الله عنها و ارضاها)

نبي ﷺ فرمایي: زینب زما تر ټولو ښه لور وه ځکه زما په مینه کې یې ډېر تکلیفونه وزغمل دښځېدو په وخت کي نبي ﷺ خپله ددې وقبر ته کښته سو دایې ښخه کړه نبي ﷺ چې کله وقبر ته کښته سو نو ډېر غمجن و کله چې راپورته سو نو مخ یې ډېر روښانه (خوشاله) و اصحابانو پوښتنه ځني وکړه (چې یا رسول الله ! ولې دي مخ مبارک خوشاله دئ؟)ده


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک ورته وويل: چې زه د زينبې ؓ د ناتوانۍ په فکر کې وم نو دعا مې وکړه چې الله ﷻ دې څخه تکليف او د قبر تنګوالی ليرې کړي الله ﷻ دعا قبوله کړه.(169)

فايده: د نبي ﷺ لور د دين په خاطر دومره تکليفونه تېر کړل چې آخر يې ساه پکښې ورکړل بيا هم د قبر د پراخوالي لپاره د نبي ﷺ د دعا اړتيا ورته پيدا سوه نو زموږ به څه حال وي؟ په همدې وجه د قبر د پراخوالي لپاره زياتې دعاوي پکار دي ځکه نبي ﷺ به زيات وختونه د تعليم په منځ کې د قبر د عذاب څخه پناه غوښتله.

اللهم احفظنا بمنک و کرمک و فضلک.

## ۲۱ - د حضرت ربيع بنت معوذ ؓ ديني غيرت

ربيع بنت معوذ ؓ يوه انصاري صحابية وه په زياتو غزا وو کې د نبي ﷺ سره ملګرې وه دزخميانو درملنه به يې کول او د وژل سوو شهيدانو جسدونه به يې را پورته کول د نبي ﷺ د هجرت مخکې مسلمانه سوې وه او د هجرت وروسته واده سوه ددې د واده په ورځ نبي ﷺ ددې وکور ته تشريف يووړی هلته نجونو هغه شعرونه ويل چې د اسلامي کارنامو او اسلامي مشرانو بيان پکښې سوي و چې د بدر په غزا کې شهيدان سوي وه په دوی کې يوه نجلۍ دا مصرع ويل: وَفِينَا نَبِي يَعلَمُ مَا فِي غَدٍ . يعني په موږ کې يو نبي دئ چې د سبا په حال خبر دئ. نبي ﷺ ددغه شعر څخه منع کړه چې د سبا په حال خو يوازي الله ﷻ خبر دئ دربيع ؓ پلار معوذ په هغو کسانو کې وچې ابو جهل يې وواژه يوه ورځ يوه ښځه چې اسماء نومېده ديو څو ښځو سره يو ځای دربيع کور ته ورغلل دې عطر خرخول نو دربيع څخه يې د معرفي کېدو غوښتنه وکړه

(169) خميس ، اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د ښځو چې همداسې دود دئ ربيع خپل ځان ورته معرفي کړی يعني خپل او د پلار نوم يې وروښودل هغې ښځې چې د معوذ نوم واورېدئ نو ورته وې ويل : د خپل سردار د قاتل معوذلور يې؟( ځرنګه چې ابو جهل د عربو سردار ګڼل کېدی نو له همدې وجهې دغې ښځې ورته وويل چې دخپل سردار د قاتل لور يې) ربيع چې ددې سوال واورېدئ ډېر درد(غصه) ورغله او ورته وې ويل زه د خپل غلام د قاتل لور يم ( دربيع زړه نه منله چې ابو جهل دې ددې دپلار سردار ونومول سي.) اسماء چې ددې خبره واورېده چې ابو جهل ته يې د غلام نسبت وکړی درد(غصه) ورغله ورته وې ويل زما عطر خرڅول پر تا باندې حرام دي ربيع ورته وويل پر ما باندې هم حرام دئ چې ستا څخه عطر واخلم ما په هيڅ عطرو کې دومره بد بويې نه وه ليدلې لکه ستا په عطرو کښې چې ستهٔ.[170]

فايده: ربيع فرمايي: چې د بدبويې لفظ مې ددې د سوځولو لپاره ووايه دا ددې مبارکې غيرت نه منل چې د دين ددښمن په اړه دې د سردار لفظ واوري. په نن زمانه کښې د دين د لويو دښمنانو لپاره د سردار تر لفظ لوړ الفاظ استعماليږي که يې څوک منعه کړي نو خلک تنګ نظره ورته وايي او حال دا چې نبيﷺ فرمايي: تاسو منافق ته سردار مه وايا ست که چيرې هغه ستاسو سردار سو نو تاسو خپل رب ناراضه کړئ([171]).

## معلومات

### دنبي اکرمﷺ بيبياني او اولادونه

(170) اسد الغابة

(171) ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل آقا او د دواړو جهانو سردار نبي اکرمﷺ د بيبيانو او اولادو حالات معلومول يو لوى شوق دئ او هر مسلمان ته په کار دئ چي د دوى په اړه يو لنډ معلومات پـه لاس راوړي او په لنډ دول يې وليکي ځکه تفصيلي حالات ليکل يې لوى لوى کتابونه غواړي دنبي اکرمﷺ د نکاحو شمېر چي د محدثينو او مؤرخينو پرې اتفاق دئ د يوولسو بيبييانو سره دئ تر دغه شمېر په زياتو بيبييانو کښې اختلاف سته او پر دې خبره هم اتفاق دئ چي د نبيﷺ لومړى نکاح د بي بي خديجېﷺ سره سوې ده خديجةﷺ کونډه وه کله چي نبي ﷺ نکاح ورسره کول دده مبارک عمر (۲۵) کالـه و او ددې مبارکې عمر (۴۰) کالـه و د نبيﷺ اولادونه دابراهيم څخه پرته نور ټول ددې څخه پيدا سوي دي چي بيان به يې وروسته راسي .

## ۱- د حضرت خديجېﷺ حالات

د حضرت خديجېﷺ لومړى نکاح د ورقة بن نوفلﷺ سره پـه پـلان کښې وه خود نکاح نصيب نه و سوى وروسته بيا د دوو نورو کسانو سره ددې نکاح سوې ده دا چي پـه دې دوو کسانو کښې به يې اول دچا سره نکاح کړې وي پدې کې اختلاف دئ زيات تاريخ پوهان پـه دې آند دي چي اول يې دعتيق بن عائذ سره نکاح سوې وه چي دده څخه يې يوه لور پيدا سوي وه چي نوم يې هنده وه کله چي غټه سول نو مسلمانه سوه او د اولادو خاونده سول. ځينو ليکلي دي چي د عتيق څخه يې يو زوى پيدا سو چي نوم يې عبدالله يا عبدالمناف و د عتيق څخه وروسته يې بيا نکاح د ابوهالة سره سوې ده د ابو هالة څخه يې دوه اولادونه سوي دي چي يو يې هند نومېده اوبل يې هالة نومېده ځينو ويلي دي چي هند هلک و او هالـة نجلۍ وه ځينو بيا ويلي دي چې دواړه هلکان وه خو هند د حضرت علي کرم الله وجهه تر خلافت پـوري ژوندى و کله چي ابو هالة وفات سو بيا يې د حضرت رسول اکرمﷺ سره نکاح وکړه پدغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبني ددې عمر (۴۰) کاله و د نبيﷺ سره په نکاح کبني (۲۵) کاله پاته سوه دنبوت پر لسم کال د روژې په مياشت کي د (۲۵) کالو په عمر وفات سوه د نبيﷺ ددې سره زياته مينه وه ددې په ژوند يې د هيڅ بلې ښځې سره نکاح ونکړه تر اسلام مخکي ددې لقب طاهره وپه همدې وجه ددې اولادونه د نور ځښتنان دي او بنو طاهره ورته ويل کيږي ددې مبارکي فضائل (مناقب )د حديثو په کتابو کښي زيات راغلي دي ددې دوفات څخه وروسته نبيﷺ پخپله ددې و قبر ته ورکښته سو او په خپلو مبارکو لاسونو يې ښخه کړه تر دغه وخته پوري دجنازې د لمانځه حکم نه و راغلی وروسته بيانبيﷺ د حضرت عائشې او سودې سره نکاحي کړې دي پدې خبره کښي هم اختلاف دئ چي لومړی يې د چا سره نکاح وکړه ځينو تاريخ پوهانو ليکلي دي چي اول يې د عائشې سره نکاح وکړه ځينو ويلي دي چي لومړی يې د سودې سره نکاح وکړه او وروسته يې دعائشې سره نکاح وکړه.

## ۲- دحضرت سودې حالات

حضرت سوده هم کونډه وه ددې دپلار نوم زمعه بن قيص و ددې اوله نکاح د خپل داکا د زوی سکران بن عمرو سره سوې ده دواړه مسلمانان سول او حبشې ته يې هجرت وکړ ی سکران په حبشه کښي وفات سو ځينو ليکلي دي چي مکي ته راغلی بيا وفات سو دده دوفات وروسته د نبوت په لسم کال چي کله خديجةوفات سوه څو ورځي وروسته دنبي اکرمﷺ ددې سره نکاح وسوه ددې سره واده د حضرت عائشې تر واده د ټولو په آند مخکي سوی دئ دنبيﷺ مبارک عادت دا و چي په زيات وخت به په لمانځه کي مشغول و يو ځلي نبيﷺ ته دې وويل چي ماښام تا دومره اوږده رکوع وکړه چي زه پر دې وببربدلم چي د پزې څخه به مي ويني ولاړې سي (دې به د نبيﷺ وروسته په نبيﷺ پسي لمونځ کاوه څرنګه چي دا دبدن څخه درنه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له امله به يې تکليف ور پېښ سوې وې) يو ځلې نبيﷺ دده د طلاق اراده وکړه دې مبارکې ورته وويل چې اې د اللهﷻ رسوله! زه د مېړه خواهش نلرم خو دا مې خوښه ده چې په جنت کې ستا په بيبيانو کښې داخله يم نو تاسې وماته طلاق مه راکوی زه د خپلې شپې نوبت و حضرت عائشېؓ ته ورکوم په همدې وجه به دده د شپې واری د حضرت عائشېؓ په برخه کښې راتلې په (۵۴) يا (۵۵) هجري کال کښې وفات سوې ده ځينو ليکلې دي چې د حضرت عمرؓ په خلافت کښې وفات سوه ددې څخه علاوه يوه بله ښځه د سودې په نامه هم سته چې د قريشو د قوم څخه ده دهغې سره هم نبيﷺ د نکاح کولو اراده وکړه دې ورته وويله چې زما تر ټولو دنيا ته خوښ يې خو زما پنځه يا شپږ اولادونه دي ماته دا خبره ګرانه ده چې هغه ستا سرته ولاړ وي ژاړي او چيغې وهي نبيﷺ ددې خبره خوښه کړل او ددې ستاينه يې وکړل او دنکاح اراده يې پرېښوده.

### ۳- د حضرت عائشېؓ حالات

دحضرت عائشېؓ سره په مکة مکرمة کښې دنبوت پر لسم کال د کوچني اختر په مياشت کښې رسول اللهﷺ نکاح وکړه پدغه وخت کې ددې عمر شپږ کاله و د نبيﷺ په بيبيانو کې يواځې دا پيغله وه نوري ټولې کونډياني وې چې نکاح يې ورسره وکړل د نبوت څلور کاله وروسته دا پيدا سوې ده د هجرت په وخت کښې ددې عمر نهه (۹) کاله و د (۱۸) کالو په عمر يې د حضرت محمدﷺ سره مخه ښه وکړه يعني نبيﷺ ځيني وفات سو په (۵۷) هجري کال کښې دروژې پر اوولسمه دسې شنبې په شپه د (۲۲) کالو په عمر وفات سوه دې مبارکې وصيت وکړی چې ما په عمومي هديره کښې د نورو بيبيانو سره ښخه کړی دا غسې هم وسوه په بقيع(نومې هديره) کښې دفن سوه، په عربو کښې دا خبره زياته مشهوره وه چې د کوچني اختر په مياشت کښې نکاح بې برکته وي حضرت عائشةؓ فرمايي: زمانکاح دنبيﷺ سره هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچني اختر په میاشت کښې وسوه او واده مي هم د نبيﷺ سره د کوچني اختر په میاشت کښې وسو دنبيﷺ په بیبیانو کښې چې تر ما زیاته برخمنه وه بي بي خدیجة ﷺوه. دخدیجې تروفات وروسته خولة ﷺ دحکیم لور دنبيﷺ حضور ته ورغله او ورته وې ویل چې اې د الله ﷻ رسوله ! تاسو نکاح نکوئ؟ نبيﷺ وفرمایل دچا سره ؟دې ورته وویل پیغله هم سته او کونډه هم سته نبيﷺ ورته وویل چې څوک دي؟دې ورته وویل چې پیغله ستاسو دډېر دوست حضرت ابوبکر صدیق AA لور عائشه ده اوکونډه سوده بنت زمعه ده،نبيﷺ وویل ښه خبره ده وې کړئ داددې ځایه څخه د ابوبکرصدیق AA کورته ولاړه اودحضرت عائشې ﷺ مور ام رومان ﷺ ته یې وویل چې زه د یو لوی خیر او برکت سره راغلې یم هغې پوښتنه وکړه چې څنګه برکت دئ؟دې ورته وویل چې نبيﷺ زه د عائشې سره د نکاح کولو لپاره رالیږلې یم ، ام رومان ﷺ ورته وویل چې عائشه ﷺ خو دنبيﷺ وربره ده د هغه سره څنګه نکاح کیدلای سي خو بیا هم ښه دئ چې ابوبکر AA راسي حضرت ابوبکر AA پدغه وخت کښې په کور کي نه و تر راتګ وروسته دې دغه بیان ورته وکړی هغه هم دغه جواب ورکړی چې دا خو دنبيﷺ وربره ده دنبيﷺ سره نکاح څنګه کیدای سي خولة ﷺ ولاړه نبيﷺ ته یې قصه وکړل نبيﷺ ورته وویل چې ابوبکر AA خو زما د اسلام ورور دئ دهغه دلور سره زما نکاح جائز ده خولة ﷺ راغله و ابوبکر AA ته یې د نبيﷺ وینا واورول دڅه وخت وروسته ابوبکرصدیق AA وویل: نبيﷺ را وغواړه نبيﷺ دابوبکر صدیق AA کور ته تشریف یووړی نکاح وسوه هجرت چې وسو څو میاشتې وروسته ابوبکر AA و نبيﷺ ته وویل چې تاسو خپله بي بي یعني عائشة ﷺ ولې نه و دوئ؟نبيﷺ د سامان د نه برابریدو عذر ورته وکړی حضرت ابوبکر صدیق AA د نذراني یوڅه پیسې وړاندې کړې چې په دغه پیسو سره د واده تیاري وسوه د هجرت وروسته دکوچنی اختر دمیاشتې په لومړی یا دوهمه ورځ د څاښت په وخت کې د ابوبکر AA په کور کي واده وسو دغه درې نکاحې د نبيﷺ دهجرت مخکې سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ددې څخه وروسته څومره نکاحي چي سوي دي تر هجرت وروسته سوي دي د حضرت عائشې څخه وروسته د حضرت عمر AA د لور حفصې سره نکاح وسوه.

### ۴- د حضرت حفصې حالات

حضرت حفصة پنځه کاله مخکي تر نبوت په مکة کې پيدا سوې ده لومړۍ نکاح يې په مکة کي د خنيس بن حذافة AA سره سوې ده دی هم زوړ مسلمان و لومړی يې حبشي ته هجرت وکړی بيا يې مديني منورې ته هجرت وکړی دبدر په غزا کي يې ګډون کړی دی پدغه غزا يا داحد په غزا کي زخمي سو چي ددغه زخمه څخه جوړ نسو په دوهم يا دريم کال د هجرت وفات سو .حضرت حفصې هم دخپل خاوند سره حبشي هجرت کړی و بيا مديني ته راغلي وه کله چي کونډه سوه نو حضرت عمر AA لومړی د حضرت ابوبکر AA څخه غوښتنه وکړه ددې لپاره چي دده دلور حفصې سره نکاح وکړي حضرت ابوبکر AA چوپ سو کله چي د حضرت عثمان AA بي بي حضرت رقية وفات سوه نو حضرت عمر AA و حضرت عثمان AA ته دخپلي لور حفصې دنکاح يادونه وکړه عثمان AA په جواب کي ورته وويل: زه في الحال دنکاح اراده نه لرم. حضرت عمر AA و نبيﷺ ته شکايت وکړی چي دوی زما د لور سره نکاح نه کوي، نبيﷺ وفرمايل : زه د حفصې لپاره تر عثمان بهترسړی درښيم او د عثمان لپاره تر حفصې بهتره ميرمن ښيم وروسته نبيﷺ په دوهم يا دريم کال د هجرت پخپله د حفصې سره نکاح وکړه او عثمان AA ته يې خپله لور ام کلثوم په نکاح ورکړه.

د حفصې په لومړی خاوند کي د تاريخ پوهانو اختلاف دئ ځيني وايي چي د بدر په غزا کي زخمي سو او دهغه زخم څخه شهيد سو او ځيني وايي چي د احد په غزا کي زخمي سو دبدر غزا په دوهم کال د هجرت وه او د احد غزا په دريم کال د هجرت وه په همدې وجه ددې مبارکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکاح په نېټه کې هم اختلاف سته حضرت ابوبکرؓ فرمايي:ماته چې کله عمرؓ د حفصېؓ دنکاح وويل نو زه له دې وجهې چوپ سوم چې نبيﷺ ددې د نکاح بيان ماته کړی و، قبلولای مې ځکه نسوه چې نبيﷺ يې د نکاح اراده درلوده او انکار مې ځکه نسو کولای چې د نبيﷺ راز مې نسو ښکاره کولای( ځکه که مې انکار کړی وای عمرؓ دليل راخخه غوښتی درواغ مې نسوای ورته ويلای خامخا به مې رشتيا ورته ويلای ) که چېري نبيﷺ د حفصېؓ د نکاح اراده نه درلودای نو خامخا به ما نکاح ور سره کړې وای. حضرت عمرؓ وايي ما ته د عثمانؓ تر انکار دابوبکرؓ انکار ډېر غموونکی و. حضرت حفصةؓ ډېره عابده وه زيات وخت به د شپې وينښه وه عبادت به يې کاوه او زيات وخت به يې روژې نيولې ، نبيﷺ يو وخت په يوه وجه دې ته طلاق ورکړی او پر دغه خبره باندې د عمرؓ خوابدتيا پکاروه نو حضرت جبرئيلؑ تشريف راوړی او وې ويل: چې اللهﷻ فرمايي چې حفصېؓ ته بېرته رجوع وکړه دا به د شپې زيات وخت بيداره وه ( عبادت به يې کوی ) او زيات وخت به يې د ورځې روژې وې . د عمرؓ لحاظ هم پکښې منظور و په همدغه وجه نبيﷺ بيرته رجوع ورته وکړه ، په پنځه څلوېښتم هجري کال د جمادي الاولي ( ددريمې خور ) په مياشت کې د دروشپېتو کالو په عمر وفات سوه ځينو ليکلي دي چې په يو څلوېښتم هجري کال د شپېتو کالو په عمر وفات سوه. ددې د نکاح وروسته نبيﷺ د زينبؓ سره نکاح وکړه.

## ۵- د حضرت زينب بنت خزيمةؓ حالات

حضرت زينبؓ د خزيمة لوروه ددې مبارکې په لومړۍ نکاح کې اختلاف دئ ځينو ليکلي دي چې لومړۍ نکاح يې د عبدالله بن جحش سره سوې ده چې د احد په غزا کې شهيد سو قصه يې په اووم باب اوله شمېره کې تېره سوه وروسته يې دنبيﷺ سره نکاح وسوه ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلي دي چې لومړۍ نکاح یې د طفیل بن حارث سره وسوه بیا ده طلاق ورکړی د طلاق وروسته دده ورور عبیده بن حارث په نکاح کړه عبیده بن حارث ﷠ د بدر په غزا کې شهید سو وروسته نبيﷺ نکاح د هجرت یو دېرش میاشتې وروسته په دریم هجري کال د روژې په میاشت کې ور سره وکړه، اته میاشتې د نبيﷺ په نکاح کې وه وروسته په څلورم هجري کال د دوهمې خور په میاشت کې وفات سوه . د نبيﷺ په بیبیانو کې حضرت زینب او حضرت خدیجه ﷠ د نبيﷺ په ژوند کې وفات سوي دي نوري ټولي نهه سره دده مبارک تر وفات وروسته وفات سوي دي حضرت زینب ﷠ ډېره سخي وه په همدغه وجه د اسلام مخکې ددې نوم ام المساکین و یعني د مسکینانو مور ، بیا نبيﷺ ددې نوم ام سلمة کښېښودئ. ددې د نکاح وروسته د نبيﷺ نکاح د حضرت ام سلمة ﷠ سره وسوه.

## ۲- د حضرت ام سلمې ﷠ حالات

حضرت ام سلمة ﷠ د ابو امیة لور وه ددې مبارکې لومړۍ نکاح خپل د اکا د زوی ابو سلمة ﷠ سره سوي ده چې اصلي نوم یې عبد الله بن عبد الاسد و، ام سلمة ﷠ او خپل خاوند په اول کې مسلمانان سوي دي وروسته د کافرانو د لاسه تنګ سوه حبشې ته یې هجرت وکړی د حبشې څخه بیا مدینې ته راغلل په حبشه کې یې یو زوی وسو چې سلمة نومېدئ چې قصه یې ددغه باب په پنځمه شمېره کې په تفصیل سره تېره سوه په مدینه کې چې او سېدل یو هلک د عمر په نامه یې پیدا سو او دوې لوڼې یې د دره او زینب په نامه پیدا سوې ابو سلمة ﷠ د لسو نارینوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه وروسته مسلمان سوی دئ د احد او بدر په غزاوو کې یې ګډون کړی دئ د احد په غزا کې زخمي سو ددغه زخم څخه یې ډېر تکلیفونه پرځان تېر کړل وروسته د صفري په میاشت کې د څلورم کال دهجرت و یوې سریې ته ولاړی ( سریه معنی د کافرانو سره کوچنی جنګ چې رسول الله ◄ پکښې ګډون نه وي کړی ) دهغې خوا د راتګ پر وخت یې زخم تازه سو ددغه زخم څخه په څلورم کال دهجرت د څلورمي خور ( جمادي الثاني ) په میاشت کې شهید سو . حضرت ام سلمه په دغه وخت کې حامله وه یعني عیال داره وه زینب یې په نس وه.کله چې پیدا سوه نو عده یې پوره سوه ، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه و دې ته د نکاح خواهش وکړی دې عذر ورته ووایه وروسته رسول الله ﷺ د نکاح غوښتنه څني وکړه دې مبارکې ورته وویل: یو خو زما سره زوی سته او بل زما په طبیعت کې غیرت سته زما هیڅوک قریب نسته ( یعني دا چې زما غیرت نه قبلوي چې د قریبانو پرته پر خپل سر نکاح وکړم ) رسول الله ﷺ ورته وویل: ستا د زوی خو الله ﷻ ساتونکی دئ او غیرت به ولاړ سي ستا د قریبانو څخه به هیڅوک دا نسب نا خوښه نه کړي چې تا نکاح ور سره کړې ده دې مبارکې خپل زوی سلمة ته وویل چې زما نکاح د نبي ﷺ سره را وتړه ، په څلورم کال دهجرت د کوچني اختر د میاشتي په آخره ددې نکاح د نبي ﷺ سره وسوه څینو دوهم او څینو دریم کال لیکلي دئ. ام سلمه فرمایي:ما د نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چې چاته مصیبت ورسیږي اولاندې دعا ووايي الله ﷻ به دهغه سوي تاوان غوره بدله ورکړي: اللهم اجرني في مصیبتي واخلفني خیرا منها . ژباړه: اې الله ﷻ !ماته د غم مزدوري راکړې اودغم په بدل کې غوره بدله راکړې.ام سلمه وايي:کله چې ابو سلمة رضي الله عنه وفات سو نوما دغه دعا ویل او فکر به مې کاوه چې تر ابو سلمة رضي الله عنه به نو بهتر څوک وي الله ﷻ زما نکاح د رسول الله ﷺ سره راوکړه. ددې د ښایست ډېر نوم تللی ووعائشه وايي ما ددې ډېر تعریف اورېدلی و نو کله چې ددې نکاح وسوه نوزه په یوه بهانه په پټه ، پټه ولاړم ورته ومې کتل کله چې مې ولیدل نوتر هغه ډېره ښائسته وه چې ما یې تعریف اورېدلی و بیا ما حفصې ته ددې بیان وکړ حفصې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته وویل: یا دومره نه ده ښائسته لکه نوم چې یې تللي دئ د رسولﷺ په بيبيانو کې تر ټولو وروسته په (۵۹) هجري کال او یا په (۲۲) هجري کې وفات سوه په دغه وخت کې یې عمر څلور اتیا کاله و چې په دغه لحاظ نهه (۹) کاله مخکې تر نبوت پيدا سوې ده څرنګه چې ددې نکاح تر زینب بنت خزیمة تر وفات وروسته وسوه نو ځکه دا د زینب بن خزیمة په خونه کې اوسېده ، دا چې هلته ورغلل په خونه کې په یوه ټوکره کې لږ اوربشي غوټه دي يوه مېچن پرته ده دې مبارکې هغه اوربشې میده کړې پخې یې کړې غوړي یې ور واچول د مالیدې په څېر یې یو شی ځني جوړ کړی په اوله ورځ یې نبيﷺ ته د خوراک لپاره کښېښودئ ددې د نکاح وروسته نبيﷺ د زینب بنت جحش سره نکاح وکړه.

## ۷- د حضرت زینب بنت جحش حالات

داد نبيﷺ د عمة لور وه لومړی نکاح یې د زيد بن حارث سره سوې وه چې نبيﷺ په زوی والي سره نیولی و وروسته ده طلاقه کړه بیا الله پخپله ددې نکاح د رسول اللهﷺ سره وکړه چې قصه یې په سورة احزاب کې بیان سوې ده دغه وخت ددې عمر پنځه دېرش کاله و ،دمشهوري وینا مطابق ددې نکاح دمیانی په میاشت کې سوې ده ځینو یې کال دهجرت دریم کال ښودلیدئ خو صحیح خبره داده چې پنځم هجري کال و پدغه حساب نو داد نبوت اولس کاله مخکې پیدا سوې ده دې په دې وجه فخر کاوه چې د ټولو بیبیانو نکاحي د هغو خپلوانو کړي دي او زما نکاح الله کړې ده ،کله چې حضرت زيد دې ته طلاق ورکړی نبيﷺ دې ته د نکاح پیغام ولېږی، دې په جواب کې ورته وویل زه تر هغه پوري فیصله نکوم تر څو زه د خپل خدای سره مشوره ونکړم ، دا یې وویل او دس یې تازه کړی دوه رکعته نفل یې وکړ بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې داسي دعا وکړه: اې الله که ته زما نکاح ستا د پيغمبر سره کول غواړې او زه دهغه قابله يم نو زما نکاح د رسول اللهﷺ سره وکړې دې چې دا خبره وکړه اللهﷻ دا آيات نازل کړې:

✍❒🙵⬀❁♋♓✌ ✍❶☺■◘⬥▫ 🗐✍❁✍⬥🔔 ✍⑨⬀③⍓♒

⧫♌❑⬈▤⧫③ ⬥⬥ ⬀❼⬥▤♋♑ ✍⍓♑⬥▤⊕❑✡⇳♉❑❒⍓♒ ✁ॐ❷⬥⬣⧫❒

☑❼♐❌ ✍●⧫❷⍓○ ⧫❌✓♋☪♋✌⬀⬥⭠☺⬂♑✍✁ ❼■✍⧫⬉

✁⬥❶♐☽ ⬀☠♐♑✍★✎✍⧫⓿♋⬉⬃⑩❒🕮 ➦●🕔⧫❒⬂♒❒🕮

♈♍🔔⌧✍⧫❒ 🗐 ✁ॐ❷⬥⬣⧫❒ ❍♊⬋🙵⬀❁♋✌ ☎✁⬀❑⬥✍⬥🔔

(172) ⬖⌧✍⬀ ☪⬥❑⬉➔⬂▦⧫✌★✎✍✁⬉❷⬂✌❒🕮

ژباړه: نو کله چې زيد خپله اړتيا له هغې(زينب) څخه پوره کړه (جوړوالی يې ورسره نه راغلی) نو موږ هغه (زينب) ستا په نکاح کښې درکړه دپاره ددې چې پر مومنانو باندې تنګي را نسي په ښځو کې د زوی نيول سوي (يعني دنيول سوي زوی دښځې سره نکاح روا سي) کله چې هغوی خپل ضرورت پوره کړی وي ، او د اللهﷻ امر خامخا کېدونکی دی.

دغه آيات چې نازل سو نبيﷺ دې ته زېری ور واستوی، دا چې خبره سوه د خوشحالۍ څخه پر سجده پرېوته ، نبيﷺ ددې د نکاح وليمه (د واده ډوډۍ ) په لوړ شان وکړه يوه بزه يې حلاله کړه د غوښو او ډوډۍ ميلمستيا يې وکړه ټولو خلګو ته يې په ماړه نس ډوډۍ ورکړه يوه ډله چې به فارغه سوه نو بلې ډلې ته به يې بلنه ورکړه ، زينب ډېره سخي وه او پخپله به يې خواري کښله چې يو شی به ځني زيات سو هغه به يې خيراتوی، ددې په باره کې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: چې زما سره به تر وفات وروسته لومړی بې بې هغه څوک وي چې لاسونه يې اوږده وي ، بيبيانو يوه لښته راوخيستله ظاهري اوږدوالی يې مراد کړی خپل لاسونه يې اندازه کړه په ټولو

(172) سورة الاحزاب الاية (٣٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د سودې لاسونه اوږده وه دنبيﷺ تروفات وروسته چې دستي دا وفات سوه نو معلومه سوه چي دلاسو داوږدوالي څخه ظاهري اوږدوالی نه دئ مراد بلکي سخا تري مراد ده دې مبارکي ډيري روژې هم نيولې د هجرت په شلم کال د پنځوسو کالو په عمر وفات سوه دجنازې لمونځ حضرت عمر ورکړی.ددې قصه په هم دغه باب کي په لسمه شمبره کي تېره سوه. ددې څخه وروسته نبيﷺ د جويريې بنت الحارث بن ابي ضرار سره نکاح وسوه.

## ۸- د حضرت جويرية بنت الحارث حالات

داد مريسيع په غزا کي په بنديانو کي راغلي وه د غنيمت د مال د وېش پر مهال و حضرت ثابت بن قيس ته په برخه ورغلل دبندي کېدو مخکي د مسافع بن صفوان په نکاح کښي وه حضرت ثابت دا په نهه اوقيو سرو زرو په بدله کي مکاتبة کړه ، مکاتبة دې ته ويل کېږي چي بادار وخپل غلام ته ووايي چي ته ماته دومره پېسې راوګټه يا يې راپيدا کړه زه به تا آزاد کړم. يوه اوقيه څلوېښت درهمه ده او يو درهم درې نيمي اني کيږي([173]) په اوسنی حساب د نو (۹) اوقيو قيمت اته اويا درهمه او دولس آني کيږي ، که چيري درهم څلور اني سي نو نوي(۹۰) درهمه کيږي.

دا مبارکه د نبيﷺ حضور ته ورغله او ورته وې ويل: اې د اللهﷻ رسوله ! زه د خپل قوم د سردار حارث لور يم ماته چي کوم مشکل پېښ دی و تاسي ته معلوم دئ اوس زه په دومري پېسو باندي مکاتبه سوې يم دغه پيسې زما د توان څخه وتلي دي اوس ستاسي په اميد راغلې

([173]) په حقيقت کي درهم د يوې زړې سکي نوم دی چې درې ماشي سپين زر کيږي د شيخ په زمانه کي نو درهم درې نيمي آني کېدی ، آنه يو پاکستانی اوهندی واحد دی چي هره آنه (۱۵) پېسې کيږي او سل پېسي يوه پاکستانۍ ياهندۍ روپي کيږي . دشيخ (رحمة الله عليه په زمانه کي يودرهم درې نيمي آنې کيده اوس يوه اوقية زياتي پيسې کيږي .) .ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يم نبيﷺ ورته وويل زه به تاته ډېره ښه لاره دروښيم هغه دا چي پيسې به درکړم آزاده به دي کړم او نکاح به در سره وکړم ، رښتيا هم تر دې ښه لاره نه وه دې هم په خوشحالۍ سره قبوله کړه د مشهوري وينا له مخي په پنځم هجري کال يې نکاح وسوه ځينو شپږم هجري کال ښودلی دئ اصحابو کرامو‌ﷻ چي کله واورېدل چي په بنو المصطلق د نبيﷺ خسرګنۍ سوه نو دوی هم ددې خپلوۍ په درنښت خپل خپل غلامان آزاد کړل ويل سوي دي چي د يوې حضرت جويريې‌ﷻ له وجهي سل کورنۍ آزادي سوې چې نژدې اووه سوه نارينه پکښې شامل وه دنبيﷺ په ټولو نکاحو کښي دا ډول مصلحتونه موجوده.

حضرت جويرية‌ﷻ ډېره ښايسته وه په مخ کښي يې ملاحت ((نمکي والي )) موجود و ويل سوي دي چي چا به ورته وکتل نو نه به ترې ولاړېدئ، حضرت جويريې‌ﷻ ددې جنګ څخه مخکي يو خوب ليدلی و چې د يثرب څخه يوه سپوږمۍ را روانه وه او زما په غيږ کښي را ولوېده دا وايي چې زه کله بندي سوم نوماته دخپل خوب د ختلو اميد پيدا سو دغه وخت ددې عمر شل (۲۰) کاله ؤ دمخکني قول مطابق دا مبارکه په پنځوسم (۵۰) هجري کال په لومړۍ خور کښي د (۶۵) کالو په عمر په مدينه منوره کښي وفات سوه په ځينو رواياتو کښي ددې وفات په (۵۶) هجري کال کښي د (۷۰) کالو په عمر ليکل سوي دئ.

## ۹- د حضرت اُم حبيبې‌ﷻ حالات

دا مبارکه د ابوسفيان لور ده ددې په نامه کي اختلاف دئ ډېرو مرمله ددې نوم ښودلی دئ او ځينو بيا هند ښودلی دئ ددې اوله نکاح په مکة مکرمه کښي د عبدالله بن جحش سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې ده دا او ددې خاوند په اوله کښې مسلمانان سوي دي دوی دواړه د کافرانو د تکلیفونو له امله خپل وطن پرېښودئ حبشې ته یې هجرت وکړی هلته چي ورسېدل مېړه یې پر اسلام پاته نسو بلکه نصراني سو دې هم په دغه شپه کښې خپل خاوند په خوب کښې په ډېر بد شکل ولیدئ سهار ورته معلومه سوه چي دی نصراني سوی دئ پردې چي په یوازې والي کښې کوم حالت تېر سوي دئ هغه یوائې و الله ﷻ ته معلوم دئ خو الله ﷻ ودې ته دا بدل ورکړی چي د نبي ﷺ په نکاح کښې راغله نبي ﷺ د حبشې پاچاه ته پیغام ولیږی چي د ام حبیبې رضي الله عنها نکاح زما سره وکړه نجاشي ابرهه نومي ښځه ودې ته د خبر لپاره ولېږل ، دې په خوشحالۍ کښې خپل دواړه بنګړي چي په لاسو یې وه ، د پښو پازیبونه ، ګوتمۍ ، کړې او داسي نور شیان ورکړل نجاشي ددې نکاح وکړه او دخپل طرفه څخه یې څلور سوه دیناره مهر ادا کړی ډېر شیان یې ورکړل کوم خلګ چي د نکاح په مجلس کښې ناست وه هغوی ته یې دخوراک تر څنګ پیسې هم ورکړې دډېرو تاریخپوهانو په آند دغه نکاح په اووم هجري کال کښې سوې ده ځینو بیا شپږم کال ښودلی دئ دخمیس لیکوال لیکي : چي ددې نکاح په شپږم کال کښې وسوه او واده یې په اووم کال وسوکله چي دا مدینې ته را ورسېده نجاشي پاچا ډېري خوشبویاني ، سامانونه او داسي نور شیان ورکړي وه دنکاح وروسته یې د نبي ﷺ حضور ته ولېږل ځینو د تاریخ کتابونو لیکلي دي چي ددې نکاح ددې پلار وتړل مګر دحدیثو څخه نه معلومیږي اوبل داچي داخبره ځکه صحیح نده چي ددې پلار تر دغه وخته پوري مسلمان سوي نه و تر ددې قصې وروسته مسلمان سو ددې یوه قصه هم ددې باب په (۹) شمېره کښې تېره سوې ده. ددې په وفات کښې ډېر اختلاف دئ ډېرو خلګو (۴۴) سنه ښودلې ده او ددې څخه علاوه (۴۲) هجري سنه ، (۵۰) هجري سنه ، (۵۵) هجري سنه او داسي نوري سنې هم ښودل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰- د حضرت صفیې حالات

حضرت صفیه د حیي لور ده د حضرت موسیٰ د ورور حضرت هارون د اولادې څخه ده اول د سلام بن مشکم په نکاح کښې وه وروسته بیا د کنانة بن ابي حقیق په نکاح کښې راغله دده سره یې په داسې وخت کښې نکاح وسوه چې جنګ شروع سوی وا او ددې خاوند وژل سوی و ،د خیبر د جنګ څخه وروسته د حیه کلبي نومي صحابي د نبي څخه یوه مینځه وغوښته نبي صفیة ورکړه. څرنګه چې په مدینه منوره کې دوې لوی قبیلې یعني بنو قریظه او بنو نضیر مخ په وده وې دا دیو سردار لور وه په دغه وجه ډیرو خلګو وویل چې ددې مینځیتوب ډیرو خلګو ته ناخوښه دئ که نبي دا په نکاح واخلي نو د ډیرو خلګو د زړه تسلي به وسي ، په دغه وجه نبي و دحیة ته ډیر شی په بدله کې ورکړی دا یې څني واخیسته آزاده یې کړه او په نکاح یې واخیسته او د خیبر څخه د راتګ پر مهال په یو کور کښې ددې واده وسو سهار نبي و اصحابو ته وویل: د چا سره چې کوم د خوراک شیان دي هغه راوړی اصحابانو چې جلا جلا د خوراک شیان درلوده لکه خرماوي ، پنیر ،غوړي او داسې نور هغه یې راوړه دخرمني پر یو ستر خوان باندې یې کښېښوده په ګډه یې وخوړل دا ولیمه وه ( یعني د واده ډوډۍ وه ).په ځینو روایتو کې راغلي دي چې نبي ودې ته اختیار ورکړی او ورته وې ویل : که ته په خپل قوم او هیواد کې اوسېدل غواړې نو آزاده یې ولاړه سه او که زما سره په نکاح کې اوسېدل غواړې نو دلته اوسه دې ورته وویل : چې اې د الله رسوله ! زه چې د شرک په حال کې وم ما ستا خواهش درلودئ اوس چې مسلمانه سوم څنګه ولاړه سم ، ددې څخه مراد غالباً هغه خوب و چې دې د مسلمانېدو څخه مخکې لیدلی و دې مبارکې خپل خوب وخپل مېړه کنانة



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ويلی و چې ديثرب ښځه د سپوږمۍ يوه ټوټه زما په غيږ کې ولوېده مېږه يې يوه ټينګه چپلاخه د اسې په زور ووهل چې په سترګو کې يې نښې معلومې سوې او ورته وې ويل چې ته د يثرب د پاچا سره نکاح کول غواړې؟. يو وار يې لمر په خوب ليدلی و چې ددې په سينه کې راغلی و دغه خوب يې هم خپل خاوند ته بيان کړې و هغه ورته ويلې وه چې ته غواړې د يثرب د پاچا په نکاح کې راسې ؟ چا ويلي دي چې دې خوب ليدلی و چې د سپوږمۍ يوه ټوټه يې په سينه کې راغلې وه دغه خوب يې خپل پلار ته بيان کړی و پلار يې هم يوه ټينګه چپلاخه پر مخ وهلې وه او ورته ويلي يې وه چې ته غواړې چې ديثرب پاچا ته ولاړه سې (دغه دوه درې ډوله روايتونه راغلي دي دا چې کوم يو به صحيح وي )ممکنه ده چې دغه خوب يې مېړه او پلار دواړو ته ويلي وي او يا يې سپوږمۍ دوه واره ليدلې وي. د صحيح قول مطابق دا مبارکه د روژې په مياشت په سنه (۵۰) هجري کال د شپېتو کالو په عمر وفات سوه. دا وايي چې زه کله د نبيﷺ په نکاح کښې راغلم نو زما عمر اولس کاله لا نه و.

## ۱۱- د حضرت ميمونې﷞حالات

حضرت ميمونة﷞ د حارث بن حزن لوره او اصلي نوم يې بره وو نبيﷺ ددې نوم بدل کړی ميمونه نوم يې باندې کښېښودئ لومړی د ابو رحم بن عبدالعزي په نکاح کښې وه د ډېر تاريخ پوهانو هم دا وينا ده چې نومړی کس ددې لومړی خاوند و ځينو بيا ليکلي دي چې دې د نبيﷺ مخکې د دوو کسانو سره نکاح کړې ده . نبيﷺ چې کله په اووم هجري کال و عمرې ته تلی نو ددې سره يې د ميانۍ په مياشت کې په سرف نومي ځای کې نکاح وکړه د نبيﷺ اراده وه چې د مکې ښځه تر ببرته ستنېدو وروسته ددې سره واده وکړي خو څرنګه چې د مکې خلګو نبيﷺ ته په مکة کې د اوسېدو اجازه ورنکړه نو ځکه تر بيرته راتګ وروسته يې په سرف کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده وسو په سرف کي هم خاص په هغه ځای کي چي د واده خیمه وه. د صحیح قول مطابق دا مبارکه په سنه (۵۱) هجري کال کې وفات سوه ځینو ددې دوفات تاریخ سنه (۲۱) هجري ښودلې ده په دغه وخت کي ددې عمر یو اتیا کاله و او هم هلته یې قبر جوړ سو. دا هم د عبرت ځای دئ او تاریخي پېښه ده چي په یوه سفر کي نکاح وسي په دوهم سفر کي واده وسي او څه وخت وروسته یې هلته قبر جوړ سي.

حضرت عائشة فرمایي: میمونة په مونږ ټولو کي زیاته پرهېزګاره او وسیله کونکي وه، یزید بن اصم وایي: چي ددې بوختیا لمونځ او یا د کور کار و که چېري د دواړو څخه به فارغه سوه نو مسواک به یې واهه. د بیبیانو په نکاحو کي د میمونې نکاح تر ټولو آخره وه په دغه خبره کي د ټولو محدثینو او مؤرخینو اتفاق دئ البته د بیبیانو د نکاحو په ترتیب کي اختلاف سته چي په وجه یې د دوی د نکاح په تاریخو کي اختلاف پیدا سوی دئ چي په مختصر ډول معلومه سوه، د نبيﷺ دوې بیبیاني یعني خدیجة او زینب بنت خزیمة د نبيﷺ په ژوند کي وفات سوي دي نوري ټولي دنبيﷺ په وفات کي موجودي وې. ددغه بیبیانو څخه علاوه ځینو محدثینو او مؤرخینو دنبيﷺ نوري نکاحي هم ښودلي دي چي په کېدو کي یې اختلاف و نو ځکه ما دهغه بیبیانو حالات لیکلي دي چي دمحدثینو پري اتفاق دئ او دنورو حالات مي نه دي لیکلي کوم چي پکښې اختلاف دئ.

# معلومات

دنبيﷺ اولادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحدثينو او مؤرخينو پر دې خبره اتفاق دئ چي د نبيﷺ څلور لوڼې وې او دډېرې څېړنې وروسته معلومېږي چي تر ټولو مشره حضرت زينب رضي الله عنها ده دوهمه حضرت رقيةرضي الله عنها ده دريمه حضرت ام کلثوم رضي الله عنها ده څلورمه سيدتنا حضرت فاطمةرضي الله عنها ده ، او په زامنو کي يې ډېر اختلاف دئ ځکه چي دوی مبارکان ټول په کوچنيوالي وفات سوي دي. په دغه وخت کي د عربو د تاريخ چنداني پروا نه وه او سرتيري اصحابان هم په دغه وخت کي زيات نه وه چي هره خبره يې په پوره ډول ساتلې وای دزياتو علماؤ څېړنه داده چي د نبيﷺ درې زامن حضرت قاسم ، حضرت عبدالله، او حضرت ابراهيم(عليهم السلام) سوي دي ځينو ويلي دي چي دنبيﷺ نارينه اولادونه پنځه وو څلورم يې حضرت طاهر او پنځم يې حضرت طيب دي ، ځينو ويلي دي چي طيب او طاهر داوړه دنبيﷺ ديوه زوی نومان دي که داسي وي نو دنبيﷺ نارينه اولادونه څلور کيږي ،ځينو ويلي دي چي طيب او طاهر دواړه د عبدالله نومونه وه که داسي سي نو د نبيﷺ نارينه اولادونه درې کيږي ، ځينو ويلي دي چي د نبيﷺ دوه زامن نور وه چي مطيب او مطهر دي دوی ليکلي دي چي طيب او مطيب يو ځای پيدا سوه او طاهر او مطهر يو ځای پيدا سوه په دغه ډول نود نبيﷺ د نارينه اولادو شمېر اوو ته رسيږي ، خو د زياتو علماؤ څېړنه داده چي دنبيﷺ نارينه اولادونه درې دي. همدا ډول د نبيﷺ ټول اولادونه د ابراهيمعليه السلام څخه پرته د خديجې رضي الله عنها څخه پيدا سوي دي.

## ۱- د حضرت قاسمعليه السلام حالات

حضرت قاسمعليه السلام تر ټولو مخکي پيدا سوی دئ خو په دې کي اختلاف دئ چي حضرت زينب رضي الله عنها تر ده مشره وه او که کشره وه حضرت قاسمعليه السلام په کوچنيوالي کي وفات سو چي عمر يې دوه کاله و ځينو تر دې کم او زيات عمر ليکلي دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د حضرت عبدالله عليه السلام حالات

د نبي ﷺ دوهم زوی حضرت عبدالله عليه السلام دئ د نبوت څخه وروسته پيدا سوی دئ په هم دغه وجه دده مبارک ته طيب او طاهر ويل کيږي دئ هم په کوچنيوالي وفات سوی دئ دده مبارک په وفات باندي کافران ډېر خوشاله سوه ځينو ليکلي دي چي د حضرت قاسم په وفات باندي کافران ډېر خوشاله سوه ددې لپاره چي د نبي ﷺ نسل ختم سي او دابه يې ويل چې د نسل د ورکېدو څو ورځي وروسته به دده نوم هم ورک سي د دوی د دغه وينا په جواب کي الله جل جلاله سورة کوثر نازل کړی چي دده مبارک نوم به ورک نسي هم داسي وسوه چي نن څوارلس پيړۍ وروسته هم دده مبارک نوم د سلهاوو زرو انسانانو په زړو کي سته.

## ۳- د حضرت ابراهيم عليه السلام حالات

دنبي ﷺ دريم زوی حضرت ابراهيم ◆ دئ چي د ټولو په اتفاق تر هجرت وروسته د لوی اختر په مياشت کي په اتم هجري کال کي پيدا سو د نبي ﷺ دغه مبارک زوی دنبي ﷺ د مينځي حضرت ماريې ▲څخه پيدا سو او دنبي ﷺ تر ټولو وروستی نارينه اولاد دئ نبي ﷺ دده په اوومه ورځ دده عقيقه وکړه دوه پسونه يې حلال کړه (يعني دشکراني په ډول يې اومه ورځ ولمانځل) نبي ﷺ دده دسر د وېښتانو په اندازه سپين زر خيرات کړل. ابو هند بياضي ◆ دده مبارک سر وروخرايه او د سر وېښتان يې ښخ کړه ، نبي ﷺ وفرمايل: ما د خپل پلار ابراهيم عليه السلام نوم پر ده باندي کښېښودئ. دی مبارک د شپاړسو مياشتو په عمر د لومړۍ خور په لسمه نېټه په سنه (۱۰) هجري کي وفات سو. ځينو بيا دده عمر مبارک اتلس مياشتي ښودلی دئ. نبي ﷺ فرمايلي دي: چي ابراهيم ◆ لپاره په جنت کي شيدي ورکونکي مقرره سوه.



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د حضرت زینب حالات

حضرت زینب د نبيﷺ تر ټولو مشره لوروه ځینو مؤرخینو ددې مبارکي نوم بل ډول لیکلی دئ خوصحیح نه دئ دا مبارکه د نبيﷺ د نکاح پنځه کاله وروسته پیدا سوه په دغه وخت کي دنبيﷺ عمر دیرش کاله و ، د خپل مور او پلار په غیږ کي لو سوه ، مسلمانه سوه ، دخپل خاله د زوی سره یې نکاح وکړه چي ابوالعاص بن ربیع AA نومېده د بدر دغزاء څخه یې وروسته هجرت وکړی په دغه هجرت کښې د کافرانو د ناپاکو حرکتونو په لړ کښې زخمي سوه چي قصه یې ددې باب په (۲۰) شمېره کښې تېره سوه دهمدغه زخم له امله د ژوند تر پایه پوري ناروغه وه اود (۸) هجري کال په شروع کښې وفات سوه ددې خاوند هم په (۲ ، یا ۷) هجري کال کښې مسلمان سو کله چي یې خاوند مدینې منورې ته ورسېدئ نو دا مبارکه هم دده په نکاح کښې پاته سوه د بي بي زینبي AA دخپل خاوند څخه دوه اولادونه پیدا سوي دي چې یو هلک او بله نجلۍ وه د هلک نوم یې علي و چي د خپلي مور د وفات وروسته د بلوغ څخه لږ څه مخکي د نبيﷺ په ژوند کښې وفات سو همدغه علي د نبيﷺ سره دمکې د فتحي په سفر کښې پر اوښه باندي سپورو.د نجلۍ نوم یې حضرت امامه وه دا هغه نازولې وه چي دحدیثو په کتابو کښې یې ډېري قصې راځي چي کله به نبيﷺ لمونځ کاوه سجدې ته به ولاړی دا به یې پر ملا سپره سوه دا دنبيﷺ تر وفات وروسته ژوندۍ وه.

حضرت فاطمة چي ددې خاله وه کله چي وفات سوه ددې نکاح د حضرت علي AA سره وسوه دحضرت علي AA تر وفات وروسته یې بیا د مغیره بن نوفل سره نکاح وکړه د حضرت علي AA ددې څخه هیڅ اولاد ندی سوی مګر د مغیره څخه ځینو دیحیی په نوم یو زوی لیکلیدئ ځینو بیا دا خبره رد کړې ده.ویل سوي دي چي حضرت فاطمة کله وفات کېده نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصیت یې کړی و چې زما څخه وروسته دي حضرت علي زما د خورزې سره نکاح وکړي حضرت امامة په سنه (۵۰) هجري کښې وفات سوه.

## ۵- د حضرت رقیې حالات

دنبيﷺ دوهمه لور حضرت رقية وه دا مبارکه تر خپلي خور حضرت زينب دري کاله وروسته پیدا سوې ده په دغه وخت کښې دنبيﷺ مبارک عمر (۳۳) کاله و ځینو رقیة تر زینب مشره ښودلې ده خو صحیح خبره داده چې دا کشره وه د نبيﷺ د اکا ابو لهب دزوی عتبه سره یې نکاح سوې ده کله چې د ابو لهب په شان کښې د اللهﷻ د لوري څخه سورة( لهب ) نازل سو نو ابولهب خپلو دوو زامنو عتبه او عتیبه ته وویل:که چېري تاسو د محمدﷺ لوړنو ته طلاق ورنکړی نو زما ملاقات ستاسو سره حرام دئ عتیبه ته نبيﷺ دریمه لور ام کلثوم ورکړې وه په همدا وجه دوی دواړو د نبيﷺ لوڼي طلاقي کړې د دوی نکاح په کوچنيوالي کښې سوې وه په دغه وخت کښې لا د دوی واده نه و سوی کله چې مکة مکرمة فتحه سول نو د رقيې خاوند عتبه مسلمان سوی و خو بې بې ته یې لا پخوا طلاق ورکړی و او نکاح یې د حضرت عثمان سره ډېر وخت مخکي سوې وه حضرت عثمان او حضرت رقیة په دواړو وارو کښې وحبشې ته هجرت کړی و چې بیان یې د اول باب په لسمه شمېره قصه کښې تیر سو تر دغه هجرتو وروسته نبيﷺ و فرمایل ماته هم دهجرت امر کېدونکی دئ او زما د هجرت ځای به مدینه منوره وي د نبيﷺ ددې خبرې سره اصحابانو مدینې ته سفر شروع کړی په دغه سلسله کښې د نبيﷺ تر هجرت مخکې دوی دواړه مبارکان مدینې ته ورسېدل د نبيﷺ تر هجرت وروسته چې یې کله د بدر وغزا ته تشریف وړی پدغه وخت کښې رقیة ناروغه وه نبيﷺ ددې د ناروغۍ په وجه حضرت عثمان ورته پرېښودی د بدر دغزا د فتحې زیری چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصحابانو ته را رسېدئ په دغه وخت کي دوی د رقيې د ښځېدو مراسم بشپړ کړي وه په همدغه وجه رسول اللهﷺ ددې په ښخيدو کي هم شريک نسو ددې داول خاوند سره واده نه و سوی نو دهغه مېړه څخه يې اولاد هم ندی سوی مګر د حضرت عثمان څخه يې يو زوی د عبدالله په نامه په حبشه کښې پيدا سوی دئ د خپل مور تر وفات وروسته هم ژوندی و او په سنه(۴) هجري کښې دشپږو کالو په عمر وفات سو ځينو بيا ليکلي دي چي تر خپلي مور تر مرګ يو کال مخکي وفات سو ددغه زوی پرته د رقيې بل هيڅ نارينه اولاد ندئ سوی.

## ۲- دحضرت ام کلثوم حالات

دنبيﷺ دريمه لور ام کلثوم ده په دې کښې هم اختلاف دئ چي ځيني وايي فاطمه مشره وه او ځيني وايي چي ام کلثوم مشره وه خو دزياتو په آند ام کلثوم مشره ده ددې نکاح هم لومړی د عتيبه سره سوې وه واده يې لا نه و سوی چي دسورة(لهب) په نازلېدو سره عتيبه دپلار ابولهب په امر طلاق ورکړی لکه چي د رقيې په قصه کي تير سو خو دهغې خاوند وروسته مسلمان سو او ددې خاوند عتيبه چي طلاق ورکوی نو د نبيﷺ حضور ته راغلی او په ډېره ګوستاخه ، بې ادبه او نامناسبه الفاظ يې د خولې څخه را وايستل نبيﷺ ښراوي ورته وکړې او وې ويل چي اې اللهﷻ !د خپلو سپو څخه يو سپی پر ده مقرر کړې ابوطالب لا په دغه وخت کي ژوندی وکه څه هم مسلمان سوی نه و خو دنبي ◄ د ښراوو څخه بېرېدئ او ده ته يې وويل چي ددغو ښراوو څخه ستا خلاصېدل نسته او همدغسي وسول يوه ورځ عتيبه وشام ته سفر کاوه پلار ابو لهب يې دنبيﷺ د ډيري دښمنۍ سره ـ سره وده ته وويل چي زما سره دنبيﷺ د ښراوو فکر سته د قافلي وتولو خلکو ته يې وويل چي زما پر زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي بهزيات پام او فکر کوئ دوی یوځای تهورسېدل پههغهځای کښي ډير زمريان موجود وه دقافلي خلګو دقافلي ټولهشيان سره یو ځای کړل او یوه لویه غونډۍ یې ځني جوړه کړل دشپې يې عتیبه سربېره پر دغهغونډۍ بیده کړی دوی خپله دځلورو طرفو نو څخه شاوخواپرې را وګرځېدل کله چي دوی بیده سول یو زمری راغلی دټولو خولي یې بوی کړې آخر د کالو غونډۍ ته پورتهسو پر سر باندي یې عتیبه پیدا کړی سر یې د بدن څخهورجلا کړی یوه ناره یې وکړه خلګ چي راپورته سول کار یې تر کار تېر سوي و یعني مړ سوی و،ځینو مؤرخینو لیکلي دي چي داپېښهو عتبهتهپېښهسوې ده او عتیبه مسلمان سوی و خو په هرصورت د ام کلثوم او حضرت رقیېﷺ پهخاوندانو کښېي یو تن مسلمان سوی دئ او بل تن ته یې دغه دعبرت قصه ور پېښه سوې ده پههمدې وجه خلګ د اللهﷻ د دوستانو د دښمنۍ څخه بیریږي اللهﷻ په حدیث قدسي کښي فرمایي:(من عادی لي ولیا فقد اذنته با لحرب) ژباړه: څوک چي زما د دوست سره دښمني کوي هغه ته زما د جنګ اعلان دئ.د حضرت رقیېﷺ تر وفات وروسته په سنه(٣) هجري کي د ام کلثومﷺ نکاح د حضرت عثمانﷺ سره وسوه د نبيﷺ ارشاد دئ چي ما د ام کلثومﷺ نکاح د عثمانﷺ سره دآسماني وحیو په امر وکړل ، ځینو ویلي دي چي نبيﷺ دغه وینا د ام کلثوم او رقیېﷺ دواړو په اړه وه د ام کلثومﷺ د لومړی مېړه سره واده نه و سوی نو اولاد خو یې بیخي دهغه مېړه څخه ندئ سوی او د حضرت عثمانﷺ څخه یې هم اولاد ندئ سوی دامبارکه په سنه(٩) هجري د برات په میاشت کښي وفات سوه ، نبيﷺ ددې د وفات څخه وروسته وفرمایل: که چیري زما سل لوڼي وای په همدغه ډول وفات کېدلای نو ما به یو په بل پسي و حضرت عثمانﷺ ته په نکاح ورکولای.

٧- دحضرت فاطمېﷺ حالات

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نبيﷺ څلورمه لور د جنتيانو ښځو سرداره حضرت فاطمة ده چي په عمر کي د زياتو تاريخ پوهانو په آند کشره وه دنبوت څخه يو کال وروسته پيدا سوه پدغه وخت کي د نبيﷺ عمر مبارک (۴۱) کاله و ځينو ليکلي دي چي د نبوت پنځه کاله مخکي پيدا سوې ده چي دنبيﷺ عمر (۳۵) کاله و وايي چي ددې نوم دالهام يا د وحيو په ذريعه اينبودل سوی دئ د فطم څخه اخيستل سوی دئ په معني د منع کولو دئ دا مبارکه هم د دوزخ له اوره څخه محفوظه ده په سنه(۲) هجري د حسن حسين، صفري ، خدای تعالي او يا د روژې په مياشت کښي يې نکاح د حضرت علي AA سره وسوه اوه مياشتي او پنځلس ورځي وروسته يې واده وسو دا نکاح هم د اللهﷻ په حکم وسوه پدغه وخت کښي ددې عمر پنځلس کاله او پنځه مياشتي و ، ددغه خبري څخه هغه وينا تائيدېږي چي دا مبارکه د نبوت څخه يو کال وروسته پيدا سوې ده پدغه وخت کښي د حضرت علي AA عمر يوويشت کاله پنځه مياشتي او يا څلرويشت کاله يوه نيمه مياشت و دنبيﷺ په ټولو لونو کښي ددې سره زياته مينه وه نبيﷺ چي به کله يو ځای په سفر تلی نو تر ټولو وروسته به يې ددې څخه رخصت اخيستيا وکله چي به يې د سفر څخه تشريف راوړی نو لومړی به يې ددې کور ته تشريف وړی. حضرت علي کرم الله وجهه د ابوجهل دلور سره د دوهمي نکاح کولو اراده وکړه دا غمجنه سوه او نبيﷺ ته يې شکايت وکړی ، نبيﷺ وفرمايل: فاطمة زما د بدن ټوټه ده که چادې ته تکليف ورسوی ماته يې تکليف ورسوی په همدې وجه حضرت علي AA ددې په ژوند کښي بله نکاح نه وکړه ددې تر وفات وروسته يې ددې مبارکي دخورزې حضرت امامة سره نکاح وکړه چي بيان يې د زينب په حالاتو کښي تير سو ، دنبي ◄ دوفات څخه شپږ مياشتي وروسته حضرت فاطمة ناروغه سوه يوه ورځ يې خدمتګاري ته وويل: زه غسل کوم اوبه راته تياري کړه ( اوبه يې تياري سوې)غسل يې وکړی پاکي جامې يې واغوستي بيا يې وويل چي زما بستره دکور په منځ کښي کړئ (بستره چي کښېښودل سوه ) دې مبارکي تشريف ورووړی مخ يې وقبلې ته کړی خپل راسته لاس يې تر مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې کښېښودی اووې ويل: زه اوس مړه کېږم دايې وويل وفات سوه. د نبي ﷺ د اولادو سلسله ددې څخه را روانه ده او تر قيامته پورې به چلېږي ددې مبارکې شپږ اولاده وسوه درې يې زامن وه او درې يې لونې وې لومړی يې د نکاح په دوهم کال حضرت حسن AA زوی پيدا سو د نکاح په دريم کال يعني سنه (۴) هجري کښې يې حضرت حسين AA پيدا سو بيا حضرت محسن AA پيدا سو او د کوچني والي په وخت کښې وفات سو په لونو کې يې حضرت رقيه په کوچني والي کې وفات سوې ده په همدې وجه ځينو مؤرخينو نده ليکلې، دوهمه لور يې حضرت ام کلثوم وه چې لومړی نکاح يې د اميرالمؤمنين حضرت عمر AA سره وسوه دده څخه يې يو زوی د زيد په نامه او يوه لور د رقيې په نامه پيدا سوه د حضرت عمر AA د وفات څخه وروسته د ام کلثوم نکاح د حضرت عون بن جعفر AA سره وسوه دده څخه يې هيڅ اولادونه سو دده دوفات وروسته يې نکاح دده د ورور محمد بن جعفر AA سره وسوه دده څخه يې هم هيڅ اولاد ونه سو، دده د وفات وروسته يې د عبدالله بن جعفر سره نکاح وسوه او هم دده په نکاح کښې ام کلثوم وفات سوه ددې د وفات په ورځ ددې مبارکې زوی زيد هم وفات سو دواړې جنازې په يو وارې پورته سوې او ددې مبارکې د اولادو هيڅ سلسله ونه چلېدل دا درې مبارکان حضرت عبدالله، عون او محمد هغه ورونه دي چې په شپږم باب يوولسمه شمېره کې يې قصه تېره سوه د حضرت علي AA وريرونه دي او د حضرت جعفر طيار AA زامن دي. د حضرت فاطمې دريمه لور حضرت زينب ده چې د عبدالله بن جعفر سره يې نکاح وسوه او دوه زامن يې عبدالله او عدن پيدا سول او هم دده په نکاح کښې وفات سول ددې د وفات وروسته حضرت عبدالله بن جعفر ددې د خور حضرت ام کلثوم سره نکاح وکړه. دا هم د حضرت فاطمې اولادونه دي، ددې مبارکې تر وفات وروسته چې علي AA د کومو ببيانو سره نکاحې کړې دي د هغوی څخه يې هم اولادونه سته چې تاريخ پوهانو دوديرش ليکلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په هغې کښې شپاړس زامن او شپاړس لوڼې دي. د حضرت امام حسن ؓ پنځلس زامن او اته لوڼي دي او د حضرت حسین ؓ شپږ زامن او درې لوڼې دي.

رضي الله تعالي عنهم وارضا هم اجمعین وجعلنا بهدیهم متبعین والله اعلم و علمه اتم.[174]

# یوولسم باب

## د کوچنیانو دیني جذبه

د اصحابو ؓ کوچنیانو اولادونو چي کومه دیني جذبه درلوده دا په حقیقت کي د دوی د مشرانو د ښې تربیې نتیجه وه. که چېرې مور او پلار او نور دوستان د خپل اولاد د مینې د ضایع کیدلو پر ځای د دوی د دیني حالت پوښتنه کوي او ورته نصیحت کوي نو د دین کارونه به د دوی د اولادو په زړو کښې ځای ونیسي کله چي لوی سي دغه کارونه به د دوی عادت وګرځي بدبختانه چي مورږ د اولادو پر بدو کارو نو سترګي پټوو او که مو زیات د مینې جوش راسي نو په خوشالیږو که چیري د دین په کارو کښې سستوالی کوي نو مورږ خپل زړه ته تسلي ورکوو او وایو چي لوی سي په خپله به سم سي او حال دا چي کوم عادتونه چي په کوچنیوالي کښې تخم کرلي وي هغه عادتونه پاخه سوي دي بیا نه ایسته کیږي. تاسو غواړی چي د زوزو تخم وکرئ او بیا په حاصل کي غنم لاسته راوړئ دا خبره مشکله ده که تاسو غواړئ چي په اولادو کښې مو ښه عادتونه پیدا سي او د دین په ټولو کارو کښې دي پوره پاملرنه وکړي نو

---

(174) ملخص من الخميس والزرقاني علي المواهب والتلقيح والاصابة واسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي پخپلو اولادو کښي د کوچني والي څخه د دين د اهتمام عادت جوړ کړئ، اصحابو چي به د کوچني والي څخه د خپلو اولادو نګراني کوله او ديني کارونه به يې په پابندی سره په ادا کول ، د حضرت عمر په خلافت کي يو سړی نيول سوی راوستل سو چي د روژې په مياشت کې يې شراب چيښلي وه او روژه يې نه وه نيولې حضرت عمر ورته وفرمايل: چي تبا او برباد سې زموږ کوچنيان لا روژې نيسي او ته روژه خورې.([175])

١- د کوچنيانو روژه نيول

ربيع بنت معوذ چي قصه يې د لسم باب په آخر کښي تېره سوه فرمايي: نبيﷺ يو ځلي اعلان وکړی چي نن د عاشورا ورځ ده ټوله روژه ونيسئ موږ به ددې څخه وروسته ټولو روژې نيولې په کوچنييانو به مو هم روژې نيولې کله چي به هغوي د لوږي څخه ژړل نو موږ به د پنبوو څخه د لوبو يوشی ورجوړ کړی او په هغه به مو د روژه مات تر وخته پوري مشغول ساتل.([176])

فايـده: په ځينو حديثو کښي دا هم راغلي دي چي ښځو به و شيدو رودونکو ماشومانو ته شيدې نه ورکولې که څه هم د هغه وخت بدنونه ډېر توانا وه او د اوس خلګ ډېر ناتوانه دي نو ځکه د هغه وخت خلګو او کوچنييانو تحمل درلودای سوا و دې ته هم کتل پکار دي چي د اوس خلګ څومره تحمل لري او هغو څومره تحمل درلود يځکه تحمل ته کتل ضروري دي د تحمل په درلودلو کښي کمزوري کول يقيناًنامناسبه کار دئ.

(175) بخاري
(176) بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ - د حضرت عائشي ﷺ حديثونه او دايت نازلېدل

حضرت عائشة ﷺ د شپږو کالو په عمر د نبي ﷺ په نکاح کښي راغله او د(۹) کالو په عمر په مدينه منوره کښي واده سوه دا مبارکه د (۱۸) کالو وه چي نبي ﷺ ددې نړۍ څخه تشريف يووړی ( ۱۸) کاله عمر نو څه شي دئ دي په دومره لږ وخت کي د نبي ﷺ څخه دومره زيات حديثونه ، ديني علمونه او ديني مسئلې را نقل کړيدي چي اندازه يې نسته .

مسروق ﷺ فرمايي: ما لوي ـ لوي اصحابان وليدل چي د حضرت عائشي ﷺ څخه به يې د مسئلو پوښتنه کوله .

عطاء ﷺ فرمايي: دا مبارکه تر نارينوو په مسئلو باندي زياته باخبره او عالمه وه.

ابو موسي ﷺ فرمايي: موږ ته چي به کوم علمي مشکل پيښ سو نو حل به يې د حضرت عائشي ﷺ د لوري څخه را رسېدی.([177])

ددې مبارکي دوه زره دوه سوه لس(۲۲۱۰ ) حديثونه د حديثو په کتابو کښي موجود دي.([178])

دا مبارکه پخپله فرمايي: چي ما په مکة مکرمة کي په کوچنيوالي کښي لوبي کولې چي پر نبي ﷺ باندي د سورت قمر لاندينی آيت نازل سو :

⬀☠➔♎🡐⑨⊗⬉⬀❑♦✌ ➔❑♦⬉☙○○♍☙✁ ⬀✍♦✉

⬂✎⊗⬀ ❾❷♦✌❐🕮♦❐ 🗐❻⍓♎⬃⑩❐🕮 ➔❑♦⬉☙○○♍☙✁♦❐

([179])

---

([177]) اصابة

([178]) تلقيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مبارکه تر اتو کالو پورې په مکة مکرمة کې پاته وه په دومره کم عمر کې يې دا د آيت په نازلېدو خبره وه او بيا يې يادول دا ددين سره په خاص محبت کيږي که نه نو اته کاله عمر نو څه شي دئ؟

۳- د حضرت عمير ﷺ په جهاد کښې د ګډون شوق

حضرت عمير ﷺ د ابي اللحم غلام و، کوچنی هلک وو پدغه وخت کې د جهاد شوق په لوی او کوچنی کښې و. حضرت عمير ﷺ د خيبر په جنګ کښې د ګډون غوښتنه وکړه دده سردارانو هم د نبيﷺ په حضور کښې دده سپارښت وکړی چې وده ته په جنګ کښې د ګډون اجازه ورکړي نبيﷺ هم اجازه ورکړه او يوه توره يې ورپه غاړه کړه خو توره لو وه او دده قد کوچنی و توره پر مځکه ورسره ښکېدل پدغه وخت کښې ده د خيبر په جنګ کښې ګډون وکړ مګر څرنګه چې دی کوچنی هم وا و غلام هم و نو په مال د غنيمت کښې پوره ونډه ورنکړل سوه خو بيا هم د انعام په ډول يو څه سامان يې ورکړی.([180])

دده په څېر مبارکانو ته دا معلومه وه چې په مال د غنيمت کښې زموږ پوره ونډه نسته خو ددې سره ـ سره به يې د نورو په واسطه و نبيﷺ ته سپارښت کاوه چې په جهاد کښې د ګډون اجازه ورکړي په همدې وجه داد ديني جذبې او د الله تعاليﷻ او دهغه دريښتني رسولﷺ پر وعدو باندې دتسلي پرته بل شی نسي کېدای.

۴- د حضرت عمير ﷺ د بدر په غزا کې په پټه د شرکت کوشش

(179) سورة القمر الاية (٤٦) بخاري
(180) ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عميربن ابي وقاص AA يو کم عمره صحابي و د اسلام په شروع کې يې اسلام راوړی و د مشهور اصحابي سعد بن ابي وقاص وررو سعد AA فرمايي: چې ما خپل وررور عمير AA وليدئ چې د بدر دغزا دلښکر د روانېدو پر وخت پټ يوې خوا او بلې خواته کېدی چي ځوک مي ونه ويني ما چي دا حال وليدی نو ورته حيران سوم او پوښتنه مي ځني وکړه چي ولي پټ-پټ ګرځې؟ ده راته وويل: چې په دې وجه پوټيږم چي نبيﷺ مي ونه ويني او د کوچنی خيال را باندې ونکړي او د جنګ څخه مي منع نکړي ، که يې وليدم بيا به زه نسم تلای او زه دا غوارم چي خامخا په دې جنګ کې ګډون وکړم. کېدلای سي چي اللهﷻ ماته په دې جنګ کې په يو ډول شهادت را نصيب کړي ، آخر چي کله لښکر را وړاندي سو نو ده ته چي کومه خطره وه هغه پېښه سوه او نبيﷺ دی مبارک د کم عمر په وجه وجنګ ته دتللو څخه منع کړی خو دشوق غلبه وه ددې تحمل يې نسوای کولای نو په ژړا سو نبيﷺ ته چي دده دشوق او دژړا حال معلوم سو نو اجازه يې ورکړه هيله يې پوره سوه او دوهمه ارزو يې هم پوره سوه په دغه غزا کې شهيد سو ، دده ورور سعد AA فرمايي: دده کوچنيوالي او دتورې د لوی والي له وجهي ما دده د توري و تسمې ته غوټې ورکولې چي پورته سي.(181)

## ۵- د وه انصاري هلکان او د ابوجهل قتل

حضرت عبدالرحمن بن عوف AA د مشهورو او لويو اصحابانو څخه دئ ،دی مبارک فرمايي: چي زه د بدر په ميدان کي د جنګ کوونکو په قطار کي ولاړ وم ما وليدل چي راسته او

(181) اصابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



چپه طرف ته مې دوه انصاري هلکان ولاړ دي ما فکر وکړی چې کاشکې زه د توانا خلکو په منځ کې ولاړ وای نو ښه به وای چې د اړتيا په وخت کې مو يو د بل سره مرسته کولای په دغه وخت کې يوه تر لاس ونيوم او راته وويل: کاکاجانه ! ته ابو جهل پيژنې ؟ ما ورته وويل: هو څه يې کوې؟ ده راته وويل چې زه خبر سوی يم چې ده رسول اللهﷺ ته ښکنځل کړي دي نو زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح يې په قبضه کې دئ که زما سترګې پرده ومښتلې تر هغه به زه ځنې جلا نسم چې زه دی وژنم او يا دی ماوژني. زه ددې هلک په سوال او جواب کې حيران وم چې هغه دوهم هلک پوښتنه راڅخه وکړه پداسې ډول لکه اول هلک چې راڅخه کړې وه ، نا ببره په دغه وخت کې ابو جهل راښکاره سو زما چې سترګې پرې ولګېدې نو دوی ته مې وويل: کوم ځوک چې ستاسو پکار و هغه دی روان دئ دوی چې وليدئ نو په ځغاسته ورغلل توري چلول يې پر شروع کړه تر داسې وخته پوري چې هغه يې را غوزار کړی.([182])

فايـــده: دغه دواړه هلکوان معاذ بن عمرو بن جموح او معاذ بن عفرا رضي الله عنهما وه. معاذ بن عمرو رضي الله عنه فرمايي: ما د خلکو څخه اوريدلي وه چې ابو جهل هيڅوک نسي وژلای هغه په ډېر حفاظت کې او سيږي دهغه وخت څخه زما دا خيال و چې دی به وژنم ، دغه دوه هلکوان پياده وه او ابوجهل سپور و ، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمايي: کله چې دغه دوه هلکان په ځغاسته وررسېدل نو پر آس سپور باندې حمله ګرانه وه په همدې وجه يوه پر آس حمله وکړه او بل د ابو جهل پر پښه حمله وکړه چې په دغه حمله سره آس هم غوزار سو او ابوجهل هم غوزار سو پورته کېدای نسو په هغه ځای کې پروت و تاو تاو کېدی د معاذ بن عفراء ورور معوذ بن عفراء نور هم زخمي کړې چې ولاړ نسې خو مړ نسو ددې څخه وروسته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه يې سر د بدن څخه ور جلا کړی.معاذ بن عمرو وايي ما چې کله د ابوجهل پر پښه حمله وکړه دده سره خپل

---

([182]) بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی عکرمة ورسره و. زوی يې زما پر اوږه حمله وکړه زما لاس بيخي پرې سو خو يوازې په څرمن پيوندو.([183])

دی مبارک وايي: ما خپل په څرمن پيوند لاس تر شا واړوی او ټوله ورځ په دا بل لاس وجنګېدم کله چي زه د لاس څخه په تکليف سوم. نو هغه ځړېدلي لاس مي تر پښه لاندي کړی او راکش مي کړی لاس پرې سو ومي غورځوی.([184])

## ۷- د حضرت رافع او حضرت ابن جندب رضي الله عنهما مقابله

دنبي ﷺ مبارک عادت داوو چي کله به لښکر دمديني څخه ووتی نو دستي به يې لښکر معاينه کاوه د لښکر حال به يې ځان ته معلوماوه او اړتيا وي به يې ځانته معلومولې د لښکر اصلاح به يې کول کم عمره هلکان يې بېرته استول زيات هلکوان به په خپل شوق سره د غزا لپاره ووتل نبي ﷺ چي کله د احد غزا ته تشريف وړی نو د معاينې لپاره يې يو ځای لښکر ودراوه او کم عمره هلکان يې د کوچني والي په وجه بېرته استول چي پدغه هلکانو کښې دغه لاندي مبارکان وه. عبد الله بن عمر زيد بن ثابت، اسامه بن زيد ، زيد بن ارقم ، براء بن عازب ، عمرو بن حزم ، اسيد بن ظهير ، عرابه بن اوس ، ابو سعيد خدري، سمرة بن جندب او رافع بن خديج رضي الله عنهم ددوی عمرونه نژدې (۱۳) او (۱۴) کاله وو کله چي دوی ته د بېرته تللو امر وسو نو حضرت خديج رضي الله عنه و نبي ﷺ ته د خپل زوی رافع سپارښت وکړی او ورته وې ويل چي اې د الله جل جلاله رسوله ! زما دزوی غشي ويشتل ډېر ښه زده دي رافع چي د پلار دا خبره واورېدل دا جازې په شوق جګ جګ سو چي قدم يې اوږد معلوم سي نبي ﷺ اجازه ورکړه. سمرة بن جندب رضي الله عنه خپل

---

([183]) اسد الغابة
([184]) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلندر مره بن سنان ته وویل چې نبي ﷺ رافع ته اجازه ورکړه او و ماته یې اجازه رانکړه حال دا چې زه پر رافع باندې غښتلی یم که چیرې زما او د هغه مقابله وسي نو زه به هغه راچپه کړم نبي ﷺ ددوی دواړو مقابله وکړه ربښتیا هم سمرة رافع راچپه کړی پدې وجه نبي ﷺ سمرة ته هم اجازه ورکړه ددې څخه وروسته نورو کوچنیانو هم د اجازې هڅې وکړې په هغو کښې هم ځینو ته اجازه ورکړل سوه پدغه بهیر کښې شپه سول نبي ﷺ د ټول لښکر د حفاظت انتظام وکړل سو او پنځوس کسه یې د ټول لښکر د حفاظت لپاره مقرر کړل بیا یې وفرمایل: څوک به زمونږ حفاظت وکړي؟ یو ملګری ولاړ سو او وې ویل چې یا رسول الله ! زه و دې کار ته تیار یم نبي ﷺ ورته وویل چې ستانوم څه شي دی؟ ده مبارک وویل ذکوان دئ نبي ﷺ وفرمایل: ښه دئ ته کښېنه بیا یې و فرمایل: څوک به زمونږ حفاظت وکړي؟ یو ملګری ولاړ سووې ویل: یا رسول الله ﷺ زه ودې کارته تیار یم نبي ﷺ د نامه پوښتنه څني وکړه ده ورته وویل چې زما نوم ابو سبع (دسبع پلار) دئ نبي ﷺ ورته وفرمایل چې ښه دئ ته کښېنه ، نبي ﷺ دریم ځلي بیا پوښتنه وکړه چې زمونږ حفاظت به څوک کوي؟ بیا یو ملګری ولاړ سو چې یا رسول الله ﷺ زه ودې کارته تیار یم نبي ﷺ د نامه پوښتنه څني وکړه ده ورته وویل چې زما نوم ابن عبد القیس دئ نبي ﷺ ورته وفرمایل چې ښه دئ ته کښېنه لږ وخت وروسته نبي ﷺ و فرمایل هغه درې سره کسان دې راسي یو ملګری د نبي ﷺ حضور ته راغلی نبي ﷺ ورته وفرمایل چې ستا هغه نور دوه ملګري څه سول؟ ده ورته وویل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! درې سره واره زه ولاړ سوی وم نبي ﷺ دعا ورته وکړه او د حفاظت امر یې ورته وکړی ده هم ټوله شپه د نبي ﷺ د خیمې حفاظت وکړی.([185])

فایـــده: داد مبارکو اصحابانو شوق او جذبې وي ،کوچنیان وه که لویان وه داسي مست وه چې ځان قربان ول یې خپل هدف و همدا وجه وه چې تل به بریالیتوب ددوی قدمونه ښکلول

([185]) خمیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



رافع بن خديج ﷺ د بدر په غذا کښې هم ځان وړاندي کړی وخو په هغه وخت کښې اجازه ورنکړل سول بيايې د احد په غزاء کښې ځان وړاندي کړی چي قصه يې اوس تېره سول ددې څخه وروسته په هره غزاء کښې يې ګډون کاوه داحد په غزاء کښې يو غشی دده پر سينه باندي ولګېدئ کله چي يې راکښې ټوله راوختي مګر يوه ټوکه يې دننه په بدن کښې پاته سول هغه پاته سوی ټوټې يې ديو زخم شکل اختيار کړی په آخر عمر کښې چي سپين ږيرو والي ته نژدې و دغه زخم تازه سو او د مرګ سبب يې وګرځېدئ. (186)

٧- د حضرت زيد ﷺ د قرآن په وجه وړاندي والی

حضرت زيد بن ثابت ﷺ د هجرت په وخت کښې د يوولسو کالو وو او د شپږو کالو په عمر يتيم سوي دئ د بدر په غزاء کښې يې ځان راوړاندي کړی خو اجازورنه کړل سول بيا داچي د احد په غزاء کښې ووتی خو بيرته راواستول سو لکه اوس چي يې قصه تېره سوه ځينو ويلي دي: څرنګه رافع بن خديج ﷺ او سمرة بن جندب ﷺ ته اجازه ورکړل سول په همدغه وجه ده ته هم اجازه ورکړل سول ددې څخه وروسته به په هره غزاء کښې شريک کېدئ د تبوک په جنګ کښې د بنو مالک قوم بيرغ د حضرت عمار ﷺ پلاس کښې و ، نبي ﷺ د عمار ﷺ څخه واخيست او حضرت زيد ﷺ ته يې ورکړی عمار ﷺ فکر وکړی چي ښايي زما څخه يو څه غلطي سوې وي او يا په يو څه وجه نبي ﷺ زما څخه خوابدی سوی وي نو پوښتنه يې وکړه چي اې د الله ﷻ رسوله ! زما د څه شي شکايت تاسو ته دررسېدلی دئ؟ نبي ﷺ وفرمايل دا خبره نه ده بلکي زيد ﷺ تر تا قرآن ډېر ويلی دئ قرآن ددې بيرغ په پورته کولو کښې مخکي کړی. (187)

(186) اسد الغابه
(187) اسد الغابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: دنبي ﷺ عمومي عادت و چي په دیني ځانګړتیا وو کښي به یې هغه چاته ترجیح ورکول چي ددین په اعمالو کي به تر نورو زیات و دلته که څه هم د جنګ موقع وه د قرآن د زیات ویلو مداخله نه وه پکښې مګر بیاهم نبي ﷺ د بیرغ پورته کول و هغه چاته ورکړی چي قران یې زیات ویلي و په داسي ډېرو کارو کښي نبي ﷺ ددین لحاظ کړی دئ آن تردې چي که به چیري اړتیا پېښه سوه چي څومړي به په یوه قبرکي ښخ سي نو لومړی به یې هغه څوک مخکي کاوه چي قرآن به یې ډېر لوستلی و لکه داحد په غزا کښي چي داسي سوه.

## ۸-د حضرت ابو سعید خدري ﷛ په کوچنیوالي کښي د پلار وفات

ابو سعید خدري ﷛ فرمایي: زه ددیارلسو کالو وم داحد په غزا کي رامخکي سوم خو نبي ﷺ اجازه را نه کړه بیا مي پلار سپارښت وکړی ونبي ﷺ ته یې وویل چي دی په قوت کي ښه دئ او هډونه یې هم غټې دي نبي ﷺ به وماته پورته وکتل بیا به یې کښته وکتل لنډه داچي ماته د کم عمرۍ په وجه اجازه نه راکړل سوه زما پلار په دغه غزاء کښي شریک سو او شهید سو زما د پلار مال او داسي نور سامانونه هیڅ نه سوه پاته زه د نبي ﷺ حضور ته د سوال کولو په نیت ورغلم نبي ﷺ چي ماته وکتل راته وې ویل: څوک چي د الله ﷻ څخه صبر غواړي الله ﷻ و هغه ته صبر ورکوي، څوک چي د الله ﷻ څخه عفت او پاکوالی غواړي الله ﷻ و هغه ته پاک لمنی او عفت ورکوي ، څوک چي د الله ﷻ څخه شتمني غواړي الله ﷻ شتمني ورکوي. ما چي د نبي ﷺ داخبري واورېدې بیا مي هیڅ ونه غوښتل په چوپه خوله بېرته راغلم. ددې څخه وروسته الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وده ته دومره لويه مرتبه ورکړه چې دده په څېر کم عمره اصحابان به بيا په مشکله پيدا کيږي.[188]

فايده: دا څومره لوي همت دئ چې د پلار د شهادت د غم تر څنګ ډېر زيات محتاجه هم وخو د نبي ﷺ په يو عام نصيحت په چوپه خوله راولاړ سو بېرته ولاړی د خپل غم څرګندونه يې هيچاته نه وکړه. په اوس وخت کې لوی کسان دومره صبر کولای سي؟ رشتيا هم الله ﷻ د خپل رسول ﷺ د ملګرتيا لپاره داسي کسان غوره کړي وه چې رسول الله ﷺ د ملګرتيا اهل وه په همدې وجه نبي ﷺ فرمايي: الله ﷻ د ټولو انسانانو څخه زما اصحاب انتخاب کړي دي. دغه حديث به ددې کتاب په آخر کې راسي.

## ۹- د حضرت سلمة بن اکوع ؓ په غابه کې څغاسته

غابه د مدينې منورې څخه څلور پنځه ميله د باندې يوه ابادي وه په دغه ځای کې د نبي ﷺ يو څه اوښان څرېدل عبد الرحمان فزاري د کافرانو يوې ډلې سره مل دغه اوښان لوټ کړل او څرونکی(شپانه)يې وواژه دغه کسان په سلاوو سمبال او پر آسونو سپاره وه روان سوه نابېره حضرت سلمة بن اکوع ؓ د ځان سره غشي او لينده اخستي دي دغابة پر لور پياده روان دئ نابېره يې پر دوی سترګې ومښتي هلک وخو ډېر تيز و دده د څغاستي تېزوالي ډېر مشهور و تر داسي اندازې چې ده به عربي آس لاندي کولای سو او نيولای به يې سو خو آس دی نسوای نيولای او نه يې لاندي کولای سوای هم دا ډول دی مبارک په غشي ويشتلو کې هم ډېر مشهور و دستي د مدينې پر يو غره باندې وخاتی او د لوټ اعلان يې وکړی په خپله يې په غلو پسې و

---

(188) اصابه - استيعاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځغستل کله چې ورورسېدئ نو پر هغوي‌ې داسې د غشو باران شروع کړی چې د هغو دا فکر سو چې دا يوه ډله ده خودی يواځې و او پياده و نو چې کله به يو چا آس پسې راګرځوی دی به د يوې درختې شاته پټ سو کله چې به هغه تير سو نو ده به د شاد خوا څخه د غشي واری پر وکړی آس به يې زخمي سو سپور به فکر وکړی که ونه ګرځم آس به مې د حرکته ولوېږي زه به ونيول سم نود مقامت پرته به بيرته ولاړی. حضرت سلمة ﷺ فرمايي چې پردغه ترتيب دوی ځغاسته ماپسې ځغستل تر داسې اندازې پورې چې دوی هغه ټول اوښان پرېښودل چې دوی لوټ کړي وه ددې څخه علاوه د ېرش نيزې او د ېرش پټوان هم ځنې پاته سوه په دغه وخت کې عيينة بن حصن د يوې ډلې سره د غلو مرستې ته راورسېدئ او دوی ته هم دا معلومه وه چې زه يوازې يم نو ددوی ډله پياوړې سوه نو څو کسان يو ځای په ماپسې راروان سوه زه پر يوه غره وختلم دوی مې هم راوغوښتل کله چې دوی رانژدې سوه نو په لوړ اواز مې ورته وويل چې يواورې ودرېږئ زما يوه خبره واورئ هغه دا چې تاسو ماپېژنئ چې زه څوک يم؟ هغو راته وويل: چې ته ځان راوښيه چې ته څوک يې؟ ده ورته وويل زه ابن الا کوع يم زما دې په هغه ذات قسم وي چې محمد ﷺ ته يې عزت ورکړی دئ که په تاسو کې يو څوک غواړی چې ما ونيسي نو نه مې سي نيولای او که زه په تاسو کې يو څوک نيول و غواړم نو نيولای يې سم دا چې دی په ځغاسته کې ډېر نوموتي و نو دا څه عجيبه خبره نه وه چې ده و هغو ته ويل ځکه اعرابي آس دده مقابله نسوای کولای. سلمة ﷺ فرمايي زما هدف داو چې دوی ته خو مرسته راورسېده ګوندي ماته هم مرسته راورسېږي په همدې وجه مې دوی په خبرو اخته کول او ماهم دراتګ په وخت کې پر غره باندې اعلان کړی و لنډه داچې زه په دغه خبرو اخته وم چې د مدينې و خواته مې د درختو په منځ کې په غور سره وکتل ومې ليدل چې زما د مرستې لپاره يو ډله راروانه ده په مخ کې يې اخرم اسدي ﷺ و دراتلو سره سم يې پر عبد الرحمان فزاري باندې حمله وکړه عبد الرحمان هم ده ته متوجه سو پر ده يې حمله وکړه ده مبارک دعبد الرحمان د آس پر پښو حمله وکړه پښې يې پرې سوې دی راغوزار سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده بيا پر خرم اسدي ﷺ باندي حمله وکړه چي په دغه حمله سره اخرم اسد ﷺ شهيد سو عبد الرحمان فزاري دستي دده پر آس سپور سو ابو قتاد ﷺ دستي پر عبد الرحمن فزاري حمله شروع کړه عبدالرحمن د ابو قتاد ﷺ دآس پر پښو باندي حمله وکړه ابو قتاد ﷺ غوزار سو دستي يې پر عبدالرحمن حمله وکړه پدغه حمله سره عبد الرحمن ووژل سو ابو قتاد ﷺ دستي پر هغه آس سپور سو چي عبد الرحمن د اخرم اسدي ﷺ څخه اخيستي و.[189]

فايده: ځينو د تاريخ کتابونو ليکلي دي چي حضرت سلمة ﷺ اخرم اسدي ﷺ د حملې کولو څخه منع کړی او ورته وې وويل چي يو لږ ساعت ودرېږه چي د مسلمانانو نور کسان هم راسي ده ورته وويل چي ماپرېږده چي شهيد سم وايي چي په مسلمانانو کښي يو اځي دی شهيد سو او په کافرانو کښي ډېر کسان مړه سول ددې څخه وروسته دمسلمانانو يو لويه ډله راورسېدل او کافران وتښتېدل حضرت سلمة ﷺ نبي ﷺ ته خواست وکړی چي زما سره سل کسان راسره کړه چي په دوی پسي ولاړ سم نبي ﷺ ورته وفرمايل: چي هغه اوس خپلو ډلو (ځايونو) ته ورسېدل. د تاريخ د زياتو کتابونو څخه معلومېږي چي پدغه وخت کښي د حضرت سلمة ﷺ عمر دولس يا ديارلس کاله و، نو ددولسو يا د ديارلسو کالو هلک چي پر اسونو سپاره يوه لويه ډله ځغلوي او هغه داسي وار خطا کوي چي غلا کړی شيان پرېږدي او خپل سامانونه هم ځني پاتيږي دا دهغه داخلاص برکت و چي الله ﷻ د اصحابانو ﷺ ډلي ته ورپه برخه کړی و.

۱۰- د بدر مقابله او د حضرت براء ﷺ شوق

---

(189) ابو داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدر غزاء تر ټولو غزاوو بهترينه ده ځکه په دغه غزاء کښې مقابله ډېره سخته وه او مسلمانان ډېر لږ وه ټوله مسلمانان (۳۱۰) تنه وه يواځې درې آسان، شپږ يا نهه زغرې، اته توري او (۷۰) اوښان ورسره وه پر يوه اوښ به څو څو کسان په وار سره سپرېدل ، کافران (۱۰۰۰) تنه وه (۱۰۰) آسان (۷۰۰) اوښان او د جنګ پوره سامان ورسره وو په همدې وجه کافران په ډېر ارامتيا د باجو او سندورو ويونکو ښځو سره ميدان ته راغلل پدې خوا کښې نبي ﷺ ډېر فکرمن و، ځکه مسلمانان ډېر په کمزورې حالت کښې وه نبي ﷺ چې ددواړو خواوو اندازه و لګول نو داسې دعاېې وغوښتل: اې الله ﷻ دا مسلمانان پياده دي ته سپرلۍ ورکونکې يې ، دوی په بدن لوڅ دي ته جامه ورکونکې يې ، دوی اوږي دي ته مړه ونکې يې ، دوی ناداره دي ته غني کوونکې يې دنبي ﷺ دعا قبوله سوه سره ددې ټولو خبرو حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او حضرت براء بن عازب رضي الله عنه دواړه په جنګ کښې د ګډون په شوق د کور څخه راروان سول نبي ﷺ دوی دواړه د کوچني والي له امله بېرته کورونو ته واستول.[190]

دغه دواړه مبارکان د احد په غزاء کښې هم بېرته واستول سوه لکه په لومړۍ قصه کښې چې ددوی بيان تېر سو د احد غزا د بدر تر غزا يو کال وروسته وه نو د احد په غزا کې چې دوی په کوچنيانو کښې شمارل کېدل نو د بدر په غزاء کښې خو بيخي کوچنيان وه دا ددوی مبارکانو شوق و چې د کوچني والي څخه يې په زړو کښې شوق او جذبې حرکت کاوه او په هر جنګ کښې يې د ګډون او اجازې اخيستلو کوشش کاوه.

## ۱۱- د حضرت عبدالله رضي الله عنه بن عبد الله بن ابي د خپل پلار سره معامله

(190) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پنځم هجري کال کښي د بنو المصطلق مشهوره جګړه وسوه پدې کښي د يو انصاري اود يو مهاجر په خپل منځ کښي جنګ وسو دا ساده خبره وه خو آخر لو يه سوه هر يوه د خپل قوم څخه کومک و غوښتی ددواړو لورو څخه يوه ـ يوه ډله پيدا سوه نژدې و چي د جنګ ميدان ګرم سوی وای خو ځينې خلګ راغلل او صلحه يې وکړل عبدالله بن ابي د منافقانو سردار و او مشهور منافق اود مسلمانانو سخت دښمن وخو لکه څرنګه چي يې ځان په ښکاره مسلمان ښودئ په همدې وجهه يې د مسلمانانو سره په ښکاره مخالفت نه سوای کولای دا هم په دغه وخت کښي د منافقانو سره عامه معامله وه کله چي ده ته ددغه قصې خبر ورسېدئ نو ده دنبي ﷺ په اړه ډيري بې ادبي خبري وکړې او خپلو دوستانو ته يې وويل چي دا هر څه ستاسو دخپله لاسه دي تاسو دې خلګو ته په خپلو ښارو کي ځای ورکړی خپل مالونه مو ددوی سره په سم نمايي ووېشل اوس هم که چيري تاسو ددې خلګو مرسته پرېږدئ نودوی به ددې ځايه څخه تړوله ولاړ سي. دغه منافق زياته کړه چي په الله ﷻ دي مي قسم وي که چيري مونږ مدينې ته ورسېدو نو موږ عزتمن به سره راټول سو او دا ذليل خلګ به وباسو (مراد يې مهاجر مسلمانان) وه حضرت زيد بن ارقم ﷛ دنوي عمر هلک وددغه منافق خبري چي يې واورېدې نو د زغم پيالـه يې ډکه سوه منافق ته يې وويل زما دي په الله ﷻ قسم وي چي ته ذليل يې ځکه تاته خپل قوم هم په سپکه سترګه ګوري او ته هيڅوک مرستيال نلرې حضرت محمد ﷺ عزتمن دئ الله ﷻ د هر لوري څخه عزت ورکړی دئ او په خپل قوم کښي هم عزتمن و عبد الله بن ابي ورته وويل چي ښه دئ چوپ سه ما خوهسي ټوکي کولې حضرت زيد بن ارقم ﷛ ولاړی و نبي ﷺ ته يې قصه وکړه حضرت عمر ﷛ وويل چي يا رسول الله ﷺ !ددې منافق سر دي ور پرې سي خو نبي ﷺ اجازه ورنه کړه عبدالله بن ابي چي خبر سو چي نبي ﷺ په قصه خبر سوی دئ نود رسول الله ﷺ و حضور ته ورغلی او ددرواغو قسمونه يې ورته اخيستل چي ما ددې خبرو څخه يوه خبره هم نه ده کړې. زيد بن ارقم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ درواغ ويلي دي په دغه مجلس کې د انصارو هم يو څه کسان موجود وه هغو هم دده سپارښت وکړی او وې ويل چې عبد الله بن ابي د قوم سردار دئ لوی سړی شمېرل کيږي د يو کوچني هلک خبري دده په مقابل کښي د قبلېدو وړ ندي ممکنه ده چې په اورېدو کې څه غلطي ځني سوې وي او يا کوچنی سم نه وي پوه سوی نبي ﷺ دده عذر قبول کړی حضرت زيد ﷺ چې کله خبر سو چې عبد الله بن ابي ددرواغو په قسمونو سره ځان رېښتني ثابت کړی دئ او زه يې درواغجن ثابت کړی يم نو زيد ﷺ د شرمه څخه د باندي وتل پرېښودل او د شرمه څخه د نبي ﷺ و حضور ته نه راتلی تر داسي وخته پوري چې سورة منافقون نازل سو د منافقانو احوال پکښې وه د زيد ﷺ رېښتينوالی پکښې ثابت سو اود عبد الله بن ابي ددرواغو قسمونه پکښې ښکاره سوه د حضرت زيد ﷺ عزت دمخالفو او منافقو خلګو په وړاندي زيات سو او د عبد الله بن ابي قصه هم و ټولو ته ښکاره سوه کله چې مديني ته نژدې راغله نو د عبد الله بن ابي يو زوی و دربدئ او پلار ته يې وويل تر هغه وخته پوري دي د مديني منورې و ښار ته نه پرېږدم تر څو چې ددې اقرار ونکړې چې زه ذليل يم او محمد ﷺ عزتمن دئ پلار يې ډېر حيران سو چې دغه زوی خو به ټول عمر زما عزت او درنښت کاوه او نيک ژوند به يې راسره کاوه خو د نبي ﷺ په مقابله کښې دربدای نه سوای مجبوره سو اقرار يې وکړئ او وې ويل چې قسم مي دي په الله ﷻ وي چې زه ذليل يم او محمد ﷺ عزتمن دئ تر دې اقرار وروسته و مديني ته داخل سو.([191])

۱۲- د حضرت جابر ﷺ په حمراء الاسد کښې ګډون

([191]) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان چي کله د احد د غزا څخه فارغه سوه او مديني ته ورسېدل نو د جنګ او سفر له و جهي څخه ډېر ستړي او ستومانه وه خو مديني ته درسېدو سره سم د ابوسفيان له لوري څخه خبر راورسېدی چي ابو سفيان په حمراء الاسد نومي ځای کښي د بيا جګړې لپاره تياري نيولې ده ابو سفيان دخپلو ملګرو سره مشوره کړې وه او ورته ويلي يې وه چي مسلمانان په احد کښي ماته و خوړه بايد موږ دا غنيمت و ګڼو بيا معلومه نده چي داسي موقع په لاس راسي او که يا؟ په همدې وجه دنبي ﷺ د قتلولو ورو سته (نعوذ باالله) بيرته تلل پکار دي نو دوی د مشورې وروسته بېرته راوګرځېدل وجنګ ته تيار سول نبي ﷺ اعلان وکړی چي هغه کسان دي ودې جنګ ته زما سره ولاړ سي چي د احد په غزاء کښي زمونږ سره راسره وه ددوهمي حملې لپاره تلل پکار دي که څه هم داحد په غزاء کښي ګډون کوونکي مسلمانان ډېر ستړي وه بياهم ټوله مسلمانان ددوهمي حملې لپاره تيار سوه. لکه څرنګه چي نبي ﷺ امر کړی و چي يوازي دي هغه کسان راسره ولاړ سي چي د احد په غزاء کښي يې ګډون کړی و په همدې وجه نور خلګ پاته سوه او د احد شريکان تيارسوه يوازي حضرت جابر رضي الله عنه و حضرت محمد ﷺ ته خواست وکړی چي يا رسول الله ◄ !زه د احد په غزا کښي شريکېدم خو پلار مي اجازه رانکړه او راته وې ويل چي ستا اووه خوندې دي بل نارينه په کور کي نسته نو په ما او تا کي ديوه پاته کيدل ضروري دي نو پلار مي پخپله دتلو اراده وکړه او زه پاته سوم هغه داحد په غزا کښي شهيد سو اوس ماته اجازه راکړه چي ستا سو سره ولاړ سم نبي ﷺ اجازه ورکړه د حضرت جابر رضي الله عنه پرته بل هيڅوک د هغو کسانو څخه په دغه سفر کي موجود نه و چي د احد په غزاء کي يې ګډون نه وکړي.(192)

فايده: د حضرت جابر رضي الله عنه دغه مينه او محبت دجهاد سره څومره دهمت او غيرت قابل دئ چي پلار يې اوس شهيد سوی دئ ډير قرضونه يې پر ذمه پاته دي هغه هم د يهوديانو وه او

(192) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



يهوديانو د خلکو سره ډېره سخته معامله کول دده سره يې بيا بيخي سخته معامله کول ددې ځخه علاوه دده اووه خوندي وي دهغوی د ګوزارې فکر و او پلار يې ددوی په وجهه دا حد اجازه هم نه وه ورکړې خو دده شوق پردې ټولو ستونزو باندي برلاسی سو او د جهاد اجازه يې ترلاسه کړه.

## ۱۳- د حضرت ابن زبير ﷺ دروم په جنګ کښي بهادري

په سنه ۲۲ هـ کښي د حضرت عثمان AA په خپل خلافت کښي چي کله دمصر د حاکم عمر بن عاص AA پر ځای عبد الله بن ابي سرح AA و ټاکی نو دی مبارک دروم د جنګ لپاره د شل زره کسيزه لښکر سره راووتی د روميانو لښکر دوه سوه زرو ته نژدې و ډېر سخت جنګ و سو د روميانو امير جرجير اعلان وکړی چي هر څوک چي عبد الله بن ابي سرح ووژني زه به و هغه ته خپله لور په نکاح ورکوم او سل زره اشرفۍ به انعام ورکوم په دې اعلان سره ځيني مسلمانان فکر من سول عبد الله بن زبير ﷺ چي خبرسو نو وې ويل داد فکر او تشويش خبره نده مونږ به هم اعلان وکړو چي څوک جر جير ووژني دهغه لور به ده ته په نکاح ورکوو ، يو لک اشرفۍ به انعام ورکړو او ددې سره سره به يې د هغه ښار امير هم جوړ کړو لنډه دا چي تر ډېره وخته پوري جګړه وسوه حضرت عبد الله بن زبير ﷺ جرجير وليدئ چي د ټوله لښکر وروسته روان دئ او لښکر ځني مخته سوی دئ پر ده باندي دوميښځيانو د طاؤوس په وزرو سايه کول عبد الله بن زبير ﷺ په پټه د خپل لښکر ځخه جلا سو او پر هغه يې حمله وکړه دده دراتګ پر وخت هغه دا فکر کاوه چي کېدلای سي هغه د يوروغي او جوړي پيغام د ځان سره راوړی وي خو دی برابر ورورسېدی حمله يې پرې وکړه سر يې ځني پرې کړی بيا يې په نيزه پيودلی راوړی او ټول خلک ورته حيران سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ تنکی ځوان و تر هجرت وروسته په مهاجرینو کي لومړي کوچنی دی وو چي پیدا سو دده په پیدائش سره مسلمانان ډېر خوشحاله سوه ځکه تر یوه کاله پوري د هیڅ مهاجر په کور کي کوچنی نه و پیدا سوی او یهودیانو به دا ویل چي مونږ په دغه مهاجرو باندي جادو کړی دئ چي ددوی په کور کښي هلک نه سي پیدا د نبي ﷺ د کوچنیانو سره بیعت کول عادت نه و خو د عبد الله بن زبیر ﷺ سره یې داوو کالو په عمر بیعت وکړی ددغه جنګ په وخت کښي دده عمر څلوریشت یا پنځه ویشت کاله و خو په دوه لکه فوځ ورننوتل او د پاچا سر ورپري کول دا څه اسانه خبره نه ده.

۱۴– د حضرت عمرو بن سلمه ﷺ د کفر په حالت کښي د قرانکریم یادول

عمرو بن سلمه ﷺ فرمایي چي مونږ دمدیني په لاره کښي یو ځای اوسېدو چي تلونکي او راتلونکي به زمونږ د ټاټوبي څخه تېرېدل کوم خلک چي به د مدیني څخه راتلل مونږ به د هغو څخه د حال او احوال پوښتنه کول او دابه مو ورته ویل چي هغه صاحب څنګه دئ چي د نبوت دعوه یې کړېده هغو به راته ویل چي هغه وایي پر ما باندي د الله ﷻ وحي نازلیږي چي دغه ـ دغه ایاتونه دي دی وایي زه کم عمره هلک وم دوی چي به کوم ایاتونه ماته بیانول ما به یادول زما تر مسلمانېدو مخکي ډېر قرانکریم یادو. د عربو ټولو خلګو د مسلمانېدو لپاره د مکې و خلګو ته انتظار کاوه کله چي مکه فتحه سوه نو هره ډله د مسلمانېدو لپاره حاضره سوه زما پلار هم د یو څو سړو سره د خپل قوم په استازیتوب د نبي ﷺ و حضور ته ورغلی نبي ﷺ زما و پلار ته د شریعت احکام و ښودل لمونځ یې ورزده کړی.او په جماعت سره یې دلمانځه کولو طریقه ورو ښوده او ورته وې فرمایل چي د کوم چا چي په تاسو کښي ډېر قرآن شریف په یاد وي هغه کس د جماعت ورکولو لپاره بهتر دئ څرنګه چي ما د اسلام مخکي ډېر ایاتونه یاد کړي وه نو زه تر ټولو زیات د قرآن شریف حافظ وم نو ټولو خلګو زما لټه وکړه او زه یې امام جوړ کړم په دغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې زما عمر شپږ يا اووه کاله و کله چې به څه ګڼه ياد جنازې موقع راغله نو زه به يې امام جوړ کړم.[193]

فايده: دا ددين و لورې ته د طبعي ميلان او رغبت اغيز و چې په دومره لږ عمر کې د مسلمانېدو پرته يې د قران شريف ډېره برخه يادوه پاته دا خبره سوه چې په کوچنۍ پسې لمونځ کېدلای سي که يا؟ ددې په جواب کې بايد وواېو چې د کوچنی په امامت کې اختلاف سته ځيني يې جائز بولي هيڅ شک نه پکښې کوي ، او ځيني يې جائز نه بولي هغوی ددې سوال په جواب کې وايي چې نبي ﷺ دوی ته امر کړی و چې په تاسو کې دې د قران زيات حافظ امام سي د رسول الله ﷺ مطلب کوچنی نه و ( دا ددوی پر خپل سر کار و چې کوچنی يې امام و ټاکی ).

### ۱۵ د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د خپل غلام په پښو کښې بېړۍ اچول

د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما غلام عکرمة رحمه الله د مشهورو علماؤ څخه دئ ، دی وايي چې زما آقا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما به و ماته قرانکريم، احاديث او شرعي احکام لوسته نو زما په پښو کښې به يې زولنې اچولي وې چې زه يوې خوا او بلې خواته ولاړ نسم ده مبارک و ماته قران شريف او احاديث ښوده.[194]

فايده: که څه هم د تګ او راتګ په وخت کښې خو هم زده کړه کېده خو کوم ځوک چې د زده کړې په وخت کښې سيل او د بازار ميلې کوي د غه کس بېکاره خپل عمر ضايع کوي يعني علم لاسته نه سي راوړلای هم د دغه شی اغېزه وه چې د غلام عکرمة څخه حضرت عکرمة رحمه الله جوړ سو

( [193] ) بخاري و ابو داود
( [194] ) بخاري ، ابن سعد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بحرالامة ، حبر الامة په القابو سره یاد سویدئ قتاد ﷺ وایي چي په ټولو تابعینو کښي ځلور لوی عالمان دي چي په هغو کښي یو عکرمة ﷺ دی.

۱۲- د حضرت ابن عباس ﷺ په کوچنیوالي کښي قران شریف یادول

پخپله حضرت ابن عباس ﷺ فرمایي چي زما څخه د تفسیر پوښتنه کوئ ما په کوچنیوالي کښي قران شریف یاد کړی دئ په بل حدیث کښي راغلي دي چي ما دلسو کالو په عمر اخري منزل ویلی و.([195])

فایده: د هغه زماني یادول داسي نه و لکه داوس زماني چي د پردیو ژبو د ښښتنانو یادول دي بلکي هغو چي به څه یاداوه په پوره تفسیر سره به یې یادوی پدې وجه حضرت عبد الله بن عباس ﷺ د تفسیر لوی امام دئ د کوچنیوالي یادول ډېر محفوظ وي. د تفسیر حدیثونه چي څومره دعبد الله بن عباس ﷺ څخه نقل سوي دي د بل چا څخه نه دي نقل سوی عبد الله بن مسعود ﷺ فرمایي: د قران شریف بهترین مفسر عبد الله بن عباس ﷺ دی ابو عبد الرحمن ﷺ فرمایي: کوم اصحابانو ﷺ چي به مونږ ته قران شریف راښودئ هغوی فرمایي چي اصحابو ﷺ به د نبي ﷺ څخه لس آیاتونه زده کړل ورپسي به یې تر هغه پوري نور ایاتونه نه زده کول تر څو چي ددغه لسو ایاتونو برابر علم او عمل په لاس نه وای ورغلی.([196])

([195]) بخاري ، فتح
([196]) منتخب کنز

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: عبد الله بن عباس ددیارلس کالو و چې نبي ﷺ وفات سو پـه دومره لږ عمر کښې دی مبارک د تفسير او حديث هغه درجې تـه ورسېدئ چې د تفسير امـام سـو او لـوی ، لـوی اصحابانو به دده څخه د تفسير پوښتنه کول دا ښکاره کرامت دئ او د عبرت خبره ده دا دنبي ﷺ ددعا برکت و ځکه نبي ﷺ يو وخت استنجا ته تشريف يووړی عبد الله بن عباس داوبو لوښـی ورډک کـړی نبـي ﷺ دغـه خـدمت خـوښ سـو او دعـايې ورتـه وکـړه چې الله ﷻ دي تاتـه فهـم او هوښياري په دين کي درکړي او په قرانکريم کي دي الله تا ته پوهه درکړي ددې څخه وروسته يو وخت نبي ﷺ نفل کول ده هم نيت وکړی پـه نبي ﷺ پسـي ودرېدئ نبي ﷺ راکش کـړی او خپل څنګ ته يې ودراوی ځکه که مقتدي يو سړی وي نو د امام و څنګ تـه برابر درېدل پکار دي نبي ﷺ چې پـر لمانځه ودرېدئ دی بېرتـه لږ شاته سو کله چې نبي ﷺ د لمانځه څخه فارغـه سـو نـو پوښتنه يې ځني وکړه چې ولي شاته سوې ده ورتـه وويـل چې تـه دا الله ﷻ رسول يـې زه څنګه ستا سره برابر ودرېږم نبي ﷺ ده ته د علم د زياتوالي دعا وکړه.(197)

۱۷- د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص په کوچني والي کي د احاديثو يادول

حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ د هغو زاهدانو اصحابانو څخه دئ چې پـه يـوه ورځ يې قران شريف ختماوی او ټوله شپه به پـه عبادت مشغول و او دورځي بـه يې ټـول عمر روژه وه نبي ﷺ به ددومره زيات تکليفونو ايستلو څخه منع کـاوی او ورتـه فرمايل بـه يې چې پـه داسي حالت کي به دي بدن ډير کمزوری سي ټوله شپه ويښ يې سترګي به دي خرابي سي د بدن هم پـر تـا حق دئ، د اولادو هم پر تا حق دئ او د ميلمنو هم پـر تـا حق دئ ،دی مبـارک وايي چې مابـه هـره ورځ قرانکريم ختماوی نبي ﷺ راته وويل چې په ټوله مياشت کښـي يـو قرانکـريم ختمـوه ماورتـه

(197) اصابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل اې د الله رسوله ! ماته اجازه راکړه چې د خپلې ځوانۍ څخه ګټه واخلم نبي ﷺ ورته وويل ښه دئ په شلو ورځو کې يې ختموه ماورته وويل يا رسول الله ﷺ !دا ډېر کم تلاوت دئ ماته اجازه راکړه چې د ځوانۍ څخه ګټه واخلم اخر داچې په درو ورځو کښې يې د يو ختم اجازه راکړه دده مبارک عادت داو چې د نبي ﷺ ارشادات يې ليکل چې په ياد يې پاته سي دده سره د نبي ﷺ د حديثونو يو مجموعه ليکل سوې پرته وه چې د الصادقه نوم يې پر ايښی و دی وايي ما چې به هرحديث د نبي ﷺ څخه اورېدئ هغه به مي ليکی خلګو زه منعه کړم چې نبي ﷺ خو انسان دئ کله په غصه کې وي، کله د خوابدتيا په وخت کې وي يو څه فرمايي او کله د خوشحالۍ په وخت کې چاته بل څه فرمايي ته په هر حالت کې هر څه ليکې نو ما ليکل پرېښوده يو ځلي مي نبي ﷺ ته ددغي خبري بيان وکړی نبي ﷺ راته وويل چې ليکه يې زما دي په هغه ذات قسم وي چې زما روح دده په قدرت کې دئ دده دخولې څخه چې کوم شی وزي ددرد په حالت کې وي که د خوشحالۍ په حالت کې وي د حق نه پرته نه وزي.([198])

فايده: حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ سره ددې چې په عبادت او صفوف کښې بې ساري شمېرل کېږي بيا هم ابوهريرة ﷺ فرمايي چې په اصحابو کښې تر ما زيات دحديثو روايت کوونکی نسته ماسوا د عبد الله بن عمرو ﷺ څخه چې هغه به ليکل او مانه ليکل ددې څخه معلومېږي چې د عبد الله بن عمرو ﷺ روايتونه تر ابوهريرة ﷺ ډير دي که څه هم زمونږ په زمانه کښې د ابو هريرة ﷺ روايتونه دده تر روايتو زيات په لاس راغلی دي چې يو شمېر لاملونه لري خو په هغه وخت کې دده ددومره زيات عبادت ترڅنګ دده حديثونه زيات موجود دي.

## ۱۸- د حضرت زيد بن ثابت ﷺ قران شريف يادول

[198] مسند احمد و ابن سعد

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت زيد بن ثابت ﷺ په جليل القدر اصحابانو ﷺ کښې دئ چې په خپل وخت کښې لوی عالم او لوی مفتي ګڼل کېږي په ځانګړي ډول د ميراث په علم کښې زيات ماهر و ويل کيږي چې په مدينه منوره کښې دی مبارک په فتوا ، قضا ، ميراث او قرائت کښې په لوړو کسانو کښې ګڼل کېدئ کله چې نبي ﷺ هجرت وکړی مدينې منورې ته يې تشريف راوړی پدغه وخت کښې دی کم عمره هلک وچې عمر يې يوولس کاله و په همدې وجه ده ته په لومړنيو جګړو کښې لکه د بدر او د اسې نورو کې د ګډون اجازه ورنکړه سول د هجرت پنځه کاله مخکې د شپږو کالو په عمر يتيم سو نبي ﷺ چې تر هجرت وروسته مدينې منورې ته ورسېدئ خلګ د نبي ﷺ حضور ته ورتلل او خپل هلکان يې د برکت حاصلولو لپاره د ځان سره راوستل. زيد ﷺ حضورته وروړاندې سو يو چاورته وويل چې داد انصارو د کور يو هلک دئ ستاسو تر راتګ يې مخکې اوولس سورتونه پياد کړی دي. نبي ﷺ د امتحان لپاره ماته د ويلو امر وکړی ماسورت ق ورته وو ايه نبي ﷺ زما لوستل خوښ کړل. نبي ﷺ چې به يهوديانو ته کوم خطونه لېږل هغه به يې په يهوديانو ليکل يو ځلې نبي ﷺ وماته امر وکړی چې زه د يهوديانو په ليکلو باور نلرم داسې نه چې غلط يې وليکي ته د يهوديانو ژبه زده کړه (ما هم داسې وکړه ) ددې ځخه وروسته چې به هغوی ته کوم خط تلی ما به ليکی او ديهوديانو له خوا څخه به چې کوم خط راتلی ما به وايه په يو بل حديث کښې راغلي دي چې نبي ﷺ ارشاد و فرمايه چې ماته ځينو خلګو په سرياني ژبه خطونه ليکلي دي پدې وجه يې ماته د سرياني ژبې دزده کولو امر وکړی ما په اوولسو ورځو کښې سرياني ژبه زده کړه.(199)

(199) فتح ـــ اصابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۹- د حضرت حسن ﷛ په کوچني والي کښې علمي بوختيا

د سيد السادات حضرت حسن ﷛ پيدا ئښت دزياتو علماؤ دوينا سره سم په سنه ۳ هـ کال کې دروژې په مياشت کښې سوى دئ په همدې اعتبار دده عمر دنبي ﷺ ود وفات په وخت کښې اووه کاله او څو مياشتې و. اووه کاله به څه عمر وي؟ چي پدې کم عمر کښې يې علمي کمال حاصل کړى خو ددې سره دده مبارک څخه څو حديثونه نقل سوي دي ابو الحوراء ﷬ د حضرت حسن ﷛ څخه پوښتنه وکړه چي تاته د نبي ﷺ څه خبره ياد ده ، ده ورته وويل: هوه زه د نبي ﷺ سره پر لاره روان وم پر لاري دخيرات د خرما وو يوه کوټه پرته وه ما ددغو خرماوو څخه يو خرما پورته کړه او په خوله کښې مي واچول نبي ﷺ ماته وفرمايل: کخ، کخ (توکه توکه) او زما د خولې څخه يې راوايستل او راته وې ويل چي مونږ د خيرات مال نه خورو. دى مبارک زياتوي چي ما پنځه واړه لمونځونه درسول الله ﷺ څخه زده کړي دي.[200]

حضرت حسن ﷛ فرمايي: نبي ﷺ ماته د وترو لپاره دا دعا ښودلې ده:

اللهم اهدني فيمن هديت و عافني فيمن عافيت و تولني فيمن توليت و بارک لي فيما اعطيت و قني شر ماقضيت فانک تقضي ولا يقضي عليک انه لايذل من واليت تبارکت ربنا و تعاليت.

ژباړه اي الله ﷻ! ماته د هغه چاڅخه هدايت وکړې چي تا هدايت ورته کړى دئ او صحت راکړې ماته په هغه خلکو کي چي صحت دي ورکړى دئ ته زما سرپرست (متولي) جوړ سې لکه څرنګه چي د نورو سرپرست يې، کوم څه چي تاماته راکړي دي په هغو کي برکت واچوې او څه چي دي زما په تقدير کي ليکلي دي د هغو د بدۍ څخه مي وساتې څه فيصلې چي ته وکړې هغه

---

[200] مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي او ستا په خلاف څوک فیصله نسي کولای د کوم چا چي ته مرسته وکړې هغه هیڅوک نسي ذلیله کولای ستا ذات برکت والا دئ.

حضرت حسن AA فرمایي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي څوک د سهار لمونځ وکړي پر هغه ځای باندي ترلمر ختلو پوري کښیني الله ﷻ به یې د دوزخ د اور څخه خلاص کړي. حضرت حسن AA څو حجونه پرپښو باندي کړي دي او فرمایل یې چي ماته پردې خبره شرم راځي چي زه مړ سم د الله ﷻ سره یو ځای سم او زه دي د هغه وکور ته پرپښو باندي نه یم ورغلی. دی مبارک ډیر صبرناک و په مسند احمد کي دده ذکر په زیات شمیر روایتو کي سوی دئ. د تلقیح لیکوال هم دئ په هغه اصحابانو ﷺ کي ذکر کړی دئ چي دیارلس حدیثونه ځني نقل سوی دي. او کاله به څه عمر وي ده مبارک په دومره لږ عمر کي دومره علم لاسته راوړی دئ دا د حافظې کمال دئ او د شوق نهایي نقطه ده. افسوس چي زموږ خلګ تر اوو کالو پوري خپل زوی ته د دین معمولي خبره هم نه ښیي.

## ۲۰.د حضرت حسین AA په کوچني والي کي علمي بوختیا

سیدالسادات حضرت حسین AA ترخپل ورور حضرت حسن AA یو کال کشر و په همدې وجه دده مبارک عمر د رسول الله ﷺ دوفات په وخت کي نور هم کم و یعني شپږ کاله او څو میاشتي و د شپږو کالو کوچنی به څه د دین خبري وساتي ؟ خو دده دومره کوچني والي سره بیا هم دده روایتونه د حدیثو په کتابو کي رانقل سوي دي او محدیثینو په هغه اصحابانو کي شمېرلی دي چي اته حدیثونه ځني رانقل سوي وي. حضرت حسین AA فرمایي: ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي کوم مسلمان نارینه اویا ښځي ته چي کوم غم ورسیږي ډیر وخت وروسته ورپه یاد سي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواييي: انا لله وانا اليه راجعون.(يعني دغم په وخت خو يې ويلي وي ډير وخت وروسته چي ورپه يادسي بيا يې هم وواييي ) دغه کس ته الله ﷻ دومره ثواب ورکوي لکه دغم په وخت کي چي يې ورکوي.داهم دنبيﷺ څخه روايت دئ چي فرمايي: زماامت چي په کښتۍ کي سپريږي داآيت دي وواييي : 🗀⊘○⇔🏳⮈ ✂👓✏★ 👍☒♑⬂❷🗁🗁♑⍓👓

☒❻❑→⊞♦⇔♦ᖇ✆ ❼⊘■🗁◆❻ □♌⊘✆ 🗐 ✏👓⍓♑🖰⍓ᘛ⬀❷⇖👌◆❒
❻▪○⊘➚☹➢ الله ﷻ به يې دغرقېدو څخه وساتي .حضرت حسينAA پنځويشت حجونه پرپښو کړي دي . لمونځونه به يې هم زيات کول اوروژې به يې هم زياتي نيولې .په خيرات اوددين په هرکار کي يې زياته هڅه کول .ربيعةAA فرمايي : مادحسينﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دنبيﷺ بله کومه خبره ستا ياد ده ؟ده مبارک راته وويل: هو زه يوه ورځ پر يو کلکين باندي وختم هلته خرماوي پرتې وي مايوه دانه راواخيسته په خوله مي کړه نبيﷺ راته وفرمايل: وې غورځوه موږ دخيرات خوړلو څخه منعه يو . حضرت حسينAA درسول اللهﷺ څخه روايت کوي چي نبيﷺ فرمايي: دسړي داسلام ښه والى دادئ چي بې کاره کارونه پريږدي.([201])

ددې څخه پرته نور روايتونه هم دده مبارک څخه سوي دي.

فايـده: ددې ډول څخـه داصـحابانوﷺ څخـه ډيـري واقعـاتي رانقـل سـوى دي چـي دوى مبارکانو په کوچني والي کي درسول اللهﷺ څخه نقل کړي وي محمودبن الربيعAA يوصـحابي دئ چي دنبيﷺ په وفات کي دده عمر پنځه کاله و دى مبارک فرمايي: زه به ټول عمر داخبره هېره نه کړم چي نبيﷺ زموږ کورته راغلى زموږ په کور کي يو څاه و ددې څاه د اوبو څخه يې يوه لپه اوبه زما پر مخ واچولې.([202])

---

([201]) اسد الغابة ، استيعاب .
([202]) اصابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې خپل کوچني اولادونه په بې ځایه خبرو کې اخته کړي دي دد درواغو قصې ورته کوو ( چې ځني خلګ ورته نکلونه وايي )اوپه بې ځایه شیانو مو ماغزه ور خراب کړي دي که چیرې مورې د سپېڅلو انسانانو قصې پیدا کړو او خپلو ماشومانو ته یې وکړو اویا ددې پر ځای چې ماشومانو ته د پیریانو ، دېبانو او داسې نورو شیانو قصې کوو او زړونه یې ورو بروو باید زړونه یې د الله ﷻ په عذاب سره ور وربېږدو دوی ته به په دنیا کښې په کار ورسې او په اخرت کې به خامخا ګټه ورته وکړي د کوچني والي په وخت کې حافظه ډېره زوروره وي او د کوچني والي د وخت شی هیڅکله نه هیرېږي په داسې وخت کښې که چیرې قرانکریم حفظ کړي نونه به څه تکلیف ورته وي او نه به یې وخت لګیږي ماد خپل پلار صاحب څخه ( الله ﷻ دي یې پر قبر باندې نور واوروي ) ډېر واري او رېدلي دي اودخپل کور د سپین سرو ښځو څخه مې هم اورېدلي دي چې زما پلار صاحب چې کله د تې څخه پرې سو نو یوربع یې ( د سپارې څلورمه برخه ) یې په یادوه او د اوو کالو په عمر کښې یې ټول قرآن په یاد سو او زما پلار زما د نیکه په پټه د فارسي ډېرې برخې لکه بوستان، سکندر نامه او داسې نور شیان ویلې وه زما پلار ویل چې ماته به پلار د قرانکریم دختمېدو وروسته ویل چې اوس نو دورځې یو قران ختموه او نور ټوله ورځ رخصتې کوه نو زه به دده د امر مطابق دسهار تر لمانځه وروسته د کور پر بام باندې کښېناستم په شپږو یااوو ساعتو کې به مې ټوله قرانکریم ختم کړی د غرمې ډوډۍ به مې وخوړه وروسته به مې د خپلې خوښۍ سره سم فارسي ویل تر شپږو میاشتو پورې مې پرله پسې دا عادت و هره ورځ به مې یو قرآنکریم ختماوی وروسته به مې نور سبقان ویل داهم د اوو کالو په عمر څه معمولي خبره نه ده. ددغه زیات تلاوت فایده داوه چې دده څخه قرآنکریم نه هېرېدئ او نه ځني ګډوډ ېدئ څرنګه چې ددوی ظاهري ګوزاره دکتابونو په تجارت وه اود کُتب خانې ډېر کارونه یې په خپل لاس سره کول نوهیڅکله داسې نه ده پېښه سوې چې دوي دي په لاس کار کاوه او په خپله خوله دي یې تلاوت نه وي کړي.کله کله به دوی ته د مدرسې څخه جلا درس ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدئ دا درې کارونه به يې په يوه وخت سرته رسول د تعليم ډول داسي نه و کوم ډول چي په عمومي توګه په مدرسو کښي دئ چي زيات پشار پر استاز وي بلکي د خاصو طالبانو سره طريقه داسي وه چي شاګرد به عبارت وايی ترجمه به يې کول مطلب به يې بيانوی که به چيري هغه مطلب صحيح و نو استاذ د مخکي تللو امر ورته کاوی که به يې غلطي پکښي وکړه نو که به د غه غلطي ته د تهديد اړتيا وه شاګرد به يې تهديد کړی او که به د ښودلو وه وروه به يې ښودله داد پخوا قصه نه ده بلکي د همدې پيړۍ واقعه ده په همدې وجه دا خبره د منلو وړ نه ده چي د اصحابانو ﷺ په ډول طاقتونه اوس نسته.

# دولسم باب

دنبي ﷺ سره د محبت قصې

که څه هم کومي قصې چي مي تر اوسه پوري را نقل کړی دي هغه ټول د نبي ﷺ سره د محبت قصې دي چي د دوی مبارکانو د عاشقانه ژوند سبب و د ځان، مال، ژوند ، مرګ، هيڅ پروا به يې نه کول د دې څخه علاوه د محبت قصې هيڅ شی نه دي داد هغو حالتونو څخه يو حالت دئ چي تر الفاظو او عبارتونو پورته دئ محبت يو داسي شی دئ چي په زړه کي ځای ونيسي نو محبوب لره پر هرشی غلبه ورکوي نه بيا د ننګ او ناموس پرو الري او نه د عزت او شرافت پروا لري. الله ﷻ دي پخپله مهرباني او د خپل محبوب په برکت سره خپل او د خپل رسول محبت را نصيب کي (که داسي وسي) نو په هر عبادت کښي خوند دئ او د دين په هر تکليف کښي هو سايي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د اسلام اعلان او تکلیف

د اسلام په پیل کښې چې به څوک مسلمان سو نو تر خپله وسه به يې اسلام پټ ساتی نبي ﷺ به هم نوموړي کس د اسلام و پټولو ته هڅاوی چې د کافرانو دخوا کوم تکلیف ور ونه رسیږي کله چې د مسلمانانو شمېر (۳۹) نفرو ته ورسېدئ نو ابو بکر ﷺ د اسلام د ښکاره کولو لپاره خواست وکړی چې په ښکاره ډول تبلیغ وکړل سي نبي ﷺ اول ځل انکار وکړی خود ابو بکر صدیق ﷺ په ډېر ټینګار يې دده غوښتنه قبوله کړه د اسلام د ښکاره کولو اجازه يې ورکړه دوی ټول مبارکان د کعبې مسجد ته ولاړه حضرت ابو بکر صدیق ﷺ د تبلیغ خطبه ورته شورع کړه دا په اسلام کښې تر ټولو لومړی خطبه وه چې ده مبارک وویل په دغه ورځ سید الشهداء حضرت حمزه ﷺ د نبي ﷺ اکا هم اسلام راوړی او تر دغه ورځې درې ورځې وروسته حضرت عمر ﷺ په اسلام مشرف سو خطبه چې شروع سول د څلورو طرفونو څخه کافرانو او مشرکانو پر مسلمانانو چپاو راوړی حضرت ابو بکر صدیق ﷺ سره ددې چې په مکة مکرمه کښې دده عزت او درنښت منل سوی و خو کافرانو دومره وواهه چې مخ مبارک يې د وینو ډک سو پزه او غوږونه يې ټوله په وینو رنګ سول اونه پېژندل کېده په سوکانو او لغتو يې وواهه او سربېره پکښې وغورځېده څه چې يې نسوای کولای هغه يې ورسره وکړل ابوبکر صدیق ﷺ بې هوښه سو دده مبارک خپل قوم بنو تمیم خبر سول او ددغه ځای څخه يې پورته کړی را يې وړی او ټولو خلګو ته دایقنیي وه چې ابوبکر صدیق ﷺ ددې حیواني حملې څخه ژوندی نسي پاتېدلای بنو تمیم مسجد ته راغلل او اعلان يې وکړی چې کچیري ابوبکر ﷺ ددې ووهلو څخه مړ سو نو موږ به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بدله کښې عتبة بن ربيعة ووژنو عتبة د حضرت ابوبکر صديق ﵁ په وهلو کښې زيات دبدبختيو اظهار کړی و تر ماښام پورې ابوبکر صديق ﵁ بې هوښه و دوی چې به هر څه ورته وويل هغه به خبرې نه کولې ماښام دوی ډير ږغونه ورته وکړه ددې لپاره چې خبرې وکړي ده مبارک هم خبره وکړه خو خبره يې داوه چې د محمد ﷺ څه حال دئ هغو ورته ووېل چې دهغه د لاسه دومره غم درته پيښ سو ټوله ورځ د مرګ په خوله کښې وې ته يې لاپوښتنه کوې ټوله ورځ دي دمرګ او ژوند درک نه و معلوم اخر چې څه ساه در پکښې پاته ده هغه دي هم د نبي ﷺ خبرې وکړې خلګ ولاړ سوه ده مور ام خير ته يې ووېل چې ده ته د خوړلو او څېښلو لپاره يو شی برابر کړه مورېې هم يو شی برابر کړی راېې وړی اوده ته يې په خوړلو ټينګار وکړی خو دده مبارک هغه يوه خبره وه چې د نبي ﷺ څه حال دئ پر هغه څه تېر سول؟ دده مبارک مور ورته ووېل زه خو په هغه نه يم خبره ده ورته ووېل چې دحضرت عمرﭬ خور ام جميلﭭ ته ورسه او دده مبارک پوښتنه ځني وکړه هغې غريبې د خپل زوی د مظلومانه او پريشانه حالت د غوښتنې د پوره کولو لپاره و ام جميلﭭ ته ورغله. او د نبي ﷺ دحال پوښتنه يې ځني وکړه هغې هم د عامو مسلمانانو په څېر خپل اسلام پټ ساتلی و ودې ته يې ووېل چې زه هيڅ څوک نه پېژنم او محمد ﷺ څوک دئ؟ ستا د زوی ابوبکر ﵁ په حال خبره سوم ډېره خوا بدې سوم کچيرې ته وايې ستاسره به ولاړه سمه او ستاد زوی حال به ووينم د ام خير ورسره خوښه سوه دواړې يو ځای راغلې او د ابوبکر ﵁ حال يې وليدئ ام جميلﭭ چې ورته وکتل د توان څخه يې ووتل بې اختياره په ژړا سوه چې دې بدعملو پر څه حال باندې کړی دئ الله ﷻ دې دوی ته خپله سزا ورکړې حضرت ابوبکر صديق﵁ ددې څخه پوښتنه وکړه چې نبي ﷺ پرڅه حال دئ؟ ام جميلﭭ دابو بکر د مور و طرف ته اشاره وکړه چې داېې اورې ابوبکر ﵁ ورته ووېل ددې څخه مه وېرېږه ام جميلﭭ ورته ووېل چې رسول الله ﷺ بيخې جوړ او روغ دئ ابوبکر صديق ﵁ پوښتنه ځني وکړه چې اوس چيرې دئ ام جميلﭭ ورته ووېل چې دارقم په کور کښې دئ ابوبکر ﵁ و فرمايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي زما دي په الله ﷻ قسم وي چي تر هغه وخته پوري به هيڅ خوړل او څيښل ونه کړم ترڅو رسول ﷺ ونه وينم . دده مبارک مور بيا پدې وجه ناارامه وه چي دی يو څه خوراک او څيښاک وکړي ترڅو يو څه توانايي يې په بدن کي پيدا سي ځکه کافرانو ټوک ، ټوک کړی و.دېلي خوا دده مبارک قسم کوی چي زه به تر هغه وخته پوري خوراک ونه کړم چي نبي ﷺ ونه وينم په همدې وجه موريې انتظار وکړی چي د خلګو تلل او راتلل بند سي بيايې د رسول الله ﷺ د ليدلو لپاره بوزي پدې وجه چي څوک يې ونه ويني او تکليف ورونه رسوي کله چي دشپې ډېره برخه تېره سوه نو ابوبکر ﷺ يې دارقم کور ته بوتی کله چي ابوبکر ﷺ ورورسېدئ درسول ﷺ په غاړه کي يې لاس ور واچوی او رسو ل الله ﷺ دده په غاړه کي لاس واچوی دواړه په ژړا سول ټول مسلمانان هم په ژړا سول ځکه چي د حضرت ابوبکر صديق ﷺ حال د ليدلو نه و ددې څخه وروسته ابوبکر صديق ﷺ خواست وکړی چي دا زما مور ده تاسو ددې لپاره د هدايت دعاء وکړی او دې ته د اسلام بلنه ورکړی نبي ﷺ اول دعاء ورته وکړه او وروسته يې اسلام ته و هڅول دا مبارکه په دغه وخت کي مسلمانه سول.(203)

فايده: د عيش او عشرت او د خوشحالي په وخت د ميني او محبت دعوه کوونکي ډېر دي خو عشق او محبت هغه دی چي د تکليف او غم په وخت کښي هم پاته وي.

## ۲-د حضرت عمر ﷺ دنبي ﷺ پر وفات باندي غم

حضرت عمر ﷺ د بې ساري زړورتيا او قوت سره ـ سره چي نن څلوارلس پيړۍ وروسته يې هم زړورتيا مشهوره ده او ددې سره چي د اسلام ښکاره کېدل هم دده د اسلام راوړلو سره

(203) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسو د مسلمانېدو وروسته یې خپل اسلام په پټه ساتل نه خوښوی دده مبارک د نبي ﷺ سره دمحبت یو کوچنی نمونه داده چي کله نبي ﷺ وفات سو نو دده د زغم څخه خبره ووته حیرانی واخیستی ، توره یې په لاس کي واخیستل ودرېدئ او وې ویل: که هر چا وویل چي نبي ﷺ وفات سوی دئ زه به د هغه سر ورپرې کړم نبي ﷺ د خپل رب و لوري ته تشریف وړی دئ لکه موسي ▲ چي طور غره ته تشریف وړی و ډېر ژر به راسي او د هغه خلګو لاسونه او پښې به پرې کړم چي دنبي ﷺ د وفات غلطي اوازې خپروي حضرت عثمان ﷺ تر دوهمي ورځي پوري ګونګی و هیڅ یې دخولې نه راوتل ګرځېدئ را ګرځېدئ خبري یې نه سوای کولای حضرت علي ﷺ چوپ ناست و بدن یې حرکت نه کاوه یوازي ابوبکر ﷺ و چي د غره په څېر ولاړو او ټول غمونه یې وزغمل چي درسول الله ﷺ سره یې اوس د محبت قصه تېره سوه پدغه وخت کي یې په ډېره آرامتیا سره تشریف راوړی اول یې دنبي ﷺ تندی مچ کړی وروسته د باندي راووتی حضرت عمر ﷺ ته یې وویل کښېنه وروسته یې خطبه وویل چي مطلب یې داسي و: کوم چاچي د نبي ﷺ عبادت کاوه هغه دي پوه سي چي نبي ﷺ وفات سو څوک چي دالله ﷻ عبادت کوي هغه دي پوه سي چي الله ﷻ ژوندی دئ او تل به وي وروسته یې د قرانکریم دغه مبارک آیات تر پایه پوري ووایه: ([204])

⇧●■⌧⌘ ⇧⑨•♪ ⊰✌❑←♋◆❻ ••⊗☽ ➘⑨●☺❑◆➔ ♎◆✌◆❒
×♗⇦⊗⊠•▫❒📖 🗐 ↖✍←♋❾❷♍♎✁ ♎📖⊗✁⬀⌨•♪ ♊♎✌
✁❼■✍◆↖ ⬃☹↗⬇⬀⌛■⌧•☽☼♎✁ •✍♎☞➔♪ ⬃❒❒📖 ✽☠♎❑✌
🗐❼■✍◆↖ ⬄⌧⊗⌧•☽☪◆③ ♊◆✌◆❒ 🗐 ⬀☠↗▤⊗⌛🕔•☽⇧↖❒📖
▤ ♎ॐ★⬂⓿⊠⅄ ⅄✎♎✁ ▪❸⬖➢◆③ ♊■⌧•▫ ♎❍⬂⓿◆⌛☞☽◆↖

([204]) خمیس


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



♦×⇦❖❷⬁⌛🕔⊙⌖✆👓✂ ✦✎👓✂ ❽❖❽⇳➚♦⓿⌂☙♦❒
(205) ⬁⬂✍✍⬀

ژباړه: محمد ﷺ صرف پيغمبر دئ.(خدای خو نه دئ چي مرګ او فنا نه پرې راځي).
کچيري محمد ﷺ وفات يا شهيد سي نو تاسو بېرته له دينه څخه اوړئ؟ او که څوک له دين څخه واوړي هغه ته هيڅ تاوان نسي رسولای (يوا ځي خپل ځان ته تاون رسوي) او الله ﷻ به شکرګذاره خلګو ته ژر بدله ورکړي.(206)

فايده: څرنګه چي الله ﷻ د حضرت ابوبکر رضي الله عنه څخه د خلافت مهم کار اخيستی او دده شان هم پدغه وخت کي مناسب و په همدې وجه دده سره پدغه وخت کي دومره زغم موجود و چي د بل چاسره موجود نه و او دا ده مبارک ته چي د ښخېدلو او ميراث څومره مسئلې معلومي وي بل چاته نوې معلومي د نبي ﷺ د ښخېدو په ځای کي اختلاف سو ځينو وويل چي په مکه کي يې ښخوو ځينو وويل چي په مدينه منوره کي يې ښخوو اوځينو ويل چي په بيت المقدس کښې يې ښخو خو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل چي ماد نبي ﷺ څخه اورېدلي دي: پر کوم ځای چي پيغمبر وفات سي پر هغه ځای به يې قبر وي پر کوم ځاي چي دنبيﷺ وفات سوی دئ پر هغه ځای دي قبر وکښل سي بيا يې و فرمايل: چي مادنبيﷺ څخه اورېدلي دي چي د نبيﷺ وارث هيڅوک نسي جوړېدلای کوم مال چي ځيني پاته سي هغه به خيراتيږي بيا يې وفرمايل: مادنبي ﷺ څخه اورېدلي دي چي څوک د مسلمانانو د حکومت سرپست سي او بيا په بې پروايې سره بل څوک امير جوړ کړي پرده دي لعنت وي بل خبره داده چي نبي ﷺ فرمايلي دي چي قريش د امرا و سلطنت مسئول او سرپرست دي. اوداسي......

---

(205) سورة آل عمران الاية (١٤٤)
(206) بيان القران


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 3- د يوې ښځې د نبي ﷺ د خبر په وجه بې ارامه کېدل

د احد په غزا کې چې مسلمانانو ته تکليفونه ورسېدل او ډېر مسلمانان شهيدان سوه دغه دردونکی خبر چې مدينې منورې ته ورسېدئ نو يوه ښځه لا لهانده د حالاتو د معلوملو لپاره دکوره څخه راووتل راغله د خلګو يوه ډله ولاړه وه دې په بې قراری سره پوښتنه څني وکړه چې رسول الله ﷺ څنګه دئ؟ هغو په جواب کې ورته وويل: چې ستا پلار شهيد سوی دئ دې انا لله وويل بيا يې په بې قراری سره پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ څنګه دئ؟ هغو ورته وويل چې ستا خاوند شهيد سو بل چا د زوی د شهادت ورته وويل بل چا بيا د ورور د شهادت خبر ورکړی چې دا ټول شهيدان سوی دي خو دې د نبي ﷺ پوښتنه کول چې رسول الله ﷺ څنګه دئ؟ خلګو ورته وويل چې په خير او خيريت کور ته راغلی ددې زړه ډاډ نه کاوی او وې ويل چې چيري دئ؟ خلګو ورته وويل چې په هغه ډله کې دئ دا په خپله ولاړه د رسول الله ﷺ په ليدلو يې خپلې سترګې يخې کړې د رسول الله ﷺ په ليدو يې وويل اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! ستا د ليدو وروسته ماته هر غم کمزوری او پر هيڅ دئ په يوه روايت کې راغلي دئ چې دې نبي ﷺ تر جامو ونيوئ او ورته وې ويل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! چې تاسو ژوندی او سلامت ياست نو ماته د هيڅ مرګ پروا نسته.(207)

فايده: ددې ډول څخه ډېرې قصې راغلي دي په همدې وجه د مؤرخينو د نوموړې ښحې په نومونو کښې اختلاف دئ خو صحيح خبره داده چې قصې د څو ښځو څخه پيښې سوی دي.

### ۴- په حديبيه کې د ابو بکر صديق ﷺ او مغيرة ﷺ کار او د عامو اصحابو ﷺ طريقه

(207) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حدیبې مشهور جنګ په سنه ۲ هـ کې د میانې په میاشت کې سوی دئ. کله چې نبي ﷺ د اصحابانو د یوې لوې ډلې سره د عمرې اراده وکړه دمکې کافران چې خبر سوه نو په خپل منځ کې یې مشوره وکړه چې مسلمانان دې دمکې څخه منعه سي ددغه لپاره یې لویه تیاري وکړه او دخپلي مرستي لپاره یې ددباندي څخه هم خلک راوغوښتل او یو لوي جماعت یې د مقابلې لپاره تیار کړی نبي ﷺ یو صحابي و ذوالحلیفة نومي ځای ته د حال معلوملو لپاره واستوی (هغه صحابي چې بېرته راغلی) دنبي ﷺ سره یې په عسفان کې ولیدل او نبي ﷺ ته یې وویل چې دمکې خلګو د مقابلې لپاره لویه تیاري نیولې ده او زیات شمېر خلک یې ددباندي څخه هم راغوښتي دي نبي ﷺ د خپلو اصحابانو سره مشوره وکړه چې اوس څه کول پکار دي؟ یوه لویه لاره داده چې کوم خلک چې دوی ددباندي څخه راغوښتي دي دهغو پر لورو حمله وسي هغه چې خبر سي نو بېرته به خپلو کورونو ته ولاړسي بله لار داده چې برابر پر ورسو . حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه وویل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! موږ خو د بیت الله شریف د زیارت په اراده روان سوی یو د جنګ خو مو هیڅ اراده نه وه موږ به ځو که چیري دوی مختته راغلل موږ یې منعه کړو مقابله به وکړو که نه نو ځو به نبي ﷺ داخبره خوښه کړه او مخکې روان سو کله چې حدیبې ته ورسېدل نو بدیل بن ورقا خزاعي د یوې ډلې سره نبي ﷺ ته راغلی داخبره یې ورته وکړه چې کافران تاسو هیڅکله د مکې داخلېدو ته نه پرېږدي د جنګ لپاره یې لویه تیاري نیولې ده نبي ﷺ ورته وویل چې موږ خو بیخي د جنګ په اراده نه یو راغلي زموږ مقصد عمره کول دي قریشو ته خو هره ورځ جنګونو ډېر تاوانونه رسولي دي ځانونه یې بیخي هلاک کړي دي که ددوی خوښه وي چې روغه جوړه وکړي زه روغي جوړي ته تیار یم زما او ددوی تر منځ به ژمنه وي چې زه ددوی سره جنګ نه کوم او که دوی زما سره جنګ نه کوي مادي نوروته پرېږدي او که دوی په هیڅ شی نه راضي کیږي نو زما دي په هغه ذات قسم وي چې زما روح یې په قبضه کې دئ چې تر هغه وخته به ورسره جنګیږم چې اسلام غالب سي او یا زما سرپرې سي. بدیل ورته وویل: ډیر ښه دئ زه به ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيغام هغو ته ورسوم ، دی ولاړی هغو ته يې پيغام ورساوه خو هغه راضي نه سوه. په همدې ترتيب د دوارو لورو څخه د تګ او راتګ لړی جاري وه چې يو وار پکښې عروة بن مسعود ثقفي د کافرانو له لوري څخه راغلی چې په دغه وخت کې لا مسلمان سوی نه و وروسته بيا مسلمان سو ده هم د بديل په څېر د نبيﷺ سره خبري وکړې او ورته وې ويل: اې محمد ﷺ ! که ته ټول عرب له منځه ورل غواړې دا خوشوني نه ده ځکه تر اوسه ستا مخکې داسې يو څوک نه دی پيدا سوی چې دغه کار يې کړی وي يعنې ټول عرب دي يې لمنځه وړي وي او که چيري دوهم حالت سي يعني عرب پر تاسو برلاسي سي نو کوم کسان چې ستا سره دي هغه زه د شريفو خلګو ډله نه وينم ټول به در څخه ولاړ سي تا به يوازې پرېږدي ابوبکرﷺ په دغه ځای کې ولاړ و دا خبره يې و نه زغمل دستي يې ورته وويل: د خپل خدای (لات) د بولو ځای و څټې ايا موږ به و تښتو ؟ او نبيﷺ به يوازې پرېږدو ؟ عروة پوښتنه وکړه چې دا څوک دئ؟ نبي ◄ ورته وويل: دا ابوبکر AA دئ عروة ورته وويل: ستا يو زوړ احسان پر ما پروت دئ هغه احسان ادا سو او که دي هغه احسان نه وای نو خامخا به مې د دې ښکنځلو جواب درکړی وای د دې خبرو د کولو څخه وروسته بيا د نبيﷺ سره په خبرو کولو مشغول سو ده د عربو د دود سره سم د نبيﷺ وږيرې مبارکې ته لاس وروړی ځکه دغه کار دوی د خواهش کولو پرمهال کاوه اصحابوﷺ دغه کار نسو زغملای نو د عروة وراره مغيرة بن شعبة AA په دغه ځای کې ولاړ و خود يې پر سر وه د توري په مټ يې خپل اکا (عروة) وواهه چې لاس دې ليري ساته (يعني د نبيﷺ وږيرې مبارکې ته لاس مه وروړه) عروة پوښتنه وکړه چې دا څوک دئ؟ نبيﷺ ورته وويل: دا مغيرة AA دئ عروة ورته وويل: اې غداره ! ستا غدارې تر اوسه پورې زغمم ستا زما سره دا وفا ده ؟(مغيرة د اسلام مخکې څو کافران وژلي وه عروة يې ديت ورکړی و په دغه ځای کې يې و هغه کار ته اشاره وه) لنډه دا چې عروة د نبيﷺ سره خبرې کولې او پټ ـ پټ به يې د سترګو تر بيخو د اصحابانوﷺ حال هم معلوماوه کله چې بېرته و کافرانو ته ولاړی هغو ته يې وويل: اې قريشو ! زه د ډيرو پاچهانو دربارو ته تللی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقيصر، نجاشي او د کسرى دربارونه مې ليدلي دي او د هغوى اداب مې ليدلي دي قسم په الله ﷻ که ماد يو پاچا سره د خپلو ملګرو دومره محبت ليدلى دئ لکه د محمد ﷺ د ملګرو محبت چې دده سره دئ کله چې دى لاښي توکي دوى يې چابک په لاس را واخلي پر مخ او بدن يې موږي کوم امر چې دى وکړي د پوره کولو لپاره يې تړوله و ځغلي کله چې هغه اودس کوي نو د اوداسه د اوبو لپاره لاسونه ورته نيسي يو ښاځکى اوبه مځکې ته نه پرېږدي کوم يوه ته که ښاځکى ور ونه رسيږي نو دهغه بل يوه لوند لاس راکش کړي پر خپل مخ يې وموږي که د محمد ◄ په مځکې دوى خبرې کوي نو په لوړ اوازيې نه کوي دادب له وجهې ده ته لوړ نه ګوري که د هغه د سر يادږيرې وينښته ولوېږي نود برکت لپاره يې پورته کوي مځکې ته يې نه پرېږدي لنډه دا چې ما دهيڅ دومره محبت د خپل مشر سره نه دئ ليدلى لکه د محمد ﷺ د ملګرو محبت چې دده سره دئ. وروسته نبي ﷺ عثمان ﷺ د قاصد په ډول مکې ته واستوى ځکه يو خو دى مسلمان و او بل دده په مکة کې ډير عزت و په همدې وجه دده په وړاندي ډيره ويره نه وه چې خلګ دې تاوان ورورسوي. نو ځکه يې دى د قاصد لپاره غوره و بلل سو. ده مبارک تشريف يووړى. مسلمانانو ارمان وکړى چې دى خو لانبه سو مکې ته ولاړى ښه په خوند به طوافونه وکړي نبي ﷺ وفرمايل: زما اميد نسته چې هغه دې زما پرته طواف وکړي. کله چې عثمان ﷺ مکې ته داخل سو نو ابان بن سعيد په خپله پناه کې واخيستى اورته وې ويل: چې ولاړ سه هر چيرې چې ځې هيڅوک ستا منعه نسي کولاى عثمان ﷺ هم شاوخوا وګرځېدئ د ابو سفيان او د قريشو د سردارانو سره يې و ليدل د نبي ﷺ پيغام يې ورو رساوه کله چې ببرته راتلى نو د مکې خلګو ورته وويل: چې اوس راغلى يې ونيسه طواف وکړه ده مبارک په جواب کې ورته وويل عجيبه ده چې رسول الله ﷺ به منعه کړل سوى وي او زه به طواف کوم دا هيڅکله نه سي کېدلاى کافران دده پر دې خبره په غصه سوه دى يې بندي کړى او مسلمانانو ته يې حال وروا ستوى چې عثمان شهيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو نبي ﷺ چې دا خبر واورېدئ دا صحابانو ﷺ څخه يې تر آخري سلګۍ پورې د جنګېدو ژمنه واخيسته کافران چې د مسلمانانو پدې بيعت (ژمنه) خبر سوه دستي يې عثمان ﷺ ايله کړی.(208)

فايده: په دې قصه کې د ابوبکر AA وينا او دمغيرة ﷺ وهل، د اصحابانو ﷺ عامه تګ لاره چې عروة په ډېر څير وليده هم دا ډول د عثمان ﷺ د طواف څخه انکار، هره قصه داسې ده چې د نبي ﷺ سره د بې اندازې مينې خبر ورکوي. دغه بيعت (ژمني) ته بيعت الشجر وايي په قرانکريم هم ددې بيعت بيان راغلی دئ چې الله ﷻ په سورة فتح کې فرمايي:

⮈♊♦⬉ ✦✐☙✁ ☙♉⮚⛝◆❻ ⇳⑨•☽⅄⚘ ✉

☙①♦☼❑⬉➔⛒③☙♦⌨⬉③ ⬂❶⛒☽ ☙▫✓⛒☪⛒✌⬃•←☺⬂⚘☙✁

❼⛒× ☙♦✌ ⌘☠⛒⚿⮹➔•▫ ☘□♦❷⮹✗⊙⌖⚘☙✁ ✾☄⬂♦❒✌

•◘◆☪⑩⮚▤○○⚘☙✁ ♦✌♦❽☼❒🕯•▫ ⬀☠☘☘☘▯❑➔⚿➔🔔

☙✡⌛③⛝❷•🔔 ☙☯•⬃✍•▫ ⬀☠←♑♦⌛🕔❒⚐❒🕮◆❒ ⬀☠☘☘⬀❸■⚿♦⬉

(209) ⮈⮚⛒⮵

پورتنۍ آيات به د ترجمې سره ژر په خاتمه کې راسي انشا الله.

## ۵- د حضرت ابن زبير AA وينه چيښل

نبي ﷺ يو ځلي ښکرونه ولګول او کومه وينه چې راووتل ابن زبير AA ته يې ورکړل چې دا يو سه يو ځای يې ښخه کړه ده مبارک هغه وينه را واخيستل خپله يې و چيښل او راغلی نبي ﷺ ته يې وويل چې وينه مې ښخه کړه نبي ﷺ ورته وويل: چيرې دې ښخه کړه؟ ده مبارک ورته وويل چې

(208) خميس

(209) سورة الفتح الاية (۱۸)



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



و مي چيښل. نبي ﷺ ورته وويل: کوم بدن ته چي زما وينه ورسيږي هغه بدن او ر د دوزخ نسي مسحه کولای خو د خلکو څخه تا ته هلاکت دئ ستا څخه و خلګو ته هلاکت دئ.(210)

فايده: د نبي ﷺ لوي او کوچني اودس مات تول پاک دئ په دې کي هيڅ مشکل نسته دنبي ﷺ ددې ارشاد څخه مطلب دادی چي د خلکو څخه تاته هلاکت دی ستاڅخه و خلګو ته هلاکت دئ علماؤ ليکلي دي چي و امارت او سلطنت ته اشاره ده خو (ځيني بيا اختلاف کوي) کله چي عبد الله بن زبير ﷺ پيدا سو هغه وخت هم نبي ﷺ ودې طرفته اشاره کړې وه او ورته ويلي يې وه چي ستا يو پسه د چرمونبانو په منځ کي دئ داسي چرمونبان دي چي کالي به يې اغوستي وي وروسته د يزيد او عبدالملک مشهور جنګ د ابن زبير AA سره وسو او په هغه کي هم شهيد سو.

## ۶- د حضرت مالک بن سنان AA وينه چيښل

داحد په غزاء کي چي د نبي ﷺ په مخ اويا سر مبارک د خود دوې کړۍ ننوتې نو د يوې خوا حضرت ابو بکر ﷺ وروځغستل او د بلي خوا ابو عبيده ﷺ وروځغستل او په غاښو يې د کړيو را ايستل شروع کړه لومړۍ ابو عبيده يوه کړۍ په غاښ راوايستل دوهم غاښ يې مات سو. ددې دوو کړيو په راوتو سره د نبي ﷺ د پاک بدن څخه وينه راووته د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ پلار مالک بن سنان AA دغه وينه په خپلو شونډانو و څښښل او وې رودل وينه يې تېره کړه. نبي ﷺ و فرمايل: د کوم بدن سره چي زما وينه يو ځای سي هغه بدن د دوزخ اور نه سي مسحه کولای.(211)

## ۷- د حضرت زيد بن حارثة AA و خپل پلار ته انکار

(210) خميس
(211) قرة العيون

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت زيد بن حارثﷺ د کفر په وخت کې د خپلې مور سره دا ناو کورته تلی چې قافله يې بنو قيس و شکول او وې لوټل چې زيدﷺ هم پکښې و دی يې غلام کړې د مکې په بازار کې يې خرڅ کړی. حکيم بن حزام د خپلې عمة خديجې لپاره رانيوی د خديجې چې کله د نبيﷺ سره نکاح وسوه نو خديجې زيد د نبيﷺ په خدمت کې وړاندې کړی. د زيد پلار د خپل زوی په بيلتون ډېر غمګين و. ځکه طبعي خبره ده چې پلار د اولاد سره مينه لري. د زيد پلار به د خپل زوی په جلاوالي کې ژړل او اشعار به يې ويل يوې خوا او بلې خواته به ګرځېدئ چې د شعرونو لنډه ترجمه يې داده: زه د زيد په ياد کې ژاړم نه يم خبر چې هغه ژوندی دئ چې اميد يې وکړم او که مرګی ختم کړی دئ په الله ﷻ قسم کوم چې دا هم نه ده راته معلومه چې اې زيده ! ته پستې ځمکې هلاک کړې يې او که د غره ځمکې هلاک کړې يې. ارمان چې ماته معلومه وای چې ته بيرته راځې که يا زما په ټول عمر کې لوی ارمان دادئ چې ته بيرته راسې اې زيده ! چې لمر راخيږي هم ته را ياديږې او چې باران کېږي نو هم ستا ياد ما ځوروي او کله چې بادونه چليږي نو هم ستا ياد تازه کوي. های افسوس زما غم او فکر څومره اوږد سو زه به دده په لټه او تلاش کې په ټوله دنيا د ګرځېدو لپاره د اوښ چابکې په کار واچوم پر ټوله دنيا د ګرځېدو څخه به نه سم ستړی اوښ که ستړی سي خو زه نه ستړی کېږم خپل ټول ژوند به په دې کښې تېروم که ماته مرګ راسي نو ډېر به ښه وي ځکه مرګ هر شی فنا کوي که څه هم هر څوک هر څومره اميدونه لري خو زه به د خپلوانو څخه فلانکې فلانکې ، آل اولاد ته وصيت وکړم چې په دغه ډول په زيد پسې تلاش وکړي. لنډه دا چې ده به په ژړا ژړا کې دا اشعارو ويل او تلاش به يې کاوه ناڅاپه دده د قوم څو کسان حج ته ولاړل[212] هلته يې زيد و پېژندئ او خپل د پلار حالت يې ورته بيان کړی

---

(212) تر اسلام مخکې کافرانو هم دحج يوډول دود درلودی چې لوڅ به يې پر مکه مکرمة باندې طواف کاوه او چک چکې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلار شعرونه يې ورته وويل او د هغه د بيلتون قصه يې ورته وکړه. حضرت زيد ﷺ وهغو ته درې شعرونه په لاس ورکړل چې مطلب يې داسې و. زه په خير او خيرت کې يم زه د ډېرو سخيانو خلکو په غلامي کې يم زما لخوا هيڅ فکر مه کوئ. هغه کسان چې ولاړل د زيد و پلار ته يې د زيد د خيريت خبر ورکړى او هغه اشعاريې ورته وويل چې زيد ورته ويلي وه او د زيد ادرس يې وروښودئ. د زيد پلار او اکا روان سوه د غلامۍ د خلاصېدو په نيت يې د ځان سره فديه واخيسته د نبي ﷺ حضور ته ورغلل او ورته وې ويل: اې د هاشم اولاده ! او د خپل قوم سرداره ! تاسو خو د الله ﷻ د کور همسايګان ياست تاسو خو د حرم اوسېدونکي ياست تاسو خو خپل بنديان ازاده وى. وږو خلکو ته خوراک ورکوى موږ د خپل زوى د خلاصون لپاره راغلي يو پر موږ احسان او کرم وکړه زموږ فديه قبوله کړه. زما زوى ازاد کړه بلکې څومره چې فديه ده تر هغه زياتې پيسې واخله نبي ﷺ ورته وويل: څه خبره ده؟ دوى ورته وويل چې موږ د زيد په طلب راغلي يو نبي ﷺ ورته وويل. بس دومرې خبره ده؟ دوى ورته وويل. هو ، نبي ﷺ ورته وويل: هغه راوغواړئ او پوښتنه ځني وکړئ که چيرې په خپله خوښه تلى نو بېله فديې يې بوزئ او که نه تلى نو زه پر داسې چا باندې زور نسم اچولاى چې په خپله خوښه نه ځي دوى ورته وويل: تاسو تر حق هم زيات احسان وکړى دا خبره مو بيخي خوښه ده.زيد ﷺ راوغوښتل سو نبي ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې ته دوى پېژنې؟ زيد AA ورته وويل: هو ، دا زما پلار دئ او دغه بل مې اکا دئ نبي ﷺ ورته وويل: زما حال هم تاته معلوم دئ که په خپله خوښه زما سره اوسېدل غواړې خو زما سره اوسه او که ددوى سره ځې نو درته اجازه ده حضرت زيد ﷺ ورته وويل يارسول الله ◄ ! زه ستاسې په مقابله کې هيڅوک نسم خوښولاى ته زما د پلار پر ځاى يې او د اکا پر ځاى مې هم يې پلار او اکا دواړو ورته وويل: زيده ! د ازادۍ په مقابل کښې غلامي خوښوې؟ د پلار، اکا ، کور

يې کولې . داسې نه ده چې دزيد خپلوان په دغه وخت کې مسلمانان وه فرضي حج يې اداکوى.ژباړن .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نور قريبانو په مقابل کښې غلام او سېدل غواړې؟ زيد ﷺ ورته د نبي ﷺ و لوري ته اشاره وکړه اووې ويل: ماپه ده کې داسې شيان ليدلي دي چې په مقابله کې يې هيڅ شی نسم خوښولای نبي ﷺ چې دده خبرې واورېدې نو دی يې په غيږ کې ونيوی او وې ويل چې دی ما په زوی والي نيولی دئ. پلار او اکا چې يې دا حال وليدئ ډېر خوشاله سوه او په خوشحالۍ سره يې پرېښودئ ولاړل.(213)

فايده: حضرت زيد ﷺ په دغه وخت کې کوچنی هلک و چې پر خپل کور، پلار او نورو باندې يې د غلامۍ ژوند غوره کاوه داد هغه محبت ښودنه کوي چې ډېر ښکاره دئ.

## ۸- د احد په جنګ کې د حضرت انس بن نضر ﷺ عمل

د احد په غزاء کې چې مسلمانانو ماته و خوړل نو يو چا دا خبره مشهوره کړه چې نبي ﷺ شهيد سو ددې دردونکې خبرې چې کومې اغيزې پر اصحابانو ﷺ باندې ښکاره وې هغه ډېره ښکاره خبره ده. مسلمانانو ددې ويره ونکې خبر په اورېدو سره هغه پاته همت هم دلاسه ورکړی حضرت انس ﷺ راروان و چې د مهاجرو او انصارو په يوه ډله کې يې حضرت عمر ﷺ او حضرت طلحة ﷺ وليدل چې ټوله د خوابدتيا په حالت کې دي انس ﷺ پوښتنه وکړه چې دا څه پېښه ده چې مسلمانان خوابدي ښکاري؟ دوی ورته وويل چې نبي ﷺ شهيد سو حضرت انس ﷺ ورته وويل چې دنبي ﷺ وروسته چې تاسو ژوندی پاته سئ نو څه به کوئ توري په لاسو کې واخلئ ځانونه قربان کړئ. حضرت انس ﷺ توره په لاس کې واخيستل د کافرانو په يوه ډله ورننوتی تر هغه پورې وجنګېدئ ترڅو چې شهيد سو.(214)

(213) خميس
(214) خميس

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایده: دده مبارک مطلب دا و چې د کوم چاڅپاره چې ژوند و هغه نسو پاته نو بیا ژوند پاتـه کېدل د څه لپاره دئ هم داسې وسوه، چې خپل ځان یې قربان کړی.

## ۹- په احد کښې د سعد بن ربیع ﷺ پیغام

نبي ﷺ د احد په غزا کې پوښتنه وکړه چې د سعد بن ربیع ﷺ حال معلوم نه سو چې څه بـه پر تېر سوي وي یو صحابي ﷺ یې دده د تلاش لپاره ولېږی دغه صحابي د شهیدانو په ډله کې لټون وکړی چې ګوندې ژوندی وي بیا یې په لوړ اواز وویـل: زه نبي ﷺ رالېږلي یم چې د سعد ﷺ خبر راوړه. د یو ځای څخه یو کمزوری اواز راووتی دغـه صحابي و هغـه طرفتـه ورغلی کـه یې وکتـل سعد ﷺ د شهیدانو په منځ کې پروت دئ لږ ساه پکښې ده کله چې نژدې ورغلی سعد ﷺ ورتـه وویل: چې نبي ﷺ ته زما سلام وایه چې زما د خوا دې الله ﷻ تاسو ته غوره بدل درکړي. کومـه بدلـه چې یوه نبي ته د امتي لخوا ورکړل سوې ده ترهغـه غوره بدلـه ، او مسـلمانانو تـه زمـا دا پیغـام ورسوه. که ونبي ﷺ ته کافران ورسېدل او په تاسو کې یـو سـترګې لغړونکی و یعنـي ژونـدی و نـو دالله ﷻ په وړاندې یې بیا هیڅ عذر نه قبلیږي. دا یې وویل وفات سو.([215])

فایده: فجزاه الله عنا افضل ماجزاي صحابیاً عن امة نبیه.

([215]) خمیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقيقت کې دغه مبارکو تر سرتيرو اصحابانو د خپلې سر تيرۍ ثبوت ورکړی دئ (الله ﷻ دې يې قبرونه د نور ځخه ورډک کړي) په زخمو باندې زخمونه قبلوي ساه يې وزي مګر ددې فکر نسته چې شکايت، وېره او يا دې غم وکړي بلکې ددوی سره په دغه حال کې هم د نبي ﷺ د حفاظت او پر نبي ﷺ باندې د ځان قربانولو شوق او جذبه سته. ارمان! په ماغوندې نااهله کې هم ددوی په څېر يوه لږه برخه مينه وای.

### ۱۰- د نبي ﷺ په قبر ليدو سره د يوې ښځې مرګ

د حضرت عائشې رضي الله عنها حضور ته يوه ښځه راغله او ورته وې ويل چې ماته د نبي ﷺ قبر مبارک راوښيه عائشې رضي الله عنها هغه مبارکه او د نوره ډکه کوټه ورخلاصه کړه چې د نبي ﷺ قبر مبارک پکښې و هغې ښځې چې قبر مبارک وليدئ په ژړا سوه په ژړا ژړا کې وفات سوه. رضي الله عنها و ارضا ها.([216])

فايده: ايا تاسو ددې عشق نمونه يو ځای ليدلې ده چې دقبر د زيارت توان هم ونه لري او هلته يې ساه و خيژي؟.

### ۱۱- د اصحابانو رضي الله عنهم دمحبت متفرقې قصې

د حضرت علي کرم الله وجهه ځخه يو چا پوښتنه وکړه چې د نبي ﷺ سره څومره مينه لرې؟ ده مبارک ورته وويل زمادې په الله ﷻ قسم وي چې نبي ﷺ مونږ ته تر خپلو مالو، مور او پلار، تر خپلو ځانو او د سختې تندې په وخت کې تريخو اوبو زيات محبوب دئ.([217])

---

(216) خميس
(217) شفـاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: ده مبارک ريشتيا وويل: د اصحابانو مبارکانو هم داسي حالت و څکه دوی د کامل ايمان څښتنان وه. الله ﷻ فرمايي:

[illegible] (218)

ژباړه: دوی ته ووايه: که چيري ستاسو پلرونه، ستاسو زامن، ستاسو ورونه ،ستاسو بيبياني، ستاسو قوم او هغه مال چي تاسو ګټلی دئ او هغه تجارت چي ستاسو سره د هغه وتلو وېره ده او هغه کورونه چي تاسو يې خوښوی (که چيري دا ټول شيان) تاسو ته تر الله ﷻ او د هغه تر رسول ﷺ او د الله ﷻ په لاره کښې تر جهاد ستاسو خوښ وي نو تاسو صبر وکړئ تر هغه وخته پوري چي د الله ﷻ حکم راځي (او د الله ﷻ حکم نه منونکي خپل مقصود ته يعني عذاب ته رسوي )، الله ﷻ فاسقانو ته هدايت نه کوي.(219)

(218) سورة التوبة الاية (٢٤)
(219) بيان القران

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې آيت کې د الله ﷻ د هغه کسانو سره د عذاب وعده ده چې د نورو شيانو سره تر الله ﷻ او تر رسول الله ﷺ زيات مينه کوي. د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چې نبي ﷺ فرمايي: تر هغه به يو ستاسو څخه کامل مؤمن نسي تر څو زما سره تر خپل پلار، اولاد او ټولو خلکو زيات محبت ونه کړي. د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه هم داسي مضمون ليکل سوى دئ. علماؤ ويلي دي: چې ددې محبت څخه اختيارى محبت مراد دئ غير اختياري يعني اضطراري محبت نه دى مراد. که چيري ددې محبت څخه طبعي محبت مراد سي نو هم کېداى سي خو بيا د ايمان څخه د کاملي درجې ايمان مراد دئ لکه د اصحابانو ﷺ ايمان چې و. حضرت انس ﷺ فرمايي: چې نبي ﷺ ورته وفرمايل: درې شيان دي که په چا کښې موجود سوه نو د ايمان خوږوالى به ورپه برخه سي لومړي د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ سره محبت دئ چې تر هر شي زيات او خوندور دئ دوهم دا چي د يو چا سره محبت کوي دالله ﷻ د رضا لپاره وي. دريم دا چي د کفر ولوري ته تلل يعني کافر کېدل دومره ورته ګران سي لکه په اور کي پر ېوتل.

يوه ورځ حضرت عمر ﷺ وفرمايل: اې د الله ﷻ رسوله ◄ ! ته ماته تر خپل ځان پرته تر ټولو شيانو محبوب يې رسول الله ﷺ وفرمايل: چې څوک تر هغه وخته پوري کامل مؤمن نسي جوړېدلاى تر څوزه تر خپل ځان ورته محبوب نه سم. عمر ﷺ وويل: اې دالله ﷻ رسوله ◄ ! اوس ته ماته تر خپل ځان هم محبوب يې رسول الله ﷺ ورته وويل: (الآن) يا عمر ! يعني اوس اې عمره ! دا چي دنبي ﷺ ددې جواب مطلب به څه وي علماؤيې دوه مطلبه ښودلي دي. لومړى دا چي اوس ستا ايمان پوره سو. دوهم دا چي داخبرداری و چي اې عمره ! اوس دا خبره پيدا سوه پکار خو داوه چي د پخوا څخه واى. سهيل تستري ﷺ فرمايي: څوک چي په هر حال کښي نبي ﷺ په خپل والي يعني آقا ونه ګڼي هغه د سنتو خوند نسي څکلاى. يو صحابي نبي ﷺ ته راغلى او ورته وې ويل چي د قيامت ورځ به کله راځي؟ نبي ﷺ ورته وويل چي د قيامت لپاره دې څه تياري نيولې ده چي پوښتنه يې کوې صحابي ورته وويل ما ډيري روژې، خيراتونه او لمونځونه ندي کړي مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په زړه کښې مې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ سره محبت دئ نبي ﷺ ورته وويل چې د قيامت په ورځ به ته د هغه چاسره ملګرې يې چې ته مينه ورسره لرې دغه حديث ډيرو اصحابانو نقل کړی دئ چې په دوی کښې عبد الله بن مسعود ، ابو موسي اشعري، صفوان، ابوذر او داسې نور مبارکان هم دي. حضرت انس ﷺ فرمايي چې اصحابانو ته چې پدې حديث سره مسلمانانو ته ځومره خوشحالي حاصله سوه په هيڅ شی دومره خوشحالي نه وه ورته حاصله سوې.دا ښکاره خبره ده چې اصحابانو ته خوشحالي په کار وه ځکه د نبي ﷺ محبت ددوی په رګ او رېښه کښې موجود وو نو بيا به ولې نه خوشحالېدل .د حضرت فاطمې کور د نبي ﷺ د کور څخه لرې ليري و نبي ﷺ وفرمايل: چې زما زړه غواړي ستا کور زما و کور ته نژدې سي حضرت فاطمې وويل: چې د حارثة کور تاته نژدې دئ و هغه ته وواياست چې زما سره کور بدل کړي رسول الله ﷺ ورته وويل د حارثة سره مخکې هم يوځلي بدلون سوی دئ اوس ماته حياء راځي. حارثه ﷺ په دې خبر سو دستي د نبي ﷺ و حضو ته ورغلی او ورته وې ويل چې زه خبرسوی يم چې تاسو د فاطمې کورو خپل ځان ته نژدې غواړئ دغه زما کورونه دي او تر دغه وتاسو ته هيڅ کور نژدې نسته هر يو چې موخوښ وي د هغه سره يې بدل کړئ اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زه او زما مال د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ دي اې د الله ﷻ رسوله ! زما دې په خپل خدای ﷻ سره قسم وي کوم مال چې تاسو زما څخه واخلی هغه زما ډېر خوښ دئ تر هغه مال چې زما څخه پاته سي نبي ﷺ ورته وفرمايل چې رښتيا وايې او د برکت دعا يې ورته وکړه او کور يې ورسره بدل کړئ.[220]

يو صحابي د نبي ﷺ حضور ته ورغلی او ورته وې ويل چې ستاسو سره زما تر ځان، مال، اهل او عيال محبت زيات دئ زه په خپل کور کښې ناست يم چې تاسو راپياد سی نو صبر مې نه

---

[220] طبقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي تر هغه وخته چي راسم او ستاسو زيارت ونه کړم او ماته په فکر کښي راځي چي ما او تاسو ته مرګ خامخا راتلونکی دئ خو ددې وروسته به ته لوړو د انبياودرجو ته ولاړسې زما سره دا وېره ده چي بيا به زه تاسو نه وينم نبي ﷺ دده په جواب کښي چوپتيا اختيار کړه تر هغه وخته چي جبرائيل عليه السلام راغلی او دا آيت يې نازل کړی:

♦✌❑←ᘓ▪❷♑🙰🙵✁◆❒ ⅄✎🙰✁ ⇗➚⊗➲↸③ ♊♦✍◆❒
⌘☠⍓➔⇙☼❒🕮 ♦×⇦⊗🔔⅄✎🙰✁ ⍓➚♦✍ ⍓🖮✄⬨❈🕛⬩♑🕯❒🡅🕯⬩▫
⌘♊🕘✄♒⑩✈▭❑✡♑🙰✁ ⌘♊⊗♓✍ ☠✄✐✍❸■🖬♦↸ ✦✎🙰✁
⊗➚✎✁⍓⑨❑✐❼☆♑🙰✁◆❒ ♦×✓⇜☽③⊗♎⑨⇧♉🕛♑🙰✁◆❒
⌘♊➊○⍓❍◆❒ 🗐 ♦×✓⇧⬩✈🖬🕛⭘🕛♑🙰✁◆❒
(221) ⇮⊗✄⇗ 🙰☪☽⑩⊗▫◆❻⍓🖮✄⬨❈🕛⬩♑🕯❒🡅🕮

ژباړه: څوک چي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ اطاعت وکړي نو بېشکه دغه کس د هغه کسانو سره دئ چي الله ﷻ نعمت پرې کړی دئ(چي عبارت دي) د انبياؤ، صادقانو، شهيدانو او صالحانو څخه (او دغه کسان) ښه دي د ملګرتيا لپاره.

دغه آيت رسول الله ﷺ ده ته په جواب کښي ووايه. داسي ډيري پيښي اصحابانو رضي الله عنهم ته پيښي سوی دي او خامخا ورته پيښيدلې (عشق است و هزار بدګمانی- يعني مينه ده او زر بد ګمانی) همدا ډول يو صحابي نبي ﷺ ته راغلی او ورته وې ويل: چي زما ستا سره دومره محبت دئ هر وخت چي په خيال کي راسې که په هغه وخت کي زه رانسم او ستا زيارت ونه کړم نو زما غالب ګمان راسي چي زما ساه به ووزي خو زما سره دا فکر دئ چي که چيري زه جنت ته ولاړ سم نو زما درجه به ترتا کښته وي او ماته به په جنت کي او سېدل ستا د زيارت پرته هم لوی تکليف

(221) سورة النسآء الاية (٦٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي نبي ﷺ دغه آيات ورته ووايه . په يو بل حديث کښې راغلي دي چې يو صحابي د نبي ﷺ حضور ته ورغلی او ډېر غمجن و نبي ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې ولې غمجن يې؟ده مبارک ورته وويل چې زه په يوه فکر کې يم نبي ﷺ ورته وويل: په کوم فکر کښې يې؟ده مبارک ورته وويل موږ سهار او ماښام ستاسو حضور ته راځو ستاسو په زيارت زړونه خوشحاله کوو ستاسو په خدمت کښې کښېنو سبا چې تاسو د انبياء(عليهم السلام)ودرجې ته ورسيږی نو موږ خو هلته نه سو رسېدلای (ستاسو د زيارت څخه به بې برخې يو ) نبي ﷺ چوپ سو کله چې هغه پورتنی آيت نازل سو نبي ﷺ هغه انصاري صحابي راوغوښتی اوزېري يې پر وکړی. په يوه حديث کښې راغلي دي چې ډېرو اصحابانو پورتنی شکايت وکړی نبي ﷺ پورتنی آيت ورته ووايه. په يو حديث کښې راغلي دي چې اصحابانو ﷺ وويل: اې دالله ﷻ رسوله ◄ ! داخو ښکاره خبره ده چې نبي ﷺ پر امتي باندي فضيلت لري او د نبي ﷺ درجې به لوړي وي نو بيا به ددوی د يو ځای کېدو لپاره کومه لاره وي نبي ﷺ ورته وفرمايل: چې د لوړو درجو خاوندان به راځي د کښتو درجو والا سره به کښېني او خبري اتري به ورسره کوي.(222)

نبي ﷺ فرمايي چې زما څخه وروسته به ځني خلګ زما سره محبت کوونکي پيدا سي او دا هيله به لري چې کاشکي دوی دخپل مال، اهل او عيال په بدل کښې زه ليدلی وای د خالد ﷺ لور عبده وايي چې زما پلار به کله د بدېدو لپاره ستوني ستخ پرېوتی سترګي به يې نه سره ورتللې دنبي ﷺ په ياد او مينه به اخته و. د مهاجرينو او انصارو نومونه به يې اخيستل او يادول به يې چې دا زما اصول او فروغ دي يعني دوی کوچني او لوي ددين ښاخونه دي زما زړه ددوی و لوري ته کش سوی دئ. اې الله ◄ ! ماته ژر مرګ راولې چې ددوی سره يو ځاي سم دا به يې ويل بيده به سو.

---

(222) درمنشور

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابو بکر صدیق ﷺ یو ځلي وویل اې دالله ﷻ رسوله ! زه دخپل پلار د مسلمانېدو پر ځای ستاد اکا د ابو طالب د مسلمانېدو زیاته ارزو لرم ځکه چي پدې سره به تاسي خوشحاله سی یو ځلي حضرت عمر ﷺ د نبي ﷺ اکاحضرت عباس ﷺ ته وویل زه د خپل پلار تر مسلمانېدو ستا په اسلام راوړلو زیات خوشحاله سوم ځکه ستاسو اسلام راوړل نبي ﷺ ته ډېر زیات خوښ و. یوه شپه حضرت عمر ﷺ د حفاظت ګښت کاوه چي د یوه کور څخه د څراغ رڼا راوتله او دیوې سپین سرې آواز یې په غوږ سو چي وړی یې وربښلي اشعار یې ویل چي ترجمه یې په دې ډول ده: محمد ﷺ ته دې د نیکانو خلګو درود ورسیږي د پاکو او سپېڅلو خلګو له لوري څخه هغه خلک چي الله ﷻ ته خوښ دي ددوی درود دې وورسیږي ببشکه اې دالله ﷻ رسوله ! تاسو د شپې عبادت کونکی واست او په آخره شپه کښې ژړا کوونکی واست کاشکي ماته معلوم وای چي زه او خپل محبوب سره یو ځای کیږو که یا؟ ځکه چي مرګ په مختلفو حالاتو کي راځي نه ده معلومه چي ماته به مرګ په کوم حالت کي راسي اود نبي ﷺ سره به تر مرګ وروسته یو ځای سم که یا؟ حضرت عمر ﷺ دغه اشعار واوربدل دی هم په ژړا سو. دحضرت بلال ﷺ قصه ډېره مشهوره ده چي دی کله وفات کېدئ نو بي بي یې په جلا والي غمجنه سوه اووې ویل چي های افسوس! ده مبارک وویل: خومره دخوند خبره ده چي صباته به د محمد ﷺ زیارت کوم او د هغه داصحابانو ﷺ سره به ملاقات کوم. د حضرت زید ﷺ قصه په پنځم باب نهمه شمېره کي تېره سوه چي کله دارته پورته خیږول کېدئ ابو سفیان پوښتنه ځني وکړه چي ایا ستا داخوښه ده چي (خدای مکړه) د محمد ﷺ سره دا معامله وکړو او تا پرېږدو؟ ده مبارک ورته وویل چي په الله ﷻ دې مي قسم وي چي زه دا هم نسم زغملای چي نبي ﷺ په خپل کور کي وي او هلته دې په ده مبارک یو ځوز جګ سي اوزه دې په خپل کور کي په ارامی سره واوسم.ابو سفیان وویل: چي تر اوسه پوري ما دومري محبت کوونکي نه دي لیدلي لکه د محمد ﷺ ملګري چي دده محبت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبر داري

علماؤ دنبيﷺ سره د محبت مختلفي نښي ليکلي دي. حضرت عياضؒ ليکلي دي: کوم ثوک چي يو شی خو ښوي هغه ته به پر نورو باندي تر جيح (لوړوالی) ورکوي هم دا معني د محبت ده که داسي نه وي نو محبت نه ديبلکي يوازي د محبت دعوه ده د نبيﷺ سره د محبت لويه اوضروري نښه داده چي په ده مبارک پسي اقتدا وکړي او طريقي يې اختيار کړي او د ده مبارک داقوالو اوواقعاتو تابعداري وکړي په کومو شيانو چي يې امر کړی وي هغه پر ځای کړي او د کومو شيانو څخه چي يې منعه کړي وي د هغو څخه پرهيز وکړي په خوشحالۍ، غم، ناداری او پراخۍ کي د ده مبارک پر طريقو روان يې اللهﷻ فرمايي:

⅄✎☙✁ ♦♌❑♒⌨⬁⬥➔✍ ⬄⚐🡐☞☪⬈✇ ♌⮹➁ ⬀✍➔🔔

✦✎☙✁ ⬉☠⬈▤⬀⌨⮹⌛⬄⬥⬉③ ❻♎☼❑⬉➔⮹⌨❑✍☙☙⬥▫

▤ ⬀📭⬈▤♦📭❑🡐☼➔➊ ⬀📭⬈▤⬥♐ ⬀❷♎▦⬂⬄♦③◆❒

(223) ⬉⬒⬂⬀ ♎⚐⓿♎❍▪❻ ⌧❻❑➔▦⌧➘✦✎☙✁◆❒

ژباړه: دوی ته وو وايه که تاسو د اللهﷻ سره محبت کوی نو زما تابعداري وکړئ اللهﷻ به ستاسو سره محبت وکړي ستاسو ګناهونه به معاف کړي اللهﷻ بخښونکي او زيات رحم لرونکي دئ.

خاتمه

(223) سورة آل عمران الاية (٣١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اصحابو کرامو ﷡ سره معامله او ددوی لنډ فضليتونه

د اصحابو ﷡ ځو قصې د نمونې په ډول وليکل سوې که نه نو ددوی قصې لوی او غټ کتابونه هم نسي ليکلای په اردو ژبه ددوی په اړه زيات کتابونه او رسالې هم پيدا کېدلای سي ځو مياشتې وسوې چې دغه رساله مې شروع کړې وه. بيا د مدرسې د بوختيا او د وخت د تنګوالي له امله وځنډېده اوس يې پر دغه پاڼو ختموم کوم څه چې پکښې ليکل سوی دي هيله لرم چې د فايدې اخيستولو وړ سي په آخر کښې پر يوه خبره باندې خبرداری زيات اړين دئ هغه دا چې د يوې خوا پدې آزاده زمانه کښې زموږ د مسلمانانو ددين په کارو کښې کمزوري ده او د ازادۍ رنګ دئ د بلې خوا د اصحابانو ﷡ په پېژندلو دهغوی د آدابو او احتراماتو په هکله زياته کمزوري ده داخو لاڅه کوي ځني خلګ خو داسي هم سته چې د دين څخه دبې پروايۍ له امله ددوی په اړه ګوستاخي کوي حال دا چې اصحابان مبارکان ددين بنسټونه دي ددين لومړي خپرونکي دي موږ ددوی حقونه تر مرګه پوري نه سو پوره کولای الله ﷻ په خپل فضل ددوی پر پاکو نفسونو سلګونو زره رحمتونه نازل کړي دي چې دوی د نبي ﷺ څخه دين لاسته راوړی او موږ ته يې راورساوه ځکه نو پدې خاتمه کښې د قاضي عياض ﷬ دشفآء نومي کتاب څخه د يو فصل لنډه ترجمه چې ددې موضوع سره وړ ده ليکم اور ساله باندې ختموم دی مبارک فرمايي: چې د نبي ﷺ په اعزاز او اکرام کښې داخبره شامله ده چې دنبي ﷺ د اصحابانو ﷡ به اعزاز کوئ ددوی حق به پېژنئ، ددوی تابع داري به کوئ، ددوی ستاينه به کوئ، دوی ته به د مغفرت دوعا کوئ، ددوی په خپل منځي اختلافاتو باندې به چوپ پاتېږئ د مؤرخينو، شيعه ګانو ، بدعتيان او ناپوهو راويانو د روايتو څخه به مخ اړوئ. هغه روايتونه چې ددوی په شان کښې تاوان پيدا کوي ددې ډول څخه که څه روايت واورېدل سي نو دهغه به په ښه ډول تاويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوئ او پر ښه لار به یې حملوئ ځکه دوی ددې حق دار دي. د امبارکان په بدۍ مه یادوئ ددوی نیکۍ، ښه صفتونه اوددوی فضائل بیانوئ او د عیب د خبرو څخه یې چوپ واوسئ لکه نبيﷺ چې فرمایي: کله چې زما د اصحابانو﵃ بد بیان کېږي نو چوپتیا غوره کړئ د اصحابانو﵃ فضائل په قران کریم او احادیثو کښې زیات راغلي دي الله ﷻ فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



☪□♦❷♑▦⬂⬄□✌☠⬋♐⬃☸♑✌♑💣☼⍝◆♑⬛◷○◷♑◉♐✁
❒♦📖❒♉⇳❷◷✁⬉♦→♑⓿☺☺♐ ⬀♐♉⬅ (224)

ژباړه: محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دئ کوم کسان چې ده سره ور سره دي سخت دي پر کافرانو او په خپل منځ کې رحم لرونکي دي ته به ویني چې رکوع او سجده کوونکي دي د الله ﷻ فضل او رضا لټونکي دي ددوی نښې ددوی په موخانو کې د سجدې اثر دئ هم دا ډول ددې مثال په تورات او انجیل کښې هم سته لکه یو تخم (چې لومړی راشین سي) نازکه پونګه راوباسي بیا زوروره سي نو بنه په قوت کې سي بیا پر خپله تنه باندې برابر سي (همدا ډول اصحابان ﷺ هم وه چې اول کمزوري وه وروسته الله ﷻ ورځ تر بلې قوت وروبخښئ او داقوت الله ﷻ ځکه ورکړی) چې پدې قوت سره کافران د حسد له امله وسوځي. الله ﷻ د هغو کسانو سره وعده کړې ده چې ایمان یې راوړی دئ، نیک کارونه یې تر سره کړي دي چې الله ﷻ به مغفرة ورته کوي او لوی اجر به ورکوي.

دا ترجمه په دې ډول ده چې د تورات پر لفظ باندې آیات پوره سي ځکه د آیات په فرق سره ترجمه فرق کوي لکه د تفسیرونو څخه چې معلومیږي. په همدغه سورة کې الله ﷻ فرمـــــــــــــــــــــایي: ♑◉⅄◑♦⑨⇳ ❻♦▩⬁♉♐ ✁♐✎✦⬉♦♊⬅

♐①♦☼❒⬉➔♑③♐♦🖮⬉③ ⬂❶♑◑ ♐▫✓♑☪♑✌⬃♦←☺⬂♑◉♐✁
❼♑× ♐♦✌⌘☠♑⬛◸➔♦▫♐□♦❷◸↗⊙⌖♑◉♐✁ ❁💣⬂♦❒✌
♦□♦☪⑩⬁▤○○♑◉♐✁ ♦✌♦❽☼❒🕯♦▫⬀☠♐♐♐▯❑➔⬛➔🔔
♐✡⌛③▩❷♦🔔 ♐☯♦⬃✍♦▫⬀☠←♑♦⌛◷❒⚐❒📖♦❒ ⬀☠♐♐⬀❸■⬛♦⬉
☪□♦❸❷♑✞☒✍ ⌘⚐♑☼♐♦⬄♦✌♦❒ ⬅⬎♑⬀

(224) سورة فتح - رکوع (٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library



[illegible]

ژباړه: بېشکه الله ﷻ راضي سو د هغه کسانو څخه چې ستا سره په سفر کې وه او ستا سره یې تر درختي لاندې بیعت وکړی. بیا الله ﷻ په هغه (اخلاص او صداقت) عالم و چې ددوی په زړو کې و نو الله ﷻ پر دوی باندې ارامتیا راواستول او دوی ته یې نژدې فتحه ور نصیب کړه (چې مراد څني د خیبر فتحه ده) او الله ﷻ ډېر غنیمتونه ورنصیب کړه چې دوی اخیستل او الله ﷻ غالب دئ او زیات د حکمت خښتن دئ.

په بل ځاي کې الله ﷻ د اصحابانو رضي الله عنهم په اړه فرمایي:

[illegible] (225)

ژباړه: په دې مؤمنانو کې داسې کسان سته چې د الله ﷻ سره یې کومه ژمنه کړې وه په هغه کې رېښتني وختل داسې دي چې خپل نذر یې پوره کړی (یعني شهیدان سول) او څني د پوره کولو په موخه انتظار کوي او ددوی د ارادو په بدلولو کې هیڅ بدلون نسي راتلای په بدلولو سره.

په بل ځای کې الله ﷻ فرمایي:

[illegible]

(225) سورة احزاب – رکوع ١٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



☠➔♎❑⇱➔♦🖮□✍︎🙵✃ ♦✖⇦⍉🔔⍋✏🙵✃♦❒
⬀☠⬋🙰⬃❆♦⇱ ✦✏🙵✃ 🙢⑥⬁⌧▪❻ ♑♊🕔❃○⇳❍♒✉♒📭
⬀☠⇦●❍▭ ⭘⑨♦⇱❒📖♦❒ ⇦❍⬃☪♦⇱ ☎✃❑➔➬♦❻♦❒
⇱❷🕔⍓♑⬃☼☞🏵🙵✃ 🙵⍓♑♦☞⬂♦❒✌❽⌧❷⇳⬀⬧✍︎▭💣🕔□☾⍓♉
⍓🖮⍉♐🕔⬧❶ 🗐✃✡⑨♦📭❒📖 ✏🙵■🙰❸⍉▫ ♦✖⇦⍉🙵♒✃🕔⍓⌘
(226) ⬂➬⮰⮰⬀⇱☹➚⍉➔⍓➔⬂♐🙵✃ ⇱🙠⬀❑⌧▦⬂♐🙵✃

ژباړه: کوم مهاجر او انصار (چي په ایمان راوړلو کي تر نورو ) مخکي دي او خومره خلک چي په اخلاص سره ددوی تابعداري کوي الله ﷻ ددې ټولو څخه راضي دئ او دوی د الله ﷻ څخه راضي دي الله ﷻ ددوی لپاره جنتونه برابر کړي دي چي تر درختو ( تر ښاخو ) لاندي به یې (څلور ویالي ) بهیږي او همیشه به په جنت کي وي دغه هم لویه کامیابي ده.

په دغه آیاتو کي الله ﷻ د اصحابانو رضي الله عنهم څخه خپله خوښي څرګنده کړې ده همدا ډول په ډیرو حدیثونو کي ددوی زیات فضائل راغلي دي نبي ﷺ فرمایي: چي زما څخه وروسته په ابو بکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه پسي اقتدا کوئ. په یوه حدیث کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمایي: زما اصحاب رضي الله عنهم د ستورو په شان دي په هر یوه پسي چي اقتدا وکړی سمه لاره به پیدا کړی. ډیرو محدثینو په دغه حدیث کي خبري کړي دي په همدې وجه پرقاضي عیاض رحمه الله باندي اعتراض دئ چي دغه حدیث یې نقل کړي دئ خو ملا علي قاري رحمه الله لیکلي دي چي ممکنه ده چي دده په آند به د بیلو طریقو له امله داعتبار وړ وي یا په دې وجه چي دا د فضائلو ځای دئ د فضلیت په ځای کي کمزوری حدیث نقل کول هم جائز دي حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چي نبي ﷺ فرمایلي دي چي زما اصحاب رضي الله عنهم داسي مثال لري لکه په خوراک کي مالګه چي دغه خوراک بې له مالګي

(226) سورة التوبة الاية (١٠٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه کېداي نسي. نبي ﷺ فرمايي: زما د اصحابو ﷡ په اړه دالله ﷻ څخه وويرېږئ دوی د ملامتيا نښنه مه جوړوئ څوک چې ددوی سره محبت کوي هغه زما سره محبت کوي او څوک چې ددوی سره کينه لري هغه زما سره کينه لري چاچې دوی ته تکليف ورکړی هغه ماته تکليف راکړی چاچې ماته تکليف راکړی هغه الله ﷻ ته تکليف ورکړی او څوک چې اللهﷻ ته تکليف ورکړي د الله ﷻ په راکشولو کي به راسي.

نبي ﷺ فرمايي: زما اصحابو ﷡ ته ښکنځل مه کوئ په تاسو کي که څوک د احد د غره سره برابر سره زر خيرات کړي نود اصحابو ﷡ د يوه يا نيم مد ثواب نسي لاسته راوړلای. نبي ﷺ فرمايي: څوک چي اصحابو ته ښکنځل کوي پر دغه کس د اللهﷻ، ملائکو او ټولو انسانانو لعنت دئ او ددغه سړي نه فرض قبلېږي او نه نفل. نبي ﷺ فرمايي: چي الله ﷻ ټوله انسانان راچڼ کړل دانبياؤ(عليهم السلام) څخه پرته په دوی ټولو کي يې دغه څلور کسان غوره کړه: حضرت ابوبکر ؓ، حضرت عمر ؓ، حضرت عثمان ؓ او حضرت علي ؓ او دوی يې زما پر ټولو اصحابانو ﷡ باندي بهتر و ګرځول ابو سختيياني ؒ فرمايي: کوم چاچي د ابوبکر ؓ سره محبت وکړی هغه خپل دين سيده کړی. چاچي د عمر ؓ سره محبت وکړی نو ددين روښانه لاره يې پيدا کړه. چاکه دعثمان ؓ سره محبت وکړی د الله ﷻ په رڼا سره روښانه سو او چاچي د علي ؓ سره محبت وکړی دغه کس نو ددين رسۍ ونيول. څوک چي د اصحابانو ﷡ ستاينه کوي دغه کس د نفاق څخه پاک دئ، څوک چي د اصحابانو ﷡ بي ادبي کوي منافق، بد عتي او د سنتو مخالف دئ زما سره دابيره ده چي هيڅ عمل به قبول نسي تر څو د اصحابانو ﷡ سره محبت پيدا نسي او ددوی په اړه يې زړه پاک نسي. په يو حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي: اې خلګو ! زه د ابوبکر ؓ څخه خوشاله يم تاسو دده مرتبه وپېژنئ زه دعمر AA ، عثمان AA ،علي AA ، طلحة ؓ، زبير ؓ، سعد ؓ، سعيد ؓ، عبد الرحمن بن عوف ؓ او عبيده بن جراح ؓ څخه خوشاله يم تاسو ددوی مرتبه وپېژنئ. اې خلګو کوم څوک چي د بدر او احد په غزا کي شريک سوي دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهﷻ وهغو ته بخښنه کړي ده تاسو زما د اصحابو﵃ په اړه زما لحاظ کوئ او دهغه خلکو په باره کښي زما لحاظ کوئ چي ددوی لوڼي زما په نکاح کښي دي او یا زما لوڼي ددوی په نکاح کښي دي داسي نه چي دغه خلک د قیامت په ورځ ستاسو څخه د یو څه ظلم مطالبه وکړي او هغه به بیا نه بخښل کېږي په یوه حدیث کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي: زما داصحابانو، زومانو اونورو اصحابانو په اړه زما لحاظ کوئ څوک چي ددوی په اړه زما لحاظ وکړي الله ﷻ به ددغه کس په دنیا او آخرت کي حفاظت وکړي او څوک چي زما لحاظ ونه کړي الله ﷻ د هغه کس څخه بېزاره دئ او د چا څخه چي الله ﷻ بېزاره سي کېدای سي چي پر یو څه باندي ونیول سي دنبي ﷺ دا ارشاد هم دئ چي نبي ﷺ فرمايي څوک چي زما داصحابو﵃ په اړه زما لحاظ وکړي د قیامت په ورځ به زه دده محافظ یم. په یوه بل حدیث کي راغلي دي چي نبي ﷺ فرمايي څوک چي زما د اصحابو﵃ په اړه زما لحاظ ونه کړي حوض کوثر ته به رانه وستل سي ما به یوازي د لیري څخه ووینې. سهل بن عبد الله﵀ فرمايي څوک چي د نبي ﷺ د اصحابانو﵃ تعظیم او درنښت نه کوي هغه پر نبي ﷺ ایمان نه دئ راوړی.

اللهﷻ دي په خپل فضل او مهرباني سره د خپل نیولو او د خپل د رسول ﷺ د قهر او خوابدتیا څخه ماته، زما دوستانو ته، زما خواخوږو ته، زما د ناستي ولاړي خلکو ته، زما مشائخو ته زما شاګردانو او ټولو مؤمنانو ته خلاصون راکړي او ددغه مبارکو اصحابانو﵃ په مینه دي زموږ زړونه ډک کړي.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام الاتمان الاكملان علي سيد المرسلين وعلى آله واصحابه الطيبين الطاهرين وعلى اتباعه واتباعهم حملة الدين المتين. ﷺ

مؤلف: مولانا محمد زکریا کاندهلوي نورالله مرقده مقیم مدرسه مظاهر العلوم سهارن پور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېټه: ۱۷ ـ شوال المکرم ـ ۱۳۵۷ ـ هـ ق. یعني د کوچني اختر اوولسمه د دوشنبې ورځ

ژباړونکی: مولوي عبدالهادي (حماد) کندهاري عفی الله وعافاه. مدرس ومدیر جامعه اسلامیة اشرفیه اوله ناحیة کندهار افغانستان.

نېټه: ۲۱ ـ ۹ ـ ۱۴۲۸ هـ ق. چې د ۱۱ ـ ۷ ـ ۱۳۸۲ هـ ش سره سمون خوري د چهارشنبې ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پـــای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**